Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا محمد عمر، طالبان

او افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: ملامحمد عمر، طالبان او افغانستان

لیکوال :عبدالحی مطمئن

خپرندوی: افغان خپرندویه ټولنه – کابل

د چاپ وار: لومړی

د چاپ کال: 1396 هجری لمریز

د چاپ حقوق له خپرندویه ټولنې سره خوندي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړليک

عنوان
صفحه

دليکوال يادښت..... 7

لومړی څپرکی

د طالب او طالبان د کلمو ار او ريښه 15
اسلام او خراسان (اوسنی افغانستان) 17
په خراسان کې د ديني زده‌کړو تاريخي بهير 22
افغانستان او د څو پېړيو طالبي دود 29
د طالبانو جهادي مخېنه 32
د امان الله خان او ديني علماوو ترمينځ ستونزې..... 33
د ديني ډلو او اشخاصو سياسي بروز 37
نورالمدارس او خدام الفرقان 37
اخوانيزم او اسلامي نهضت 39
کمونيستي کودتا او د جهاد پيل..... 42
په پاکستان کې د جهادي ډلو تشکيل..... 44
حزب او جمعيت له تبليغاتي ټکرونو تر پوځي نښتو 49
د شوروي ضد جهاد کې د علماوو او طالبانو رول 50
پوځي مبارزه 51
سياسي جوړښتونه..... 53

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندهار له تحریک نه مخکې له غزني نه تر زابله د طالبانو پوځي جوړښت 57
د طالبانو تحریک د پیل اړتیا 60
د کابل څو بېلګې 65
کندهار د وحشت په ګروت کې 66
د خلکو له خولې څو خاطرې 69
ملا محمد عمر مجاهد څوک و؟ 71
شوروي‌ضد جهاد کې ونډه 72
د ملا محمد عمر څو جهادي خاطرې 73
د شوروي پر ضد د جهاد پای 76
د تحریک پیل د ملا محمد عمر په ژبه 78
حاجي بشیر ولې ملا محمد عمر ته لاس ورکړ؟ 81
لومړی پاڼک او لومړی جګړه 82
د متحد امیر په توګه د ملا محمد عمر انتخاب 83

دوهم څپرکی

د سپین بولدک نیول 86
د کندهار ښار فتحه 88
له کندهار وروسته پرمختګونه 93
د عبدالعلي مزاري تېښته او مړینه 96
دوو جبهو کې توندې جګړې او د وسلو ټولولو بهیر 99
د روسي الوتکې پېښه: نړۍ سره د طالبانو لومړنۍ مخامختیا 101
په لویدیځ کې د جګړو شدت او څېړپاندې جنګي کرښې 105
د کندهار د سقوط وېره او د ګرشک تاریخي جګړه 107
زما د سترګو لیدلی حال 107

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسیرانو سره ناوړه چلند او زما روحي ځور 115
د هرات فتح 119
د هرات له نیولو وروسته طالبان د سترو دولتي عوایدو څښتنان شول 122
پاکستان څنګه طالبانو ته ترجیح ورکړه؟ 123
په کندهار کې د هېواد د دیني عالمانو ستره غونډه او ملا محمد عمر ته د امیرالمومنین لقب ورکول 127
په جنوب کې د حکمتیار له پلویانو سره بیا نښتې 131
حکمتیار مخ پر کابل، طالبان مخ پرننګرهار 133

درېیم څپرکی

د کابل فتح ۲۶ ستمبر 138
د کابل سوبه، د طالب واکمني او نړۍ وال غبرګونونه 140
د کابل شمال ته د طالبانو تېز پرمختګ 144
د کورنیو لېږدول او د باغونو سوځول 148
له دوستم سره د جګړې پیل 150
د دوستم پر ضد د جنرال عبدالمالک او طالبانو اتحاد او خونړۍ پایلې 153
لیلې دنښته د زرګونو ځوانانو هدېره 160
د اسماعیل خان اسارت او تېښته 161
طالبان یو ځل بیا د شمال پر لور 167
ترکمنستان نه د ګازو نل لیکه او نړۍ والې کمپنۍ 169
د ملا دادالله بې وسلې کول او پر کور کېنول 179
د شمالي ولایتونو وروستۍ او ربښتینې فتحه 181
د فتوحاتو له پراخیدو سره د مسلکي او وړ کدرونو کمښت 185

څلورم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکا سره د شخړو پیلامه، اسامه بن لادن او القاعده 188
پر افغانستان د امریکا د کروز توغندیو برید 196
کندهار ته د ترکي الفیصل راتګ او له مشر سره ملاقات 199
په دې خبرو او سفر کې کومو نقطو د ملا محمد عمر غیرعادي غوسه راوپاروله؟ 202
د سعودي علماء د ملا محمد عمر له نظره 204
د بیت المقدس د پخواني امام زوی 206
د ایران او افغانستان د احتمالي جګړې په اړه د ملګروملتونو رول 207
د اسامه بن لادن شرعي محاکمه 209
امریکا: که اسامه له افغانستان ووځي بیا هم طالبان نه پرېږدو 212
پر افغانستان اقتصادي بندیزونه 214
د ملا محمد عمر پرکور خونړی چاودنه 217
له چین سره سیاسي او اقتصادي اړیکې 219
له پاکستان سره ترینګلي اړیکې او د مشرف کودتا 223
مشرف ته د ملا محمد عمر له خوا د اسلامي نظام د نفاذ وړاندیز 225
دیموکراسي او طالبان 226
د هندی الوتکې کړکیچ - ۲۲ ډسمبر ۱۹۹۹ 228
د کوکنارو په کرهنه ناڅاپي بندیز 236
په یوه فرمان د اعزازي القابو لغوه کول 240
د امربالمعروف د اداري په اړه له ملا محمد عمرسره مباحثه 241
ایران سره د اړیکو نرمېدل 246
روسیه او امریکا د ټلوالې ترشا، طالبان اونړی‌وال جهادیان بل پلو 247
چیچنیا د یوه مستقل هېواد په توګه په رسمیت پېژندل 249
د بوتانو ماتول او کندهارته د عرب پوهانو سفر 250

(c) ketabton.com: The Digital Library

له اسامه بن لادن سره لومړۍ او وروستۍ لیدنه.....256
د طالبانو پر ضد د جوړېدونکې افغاني ایتلاف هلې ځلې 258
د احمدشاه مسعود ترور 260

پنځم څپرکی

پر امریکا د یوولسم ستمبر بریدونه 264
په کابل کې د دیني علماوو ستره غونډه او د اسامه په اړه پرېکړه 266
کندهار ته د پاکستاني پلاوو سفرونه.....267
د امریکا یرغل 272
د قومندان عبدالحق نیول او وژل 275
لومړی هم پلان شوی چاینل 277
تصادفي چاینل.....278
د ازرې د منګلو درې مذهبي او تاریخي مقدسات 280
د مقدساتو له زیارته وروسته د ولسوالۍ د مرکز پر لور.....282
له عبدالحق نه وروسته د حامد کرزي وار و 288
یرغلګرو او دوستم زرګونه تسلیم شوي طالبان قتل عام کړل 292
په توره بوړه کې د القاعده د مشرانو برخلیک.....295
د کندهار د سقوط وروستۍ ګړۍ او له ښاره د ملا محمد عمر وتل 298
د عبدالسلام ضعیف نیول او سپارل 302
له سقوطه وروسته لومړی مقاومت او لومړی سنګر 304
د خدام الفرقان ګوند اعلانول.....313
د طالب چارواکو د تسلیمېدو لړۍ 316

شپږم څپرکی

د ملا محمد عمر له خوا لومړۍ اډیو کیسټ.....319

(c) ketabton.com: The Digital Library

له افراطي سياسته د تېښتې هڅه 320
بې مهاره مقاومت 321
د اکبر اغا جيش المسلمين 323
تعليمي پروسه ژوندۍ ساتل 324
د ويانداتو کمېټه 326
د ملا محمد عمر وفات او اختلافات 329
د مشرتابه خبرېدل او د علماوو ناسته 337
قطر ته د طالب استازو تلل او دفتر پرانيستل 348
د رښتينې سولې او تفاهم پر وړاندې درانه خنډونه 353
داعش او د افغانستان سرحدي سيمه 355

(c) ketabton.com: The Digital Library

دليکوال يادښت

عمر مي د دريو او څلورو کالو تر مېنځ و، چې کمونيستانو د غوايي د اوومې خونړۍ کودتا وکړه، د "خاد" بريتورو اسلام پالې نيول. يوه ورځ څو بدمخو بريتورو زمور د جونګړې دروازه هم وډبوله، پلار مې له کوره ور ووت خو بيا کله هم خپل کورته رانه دننه نه شو او نه مو بيا ترننه سترګې پرې ولګېدې! کال وروسته دومره پوهيدم چې يو مهربانه سيوری مې له سره پورته شوی.

په کور دننه غربت، ساړه نغري او زما زړو جامو هم دا ګواهي ويله چې زه نور يتيم يم. ماته نور هر بريتور د پلار قاتل ښکاريده! تره مې مور د بې سرپرسته ماشامانو په توګه په بل کلي کې د هغه خپل کورته بوتلو، نور مور کوم جلا کور نه لاره، بلکې د تره په غاړه کې د مشر ورور امانت وو، چې بياکله هم دا امانت د خپل حق دار په برخه نه شو. ځکه هغه نور د بې وسۍ په حالت کې په ټرلیو لاسونو د يوې کليمې او عقيدې په تور د ستالين سياستونو وژلي و، خو مور لاهم د هغه د ژوند په تېرې تمه ناست وو.

له دې وروسته چې په افغاني کمونيستانو ونشوه، نو د ليلن او ستالين ځای ناستو خپل وژونکي د جنګي الوتکو تر وزرونو لاندې په شوبلو سپاره را واستول. پر هيواد سرو لښکرو سور قيامت جوړ کړ، خو تره مې لا هم په دې خبره ټينګ ولاړ و چې پاکستان ته هجرت نه کوو. مور يوازې هغه کم بخته ماشومان نه وو، چې د پلار له سيوري محروم وو، بلکې د لوبو او نازونو عمر مو د اور په لمبو، د الوتکو په بمبار او وژنو کې تيريده؛ مور ته انسانان او د انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس جوړه شوې تیکنالوجي د پخوانیو نکلونو تر بلاګانو او د ځنګلونو تر ځیرونکو ځناور ډیره وحشي وه.

د اشرارو! د ټکلولو په نوم به د روسانو یو ډول جنګي قوه کلیو ته راتله چې د شوروي تاریخي غضب به یې افغانانو ته ور ښود، دې قوې ته به کلیوالو سره قوه ویله، د سرې قوې وسله والو به ژوندي ژوي ټول په نښه کول، ځاروي، چرګان او د مور په غیږه کې پې رودونکي ماشومان یې هم نه ښښل.

مورِ په دې وړکتوب کې په وینو لړلي جسدونه او بمبار شوي کورونه هر وخت لیدل، خو د سرې قوې نوم راته ورستی تندر و!

یوه ورځ چې سهار له خوبه پاڅیدم، مخ ته مې اوبه واچولې، د ترخو تورو چایو له ګیلاس سره مې د ډوډۍ ګوله خولې ته یوړه، چې د ټانکونو درانه غږونه مې واوریدل او له دې سره ویرونکې چیغې پیل شوې: چې سره قوه کلې ته په لاره ده؛ ګوله مې خوله کې پاتې شوه، حلق مې وچ شو،کلیوالو ترلي ځاروي له مېږ ویوو خلاصول، ترخو وتښتي او له وژلو وژغورل شي.

د کلي په کوڅوکې کلیوالو له خپلو کورونو داسې منډې وهلې لکه د کورونو مښځ کې چې بلاګانې زیږیدلې وي. تورسرې، سپین سرې، واړه او زاړه ټول به په یو ه لاره په منډو وو؛ په سترو ساوو به یې کله کله شاته کتل، تابه ویل چې ترشا یې ښامار خوله وازه کړې او دوې ترې ځانونه ژغوري!

زه او تر ما دوه کاله مشر ورور مې له کلي پټیو ته ووتو؛ د یوه تنګ او ژور نهر په غاړه مو - چې هلمندکې ورته زابر وایي - منډې وهلې؛ د ټیټ پرواز د چورلکو په ډزو کې نور منډه راته وژونکې ښاره شوه او په یو نیمه وچ لښتي کې پرېوتو چې د"کانو" د بوټو مینځ کې و "کانې" یو ډول ګڼ ستر بوټې دی، په ژمې وچ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او ډير ژر اور اخلي- د هلمند خلګ ورته کانې وايي- د چورلکو په بمبار کې د کانو له اوره هم ويريدو؛ له ويرې ټوله ورځ داسې پراته وو، چې نه مو ځانونه خوځول او نه مو خپلوکې خبرې کولې.

مازيګر چې قوه ولاړه، پلرونه اومينديې په پټيو کې په وړو اولادونو او ځارويو پسې په يوه وخت لا لهانده ګرځيدل.

هغه وخت لا زمور ماشومانه ذهن دا سې جوړ شو، چې وسله لرونکې انسانان به خامخا وژل کوي او مور خپل وړکتوب له وژولو نشي ژغورلای. زه چې نن د سوريې د بمبارشويو کورونو تر خاورو لاندې ماشومانو تصويرونو ته ګورم نو په ټندو کې يې خپله ماضي وينم ؛ د يو ويشتمې پيړۍ پرمختللي انسان لا همدومره وحشي دی!

مور په اور، جګړه او عقده کې را ستر شوو؛ دينې زدکړې مو پيل کړې، خو زمور دين چې مور ته څه ډول انسانيت معرفي کاوه، د هغه انسانيت درک هم په ټولنه کې نه لګيده. چاچې د وطن د دفاع اوجهاد په لاره کې وسله غاړې ته کړې وه، اخبرکې مو له هغوي نه هم داسي څه ونه ليدل چې دا تصور مو نور له ذهنه وباسي، چې انسان معنا ظالم اوقاتل.

مور پاکستان ته د ديني زدکړو لپاره په تنکۍ ځوانۍ کې لاړو، د افغان جهادي تنظيمونو خپل منځي کشمکش، د ځينې جهادي غازي! مشرانو شاهانه ژوندونه او له خپل ولسه ناخبري مو هم وليده ؛ د خاد د بريتور په څير د پيښور په کوڅوکې د ځينې ږيره ورو غازيانو! په لاسونو د مهاجرو او پرديسو افغان ليکوالو او پوهانو په وينو لړلي مړي مو هم وليدل او د کمونيستي رژيم له نسکوريدو وروسته د غازيانو! د ځينو وسلوالو له خوا په ښارونو، کليو او د لو يو لارو پر سرو وحشتونه مو هم وليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یو وخت دومره پولې ونړیدې چې د پیښور د کوڅو ډیر هغه ږیره ور قاتلان چې د غرب پالنې په تور به یې افغانان وژل! د لندن او جرمني په کوڅو کې خریلې ږیرې او پتلون کړي ګرځېدل. همدا راز مې یوه ورځ په کندهار کې له لیکوال او شاعر عبدالباري جهاني نه واوریدل؛ چې ویل یې په اسلام اباد کې مې د هغې افغان سندر غاړې پر میز - چې یو وخت یې خلقي سرباز ته د یاری سندره ویله - د جهادي! حماسې د ږیره ور شاعر ملا اسدالله حنفي را استولي شعرونه ولیدل، چې له دې ډمې یې د خپلو شعرونو د زمزمې عاجزانه هیله کړې وه! خو ښاپیرۍ سندرغاړې موسکۍ وه او د دي شعرونو له زمزمې یې نټه کوله؛ ویل یې د ملایي شډل توري مې په نرۍ ژبه درانه دي!

مور مدرسې ته له تللو وروسته کله هم داسې فکر نه کاوه چې یوه ورځ به مور هم د وحشت پرضد وحشي ټوپک ته اړ کیږو ، بیا همداسې ورځې راغلې چې ماهم په دیني ولوله د طالب پاڅون له کاروان سره یوځای کیدوته ځان اړ وګانه، خوکله مې هم فکر نه کاوه چې تر پایه به همدا کار کوم. ماویل دوه کاله وروسته به بیرته مدرسي ته ور ګرځم او پاتې زدکړې به پوره کوم.

په کندهار کې مې د اطلاعاتو کلتور د ودانۍ دروازه داسي وخت وټکوله چې نور مې نه ځان له ټوله تحریکه ویستلای شوای اونه مې په غاړه کې ټوپک اچول خوښیدل. خو دې نرمې اداړې او د شعر او شاعري بزم ته راتګ، زما تقدیرته نور هم پیچیده رنګ ورکړ. رئیس کابل ته لاړ، ملګرو مې زه وړ وګڼلم او د اداړې مشري ته یې ور معرفي کړم. اوله ورځ لکه فرشتو چې په غوږ کې راته وویل، په خپل راتلونکې شکمن شوم! خو وروسته مې بیا ځان ته تسله ورکړه چې نه نه! کال-دوه ورسته به بیرته مدرسې ته هرو مرو ځم.

د ۱۹۹۸م کال د اپریل په ۱۱مه یوې پیښې زما زړه او دماغ دومره ماضي ته واړاوه چې ټوله ورځ مي په خیال کې له خپل پلار سره تیره کړه. په همدې ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کندها ر ښار په شمال کې د میان کوه د غره ډډه کې د پخواني خاد د یوه زاړه کمونست په اقرار یو ډلیز قبر ومومدل شو، زه له څو میلمنو سره دغه لورته په چکر وتلي وم، چې د غره ډډه کې نرم شمال ته څو کسانو یو لوی جر کیندلو او بشري هډوکې یې ترې را ویستل. دا له کمونیستي کودتا وروسته د کندهار او شاوخوا ولایتونو د روحانینو او علماوو یو ستر مدفن و، چې خادیانو په دې ځای کې ژوندي تر خاورو لاندې کړي ول. ما له دې وروسته هم د همدې مدفن د یوه عامل او قاتل کمونیست د خلاصون لټون وکړ! د سلیمان ځیرک له زوی سره مې د هغه د خلاصون هڅې کولې! ځکه ما دغه سپین بریتي او سپین ږیري قاتلان په دې پاخه عمرکې د اسلامې او انساني عاطفې له مخې خپلو زامنو او لمسیو ته ژوندې غوره ګڼل،په همدې نیت مې مې د پلار قاتل بابنه، خو د اګمان مو له سره نه کاوه چې دوي به یوه ورځ بیا سپینو بریتونو ته رنګ ورکړې او له یوه بل یرغل سره به زمور د مظلومو اسیرانو وژلو ته ملا وترې !

ما په همدې ورځ د خپل پلار له اروا سره خبرې کولې خو د هغه د جسد هډوکې مې نشوای پیژندلای! ځکه چې ما له پلاره محرومیت ټول عمر لیدلي و، خو د پلار څېره او بدني جوړښت مې تش د یوه سیورې په څېر یاد و.

مابنام چې دفتر ته راغبرګ شوم.پر کاغذ مې د دې پیښې راپور د خپل روح او خیال په نقشه انځور کړ؛ مابنام مې د راډیو پر خبرې سرویس د نطاق پرځای خپله ولوست. چې له ستوډیو راکوز شوم، ستونی مې دومره غریو نیولي و، لکه زه چې لا ماشوم یم او د پلار جسد ته مې د میان کوه غره په سپیره ډډه کې تکي تنها په چیغو چیغو ژړلي وي.

زه لا کیناستی نه وم چې والی حسن رحماني راته زنګ ووایه، وای بي بي سي غواړي د میان کوه د غره د قبر په اړه له ماسره خبرې وکړې، خو زه به ستا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفتر د تلفون شمېره ورکړم؛ څه چې دې په راديوکې ولوستل هغه په خپل غږکې ورته ووايه.

ما تردې دمه له کومې رسنۍ سره خبرې نه وې کړې، د والي په غوښتنه او تاکيد مې دا کار وکړ؛ دوه ورځې وروسته د مشر سکرتر وکيل احمد متوکل صيب د بي بي سي راديو تلفون ته ځواب نه و ورکړي او د بي بي سي د فتر له ما نه د هغه پوښتنه کوله، ما متوکل ته پر مخابره وويل چې د بې بې سي خبريال دي پوښتنه کوي، خو دا وخت متوکل له ملامحمد عمر مجاهد سره نږدې ناست و، زما غږ مشر هم واورېد، د متوکل تر ځواب وړاندې مې د يو بل چا غږ تر غوږ شو، متوکل په ځواب کې له لږ ځنډ وروسته راته وويل چې ملاصيب وايي چې ته ورسره خبرې وکړه. ماته دا خبره نوې وه، انکار مې وکړ، متوکل وويل زه نه وايم مشر ملاصيب وايي!

زه د موضوع له جزياتو ناخبره وم او د سياسي پېښو په اړه د خبرو کولو تجربه مې هم نلرله، خو له تاکيده وروسته مې د پېښې جزيات ولټول او دغه زما د ويانديِ رسمي پيل و! چې بيامې د راتلونکو ۴ بحراني کلونو ويانديِ وکړه او دنړۍ او افغانستان د پېښو په اړه مو د ټول نظام او په خاص ډول ملا محمد عمر مطبوعاتي استازيتوب وکړ. خو موږ لا په ځان پوه نشوو، چې کلونه واوښتل او موږ په نويو خبرو اوشخړو واوښتلو. موږ فکر کاوه چې روسان وحشي و او لويديځه نړۍ خو بشرپاله دنيادە! داسي ورځ راته ناشونې ښکاريده چې همدا بشري نړۍ به زموږ پر کورونو بمونه غورزوي؛ تورسرې او ماشومان به وژني او په نيمو شپو به په خوب ويده ماشومان په سپيو داړي.

کله چې امريکايي الوتکو پر کندهار ښار خپل لومړي بمونه غورزول، د کندهار ښار پر مدد خان چوک د يوه بې وزله کندهاري د بمبارشوي کنډواله کور په لوټو او خزلو کې د يوې ځوانې انجلۍ يوه پښه په زړو جامو کې پرته وه او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدن يې ورک و! ماته هم هغه ګړۍ دغه پښه د امريکايي يرغل لخوا د افغان غميزې لومړی تابلو ښکاره شو.

خو بل پلوته د لويديځو رسنيو افغان ويانداتو او شننونکو د امريکايي وسلو په تعريف غاړې تازه کولې، د يرغلګرو د وسلو زور اوځواک يې ستايه او ځيني زړو غازيانو! د لا سترو بمونو په تمه په ږيرو لاسونه رانښکل.

څرنګه چې زما د ويانديِ ټوله دوره په نړيواله اوسيميزه کچه د طالبانو د نظام او افغانستان لپاره ډيره پيچيده اوبحراني وه، نو په راتلونکو پاڼو کې تر ډيره همدغه اسرار، پيښې او معلومات ځای شوي.

ما خپل معلومات د حکايت په توګه د لوستونکو په وړاندي ايښي او له نورو ترلاسه کړي معلومات د هغوي په حواله دي. زما دغه کتاب زما قضاوت او شخصي دريځ نه دي او نه د چا په فرمايش او نه هم چاته کمپاين دي. بلکي د خپلو ليدليو او اوريدليو پېښو يو رښتيني حکايت دی. خو دا ليکل چې په کومه بڼه شوي نو ښايي نه به د هغه چا خوښ شي چې د طالبانو په محبت کې ړانده او فنا فی الطالبان دي او نه به يې هغه څوک خوښ کړي چې د طالب د ښمني يې سترګې ړندې کړې وي او هرڅه يې نفي کول غواړي.

خو هيله من يم چې د دې دوو لوريو ترمينځ لوستونکوته يوه غوره معلوماتي پانګه ده البته لوستل يې ټولو ته ګټور ګڼم.

هغه معلومات چې ماته نورو راکړي ممکن ځينې يې ډير کره نه وي ، چې هلته بيا دغه کمی بايد زما ونه ګڼل شي.

خو په هغو برخوکې چې پر خپلو او پردويو معلوماتو مې خپله تبصيره کړې ، ښايی غير اختياري تمايلات په کې وي، چې دا به زما د بشري عجز برخه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز ښايي يو شمېر تر لمر رڼه حقايق وي خو ما د څه جدي مجبوريتونو له امله پرې ايښي وي، چې هيله ده په دې خاموشي مې هم لوستونکې وښښي. ځکه مور په شرقي نړۍ کې اوسو چې له بده مرغه دلته لا د وينا زغم په مخ کې ډيرې ستونځې لري، که څه هم د بيان د ازادي دعوه لرونکو لويديځوالو هم زمور د خولو په وړاندي فولادي ډالونه نيولي! نور مو د پاتې کتاب د لوستلو زغم ته رابولم

په مينه او درنښت

عبدالحی مطمئن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی څپرکی

د طالب او طالبان د کلمو ار او ریښه

د شلمې پیړۍ په پای کې نړۍ او سیمه له یوه نوي نامه سره اشنا شوه. دا د "طالبان" کلمه وه. "طالبان" کلمه د افغانستان د یوه لوی اطرافي او ځینې ښاري اکثریت په مینځ کې کومه نوې کلمه نه وه.

طالب له اړه د عربي ژبې کلمه ده چې پوره بڼه یې "طالب العلم" دی. معنا یې زده‌کوونکی ده. د دې کلمې جمع "طلبة"، "طلاب" او "طالبون" راځي. په عربي نړۍ کې د پوهنتونونو او ښوونځیو ټولو شاګردانو ته "طلاب الجامعة" او "طلاب المدارس" وایي. که هغه دیني زده‌کړې کوي یا عصري او مدني.

په هند او پاکستان کې هم طلبه او طالبات کلمې د دیني او عصري دواړو زده‌کړو لپاره عامې کارول کیږي، خو په افغانستان کې عصري زده‌کوونکو ته محصلین او متعلمین وایي چې دا هم عربي کلمات دي او یوازې دیني زده‌کوونکي ته طالب ویل کیږي، چې جمع یې د عربي پر ځای په پښتو وزن استعمالیږي. طلاب یا طلبه ورته نه وایي، بلکې د پښتو ژبې د جمع وزن ورته کاریږي او د "یاران"، "دوستان" او "افغانان" د کلمو په څېر "طالبان" کلمه هم په پښتو جمع کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د عصري ښوونځيو استادانو ته "معلمين" او ديني استادانو ته "ملا" او "عالم" کلمې کارول شوي. "ملا" کلمه د فارس، خراسان (اوسنی افغانستان) مينځنۍ اسيا او سويلي اسيا په اسلامي هېوادونو کې له پېړيو راهيسې ريښه لري، خو تر اوسه دا اتفاقي خبره نه ده چې دا کلمه په اصل کې له عربي راغلې او که عجمي ده. که عربي شي نو د ميم په پېښ او د لام په شد سره د لوړ او ستر معنا لري چې لوړ او ستر عالم تري هدف دی.

له تاريخي پلوه د اسلامي نړۍ د نورو برخو په څېر په خراسان او فارس کې هم د عباسي خلافت پر مهال د ديني علم، ادب او اخلاقو درس ورکوونکو ته "معلمين" ويل کېدل او د دې لپاره د "مؤدبينو" کلمه هم کارول شوې، خو ورو-ورو دغو نومونو د وخت په تېرېدو سره تغير کړی. تر دې چې اخر د فارس، خراسان او هند په مسلمانانو کې د "ملا"، "مولوي" او "مولانا" کلمې دود شوې دي.

اوس په افغاني ټولنه کې هغه ملا ته چې مروج ديني علوم يې بشپړ کړي وي، "مولوي" کلمه کارول کيږي (مولوي له مولا نه اخيستل شوی چې څښتن،شريف او پوهه لرونکي سړي ته ويل کيږي او دلته تري درېيمه معنا هدف ده. د مولا کلمه د نسبت د يا پر زياتولو مولوي ګرځېدلې) او چې علوم يې بشپړ کړي نه وي، نو ملا (د لام له تشديده پرته په خفيفه ښه) ورته ويل کيږي او په عامه اصطلاح کې ملا هر هغه چا ته هم وايي، چې له ديني زده‌کړو سره تړاو لري. که هغه له دې علومو فارغ وي او که يې لا نه وي تکميل کړي.

"اخوند" فارسي کلمه ده چې معلم يا استاد ته ويل کيږي. دا کلمه په پښتو کې له ملا سره يو خای کله ناکله کاريږي، لکه "ملا بورجان اخوند".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یوازې توګه د "اخوند" کلمه زمونږ د هېواد شیعه مذهبه وطنوال د خپل مسجد د امام او شیعه ملا لپاره کاروي او خپل ملایان "اخوندان" بولي، خو په پښتو کې د دیني طبقې ترمینځ د "اخوند" کلمه په مجرد ډول یوازې د تحقیر په موخه کارول کیږي، کله چې غواړي کوم ملا نیمګړی ملا معرفي کړي، نو وایي: هغه ملا نه دی، هسې اخوند دی!

په بره پښتونخوا کې د عالم یا ملا زوی ته یو شمېر خلک "اخنزاده" وایي، چې په اصل کې دا توری "اخوندزاده" دی چې معنا یې ده: د ملا یا اخوند زوی، دا لقب اکثره د ستر عالم زوی ته کارول کیږي.

د عالم، صوفي یا متقي خلکو زامنو ته "صاحبزاده" کلمه هم کارول کیږي، چې په عامه پښتو لهجه کې په "سابزاده" او "سوزاده" تلفظ کیږي. په لره پښتونخوا کې د استاد یا عالم زوی ته "صاحبِ حق" کلمه هم کارول کیږي، چې په عامه لهجه کې "سابي حق" تلفظ کیږي.

اسلام او خراسان (اوسنی افغانستان)

د اسلام له ظهوره ۴۸کاله وروسته د نبوي هجرت په ۳۵م کال، د اسلام درېیم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په وروستیو کې اسلامي فاتحان افغانستان ته راغلل او کابل یې په لومړي ځل فتح کړ. له هغه وروسته بغاوتونه وشول، څو کاله وروسته د معاویه رضي الله عنه په دور کې د کابل په وروستۍ فتح کې یو خراسانی زلمی "نافع کابلي" د غنیمت په توګه د عبدالله بن عمر بن خطاب رضی الله عنهما په برخه ورسېد. دېرش کاله یې له ابن عمر سره تېر کړل او نن چې له ابن عمر نه روایت شوي اکثر نبوي حدیثونه وینو، نو نافع رحمه الله رانقل کړي. دغه کابلی تابعي د حدیثو په کتابونو کې د ابن عمر د روایاتو تر ټولو امین او معتمد راوي او ناقل دی. د امام مالک موطا، صحیح البخاري، صحیح مسلم او د حدیثو نورو معتبرو کتابونو کې یې هم روایتونه ډېر تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوهمه هجري پېړۍ کې، د قتيبه بن سعيد بغلاني په څېر شخصيت چې امام بخاري ترې شاوخوا درې سوه حديثونه نقل کړي، همداراز د لرغوني خراسان د بلخ اوسېدونکي مکي بن ابراهيم بلخي په څېر سترمحدث چې تبع تابعي و او له امام ابوحنيفه، جريح او امام مالک څخه يې حديث اورېدلي وو، امام بخاري ورنه په خپل کتاب صحيح البخاري کې له (۲۳) ثلاثياتو نه (هغه حديثونه چې تر رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې يوازې درې واسطې په کې وي) ۱۳ يې له همده (مکي بن ابراهيم بلخي) نه روا يت کړي دي. همداراز محمد بن ابان، ابو عثمان سعيد تالقاني او امام ضحاک بلخي په څېر محدثين د خراسان د دوهمي هجري پېړۍ علمي ستوري وو.

په دربيمه هجري پېړۍ کې امام ابو داود سجستاني او د هغه شاګردانو په څېر محدثين، د امام ابو يوسف د شاګرد او د بلخ د قاضي امام ابو حفص په څېر فقهاء تېر شوي دي. همداراز د حديثو او فقهې د علومو ترڅنګ په دغه پېړۍ کې د نحوې، لغت او ادب په برخه کې د اخفشِ اوسط په څېر استادان هم د خراسان په سيمه کې را وټوکېدل.

په څلورمه سليزه کې د هلمند اوسېدونکی ستر محدث ابن حبان بستي، همداراز په هلمند کې زېږېدلی او دفن شوی محدث او فقيه د صحيح البخاري او سنن ابي داود شارح او د حديثو د رجالو د علم ماهر احمد خطابي چې د راشد خليفه عمر فاروق د ورور زيد بن خطاب له اولادې و، همداسي نور بې شميره محدثين او فقهاء د دې خاورې په برخه شول. همداراز د عربي ادب او لغت په برخه کې د هرات په خاوره کې بديع الزمان همداني قدم کېښود، چې له امله يې خراسان د عربي لغت، نحوې او ادب په يوه زړه‌پورې ډګر بدل شو. ورسره د قرآن کريم تفسير ته هم په خراسان کې پاملرنه زياته شوه، چې له امله يې په پنځمه هجري پېړۍ کې د امام بغوي شافعي په څېر مفسرين په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراسان کې پیدا شول او په شپږمه سلیزه کې د تفسیر کبیر لیکوال امام فخرالدین رازي پیدا شو.

همدا وخت و، چې په تفسیر کې د فلسفي بوی هم پیدا شو، چې په وړاندې یې د سالمې عقیدې درس ته پاملرنه زیاته شوه او په اتمه سلیزه کې د نورو علماوو ترڅنګ ابو حفص عمر غزنوي پر عقیدة الطحاویه شرحه ولیکله او په فقه کې یې "الشامل في الفقه" او نور مقبول کتابونه ولیکل.

همدا پېړۍ هم په خراسان کې د عقیدې، فقهې او نورو علومو ترڅنګ د نحوې، معاني او بیان د علومو د عروج دوره وه. سعدالدین تفتازاني د همدې دورې عالم و، چې د خراسان د هرات د تفتازان د سیمې اوسېدونکی و او په علم البیان و المعاني کې یې د المختصر او المطول په نومونو د اسلامي نړۍ په کچه دوه مشهور تالیفات وکړل. د علمِ نحوې د مهارت او پرمختګ دغه پېر نهمې سلیزې ته واوښت او په نهمه سلیزه کې د خراسان د هرات په ښار کې د عبدالرحمن جامي په څېر نحوي عالم پیدا شو، چې د ابن حاجب پر کافیه یې د فوائد ضیائیه په نامه کتاب ولیکه او تر ننه د دغې سیمې (افغانستان، هند او پاکستان) په مدارسو کې د "شرح ملاجامي" په نامه د نحوې د علم د اخري او تر ټولو ستر کتاب په توګه لوستل کیږي. د ده شاګرد "عبدالغفور لاري" بیا د ده پر کتاب حاشیه وکړه، چې په "شرح عبدالغفور" باندي شهرت لري او دومره دقیقه ده چې هر عادي مدرس یې درسولی هم نه شي.

د حدیثو د رجالو او د فقهې او عقیدې لور ته په لسمه سلیزه کې یو ځل بیا ځانګړې توجه وشوه. په لسمه سلیزه کې د عقیدې اصلاح کوونکې او د فقهې، عقیدې او په خپل عصر کې د جرح او تعدیل امام ملا علي قاري پیدا شو، چې د امام ابو حنیفه پر فقه اکبر یې شرحه وکړه او د ضعیفو او موضوعي حدیثونو پر پېژندنه یې هم ځانګړی کتاب ولیکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې سره سره چې د اسلامي نړۍ د واکمنۍ پر سر د شخړو په لړ کې خراسان هم خوندي نه دی پاتې شوی، خو خراسان او اوسني افغانستان له دې ستونزو سره سره د ديني علم او ديني عالمانو زانګو وه.

د اموي خلافت او هاشمي تحريک مقابلو، د غزنويانو او سلجوقيانو سيالیو، د چنګېز تاړاک او د صفوي ايران يرغلونو او سلطې، د خراسان سيمه او جغرافيه هم په خپل خپل دور کې تر اغېز لاندې راوستې ده، خو د حق لارې دعوت او د دين رښتينی تعليم له خنډونو او لنډمهاله ځنډ سره-سره روان او برلاسی پاتې شوی.

د فکري او عقيدوي خرافاتو، همداراز د ارتداد، زنديقيت او رافضيت ډول-ډول تحريکونه د نورې اسلامي نړۍ په څېر په خراسان کې هم ازمويل شوي، خو د اصلي اسلامي دعوت او فکر شتون يې هر ځل مخه نيولې.

کله چې د عباسي دورې دوهم خليفه ابو جعفر منصور د عباسي تحريک مخکښ فاتح او خپل ستر محسن ابومسلم خراساني يوازې د خپلې ځان‌غوښتنې، زړې سيالۍ او شخصي غرور د بقا لپاره په خپل دربار کې په ښکاره ووژه، نو په خراسان کې د هغه د مسلمانو پيروانو ترڅنګ د قومي او سمتي عصبيت له مخې د عباسي خلافت پر ضد ځينې مرتدې ډلې او اشخاص هم پيدا شول، چې اسلام ته يې شا کړه او د زاړه مجوسي او زردشتي افکارو پيروي يې پيل کړه. په دې کې د "سنباد زردشتي" پاڅون او د نبوت د مدعي "استاد سيس" کفري تحريک او د "مقنع بلخي" الحادي او شرکي تحريکونه د يادونې وړ دي. دوی په سمتي او قومي عصبيتونو ګڼ پيروان هم پيدا کړل، خو د اسلام رښتينې شمع يې مړه نه کړای شوه او حقيقي دعوت او داعيانو له لنډ توقف وروسته په سيمه کې د عقيدې اصلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه. په هره سلیزه کې خراسان د رښتیني دعوت او دیني پوهې داسي ستوري لرل، چې پوره سلیزه یې خپل چاپېریال نوراني ساتلی و.

یوولسمه پېړۍ پر دغه سیمه د صفوي ایران او افغانانو ترمینځ د مقابلې دوره وه. د پښتنو یو صالح مـشر، حاجي میرویس خان هوتک چې په "میرویس نیکه" شهرت لري، د صفویانو د استعمار د ټغر ټولولو لپاره د خپلو علماوو ترڅنګ حرمینو ته په همدې نیت سفر وکړ او د حجاز له علماوو څخه یې د جهاد فتوا راوړه، ترڅو خپل قوم د دې غزا لپاره په عقیدوي توګه چمتو کړي. همدې مقاومت نه یوازې پر خراسان صفوي تسلط پای ته ورساوه، بلکې هوتکیانو په خپله دوره کې د ایران ډېر ښارونه له صفوي امپراتورۍ فتح کړل. په دې دوره کې د اهل سنت علماوو په خراسان کې خپل دعوت او دیني تعلیم په غوره توګه روان ساتلی و.

د یوولسمې هجري پېړۍ په دوهمه نیمایي کې ستر شهنشاه احمدشاه ابدالي د خراسان ختیزې او سویلي برخي چې مغلو لاندې کړې وې، ببرته ونیولې او لویدیځ لور ته یې صفویان له نیول شویو سیمو په شا کړل او پر دغه ستره جغرافیه یې د سیمې د ټولو مښتو قومونو په یوه مشترکه جرګه کې د ټولو په خوښه د "افغانستان" نوم کښبود او په دې کې د پنجاب تر څنډو هغه ټولې سیمې شاملې وې، چې د ابدالي سلطان تر واک لاندې وې او اوسېدونکي یې افغانان وو.

احمدشاه ابدالي رحمه الله خپله هم دیني پوهه لرله او په خپل دربار کې یې د وخت سترو علماوو ته د دیني مفتیانو او مشاورینو رتبه ورکړې وه. احمدشاه بابا د هند د ستر داعي او د هند په وچه کې د حدیثو د علم امام، شاه‌ولي الله دهلوي ته ډېر معتقد و او د هغه په تش دعوت د هند د مسلمانانو د دفاع لپاره هلته ولاړ، مسلمانان یې د یرغلګرو مرهټیانو له ظلمه وژغورل او مرهټیان یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت وځپل. له همدې امله خو شاه بابا یو صحیح العقیده او مجاهد پاچا ګڼل کیږي، چې د همدې جذبې له مخې یې په هرات، کندهار او پېښور کې ديني مدرسې تاسیس کړل، د کندهار د زړې جامع او د هرات د پای حصار ديني مدرسې یې مشهوره وې.[1]

په خراسان کې د ديني زده‌کړو تاریخي بهیر

خراسان ته د اسلام له راتګه وروسته چې د ديني زده‌کړو د درس او تدریس دوره پیل شوې، نو ديني درسګاوو او مراکزو ښلا ښلې دورې لرلې دي.
د اسلام له راتګه وروسته په خراسان کې په ښلا ښلو ډولونو ديني تعلیم کېده. په عباسي دوره کې په دې سیمه کې زیات مساجد او مدارس اباد شول. د ځینو تاریخونو په حواله په دې کې داسې مدارس هم وو چې تر درې زرو پورې شاګردان یې لرل. د څلورمې هجري پېړۍ په لومړیو کې د سلطان محمود غزنوي په واکمنۍ کې په غزني کې د یوه روښانه اسلامي تمدن بنسټ کېښودل شو. په دې کې د منظمو ديني مدارسو ترڅنګ د هغه وخت د پرمختللو عصري علومو او مهارتونو تعلیمي مرکزونه هم تاسیس شول.

د ابوریحان البیروني په څېر د علم نجوم، طبیعاتو، طب، جیولوژي او ریاضي ماهرین او نوابغ د دغو مدني ښوونځیو استادان وو.

په شپږمه هجري پېړۍ کې د سلطان غیاث الدین غوري له خوا د هرات جامع جومات جوړ شو، چې اوس هم شته او دا ستر جومات د ديني دعوت او تعلیم د

[1] ماخذونه:(سیرالاعلام النبلاء: علامه ذهبي- افغانستان بعد از اسلام:علامه حبیبي- مشاهیر افغانستان: ګل محمد سعید)

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه مرکز حیثیت لاره. ورسره په دغه سیمه کې نورې دیني درسګاوې هم تاسیس شوې. په دې لړ کې د بلخ دیني مراکز هم د یادونې وړ دي.

د خراسان مسلمانو واکمنو او دیني علماوو په هره پېړۍ کې د دیني مراکزو پالنه کړې، خو له دې سره د عامو خلکو او دیني اشخاصو په مټ خصوصي زده‌کړې هم تل روانې وې.

دولسمه پېړۍ د اسلامي نړۍ د سیاسي کمزورۍ، سیاسي وېش او دیني تفرقې پېړۍ وه. عثماني خلافت د زوال لور ته ګامونه اوچتول، د عالمګیر له مړینې وروسته مغلي سلطنت تش په نامه او کمزوې واکمني وه، خو په هند کې د شاه‌ولی الله د پیروانو دعوتي لاره بریالۍ وه. د افغانانو او هند ترمینځ، د دیني او فکري اړیکو تار بیا هم ونه شلېد.

د دیارلسمې هجري پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د انګرېزانو واکمنۍ پر ټوله سیمه سیوری وغوړاوه، بل لور ته پر پنجاب د سکانو ظلم او سلطې د دې ځای مسلمانان له ستونزو سره مخ کړي وو. د شاه‌ولی الله رحمه الله لمسي او د شاه عبدالغني زوی شاه اسماعیل او د هغه ملګري سید احمد بریلوي رحمه الله په پنجاب او د پښتنو اړوندو سیمو کې د سیکانو په وړاندې په جهاد لاس پوري کړ. په زرګونو علماء او طالبان ورسره وو، له سیکانو یې پراخې سیمې فتحه کړې. د دغو غازیانو او قبایلي او افغاني علماوو ترمینځ روابط وو، دغه دواړه غازیان له سیکانو سره په جګړه کې شهیدان شول، خو د هندي او افغاني اسلامپالو ترمینځ دیني اړیکې همداسې ټینګې پاتې شوې.

په ۱۸۵۷میلادي کال د هند په نیمه وچه کې د انګرېزي استعمار په وړاندې د مسلمانانو پاڅون نه یوازې ناکام او خنثا شو، بلکې د هند خاوره د انګریزي استعمار له خوا د مسلمانانو په وینو ولړل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت د هند د د يني طبقې په مينځ کې يوه بارزه څېره مولانا محمد قاسم نانوتوي و، چې د ازادۍ په جګړه کې يې د يوې حوزې مشري هم کوله، د پاڅون د ناکامۍ پر مهال يې ډېر مشکلات هم وګالل. وروسته يې د مسلمانانو د فکري پياوړتيا او ديني پوهې په موخه له ځينو نورو ديني علماوو سره په ګډه په ۱۲۸۳هجري د محرم الحرام په ۱۵مه چې د ۱۸٦٦ ميلادي کال د مۍ له ۳۰مې سره سمون خوري، د اترپرديش ايالت د سهارنپور ولسوالۍ د ډيوبند په يوه له نظره وتلي ښارګوټي کې د "مدرسه عربيه اسلاميه" په نامه د يوې مدرسې د بنسټ ډېره کېښوده. دا مدرسه د وخت په تېرېدو په "دارالعلوم ديوبند" مشهوره شوه. ديوبند ته د عربي نړۍ، ماوراءالنهر او افغانستان نه هم طالبان ورتلل او دغه مرکز پر ټوله سيمه علمي اغېز وکړ.

د افغانانو او ديوبند دارالعلوم ترمينځ اړيکې د دغه علمي مرکز له لومړيو کلونو پيل شوي او د حديثو په فن کې د ډېرو افغاني شيخانو سند د هند د نيمې وچې علماوو ته د ديوبند د تاسيس له برکته رسيږي، چې اول به د خراسان، ماوراء النهر، حجاز، عراق او مصر محدثينو ته رسېده، خو په خراسان کې حنفي مذهب له پېړيو راهيسې نافذ دی. غالباً هند ته هم دغه مذهب له خراسانه صدور کړی او د غزنوي، غوري او ابدالي لښکرو سره له خراسانه هند ته علمي رجال هم تللي او هلته يې حنفي مذهب دود کړی. د دې ترڅنګ په مغلي دور کې فارسيان، ترکان او عرب هم هند ته تللي، خو هلته حنفي مذهب زيات پيروان پيدا کړي او ديوبند مدرسه د دې مذهب تر ټوله ستره درسګاه ده. له افغانانو سره د ديوبند يوه ګډه نقطه دا ده چې په حنفي فقهه کې دواړه ولسونه سره مشترک دي او بله مشترکه نقطه يې د انګرېزانو پر ضد ګډه عملي او فکري مبارزه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر دوست محمد خان دیني مشاور، د سراج الاحکام د تالیف غړی او د میزان التحقیق د دیني اداري رییس مولانا عبدالرزاق اندړ هم له مولانا رشیداحمد گنگوهي څخه حدیث لوستي وو، چې د مولانا قاسم نانوتوي هم‌عصره ملگری و او د دیوبند د مدرسي په تاسیس کې یې فکري او علمي برخه لرله.

مولانا عبدالرزاق اندړ د انگرېزانو پر ضد جهاد کې، د وزیرستان د ملا پیونده او د هډي د ملاصیب (نجم الدین اخندزاده) ملگری او په وزیرستان کې یې په "رییس المجاهدین" شهرت لاره.

همدارنگه په راوروسته دوره کې ډېرو افغاني شیخانو د حدیثو سند له دیوبنده ترلاسه کړی و. په رسمي او محلي درسگاوو کې د دیوبند د مدرسې د ډېرو فاضلانو شتون په دغه سیمه کې له هند سره دیني تړاو نور هم ټینګ کړ.

د امیر حبیب الله خان په دوره کې د شیخ الهند مولانا محمود الحسن دیوبندي رحمه الله د انگریزي استعمار ضد تحریک په دیني کړیو کې خپور و او د افغانستان حکومت یې رسماً ملاتړ کاوه.

شیخ الهند رحمه الله د دې دعوت په ترڅ کې حرمینو ته سفر وکړ، چې د حجاز له واکمنو یې مرسته وغوښته او مولانا عبیدالله سندي یې افغانستان ته را واستاوه، چې بیا وروسته څه هندي مسلمانان هم د مهاجرو په توگه د دوی په رهبرۍ افغانستان ته راغلل.

د اوخت د شیخ الهند له خوا د عبیدالله سندي او نورو علماوو په توسط دانگریزانو په خلاف د ریشمي رومال تحریک په موثر ډول روان و، چې له امله یې انگریزانو په حجاز کې شیخ الهند ونیو او د اروپا د مالټا په جزیره کې یې تر دریو کالو بندي کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغان حکومتونو او هندي علماوو تر مېنځ د اړیکو په بهیر کې په ۱۳۲۴لمریز کال د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه خپل صدراعظم سردار محمدهاشم خان ته امر وکړ، چې د شیخ الهند مولانا محمودالحسن د قران کریم ترجمه او ورباندې د مولانا شبیراحمدعثماني د قرآن کریم تفسیر دې پښتو او دري ژبو ته وژباړل شي، چې د دولت له خوا د یو عام‌فهمه او معتمد تفسیر په حیث خپور شي.

د دې تفسیر د ژباړې او چاپ لپاره یوه کمیسیون ټاکل شوی و، خو د علمي کتنې او سمونې لپاره چې چا ته دنده سپارل شوې وه، هغه د عربي دارالعلوم شیخ الحدیث مولانا غلام نبي کاموي و، چې د حدیثو دوره یې په دارالعلوم دیوبند کې پر مولانا انورشاه کشمیري رحمه الله کړې وه او د هغه له ممتازو شاګردانو څخه و او څو کاله په دارالعلوم دیوبند کې استاد هم پاتې شوی و.

مولانا کاموي به دغه تفسیر او ترجمه د سلفو له مشهورو تفاسیرو لکه تفسیر ابن کثیر، روح المعاني، الجامع لاحکام القران للقرطبي او نور زبده او معتبرو تفاسیرو سره مقایسه او موازنه کوله، بیا به یې تصدیقوله، له دې وړاندې په افغاني ټولنه کې په فارسي ژبه ځینې مفصل تفاسیر مشهور وو، چې عام او کم لوستو خلکو ګټه نه شوای تړې اخیستی او د دیني حلقو په مینځ کې د قرآن د لغوي او نحوي زده‌کړې لپاره واړه پیچیده عربي تفاسیر لکه تفسیر جلالین او تفسیر بیضاوي دود وو او د قران‌پوهنې لپاره د علماوو ترمینځ د ډېرو جلدونو لرونکي مشهور عربي تفاسیر رواج وو.

د افغانستان او هند ترمینځ د علماوو، سوداګرو او عامو خلکو هجرتونو او راشه درشو خپلمینځي تعامل لا اسانه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کوزې پښتونخوا نامتو ديني عالم او د مشهورې ديني مدرسې، درالعلوم حقانيه بنسټګر، مولانا عبدالحق پلرونه د افغانستان له غزني د کوزې پښتونخوا نوښار سيمې ته پخوا راغلي وو. مولانا عبدالحق له ديوبنده له فراغت وروسته لومړی د کوزې پښتونخوا نوښار سيمې ته څېرمه د اکوړه خټک په ښارګوټي کې يو ديني انجمن جوړ کړ او بيا په دوهم ځل هند ته ولاړ. هلته په ديوبند کې څو کاله مدرس پاتي شو، خو د پاکستان له جوړېدو سره ديوبند ته تلل راتلل ورته ستونزمن شو، نو په همدغه ښارګوټي (اکوړي) کې يې يوه وړوکې مدرسه پرانيسته چې وروسته يې په سيمه کې ځانګړی شهرت او اهميت خپل کړ. دې مدرسې ته د حديثو د زده‌کړې په موخه د بړې پښتونخوا طالبان هم ورمات شول، چې په لږه موده کې دې مدرسې ډېر شهرت پيداکړ او شيخ الحديث مولانا عبدالحق رحمه الله د مدرسې تعمير پراخ کړ، ورسره يې د شاګردانو تعداد او د مدرسې استادان هم زيات کړل، دغه مدرسه چې په دارالعلوم حقانيه سره يې شهرت پيداکړ، د افغانستان ډېرو طالبانو په کې ديني زده‌کړې وکړې.

په افغانستان کې د کمونستي کودتا او د پخواني شوروي له يرغل وروسته چې د هند ديوبند او نورو درسګاوو ته تلل ستونزمن شول، په افغانستان کې دننه هم علمي طبقه ورټل شوه او ديني مراکز کمونستانو وټړل، علماء او مشهور شيوخ يې اسيران يا له مينځه يوړل، زيات شمېر افغانان پاکستان ته مهاجر شول. د پاکستان د خيبر پښتونخوا او بلوچستان ايالتونو په مدارسو کې ډېرو افغانانو زده‌کړې وکړې. د خيبر پښتونخوا او بلوچستان په مدارسو کې تدريس په پښتو ژبه کېده، چې له همدې امله افغانانو ته ښکاره اسانتيا وه.

په پاکستان کې له اوږدمهاله ژوند وروسته افغان ديني زده‌کوونکو د پنجاب او کراچۍ سترو ديني درسګاوو ته هم مخه کړه، چې په راوروسته کې ډېر افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماء په دغو مدارسو کې د استادۍ پر مسند هم فایز شول. له همدې امله د دې سیمې له مدارسو سره د افغان طالبانو تړاو د حالاتو جبر او د شرایطو تقاضا وګرځېده، د تاریخ او حالاتو د جبر په استناد سړی نه شی کولای دا اړیکې د ځینو په څېر لنډمهاله او مقصدي تعبیر کړي او د اړیکو دا اوږد مزل او درانه اسباب له پامه وغورځوي، ځکه تاریخي شواهد ښیي چې د پښتونخوا او هند نیمې وچې ترمینځ د علماوو او طالبانو تګ راتګ له پخوا همداسې دود پاتې شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان او د څو پېړیو طالبي دود

په افغانستان کې د طالبانو درسي دود له پېړیو راهیسې تر ډېره په شخصي او دودیزه بڼه روان و. ډېر لږ رسمي مدارس وو، چې دیني زده‌کړې یې ورکولې، بلکې په عامه توګه هر عالم به له خپل وس سره سم محدود شمېر شاګردان ساتل او د خپل جومات تر څنګ به یې د شاګردانو د اوسېدلو لپاره یوه یا دوې خونې لرلې، چې د طالبانو حجره یا ډېره به یې بلله. د دغو شاګردانو یا طالبانو خوراک څښاک به له جومات سره د ټرلیو خلکو پر غاړه و. هغه عالم چې د تدریس وړتیا به یې لرله، هغه به د یو ستر جومات امام و، چې په دې جومات پورې به یو یا دوه ستر کلي تړلي وو. دغو خلکو به د خپل شوق او دین‌دوستۍ له مخې د جومات د امام له شاګردانو سره د خوراک او څښاک مرسته کوله. د خوړو د راټولولو لپاره به یې د خلکو کورونو ته هغه کم عمره شاګردان چې بلوغ ته به لا نه وو رسېدلي وراستول، چې دغو ماشومانو ته به یې په بره پښتونخوا کې (چړیان) او په کوزه پښتونخوا کې (چونې) ویل او هر مدرس عالم به د کلي د ګنجایش په کچه شاګردان ځایول. په دغو کوچنیو درسګاوو کې به شاګردان دوه ډوله وو: یو به هغه و چې له نړدې سیمو به د درس حلقې ته راتلل. دغه به نهاري شاګردان وو، چې دوی هیڅ ډول مصارف نه لرل؛ بل هغه وو چې د امام او عالم د لوړ علمیت او زیات شهرت له امله به له لېرې سیمو راتلل. هغوی به دلته شپه او ورځ اوسېدل. په دې کې به چې څوک لږ نړدې و، نو د پنجشنبې د ورځې په ماسپښین به کور ته تلل او د جمعې د ورځې په مازیګر به بېرته راتلل. ځینې بیا په میاشتو او حتی کلونو کورونو ته نه تلل او د علمي سلسلې تر تکمیله به بوخت وو. ښکاره خبره ده هغه طالبان چې کورنی اقتصاد به یې کمزوری و، د علم په تلاش کې به یې ډېرې بې وسۍ او کړاوونه ګالل.

د دیني علومو د زده‌کړې په لاره کې ستونزې، بې وسۍ او لوړې تېرول په دیني ټولنه کې یو ډول فخر او نېکمرغي ګڼل کېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیني استادان تل خپلو شاګردانو ته دا خبره کوي چې د علم په طلب کې د ستونزو او بې وسیو ګالل د اسلام په تاریخ کې کومه نادره خبره نه ده. د نړۍ نامتو اسلامي پوهانو د دیني زده‌کړو په مینه کې هر ډول لوړې او تندې تېرې کړې دي. د نبوي حدیثو په لټون کې د امام بخاري په څېر سترو شخصیتونو هم د لوړې او بې وسۍ بوږنوونکي حالات ګاللي دي.

هغوی په مثال کې اصحاب صفه یادوي او وایي چې د بې وسه شاګردانو پر یوه ځای استوګنه د اسلام له پیله د یوه سنت په توګه راپیل شوې، چې پیلامه یې اصحابِ صفه کړې. اصحاب صفه یا د صوفې طالبان د حضرت محمد رسول الله صلی الله هغه ملګري وو چې د نبوي جومات پر چوتره به یې -چې د خرماوو د لښتو سیوری وربانديِ جوړ و- له نبي علیه السلام نه د الهي احکامو او شریعت زده‌کړه کوله او د استوګنې لپاره یې بل ځای نه درلود. همدلته به اوسېدل، ځکه خو د اصحاب صفه په نوم یادېږي (صفه په عربې ژبه کې چوترې ته ویل کیږي). دوی د اسلام په تاریخ کې په زهد، تقوا، د اسلام د پېغمبر په سیرت او احادیثو کې د پوهاوي سرچینه ګڼل کیږي. له رسول الله نه چې یې تر ټولو زیات حدیثونه روایت کړي ابو هریره رضی الله عنه دی چې اصلی نوم یې عبدالرحمن و. ابوهریرة د صوفې تر ټولو مشهور شاګرد و، چې په دې لاره کې یې لوړې او سختۍ ګاللي. آن تر دې چې یوه ورځ یې د خوړلو لپاره څه نه لرل او له لوړې نه د نبوي جومات په لاره کې پروت و او نور یې په وجود کې د خوښښت ځواک نه و. چا ته یې خپل حال هم نه وایه، خلک وربانديِ تېریدل، اخیر رسول الله صلی الله علیه وسلم وربانديِ راغی او پر حال یې پوه شو او له ځانه سره یې کور ته بوته.

ابو هریرة رضي الله عنه د اصحاب صفه د منزلت په اړه وایي: وأهل الصفة أضياف الإسلام، لا يأوون على أهلٍ ولا مالٍ ولا على أحد (صحيح البخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د صوفي اوسيدونکي [طالبان] د اسلام مېلمانه وو، نه يې کورنۍ وه، نه مال او نه بل څوک"

په افغانستان او شاوخوا سيمو کې په وروستيو څو پېړيو کې د تدريس ډېره برخه همدغه دوديزې شخصي درسګاوې وې، چې د حجرې يا درس په نامه به يادېدې.

وروسته ځيني رسمي او منظم ديني مراکز هم رامينځ ته شول، چې په دې کې ځينې د دولت له لوري رسمي وې او ځينې يې شخصي، خو د زده‌کړو ترتيب يې منظم او د صنفونو او امتحاناتو قانون يې لاره. دغه منظم مدارس لکه د کابل عربي دارالعلوم، ابوحنيفه مدرسه، د ننګرهار نجم المدارس، د غزني نورالمدارس، د بلخ اسديه، د کندهار محمديه، د هرات ديني مدرسه په شمال کې دارالعلوم تخارستان او يو شمېر نورې وړې اوسترې مدرسې.

په عام ډول شخصي او دوديزې درسګاوې پر رسمي او دولتي هغو ډېرې وې او د هېواد په کچه د مشهورو او نامتو ديني عالمانو په درسونو او دېرو کې به د طالب لپاره ځای موندل يو ستر ويار و او دا به په اسانه نه شوای ترلاسه کېدای، بلکې دا ډول درسونو کې به يوازې ذهينو او ځيرکو طالبانو ته داخله ورکول کېده.

دغو مشهورو شيخانو به طالب ته کتل چې کله به يې په شفاهي بحث کې معلوم کړ، چې په درسونو کې لايقه او ذهين دی، بيا به يې د خپل درس قيودات او شرايط ورته ويل. دا شرايط به څه په دې ډول وو: د پنځه وخته جماعت لمانځه پابندي، سيرت او صورت په نبوي سنتو برابرول، د سهار د درسونو لپاره د شپې پوره مطالعه، د جمعې له ورځې پرته د رخصتۍ نه کول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ته ورته نور ډول ډول شرایط او قیودات چې ټول به یې په دیني احکامو او درس پورې تړلي وو.

د طالبانو جهادي مخبینه

په افغانستان کې د انګریزانو پر ضد په درېوو مشهورو جګړو کې د افغانستان علماوو د لارښوونکو او قوماندانانو رول ادا کړ. په دې جګړو کې ډېر علماء او طالبان شهیدان شوي، چې د کندهار ښار د طالبانو هدیره، د بولدک د طالبانو هدیره او د کندهار د هرات دروازې د شهیدانو چوک یې ژوندي مثالونه دي، چې د افغان مورخ مرحوم علامه عبدالشکور رشاد په وینا "دا ټول قبرونه د هغو طالبانو دي، چې له انګریزانو سره په مخامخ جګړه کې شهیدان شوي دي".
د انګریزانو پر ضد مبارزه کې ملا مشک عالم اندړ چې اصلي نوم یې دین محمد و، مولاناعبدالرزاق اندړ، نجم الدین اخنزاده، ترنګزو حاجي صیب، د کابل د شوربازار د حضرتانو کورنۍ، مولانا امیر محمد چې په "چکنورو ملا صیب" مشهور و، سید محمد اکبرشاه چې په "سرکانیو ملا صیب" مشهور و، مولوي عبدالکریم، چې په "جان اباد ملا صیب" مشهور و، شیخ المشایخ عبدالغفور د سوات، مولوي فیض محمد د موسهي اخنذاده صیب، مولوي عبدالله غزنوي او په سلګونو مشهورو او نامشهورو علماوو د انګرېز د یرغل په مخنیوي او د خپلواکۍ د ګټلو په لاره کې عملي مبارزه کړې، چې نومړ یې ډېر اوږد دی، دلته یې یوازې څو بېلګې وړاندې شوې. د دوی هر یوه په سلګونو او زرګونو شاګردان لرل چې په دې جګړو کې یې برخه اخیستې وه.

د انګرېزانو پر ضد د میوند مشهوره جګړه کې د میوند له فاتح محمد ایوب خان سره د انګریزانو پر ضد د ملګرو علماوو په اړه امیر عبدالرحمن خان چې هغه وخت یې له انګلیسي استعمار سره لاس یو کړی و په خپل کتاب تاج التواریخ کې هم یادونه کړې: "...محمدایوب خان ادوات حربیه، لشکر و اسلحه بیشتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

از من نداشت، بر علاوه ملاهای جاهل به مخالفت من اعلان جهاد داده بودند. این کار به جهت پیشرفت محمد ایوب خان خیلي مساعد بود. اینها میگفتند من دوست انگلیس‌ها وحریف من غازی"

د امان الله خان او ديني علماوو ترمينځ ستونزې

په ۱۹۱۹ میلادي کال کې امان الله خان د خپل پلار حبیب الله خان له مرګه وروسته د افغانستان د پاچا په توګه د واک پر ګدۍ کېناست، د کابل د حضـرتانو او ورسره ديني علماوو په هڅونه امیر امان الله خان د انګرېزانو پر ضد د کابل عیدګاه جومات کې د زرګونو افغانانو په حضورکې د خپلواکۍ او جهاد اعلان وکړ. انګلیسانو د افغانستان خپلواکي ونه منله او د افغان-انګلیس درېیمه او اخیري جګړه پیل شوه. په دې کې د ګنیو ديني علماوو او د کابل له حضـرتانو نه د خواجه عبدالقیوم مجددي دوه زامن شمس المشایخ فضل محمد مجددي او نور المشایخ فضل عمر مجددي د امان الله خان د جنګي قومندانانو ترڅنګ په جګړه کې برخه واخیسته.
د ټل په جنګي کرښه او محاذ کې نادر خان د جګړې قوماندان و او شمس المشایخ فضل محمد مجددي ورسره ملګری و او د وزیرستان د جنګي کرښې او محاذ د جګړې قوماندان شاه‌ولي خان و او نورالمشایخ فضل عمر مجددي ورسره ملګری و.

په دې جګړه کې ډېرو ديني علماوو برخه اخیستې وه، چې پر کابل د انګریزي الوتکې بم غورځولو او د مشـرقي د کرښې د قوماندان صالح محمد خان د عادي زخم بهانې جګړه له پرمختګه پر شا کړه. له دې سره امان الله خان رواني ضربه وخوړه او له انګریزانو سره يې د جګړې متارکه اعلان کړه. په دغه متارکه کې ځيني ديني خلک او ملي جنګیالي ناراضه شول؛ ځکه دوی غوښتل چې هغه ټولې سیمې له انګریزانو بېرته ونـیسي، چې د امیر عبدالرحمن خان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنرال ډیورنډ ترمینځ په مشهوره معاهده کې په موقت ډول له افغانستانه جلا شوې وې؛ ځکه چې انګریزان معاهدې ته وفادار نه شول. بیا بیا یې تجاوز وکړ، نو ځکه د دې معاهدې حیثیت پاتې نه و، چې له همدې امله د کربنې د پورې غاړې افغانانو زړونه هم مات شول.

د ۱۲۹۸ل د زمري په ۲۸مه انګرېزانو د افغانستان خپلواکي ومنله. شاه امان الله خان د خپلواکۍ د جګړې په ویاړ دواړه حضرتانو ته د لمر رسمي نښانونه ورکړل او د "شمس المشایخ" او "نور المشایخ" القاب یې ورته اعلان کړل.

د ۱۹۲۷میلادي کال په نیمایي کي امان الله خان سره له خپلې میرمنې د اروپا په اوږده سفر ولاړ، چې څه کم یو کال وخت یې ونیو. د ۱۹۲۳میلادي کال په جون کې چې بېرته راستون شو، یو څو نا اټکل شوې او پاروونکې اعلامیې یې صادرې کړې، لکه د حجاب بندیز، د شرعي لباس مخالفت، د ښځو مطلقه ازادي، اروپایي ستایل ژوند او لباس خپلول، پر دیني زده‌کړو محدودیت او بندیز، په کابل ښار کې پر اذان بندیز او دې ته ورته ډېرې عجیبې او غریبې اعلامیې چې تاریخونو ډول ډول را اخیستې دي.

له همدې امله د دیني علماوو له کلک غبرګون سره مخ شو، چې په دې کې د ده د خپلواکۍ د جګړې ملګري د کابل حضرتان هم وو. نورالمشایخ د خپلواکو پښتنو قبایلي سیمو ته هجرت وکړ او هلته یې تر پنځو کالو ژوند کاوه. ویل کیږي چې امان الله خان د خپلو اصلاحاتو په تطبیق کې دومره احساساتي و، چې د دولت قاضي عبدالرحمن پغماني ورته د شرعي حجاب د حکم په اړه قران کریم وغوړاوه، امان الله خان قران کریم په لغته وواهه چې بالاخره یې قاضي پغماني هم د یو شمېر نورو دیني اشخاصو په څېر وواژه. له دې وروسته د امان الله په خلاف لرو بر ولس راپاڅېد، امان الله خان له هېواده تېښتې ته اړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امان الله خان د اصلاحاتو په اړه مورخین او افغان څېړونکي تر اوسه هم یوه خوله نه دي. د محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر وخت رسمي لیکنې او ځینې د تاریخ کتابونه له امان الله خان سره د اروپا له سفره وروسته مخالفت کوونکي علماء او روحانیون د انګرېزانو لاس پوڅي نوموي او همداراز د ارتجاع نسبت ورته کوي، خوه یوه خبره چې له سړي سره د دې ډول تورونو د اصلیت په پېژندنه کې مرسته کوي؛ هغه دا ده چې څرنګه هغه علماء او روحانیون چې له امان الله خان سره د انګرېز پر وړاندې په جګړه ګې برخه اخلي او د خپلواکۍ د اعلان په ملاتړ کې د امان الله خان تر شا دریږي، هر ډول قربانۍ ورکوي خو کله چې امان الله خان له انګرېزانو سره دوستانه پیلوي له اروپا نه د راستنېدو پرمهال همدا روحانیون ورسره مخالفت کوي؟ که لاس پوڅي واي نو د خپلواکۍ د اعلان او د افغان انګلیس د دریمې جګړې پرمهال به یې د امان الله خان خوا نه نیولای!

افغان تاریخ پوه حسن کاکړ چې زموږ د واکمنۍ پر مهال یې کندهار ته سفر لاره او زه یې کوربه وم، په دې اړه مو مفصل بحث وکړ، خو د هغه دغه جمله مې تراوسه هم په یاد ده، چې ویل یې: امان الله خان چې د اصلاحاتو په نامه کوم څه، په کوم ډول عملي کول دا د هغه یو حماقت و!.خو د ښاغلي کاکړ په خبرو هم پوره باور نه شي کېدای، په تیرو دو لسیزو کې د حالاتو له بدلون سره د نوموړي بدلېدونکي دریځ ته په کتو سړی نه شي ویلای چې د هغه اصلي او وروستۍ رایه به څه وي او یا به د هغه په لیک او وینا کې د بې طرفه قضاوت او رښتینولي رنګ څومره غالبه وي.

امان الله خان چې څه و، هغه و، خو که یې د هېواد د پرمختګ له مثبت هوډ سره د ملي ارزښتونو او ديني عقایدو درنښت په نظر کې نیولای وای، د کلتور د بدلون او ديني ارزښتونو د تنقید د ناوړه هڅو پر ځای یې همدغه پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د غربي شکل پر ځای افغاني شکل ورکړی وای، ولس او ديني طبقه يې په حکيمانه ډول په دې کار کې د ځان ملګري کړي وای، د مصلحت او حالاتو د تقاضا په سيوري کې يې خوځښت پيل کړی وای، دا به هم د ده، هم د ملت، هم د وطن او هم د ديني طبقې په ګټه وای.

د تاريخي پيښو په استناد امان الله خان له دې سره چې د مثبت مدني بدلون پلوي و، د شخصي ژوند په هره برخه کې يې عصباني او بې صبره مزاج لاره، خو د ستونزو پرمهال بيا بي زړه او بې مقاومته و. د هغه له لورې په وړو وړو خبرو توپنچه ويستل او د مرګ ګواښونه کول د بې صبرې او عصبانيت دليل دي، خو د ربښتيني مقابلې پر وخت يې بيا د تيښتې لاره غوره کړه! وطن اوپيروان يې يوازې پريښودل ، نه يې د داود خان غوندي په خپله توپانچه تر مرګه مقاومت وکړ اونه يې له تيښتې وروسته د خپلو پيروانو رهبري او رهنمايي وکړه ، چې دا د هغه د نه مقاومت او بې زړه توب دليل دی.

د امان الله خان د تېښتې او نادر خان د واکمنۍ تر مينځ لږه موده يو ډول د قدرت خلا وه، ځکه ديني طبقې سره له دې چې په مېړانه يې جهاد کولای شوای، خو د زهد او دروېشۍ مزاج دومره پرې غالبه و، چې له وړاندې يې د سياسي خلا د ډکولو اماده‌ګي او تنظيم نه لاره، که نه هغوی کولای شوای چې يوه ځواکمنه ملي او اسلامي واکمني يې قايمه کړې وای.

په دغه خلا کې حبيب الله کلکاني واکمن شو، چې له خپلو پلويانو سره د يوه برید په پايله کې د هېواد پلازمېنې ته دننه شوی و، هغه ديني مقررات حمايه کړل، خو د دولت اداري تجربه او وړتيا يې نه لرله. بالاخره هغه هم د يوې دسيسې له مخې د نادر خان له خوا له واکه ګوښه او د انتقام له مخې يې مجازات کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادر خان واک ته له رسېدو سره د امان الله خان اصلاحات او ځينې نادوده تغيرات لغوه اعلان کړل او په دې سره يې ديني طبقه او ولسي جذبات خاموش کړل. د نادر خان له لنډې واکمنۍ وروسته د هغه د زوی محمد ظاهر شاه دوره د ديني علماوو له خوا دولت ته او د دولت له خوا علماوو ته نسبتاً ارامه وه، خو د دولت، عصري درسګاوو او ديني علماوو ترمينځ يو ډول فاصله زياته شوه، په عامه توګه علماء په اطرافو کې د دنيا له هر څه بې خبره په خپل دوديز درس او تدريس بوخت وو او عصري درسګاوو کې د دين رنګ ورځ په ورځ پيکه کېده. د مارکسيزم فلسفې او نظرياتو ورځ په ورځ په عصري درسګاوو کې نفوذ کاوه، آن تر دې چې د مکتب او پوهنتون ډېرى شاګردانو به ديني خبرو او علماوو ته يو ډول د توهين په سترګه کتل، چې د دغه عنصر زياتوالي او په دې اړه د واکمن نظام ارادي خاموشۍ بالاخره کمونيزم په عملي بڼه را وزېږاوه.

د ديني ډلو او اشخاصو سياسي بروز

په افغانستان کې د انګرېزانو پر ضد دري واړه مقاومتونه د ديني جنبې په لرلو علماوو رهبري کړل او د وخت واکمنو د علماوو فتوا او فيصله د مقاومت پيلامه ګڼله، له همدې امله ديني طبقه او خاص اشخاص او کورنۍ واکمنو ته ارزښتمنې وې. ديني طبقي هغه وخت په ولسي کچه عام فعاليت لاره، ځانګړي چوکاټ او سياسي جوړښت ته يې اړتيا نه محسوسوله، خو د حالاتو، ظروفو او امتحاناتو په بدلون سره هغوی دې پلو ته کرار کرار اړتيا محسوسه کړه.

نورالمدارس او خدام الفرقان

د ظاهرشا د واکمنۍ په پيل کې نورالمشايخ فضل عمر مجددي د علماوو د تنظيم او سياسي بيداری لپاره هلې ځلې پيل کړې، چې پر ټول هېواد يې تر ننه اغېز ليدل کېږي. هغه د ملا مشک عالم اندړ په علمي او جهادي ماحول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزني په شلګر ولسوالۍ کې په ۱۳٦۱هجري قمري کال چې له۱۸۹۸میلادي کال سره يې سمون خوړ، د نورالمدارس د سترې مدرسې بنسټ کېښود. دغه مدرسه خورا منظمه او د ديني زده‌کړو ترڅنګ يې د سياسي بيداريۍ په اړه هم پروګرامونه لرل. که څه هم د ديني علومو استادان هم هغه دروېش‌صفته علماء وو، چې له تدريس وراخوا يې له بل څه سره کار نه لاره، خو ځينې استادان او منتظمين او په خپله د حضرتانو کورنۍ د عامه معلوماتو، سياسي افکارو او اسلامي فکر په برخه کې منظم پرګرامونه او ليکچرونه لرل، چې له همدې امله دغې مدرسې د اسلامي فکر او جهاد په برخه کې ستر ستر رجال پيدا کړل چې د هېواد پر ټولو اطرافو يې اغېز وشينده. بالاخره يې د "خدام الفرقان" په نامه تنظيم تاسيس کړ، چې سياسي او فکري مبارزه يې پيل کړه. دغه تنظيم د ندای حق په نامه جريده خپروله چې کله ناکله به د سياسي نيوکو له امله حکومت پرې بنديز هم لګاوه. دغه تنظيم او نورالمدارس مدرسې په علمي ماحول کې د سياسي ويښتيا ترڅنګ ديني زده‌کړې هم منظمې کړې. مدرسې ۱٦صنفونه لرل، تر دوولسمه متوسطه وه او په شپاړسم صنف کې به د حديثو دوره پوره کېده چې يو شيخ الحديث يې د دېوبند فاضل و. له همدې امله د حديثو درس د ديوبند د مدرسې په طرز کېده.

په وروستي صنف کې صحيح بخاري، صحيح مسلم، سنن ابی داود، سنن ترمذي، موطا امام مالک، سنن نسايي او سنن ابن ماجه درسېدل، خو اصلي ترکيز به پر صحيح بخاري، صحيح مسلم او جامع ترمذي و.

د خدام الفرقان تنظيم د ديني حلقو ترڅنګ عصري درسګاوو ته هم ورو-ورو پراخېده. بالاخره د دغه تنظيم په سرپرستۍ د ظاهر شاه د دورې د ځينو اسلام‌ضد کړنو په خلاف په کابل ښار کې سترې مظاهرې ترتيب شوې. دا مظاهرې څو ورځې روانې وې، حکومت له ولسي پاڅونه ووېرېده. علماء يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وځپل او بندیان یې کړل. وروسته د دولت له لوري د اطمنان په ورکولو مظاهرې ختمې شوې، خو په دولت کې د اسلام‌ضد څېرو په خاص ډول کمونستانو له خوا د دغې کورنۍ په وړاندې حساسیتونه زیات شول، چې کله ایټالیې ته د ظاهر شاه د سفر پر مهال د هغه د تره زوی او پخواني صدراعظم، سردار محمد داود خان سپینه کودتا وکړه او ظاهر شاه یې له واکه لېرې کړ.

دا وخت د داود خان پر شاوخوا اکثره کمونستان راټول وو، ځکه خو خدام الفرقان ته ستونزې نورې هم زیاتې شوې. خو د دغې کورنۍ تاریخي شالید او ولسي ملاتړ دولت ته معلوم و، ځکه یې پرې زیات فشار نه شوای راوړلای. بالاخره د ۱۳۵۷ل کال د غوایي په ۷مه کمونستانو د کودتا پرمهال له یو دوو ماشومانو او ښځینه وو پرته د حضرتانو د کورنۍ ټول غټ او واړه لومړی اسیران او بیایې په زندان کې له مینځه یوړل. د دغې متنفذې کورنۍ پیروان بیا وروسته په جهادي تنظیمونو کې لکه د حرکت انقلاب اسلامي، د مولوي محمد یونس خالص په مشري اسلامي حزب، نجات ملي او اتحاد اسلامي او نورو ګوندونو کې په جهاد او مبارزه بوخت شول، چې بارزې څېرې په کې مولوي نصرالله منصور، مولوي جلال الدین حقاني، مولوي رفیع الله موذن، مولوي عبدالستار صدیقي، مولوي رحیم الله زرمتی، د کندهار مشهور قوماندان لالا ملنګ، د زابل نامتو قوماندان ملا موسی کلیم او د هیواد په بیلابیلوبرخوکې ډیر نور مشهور جهادي قوماندانان او تنظیمي چارواکي وو.

اخوانیزم او اسلامي نهضت

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته، کله چې د ترکي عثمانیانو په مشرۍ د اسلامي خلافت وروستی یادګار هم د لوېدیزو قدرتونو د دسیسو ښکار شو، په اسلامي نړۍ کې د امت د یووالي او اتحاد اړتیا احساس شوه. د همدې اړتیا په لړ کې لومړی په هند کې د خلافت تحریک پیل شو چې مرکزي رول په کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېوبند علماوو لوباوه. دغه تحریک د انګرېزانو له خوا له سخت ټکول کېدو سره سره د هند په وچه کې د مسلمانانو د بیداري یوه تلپاتې څپه وګرځېده. ورپسې په ۱۹۲۸میلادي کال کې په مصر کې د یوه ديني عالم حسن البنا او د هغه د ملګرو له خوا د اخوان المسلمین په نامه حرکت تاسیس شو، چې هدف یې په مصر کې د اسلامي شریعت د تطبیق لپاره هلې ځلې وې.

د وخت په تېرېدو دغه حرکت په مصر کې خورا نفوذ پیدا کړ. کله چې په ۱۹۴۷میلادي کال د فلسطین د خپلواکۍ مخه ونیول شوه، اخوان المسلین د فلسطین د دفاع او مقاومت شعار اوچت کړ او په دې لاره کې یې عملي مبارزې ته مخه کړه. د فلسطین د ازادۍ شعار په مصري ټولنه او ګاونډیو عربو هېوادونو کې د دغه معاصر اسلامي خوځښت اغېز او شهرت نور هم زیات کړ، ځکه خو مصري واکمن له دغه پراخېدونکي حرکت نه په وېره کې شول چې له امله یې د ۱۹۴۸کال د ډسمبر د میاشتې په ۸مه نېټه د مصر صدراعظم "محمود فهمي نقراشي باشا" د اخوان المسلمین حرکت غیر قانوني اعلان کړ، شتمني یې مصادره او ډېرې غړي یې بندیان کړل. دغه عمل د حرکت د پلویانو غوسه راوپاروله، چې ګومان کېږي د دغه حرکت د ځینو غړو له خوا د همدې کال د ډسمبر په۲۸مه د مصر صدراعظم نقراشي ووژل شو. د نوي حکومت واکمنو د دې پېښې په انتقام کې په ۱۹۴۹کال د فبروري د میاشتې په ۱۲مه حسن البنا ترور کړ. له هغه وروسته دغه حرکت له ډېرو ربړو او بندیزونو سره مخ شو. په مصري ټولنه کې د انګلیسي لاسوهنو له امله تل د دوی د سیاسي واک مخه نیول کېده، چې کله په ۱۹۵۴میلادي کال د جمال عبدالناصر د قتل تور په اخوان المسلمین پورې شو، نو یو ځل بیا نژدې سل کسه د دغه حرکت زبده او د سر سړي په ۱۵کاله زندان محکوم شول، چې په دې کې یوه بارزه څېره سیدقطب و. سید قطب د اسلامي فکر او مبارزې په اړه ځینې مقبول اثار ولیکل او د في ظلال القران مشهور تفسیر یې ولیکه. سید قطب له یوې لنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وقفې خلاصون وروسته بيا ونيول شو او په اعدام محکوم شو او ۱۹۶۶د اګست په ۲۹مه اعدام کړای شو.

دغه خونړي تحريک د عربي او ګاونډيو هېوادونو ترڅنګ د اسلامي نړۍ په نورو تحريکونو هم اغېزې وشيندلې او د اسلام د سياسي واک لپاره ډېرو مسلمانانو په ښلا ښلو هېوادونو کې د دوی د طرز پيروي او يا هم مشابه تګلاره غوره کړه، چې په دې کې پاکستان او افغانستان هم راځي، چې دغه ډلې خلک اخوانيان اويا داخوانيت پيروان نوموي.

په پاکستان کې د مولانا مودودي په مشرۍ جماعت اسلامي ډله د اخوانيت پيروه ګڼل کيږي او په افغانستان کې د ظاهر شاه په دوره کې د اسلامي نهضت ډله، چې څوک يې د تاسيس نيټه ۱۳۳۶هجری شمسي کال يادوي او څوک يې اصلي بنسټ په۱۳۳۱هجري شمسي کال يادوي. دغه ډله د کابل پوهنتون د يو شمېر اسلام پاله محصلينو او د شرعياتو پوهنځي د ځينو استادانو له خوا د اسلامي نهضت په نامه ونومول شوه ، چې وروسته دغه ډله د اخوانيت پيرو ګڼل کېده. له کمونيستي کودتا وروسته د جهاد په دوره کې درېوو جهادي تنظيمونو ځانونه د نهضت سياسي او فکري ميراث خواره ګڼل.

د دغه نهضت بنسټګر په يوه قول د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي رئيس، د غزني د اندړو اوسېدونکی، غلام محمد نيازی و، چې لوړې زده‌کړې يې د مصر په الازهر پوهنتون کې کړې وي او هلته د اخوانيانو له فکري طرزه په تاثر يې دلته په افغانستان کې سياسي مبارزه پيل کړه. دوهم قول دا دی چې غلام محمد نيازی فکري سرچينه وه او بنسټګر يې د هغه شاګرد عبدالرحيم نيازی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خوځښت اصلي او محوري څېرې اکثره د داود خان او کمونستانو د واکمنیو پرمهال ووژل شوې. په دې خوځښت کې یو شمېر ديني علماء هم داخل شول او په خپله پوهاند نیازي د هېواد له مشهورو ديني عالمانو سره ناستې پاستې او مشورې لرلې.

دغه نهضت د عصـري درسګاوو په مینځ کې د لیننېزم-مارکسیسزم افکارو او اسلام‌ضد خوځښتونو پر ضد چې د وخت واکمنو یې هم ملاتړ کاوه رامینځ ته شو او د داود خان له کودتا وروسته د خوځښت مهم غړي اسیران شول. په دولت کې د کمونیزم پلویانو زیات نفوذ درلود، چې له همدې امله د دغه خوځښت غړي د مرګ او زندان له ګوابښ سره مخ شول او یو شمېر یې اړ شول چې پاکستان ته مهاجر شي.

د ۱۳۵۷ د غوایي د اوومې له کمونیستي کودتا وروسته د اسلامي نهضت غړي د یوه واحد جهادي صف په جوړولو بریالي نه شول او د جمعیت اسلامي او حزب اسلامي دواړو ډلو ځانونه د اسلامي نهضت اصلی وارثان ګڼل، چې له امله یې دغه سیالي له اوله پیل شوه او بالاخره دغه دواړه ډلې د سیاسي واک او نفوذ پر سر دښمنۍ ته ورسېدي.

له خدام الفرقان او اسلامي نهضت نه علاوه په هېواد کې د علماوو او روحانیونو نورې اسلامي او روحاني وړې ډلې، انجمنونه، جوړښتونه او متحرک اشخاص هم وو، خو په دې کچه بارز او موثر نه وو.

کمونیستي کودتا او د جهاد پیل

د داود خان په واکمنۍ کې د خلق او پرچم کمونیستي ډلو پراخ دولتي نفوذ پیدا کړی و او داود خان له اسلام پالو وېرېده، خو پر کمونستانو یې باور درلود. داود خان د خپلې واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د شوروي له مشر برېژنیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره اړیکې خرابې شوې. مسکو کې د رسمي مذاکراتو پر مهال برېژنیف د افغانستان په شمال کې د ناټو د تخنیکرانو له شتونه اندېښنه ښیي، چې د داود له خوا له ستوغ ځواب سره مخ کېږي او مذاکرات بې پایلې پای ته رسېږي. روسانو د دولت په دستګاه کې لوړ رتبه کمونستان د داود پر ضد تحریک کړل. دا وخت داود خان له دولتي دستګاه نه د کمونستانو د تصفیې اراده وکړه، خو کمونستانو د روسانو په دستور وار ړومبی کړ او د خلق ګوند په مشرۍ یې د نظام دننه د ۱۳۷۵لمریزکال د غوایې په اوومه نېټه بدمرغه او خونړۍ کودتا وکړه، چې بیا د کودتا له لارې واکمن شویو خلقیانو خپلو کې سره واخیسته. له کودتا شپږ میاشتې وروسته د حفیظ الله امین له خوا د دولت مشر نور محمد تره‌کی ووژل شو او امین واک ترلاسه کړ. حفیظ الله امین د پرچم فرکسیون له خوا د روسانو په دستور ووژل شو او ببرک کارمل د شوروي له سرو قواوو سره په زغروالو ټانکونو سپور کابل ته راغی، چې له دې سره د شوروي یرغل عملي دور پیل شو.

کمونستان د افغان ولس له فکر، عقیدې او کلچر نه پردي وو. ټولنې ونه زغمل، له اوله یې استفراق کړل، ډېر محدود خلک د مادیاتو، شخصي ګټو لپاره او یا هم له وېري ورسره ودرېدل. د ولس پرېکنده اکثریت یې پر وړاندي حساسیت وښود، دوی د هغو خلکو د ځپلو لپاره چې له دوی سره یې فکري او عملي مخالفت کاوه له بې ساري بې رحمۍ او وحشت نه کار واخیست. دیني طبقه یې هدف وګرځوله، هر هغه دیني عالم او روحاني شخصیت چې څو کسان به پرې راجمع کېدل، ژوندي یې ورک کړل. تر یو لک پوري دیني علماء، روحانیون او د اسلامي نهضتونو او دیني ډلو غړي یې ژوندي تري تم کړل، چې یوه نیمه لسیزه وروسته یې ملت په شهادت خبر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه جهاد کې د ولس اصلي او اساسي رهبري او د قیام حقیقي پیل دیني علماوو وکړ. د افغانستان په لېرې پرتو او اطرافي سیمو کې ولس په سوتې، ببل او تبرګي د دولت پر ودانیو او اشخاصو بریدونه پیل کړل. دغه پاڅون همدغو سیمه ییزو ولسي ملایانو رهبري کړ، که نه د داود خان په وخت کې هم د قیام لپاره پاکستان‌مېشته مهاجرو اسلام پالو ډېره هڅه وکړه، خو ولس مثبت ځواب ورنه کړ.

چې کله ملا د جهاد اذان وکړ، نو ولس په تبر او سوتې هم جهاد ته مخه کړه. دغه پاڅون شوروي ضد نړۍوالو ته روحیه ورکړه، چې له لومړیو څو کلونو تش‌لاسي مقاومت نه وروسته، مجاهدینو ته مرستې او مهاجرینو ته ښکاره پناه‌ګاوې پیدا شوې.

په پاکستان کې د جهادي ډلو تشکیل

څرنګه چې یو شمېر اسلام‌پالي لا له وړاندې د داود خان د حکومت پر ضد د مبارزې لپاره په پاکستان کې پټ ول، هغوی سم د واړه د افغانانو د ملي مقاومت د تنظیمولو په چارو بوخت شول. دا تنظیمونه دوه ځله پر یوه مشر راټول شول او بیا ببرته سره ووېشل شول.

په ۱۳۵۷لمریز کال د غوایي کودتا وشوه. برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار، مولوي محمد یونس خالص، مولوي جلال الدین حقاني، مولوي نصرالله منصور او ملګري یې د جهاد لپاره د منظمې ډلې په لټه کې وو. د همدې کال د تلې په څلورمه د علماوو په هڅو ټول په دې موافق شول چې د مولوي محمد نبي محمدي په مشرۍ د حرکت انقلاب اسلامي په نامه تنظیم کې سره راغونډ شي. د همدې کال د لیندۍ په میاشت کې د رباني او حکمتیار په وتلو دغه اتحاد ړنګ شو، خو علماء اکثره د مولوي محمدنبي په تنظیم کې پاتې شول. مولوي محمد یونس خالص هم مستقل شو، بیا چې په ۱۳۵۸لمریزکال کې عبدرب الرسول سیاف له کابله پېښور ته ولاړ، د حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي (حکمتیار)، جمعیت اسلامي او د مولوي خالص اسلامي حزب تنظیمونو ترمینځ یو اتحاد وشو، چې د دې موقت اتحاد مشر سیاف شو، خو له څو میاشتو وروسته متحدو تنظیمونو پر سیاف د مالي خیانت تور پورې کړ. له دې امله دغه لنډمهاله اتحاد هم ړنګ شو، چې له امله یې د دې موضوع په اړه مولوي محمدیونس خالص غالباً "د مسئولیت احساس د مصئونیت ضامن دی" تر سرلیک لاندې یوه رساله هم ولیکله.

د اتحاد له ړنګېدو وروسته تر همدې نامه لاندې سیاف خپل جلا تنظیم له پاکستاني او بهرنیو مقاماتو سره رسمي کړ، چې له عربي او غربي نړۍ یې ډېر مال او وسله ترلاسه کړه، خو د هغه تنظیم له اوله په داخل کې ډېر رول نه درلود، بلکې هغه قوماندانان چې د وسلې او پیسو د کمښت له امله به له خپلو تنظیمونو ناراضه شول، هغوی به د سیاف تنظیم ته ورتلل؛ ځکه خو د سیاف تنظیم د جهاد په وروستیو کلونو کې یو څه قوماندانان پیدا کړل.

دا ځکه چې خلک ورسره کم وو او د وسلې سهم او مال ورسره زیات و، نو دا وخت چې ځینې قوماندانان د مال په لټه کې وو او ځینو به وسله ترلاسه او بیا به یې خرڅه کړه، د دې کار لپاره د اتحاد تنظیم ښه منبع وه.

د سیاف بله بریا دا په نصیب شوه، چې عرب مجاهدین ده ته ورمات شول، ځکه ده په عربي نړۍ کې ځان مشهوره کړ، د عربو ملګرتیا په خاصه توګه له عبدالله عزام سره نږدې اړیکو د سیاف لپاره د عربي مرستندویه ادارو او حکومتونو د مرستې دروازې خلاصې کړې.

سیاف د عربي نړۍ په ځینو مرستندویه غونډو او خصوصي ناستو کې د ټولو مجاهدینو په استازیتوب مرستې وغوښتې خو بیا یې اکثراً د خپل تنظیم په نوم تر خپل ګروت لاندې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې په افغانستان کې ولسي پاڅون تر ډېره د کلیوال ملا او مقتدي له خوا زور واخیست، نو ځکه خو لومړی هره هغه ډله ډېره قوي وه چې ملایان په کې زیات و، چې له همدې امله لومړی اکثره ملا طبقه او مشهور ملایان د مولوي محمدنبي محمدي تر مشرۍ لاندې حرکت کې ډېر وو. له همدې امله په اول کې حرکت د ولسي خلکو د ملاتړ په برخه کې تر ټولو تنظیمونو وړاندي و، خو ځینو کمیو، لکه د تنظیمي نظم او ډسپلین کمښت، د وسلې او مهماتو کم سهم او بالاخره د خپلمینځي اختلافاتو له امله دغه تنظیم ورو ورو کمزوری شو او ستر ستر قوماندانان یې شتمنو تنظیمونو ته ورغلل. له حرکت نه وروسته ستر تنظیم د برهان الدین رباني په مشرۍ جمعیت اسلامي و، چې د احمدشاه مسعود او تورن اسماعیل خان په ځېر پراخ نفوذه قوماندانان یې لرل. په درېیمه درجه کې حزب اسلامي و چې تر پایه درېیم پاتې شو، خو د پاکستان په تبلیغاتي فضا کې حزب اسلامي تر ټولو تنظیمونو ستر او وړاندې معرفي کېده. له همدې امله پاکستاني او باندنیو مرستندویه ادارو دغه تنظیم ته له خپل حده ډېر زیات مهمات او وسایل ورکول او په تبلیغاتي میدان کې ډېر وړاندې و، چې په دې کې ځینو پاکستاني تنظیمونو او ادارو هم د دوی مرسته کوله او دوی خپله هم تبلیغاتي شبکه ډېره قوي او جارحه ساتلې وه.

څرنګه چې نړۍ هم د مجاهدینو انځور له پېښوره مطالعه کاوه، له همدې امله ځینو بهرنیانو هم دا ګومان کاوه، آن تر دې چې روسي جنرال د۴۰م لښکر قوماندان "الکساندر مایوروف" هم په خپلو خاطرو کې د حکمتیار په اړه فاحشه غلطي کړې! جنرال مایوروف په کندهار کې د روسانو د هغې سترې قوې په اړه چې څلوېښت ورځې د ملا نقیب او د حرکت د یوه بل ګروپ له لوري محاصره وه، لیکلي چې دغه جګړه ځکه ډېره سخته وه، چې حکمتیار هم ورته راغلی و. خو دا کیسه د کندهار هر سړي ته معلومه وه چې دغه قوه د ملا نقیب د وسله‌والو او نورو حرکتي همکارو له خوا محاصره وه. ملا نقیب لومړی له حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره و او بيا جمعيت ته ورغی. همداراز په ځينو سيمو کې ويشتل شوي ټانکونه او چورلکې چې نورو جبهاتو به داکار کړی و، خو د دغو تنظيمونو مجاهدينو به تبليغاتي ذوق نه لاره نو د حزب مطبوعاتيانو به يې عکسونه د حزب په اوونيزو او مجلو کې خپاره کړل او دا عمل به يې حزب اسلامي ته منسوب کړ، چې له دې امله په پښتورې فضا کې حزب په پوځي ډګر کې ډېر مخکښ معرفي و، خوحقيقي انځور له دې ډېر بدل و!

خو په ټولیزه توګه حرکت او د حکمتيار او خالص حزبونو په دريو واړو سره د ټول هيواد په کچه تقريبا له ٦٠ فيصده زيات جهادي نفوذ لاره او د دې په مقابل کې جمعيت د ټول هېواد په کچه ښايي ٢٠ فيصده نفوذ هم نه لاره ،خو جمعيت له ټولو سره دوه ښکاره توپيرونه لرل، يو د اسمعيل خان او احمدشاه مسعود په څېر ستر قوماندانان او بل د دولت له نيولو وروسته د زياتو امکاناتو په لرلو سره د نويو قوماندانانو را جلبول .

احمدشاه مسعود او اسماعيل خان هم که په رسمي نامه حمعيت منسوب و، خو په سيمزه توګه يې ځانونه مستقل قدرتونه ګڼل ، مسعود خپلو تشکيلاتو ته د نظار شورا نو م ورکړ او اسماعيل هم د دريو ولايتو نو په کچه يوه شورا رهبري کوله. د دې دواړو قواندانانو د شهرت او پياوړتيا يو بل دليل هم په ګوته کيږي، هغه دا چې دوي د جمعيت او نورو تنظيمونو واړه قوماندانان خپلې پيروي ته د زور او ډول ډول فشارونو له امل اړ ايستل، چې ويل کيږي د مخالفت په صورت کې يې ځينې ترورول، ګمان کيږي چې د اسماعيل خان لخوا د بادغيس او هرات يوشمير قوماندانان په مر موز ډول ووژل شول، همداراز د مسعود په اړه خو د لسګونو قوماندانانو د ترور خبرې کيږي، چې پيل يې د جهاد په لومړيو کلونوکې له خپل جهادي امير پهلوان احمدجان نه وکړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دی یې معاون و، خو هغه ته یې له دولت سره د ارتباط په تور د مرګ دسیسه جوړه کړه او وې وژلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حزب او جمعیت له تبلیغاتي ټکرونو تر پوځي نښتو

حزب اسلامي او جمعیت اسلامي لومړی یو د بل پر ضد سیاسي او تبلیغاتي جنګونه پیل کړل چې په اخیرکې په عملي جنګ کې بدل شول. په شمال کې د حزب قوماندانانو د احمدشاه مسعود سرګروپان د خپلو رقیبانو په توګه ترور کړل. په مقابل کې احمدشاه مسعود د حزب شپږ مهم قوماندانان ترور کړل. د دواړو ډلو ترمینځ عملي جګړه له همدې ځایه پیل شوه، چې د دغه کار اثر د پښتور پر مطبوعاتي میدان هم پرېوت.

د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي ترمینځ یو د بل پر وړاندې داسې جراید او کتابونه ولیکل شول چې ژبه یې دومره سپوره وه، سړي به ګومان کاوه چې دا به کومې جهادي ډلې نه وي لیکلی. ان ترجنسی تورونو پورې بې چوکاټه تبلیغات وشول. ما هغه وخت په ماشومتوب کې په پښتور کې د دغو دواړو ډلو له خوا چاپ شوي داسې مواد لوستي، چې د یوه سالم مسلمان قلم یې له لیکلو اوتفصیل نه معذوره دی!

د حزب اسلامي اړوند شهادت ورځپاڼې د جمعیت اسلامي نه علاوه د نورو جهادي تنظیمونو پر وړاندې هم دومره نادوده ژبه کارولې چې یو ځل یې د یو انګرېز او افغاني انجلۍ عکس چاپ کړی و، لاندې ورته لیکلي وو چې دا د ملي نجات د جبهې مشر صبغت الله مجددي لور ده! هغوی دومره تلاش ته هم اړتیا نه لیدله چې لومړی ځان ته دا معلومه کړي چې ایا مجددي لور لري که نه؟ په سبا چې دا خبره واضحه شوه چې صبغت الله هیڅ لور نه لري، نو دغې ورځپاڼې کومه بښنه هم ونه غوښته.

همدا ترخه سیالي او اخلاقي انحطاط و، چې په پایله کې یې کابل په اور کې لولپه شو.بل پلو د حزب اطلاعاتیان (استخبارات) په پاکستان کې د مخالفو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاهدینو اوقوماندانانو او عامو افغان پوهانو اوفرهنګیانو په ترور او وژلو تورن ول. یوځل راته یوه دوست انجینر کیسه کوله چې د حزب د اطلاعاتو یوه لوړ رتبه مامور حاجي مالک قرار راسره موټر کې ناست و او په پیښورکې یې یوه کور ته لاس ونیو او په خندا شو، ویل یې چې د دغو کور اوسیدونکي خبر نه دي، چې ما د دې کور ترغولې لاندې څومره انسانان له وژلو وروسته خښ کړي.هغه ویل دا کور یې کوم وخت په کرایه نیولی و او خلک به یې پکې وژل او بیا به یې د خونې تر غولې لاندې خښول.

د شوروي ضد جهاد کې د علماوو او طالبانو رول

کله چې کمونستانو کودتا وکړه نو تر ټولو وړاندې یې دیني طبقه هدف وګرځوله چې په دې کې ولسي ملا لومړی هدف و، افغان کمونستانو به ښکاره ویل چې ستالین شل میلونه روسان ووژل بیایې په روسیه کې کمونیزم بریالی کړ، موږ به هم څو میلونه افغانان وژنو. خو په افغانستان کې تر روسیې زیاتو مړو ته اړتیاوه، ځکه چې دلته خلک مزاجا کمونیزم منلو ته تیار نه وو، نو ښایي له ۹۰ فیصده زیات ملت د کمونیستانو له محاکمې سره مخ شوی وای. کمونستانو د ستالین فلسفه تریوه حده عملي کړه. د جومات له ملا تر خوار او غریب لمونځ ګزاره مامور او بزګره پورې یې سلګونه زره بې ګناه افغانان د مرګ کندې ته ټیل وهل او که د ملت قیام ځنډیدلی وای، نو ښایي د هغوي د میلونونو د وژنې ارادې ته لاره خلاصه پاتې شوې وای.

که څه هم د هغوي پر ضد قیام کې تر یوې نیمې لسیزې یونیم میلون افغانان ووژل شول، خو دا کثره د هغوي له خوا د اسارت پر ځای له هغوي سره په مقاومت او دفاع کې ووژل شول، چې د همدې قربانیو په پایله کې د کمونیزم جړې د افغانستان ترڅنګ له اکثرې نړۍ ووتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مقاومت کې ديني علماوو په فوځي او سياسي برخه کې اکثريتي حضور لاره او د طالب غورځنګ رامينځ ته کيدل د همدې لړۍ يو ډول تداوم و

پوځي مبارزه

څرنګه چې د کمونيستي کودتا پر ضد د ملي پاڅون او جهاد فتوا او رهبري تر ډېره په ولسي ملايانو پورې اړه لرله، له همدې امله په اکثره برخو کې رهبري هم ديني طبقې وکړه. په لويه پکتيا کې مولوي جلاالدين حقاني، مولوي نصرالله منصور، مطيع الله خان، مولوي فريد محمود او نور علماء د دې پاڅون په مخکښانو کې وو. په غزني کې قاري بابا، مولوي حيات الله (ملاکاکا) مولوي ګل محمد، مولوي نيک محمد، مولوي بهادرخان، مولوي موذن، مولوي عبدالحکيم، مولوي عبدالرحمن، مولوي فقير، د ناوې امير، مولوي عبدالسلام، قاري عبدالله دانش، قاري عبدالله د جناح اباد او د يو شمېر نورو مشهورو ديني عالمانو، طالبانو او قاريانو جبهات وو.

په کابل کې تر ټولو ستره جهادي څېره مولوي شفيع الله او ورور يې مولوي صديق الله و. له هغه وروسته د مولوي محمد يونس خالص قوماندانان وو. په زابل کې د جهاد پيل ملا موسي کليم وکړ، چې د جبهې ټول يا اکثر غړي يې طالبان وو. د هغه له شهادت وروسته ملا مدد خان، ملا عبدالسلام راکټي، ملا عبدالکريم، ملا عبدالقهار او د شاجوي د طالبانو مشر ملا عبدالغني ټول طالبان وو. په ننګرهار کې تر ټولو زيات نفوذ د مولوي محمد يونس خالص و. په کونړ کې مولوي جميل الرحمن زيات نفوذ درلود. په لغمان کې مولوي عبدالرحيم حنفي د جهاد له مخکښانو و (چې د حزب اسلامي له خوا ترور شو). په لوګر کې مولوي عبدالاحمد چې په حاجي عبدالاحمد مشهور و (د حرکت انقلاب اسلامي د تنظيم ولايتي امر و) ملا خوشحال، ملا داود، مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

منور، ملا کاتب (چې بیا د رباني د واکمنۍ په لومړۍ دوره کې د لوګر والي و) او نور ډېر علماء او طالبان د مشهورو جبهاتو او ګروپونو قوماندانان وو.

د پېښور پر سیاسي ډګر د لوګر ولایت له مشهورو علماوو نه، پر مولوي محمد نبي محمدي (د حرکت انقلاب اسلامي امیر) سربېره چې د برکي ولسوالۍ د عباس کلا اوسېدونکي و- مولوي ظبطو خان، مولوي محمد میر، مولوي موسی جان، مولوي فضل احمد، مولوي هاشمي، مولوي سید اکبر دلاور (د مولوي شهاب الدین دلاور پلار) او مولوي فرقاني د یادونې وړ دي.

په کندهار کې ملا نقیب الله، ملا ملنګ، لالا ملنګ، ملا محمد رباني، ملا بورجان، حاجي ملا محمد، ملا نیک محمد، ملا عبیدالله، ملا محمد صادق، ملا یار محمد، ملا حفیظ الله اخندزاده، ملا محمد عمرمجاهد، ملا نورالدین ترابي، ملا عبدالغني برادر، ملا مشر، ملا محمد حسن رحماني، مشر ملا محمد حسن، مولوي حمدالله نانی، مولوي نسیم، ملا محمد عباس، ملا محمد غوث او زیات شمېر نور مشهور ملایان او طالبان وو، چې یا خو یې خپلې سوچه د طالبانو جبهې لرلې او یا د یو شمېر نورو مشهورو جبهاتو د مشرانو، مرستیالانو او یا عامو مجاهدینو په توګه په جهاد مصروف وو.

په هلمند کې مشهور جبهات د نسیم اخندزاده، رئیس ملا عبدالواحد، مولوي عطاء محمد او مولوي باز محمد جبهات وو. په اروزګان کې ملا عبدالرحیم، مولوي عبدالغني، ملا عبدالله، ملا محمد شفیق، ملا عبدالمالك، مولوي عبدالجبار، ملا روی محمد، ملا محمد عباس، قوماندان عبدالودود، ملا محمد صادق، ملا مشر، مولوي محمد شریف او داسې نور...

خوست اوپکتیا د مولوي جلال الدي حقاني او مولوي نصرالله منصور د نفوذ سیمه وه، مولوي منصور د پکتیکا اوغزني په ځینو سیموکې هم نفوذ لاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي جلال الدين حقاني په سيمه کې يوستر جهادي ځواک و، هغه خپله هم د لوړ کچ عالم و او د پولې ها غاړه يې يوه ستره مدرسه هم لرله ،هغه به پخپله د جګړې پر لومړۍ کرښه کې جنګيدو، ځکه خو يې ترڅنګ زيات جنګيالي د مدرسو طالبان ول، د حقاني صيب په سرګروپانوکې هم ډيرى طالبان وو چې د دغو سرګروپانو افراد به ټول د مدرسو طالبان وو.

په دې سرګروپانو کې ملا رحيم الله (ځدران) ملا دين محمد(منګل بلي خيل) ملاشازاده(کندهار) ملا شا محمد(خروټى) ملا بدرالدين (پکتيا) ملا داروخان(غزنى) ملا شاولي (غزنى) او ځينې نور ول.

په جنوب او جنوب غرب سيمو کې د طالبانو په نامه جنګي ګروپونو سره خلک بلد وو او د هغوى خواص، عادات او کردار له اوله ورمعلوم وو، خو د لېرې نه ځينو خلکو د پروپاګند يا ناخبرۍ له امله د طالب او طالبانو په نامه وسله‌وال مبارزين يا جهادي خوځښت پردى او له بهره وارد شوى وګاڼه.

همدغو جبهاتو کې جنګېدليو سوچه طالبانو، د طالبانو تحريک رامينځ ته کړ. دوى په اخلاقي ښېګڼو او جنګي زړورتيا باندې په خپلو خپلو سيمو کې ولس او جهادي طبقې پېژندلي وو، ځکه يې ولس سمدستي ملاتړ وکړ او بې لارې شويو مجاهدينو او ملايانو يې په وړاندې مقاومت ته زړه ښه نه کړ يا يې له ډېر کم مقاومت وروسته د تېښتې لار غوره کړه.

سياسي جوړښتونه

د حرکت تنظيم د جمعيت طلبه حرکت په نامه مستقل سياسي جوړښت لاره، چې د دې جوړښت مشر ته به يې د جمعيت طلبه صدر وايه. دغه جمعيت د ديني زده‌کوونکو له سياسي روزنې او تبليغاتي هڅو سربېره ډېر بارز اغېز د هېواد په داخل کې د دې تنظيم په قوماندانانو او وسله‌والو نه لاره. يو دفتر يې په پېښور کې درلود او بل يې په کوټه کې. د مرکزي او شرقي او جنوب شرقي ولاياتو طالبانو د پېښور له دفتر سره اړيکې ساتلې او د سوېل لويديځو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويديځو ولایاتو دیني زده‌کوونکو د کوټې له دفتر سره اړیکې لرلې. د کویټې د دفتر مسئول مولوي وکیل احمد متوکل و او د کندهار ولایت مسئول مولوي احسان الله احسان و، چې بیا وروسته دواړه په طالبانوکې بارزې او کلیدي څېرې شوې. جمعیت طلبه حرکت د زونونو د مشرانو ترڅنګ د ولایاتو مشران هم په تشکیل کې لرل. د دې جمعیت هدف د دیني طالبانو بیداري، هماهنګي، له سیمه‌ییز او نړیوال سیاست نه خبرېدا، د ځانګړو مسایلو او ځانګړو ورځو په مناسبت غونډې، ویناوې او تربیتي پروګرامونه ترتیبول و.

د مولوي محمدنبي محمدی په تنظیم کې د جمعیت طلبه دغه رول دومره مضبوط او منظم نه و، ځکه چې د رهبرۍ له خوا مستقله توجه ورته نه کېده. د دې په پرتله له حرکت نه د جلا شوې ډلې دوهم حرکت چې د مولوی نصرالله منصور په مشرۍ تاسیس شو، د طالبانو جوړښت خوځنده، متحرک او فعاله و.

د دې لامل دا و، چې مولوي نصرالله منصور د دیني مدارسو پر طالبانو ځانګړی باور درلود او دغه ځوانه طبقه یې د هېواد په راتلونکي کې د بارز رول څښتنان ګڼل. دا به یې تربیتي غونډو او ویناوو کې هم ویل، چې نوی دیني نسل د هېواد په سیاسي راتلونکي کې ځانګړی رول لرلای شي. له همدې امله هغه د دیني طالبانو لپاره جوړ کړی خپل سیاسي جوړښت "تنظیم طلبه" په خپل لاس ډېر منظم کړی و. د هر ولایت او په پاکستان کې د هرې هغې مشهورې سیمې لپاره یې چې افغانان په کې ډېر اوسېدل او د افغانانو مدارس او لېسې په کې وې، مشران په تشکیلاتو کې لرل. اوونیز تربیتي پروګرامونه یې لرل، د مدارسو ترڅنګ یې له لېسو نه هم شاګردان راجلبول، د ځینو سیمو لپاره یې د لېسو او عصري ښوونځیو ځوانان مشران ټاکلي وو. هغه به خپله د سیاسي کورس په نامه د یوې تربیوي سلسلې مشري او استادي هم کوله، چې د تنظیم طلبه زرګونو غړو ته به یې په ساعتونو د نړۍ پاموړو تاریخي مسایلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه منظم لیکچرونه ورکول او ورسره به یې د نویو نړیوالو پېښو په اړه هم ژوره تشریح ورته کوله. مولوي منصور به د انګلیسی او عربي ژبو د سمې زده‌کړې هدایت طالبانو ته کاوه، چې له همدې امله به ځینو سپین ږیرو ملایانو بد هم پسې ویل. درې څلور چاپي خپرونې یې هم لرلي چې یوه په کې د پېښور د چاپي رسنیو په کچه منلي وه. دا د محمد امین فروتن په مشرۍ د "کوثر" په نامه اوونیزه وه (محمد امین فروتن د حکمتیار په مشرۍ د حزب اسلامي مهم چارواکی و، چې بیا یې له حکمتیار سره خوا بده شوه او د مولوي منصور حرکت ته راغی او منصور د خپل مرستیال په توګه غوره کړ. هغه په خپل اخبار "کوثر" کې پر حکمتیار نیوکه کړې وه، چې له امله یې د حزب اطلاعاتو د هغه د ترور هڅه وکړه، خو ونه وژل شو، بلکې پر سر سخت ټپي شو، چې له امله یې د ماغي ضربه وخوړه اوله فعالیته ولوېد). په تنظیم طلبه کې ډېر داسې کسان راپورته شول چې د رباني او طالبانو په دواړو حکومتونو کې یې په مسلکي ادارو کې فعال ماموریت وکړای شو او په طالبانو کې به دا خبره کېدله چې پلانی په اداره پوهیږي، ځکه چې د منصور تنظیم کې یې وخت تېر کړی!

د حرکت د مدارسو او د حزب لېسو نه به ځوانان د مولوي نصرالله منصور سیاسي او تربیوي ناستو ته راتلل، ځکه خو یې په طالب طبقه کې زیات اغېز درلود. په طالب طبقه کې د منصور محبوبیت دومره و، چې د هغه وخت ډېرو ځوانانو طالبانو پر ځانونو د منصور تخلصونه ایښي دي!

د طالبانو په غورځنګ کې د مولوي منصور په پیروانو طالبانو او ملایانوکې مشهورې څېرې، مولوي محمد طاهر انوري(دمالي وزیر، د چارو د ادارې رئیس اوپلان وزیر)مولوي عارف الله عارف(د غزني والي او د مالي وزارت معین) قاري احمد الله(د کندهار امنیه قوماندان، د زابل امنیه قوماندان، د نیمروز امنیه قوماندان، داخله وزیر او د استخباراتو عمومي ریس) مولوي رحیم الله زرمتی (د اطلاعاتو کلتور مرستیال وزیر) مولوي احمد جان (د معادن او صنایع وزیر،د بریښنا وزیر) مولوي اسحاق اخنزاده(د لغمان والي) انجینیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالله ګل ریان(د بشري حقوقو د کمیسون رئیس) استاد فیض احمد فیض (د خارجه وزارت ویاند) عبدالغفور افغاني(د خارجه وزارت ویاند او د تشریفاتو عمومي رئیس) عبدالحکیم مجاهد (په نیویارک کې د طالبانو استازي، په اسلام ابادکې افغان سفیر) او یو شمېر نور لوړ رتبه او ټیټ رتبه چارواکي وو.

وروسته حزب اسلامي، اتحاد اسلامي او د ملي نجات جبهې هم دې ته ورته جوړښتونه جوړ کړل، چې د ديني طالبانو لپاره يې بېلې سیاسي ډلې او څانګې تاسیس کړې.

د نوییمو کلونو په لومړیو کې په پېښور کي د ديني طبقي (طالبانو) ترمینځ یو ډول تحریک شروع شو، چې طالبان په مستقله توګه د هېواد د یوه دعوتي او اصلاحي تنظیم بنسټ کیږدي چې بالاخره موفق شول او د جمعیت طلبه اهل السنت په نامه له ټولو تنظیمونو نه یو مستقل تنظیم اعلان شو. دوی به اوونیزې غونډې کولې او د هر ولایت لپاره يې مشر او مرستیال ټاکل. دغه تنظیم هم د وخت په تېرېدو ډېر زیات پیروان پیدا کړل، ان چې د ټول هېواد په کچه يې په زرګونو خاموش پیروان لرل، خو ټول یا اکثر يې په پاکستان کې مهاجر او مسافر طالبان وو. وروسته د دې ډلې ځینې طالبان په داخل کې هم یو څه بارز شول، لکه د خوست د جمعیت طلبه اهل السنة مسئول مولوي عبدالحکیم شرعي چې د خوست په ګډه اداره کې امنیه قوماندان شو او د خپلو ملګرو طالبانو په توسط يې نسبتاً ښه امنیت تامین کړ، چې بیا د طالبانو د تحریک له راتګ سره د طالبانو په تحریک کې مدغم شو، چې وروسته د طالبانو په واکمنۍ کې د څه وخت لپاره د زابل والي هم و.

دغه نوي طالبي تنظیم کې تر ډېره د مولوي محمد نبي محمدي د حرکت نه مایوسه طالبان او نور بي طرفه طالبان یوځای شول، بالاخره چې د مولوي محمد نبي محمدي او مولوي منصور حرکتونه بېرته د علماوو په هڅو سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول. محمدي مشر او منصور يې مرستيال شو، تنظيم طلبه او جمعيت طلبه هم په يوه تنظيم کې راټول شول.

د کندهار له تحريک نه مخکې له غزني نه تر زابله د طالبانو پوځي جوړښت

د طالبانو له تحريک درې يا څلور کاله وړاندې په پکتيکا، غزني او زابل کې د ديني طالبانو له خوا د نا امنۍ د ورکولو، عدل او امنيت د تامين تر شعار لاندې يو خوځښت پيل شو، چې لومړی يې څو سترې غونډې وکړې او بيا يې له سيمه ييزو قوماندانانو د ملاټر او همکارۍ غوښتنه وکړه. کله چې د ډاکټر نجيب الله حکومت په ځينو ولايتو کې ولسوالۍ تخليه کړې او يوازې د ولايتو مراکز يې ټينګ کړل، په دې لړ کې د زابل، غزني، پکتيکا او د پکتيا په ځينې برخو کې هم د قوماندانانو ترمينځ شخړې پيل شوې. بيا چې کله د نجيب رژيم زوال ته نږدې وو او د ځينو ولايتو نو مرکزونه هم د سقوط په حال کې وو، نو داوخت د تنظيمې جګړو اور په تيزيدو وو، له همدې وخته د دغو سيمو ديني طالبانو د حالاتو د سمون لپاره لومړی دعوتي هلي ځلې پيل کړې او بيا يې له ځينو قوماندانانو پوځي مرسته وغوښته، چې د حالاتو په کنټرول کې د ضرورت پرمهال مستقيمه مداخله هم وکړای شي، کله چې کابل مجاهدينو ونيو دغه خوځښت يو څه نور هم بارز شو، خو دا چې د کندهار په څېر ولې راپورته نه شو ظاهري لاملونه يې دوه وو:

يو دا چې په دې سيمو کې تر پايه دومره سخت وحشت نه دی رامينځ ته شوی، چې يو ناڅاپي قيام دې وشي. بل لامل دا و چې په دې سيمه کې د طالبانو جهادي جبهات منزوي نه ول. لکه په زابل کې د ملا موسی کليم جبهه چې وروسته ملا مدد ته ورپاتې شوه دا د طالبانو جبهه وه، د ملامدد له شهادته وروسته هم منلې وه او په ټول زابل کې يې تر پايه د واحد قوت بڼه غوره کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله سیمه ییزو قوماندانانو تر ډېره له طالبانو سره ډېر نرم تعامل کاوه او خبره یې شخړې ته نه رسوله.

دغو طالبانو صرف د یوه قوت په توګه ځان ښودلی و، نور یې تش دعوتی غونډې او پروګرامونه ترتیبول. بیا وروسته همدې منظم جوړښت د غزني، زابل او پکتیکا په نیولو او تصفیه کې د تحریک لپاره کلیدي رول ادا کړ. کله چې له کندهاره د طالبانو تحریک سر راپورته کړ، سمدستي په زابل او غزني کې د کابل او کندهار پر لویه لار ځایي طالبانو خپل فعالیت پیل کړ او له کندهار سره یې اړیکه ټینګه شوه. د کندهار او کابل پر لویه لار له غزني تر کندهاره د پرتو ولسوالیو د طالبانو سیاسي او پوځي جوړښت له کندهاره درې یا څلور کاله مشر و. د غزني د قرباغ د لسوګونو طالبانو د منظمې ډلې مشر مولوي اسحاق اخنزاده و (بیا د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د خوست مرستیال والي او وروسته د لغمان والي شو) مرستیال یې ملا عبدالباري و. د مقر د طالبانو مشر ملا عبدالولي و. د ګیلان او جنډې د طالبانو مشر مولوي عبدالغفار و. د زابل د شاجوی د ولسوالۍ د طالبانو مشر ملا عبدالغني و او مرستیالان یې ملا نورالله نوري (د طالبانو په واکمنۍ کې د بلخ والي او شمال زون تنظیمه رییس و. د امریکا له یرغل وروسته ۱۳کاله په ګوانتانامو زندان کې اسیر و) بل مرستیال یې ملا عبدالجبار و.

د زابل د مرکز "قلات" د طالبانو مشر ملا عبدالوهاب و. مرستیالان یې ملا اسدالله او ملا محمد نذیر وو.

لومړی چې طالبان زابل ته ورسېدل، د شاجوی او زابل د مرکز طالبانو له خپلو قوماندانانو نه د هغوی اکثره پوستې او مرکزونه تخلیه کړي وو. نه یې غوښتل چې له کندهاره راغلي طالبان دي دلته حکم وچلوي، بلکې دوی ویل دلته دې زمونږ د سیمې خپل طالبان واکمن شي او بله خبره یې دا وه چې دلته به زمونږ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو څوک وسله هم نه ټولوي، پر دې خبرو د غزني تر جګړې یوه میاشت مخکې لا اختلاف و.

د ۱۹۹۴میلادي کال په ډسمبر کې چې د قلات د امنیه قوماندان قاري احمدالله و. قاري احمدالله دغزني د خوګیانو ولسوالۍ اوسېدونکی و، د طالبانو په واکمنۍ کې لومړی داخله وزیر او بیا تر مرګه د استخباراتو عمومي رئیس و. زه د قلات مرکز کې څو ورځې له ده سره د همکار په توګه اوسېدم، د مرکز له طالبانو یې راته سر وټکاوه، چې له مرکزي تحریک سره ځان نه یو ځای کوي، دلایل او شرایط وړاندې کوي. په همدې ورځو کې د زابل یو تن عالم مولوي عبدالسلام سالمي، د کندهار د ارغنداب یو تن عالم چې اوس یې له ما نوم هېر دی او ملا نورالدین ترابي (د طالبانو په واکمنۍ کې د عدلیې وزیر) چې دا وخت یې د نویو فتح کېدونکو سیمو د کنټرول دنده لرله. دوی په یوه موټر کې د زابل د مرکز قلات د طالبانو مشر ملا عبدالوهاب ته د جرګې په دود ور روان وو، چې د خبرو له لارې یې موافقې ته اړ باسي. زه هم ورسره ملګری شوم، چې کله د عبدالوهاب اطاق ته ورغلو ډېرې خبرې ورسره وشوې، خو عبدالوهاب بهانې کولې او په نویو ورغلیو طالبانو یې نیوکې هم کولې. عبدالوهاب سمتي او قومي انګېزې هم لرلې چې دا نو د طالبانو تاند تحریک ته تر هر څه زیاتې نه منونکې خبرې وې.

څه موده وروسته عبدالوهاب له صحنې ووت او بیا د تحریک تر پایه له طالبانو سره یو ځای نه شو، خو مرستیالان یې له طالبانو سره یو ځای شول.

په همدغه دسمبر کې یو نوي هیئت د مولوي احسان الله احسان په مشرۍ له کندهاره زابل ته راغی. د قلات ښار په جامع جومات کې یې غونډه راوغوښته. په دې غونډه کې د ملا مدد خان ورور عزیز خان او ملا عبدالسلام راکټي (د طالبانو په واکمنۍ کې د ننګرهار د قول اردو مشر و) حاضر وو، مولوي احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ډېره جذابه او اغېزناکه وینا وکړه او د تحریک د پیل پر اسبابو، اهدافو او د راتلونکې تګلارې په اړه یې تفصیلې خبرې وکړې.

په غونډه کې عبدالسلام راکټي او عزیز خان له تحریک سره د هر ډول همکارۍ اعلان وکړ. راکټي غونډې ته په خبرو کې وویل که طالبان د پاکستان خلک وای، نو ما به یې په "شهرصفا" کې لامخه نیولې وای (ځکه چې راکټي د پاکستان د یوه افسر له راتښتولو وروسته له پاکستان سره د دښمنۍ اعلان کړی و) خو زه د طالبانو مشران پېژنم چې څوک دي او څه غواړي.

له دې څو ورځې وروسته له شاجوی ملا نورالله نوري او ملا جبار له طالب مشرانو سره د لیدو لپاره د وسله‌والو ساتونکو په ملتیا مرکز قلات ته راغلل.

له دوی سره خبرې د نرمۍ او جوړښت خوا ته لاړې. بیا چې د غزني له جګړې وروسته ملا نورالله نوري د خپلو ملګرو په مشرۍ د تحریک په پوځي برخه کې د قوماندان په حیث مصروف شو، نو دا خبرې هم ورسره ختمې شوې.

د طالبانو تحریک د پیل اړتیا

کله چې روسي ځواکونه د ۱۳۶۷لمریز د سلواغې په ۲۶مه له افغانستانه ووتل، د نجیب په مشرۍ کمونیستي رژیم د هېواد په هر لور کې ورځ تر بلې د زوال لور ته روان وو، چې له امله یې ډاکټر نجیب الله د سولې او روغې وړاندیزونه پیل کړل. د لږ وخت په تېرېدو دولت د ولسوالیو مرکزونه پرېښودل او د ولایاتو مرکزونه یې ټینګول، خو وروسته د هېواد په ډېلا ډېلو برخو کې د ډېرو ولایتونو مرکزونو هم سقوط وکړ. دغه وخت لا د نیول شویو سیمو پر سر د جهادي ډلو ترمینځ رقابت او په ځینو سیمو کې وسله‌وال اخ و ډب روان و. نورو تنظیمونو یو څه محتاط دریځ درلود، خو جمعیت او حزب چې له پیښوره لا د یو بل په وړاندې رقیبان وو، نور هم د یو بل پر ضد په مورچو کې کېناستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پېښور کې بهرمېشتي ایتلافي حکومتونه تر ډېره د حزب د مشر حکمتیار له مسلسل مخالفت سره مخ وو. د پېښور په عبوري حکومت کې صبغت الله مجددي ته د دولت د مشر، مولوي محمدنبي ته د دفاع وزیر او مولوي خالص ته د داخله وزیر څوکۍ ورکړل شوې وې. ګلبدین حکمتیار د بهرنیو چارو وزیر و، خو له لږ وخت وروسته حکمتیار بېلتون اعلان کړ او دغه دولت یې د "کرایي حویلیو دولت" ونوماوه.

په وروستي ځل چې د پاکستان دولت او نړۍ‌وال همکاران پوه شول، چې له حکمتیار او رباني پرته نور تنظیمونه د قدرت پر سر شخړې ته لېواله نه دي، نو د دغو دوو د رضایت لپاره یې هلې ځلې پیل کړې، چې له امله یې د ۱۳۷۱کال د غوایي په ۸مه د نجیب د حکومت له سقوط سره په پېښور کې حکمتیار د لومړي وزیر، مسعود د دفاع وزیر او صبغت الله مجددي د دوو میاشتو او له هغه وروسته رباني د څلورو میاشتو لپار د دولت د مشرانو په توګه ونومول، خو څرنګه چې د نجیب دولت د خپلې یوې وفادارې او نامتو وحشي ګیلم جم ملېشې د مخالفت په صورت کې سقوط وکړ، دغه ملېشه لا هم پر کابل ښار واکمنه وه او احمدشاه مسعود د هغوی د یوه متحد په ډول کابل ته رادننه شو.

له یوې خوا احمدشاه مسعود د ګیلم جم ملېشو په ګډون کابل ښار په خپله ولکه کې واخیست او د بل چا وسله‌وال یې نه پرېښودل او بل پلو ته د حزب ځواکونو کابل ته د ننوتلو کوښښ وکړ، چې په اول کې تر داخله وزارت، مرکزي کمېټې او حتی ارګ تر دروازو پورې ورسېدل، خو د ګیلم جم ملېشو او مسعود د ځواکونو چې د زاړه رژیم یو شمېر وسله‌وال هم ورسره وو، د حزب ځواکونه د سخت جنګ په پایله کې د کابل ښار څنډو ته راشاته کړل، چې له دې سره د حزب او جمعیت خونړۍ جګړه پیل شوه، تر درېوو کلونو یې د کابل ښار په کنډواله بدل کړ او تر پنځوس زره زیات عام کابلیان په دې جګړو کې شهیدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول. په دې کې تورسرې، ماشومان او بوډاګان هم وو. صبغت الله مجددي په لومړيو ورځو کې کابل ته دننه شو او څو ورځې وروسته د يوه دولتي وفد په مشرۍ مزار ښار ته ولاړ. هلته يې د ملېشو مشر عبدالرشيد دوستم ته د "سترجنرال" د رتبې ترڅنګ د "خالد بن وليد" مقدس خطاب هم وکړ، چې د ډېرو افغانانو د خپګان سبب وګرځېد.

تر دوو مياشتو وروسته مجددي هڅه کوله چې پر څوکۍ پاتې شي، خو احمدشاه مسعود هغه له لومړۍ ورځې د دولت د مشر په توګه نه و منلی او نه يې هم د هغه کومه خبره منله، چې کله دوه مياشتې پوره شوې، په اسانۍ يې له دندې لېرې کړ او رباني د رسمي مراسمو په ترڅ کې د دولت مشر شو، خو له څلورو مياشو وروسته يې پر واک پښې ټينګې کړې او د مسعود پر پوځي ځواک يې تکيه وکړه. مګر نور متحد تنظيمونه او قوماندانان په دې کار مايوسه شول او هغه ګوډ او مات اتحاد هم کمزورى شو او تقريباً له مينځه ولاړ. د حزب د تنظيم مخلصو قوماندانانو او مشرانو هم ځانونه نور له دې جرياناتو ګوښه کړل. يوازې په پټو سترګو جنګېدونکو قوماندانو ته ميدان خالي شو، چې چا جنګ کولای شواى، که نور يې هر ناوړه عمل کاوه، هغه ته هر چا په خپل بغل کې ځای او هر ډول امکانات ورکول. د کابل ښار د مسعود، دوستم، حکمتيار، سياف او حزب وحدت د ملېشو په وحشي تمرينګاه بدل شو او هغه څه وشول چې ښايي په تاريخ کې يې له کمونيستي جنايتو وروسته ډېر کم ساری وموندل شي!

د سياف ملېشو د حزب وحدت د ملېشو پر سيمه د هزاره ګانو عزتونه لوټ کړل، عام خلک يې ووژل او کورونه يې تالا کړل. د مزاري په مشرۍ د وحدت هزاره ملېشو د سياف په انتقام کې عام پښتانه نيول، په ژوندوني به يې د غاړې رګونه ورغوځ کړل، بيا به يې د غاړې په رګونو سره کړي غوړي ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچول. په مړي کې به لږ حرکت پاتې و، چې له همدې امله به يې ټوپونه وهل. دې ته به هغوی خوشحالي کوله او د "رقص مرده" نوم يې ورباندې ايښی و. دا په نړۍ کې د وحدتي هزاره ګانو لومړنۍ اختراع وه، چې ښايي په نړۍ کې يې تر اوسه ساری نه وي ليدل شوی.

د سياف له خوا مشري په خپله سياف، د هغه وراره ممتاز او قوماندان شېرعلم او يو شمېر نورو بدنامه ټوپکيانو کوله او د وحدت له خوا عبدالعلي مزاري او د وحدت نورو مشرانو او قوماندانانو د دې اعمالو سرپرستي کوله، چې اوس د دواړو غاړو اکثر هم هغه قوماندانان او مشران په اوسني حکومت کې پر دندو بوخت دي.

د رباني په واکمنۍ کې چې د هېواد پلازمېنه کابل ښار په څو دا ډول وحشي قوماندانيو وېشل شوی و، نو د نورو لېرې پرتو سيمو به څه حال و!

يوازې د کابل په ښار کې وحشتونه، د خلکو پر مال، سر او عزت تېری يو ډېر لوی داستان دی، چې زرګونه پاڼې کتاب يې هم نه شي ځايولی. سيمه ييزو ليکوالو او نړۍوالو بشري ادارو هم په دې اړه ډېر اسناد خپاره کړي دي، خو افسوس چې چا يې عاملينو ته نه يوازې د سزا هڅه نه ده کړې، بلکې د بشري حقونو نړۍوالو دعوه لرونکو، د خپلو استعماري موخو لپاره همدغه مجرمين په پيسو او څوکيو خوشحاله ساتلي او جيبونه يې په ډالرو وړړک کړي دي.

د ۲۰۰۱م کال د سپټمبر يوولسمې له پېښو وروسته چې کله متحده ايالاتو پر افغانستان يرغل وکړ، له هغې نېټې راهيسې د دې کرښو تر ليکلو هماغه ټوپکوال او د بشري حقونو ناقضين د امريکايي يرغلګرو په مټ پر ولس واکمن دي. د همدغو جنايتکارانو د لاسوهنو له امله د بشري حقونو د خپلواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمېسیون هغه رپورټ هم نه شي خپرېدای چې د تېرو دوو لسیزو په کورنیو جګړو کې د بشـري حقونو د ناقضینو پېښې یې ثبت کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل څو ښلګې

کابل ښار کې لومړی د عبدالرشید دوستم په مشرۍ د ګیلم جم ملېشو پر مهال د ښار په ډېرو برخو کې چور، تالان، د ښځینه‌وو او کشرانو هلکانو په زوره کانتینرونو ته بوول او هلته د شرابو او موزیک په محفلونو کې د دغو یرغملو بې عفتي او د مخالفت په صورت کې وژنه د ډېرو کابلیانو د سترګو لیدلې کیسې دي. له هغه وروسته د نظار شورا سرګروپانو او افرادو هم دې ته ورته اعمال پیل کړل. وژنې خو یو معمول و، چې چا به هم د وسله‌والو له غوښتنو سر غړاوه، هغه وژل کېده. د حزب وحدت سړیو چې د سیاف له وسله‌والو سره یې د ځمکو نیولو پر سر جګړه وه د عامو پښتنو سړي نیول، په ژوندوني به یې په سرونو کې میخونه ورټک وهل. د پښتنو تور سړي به یې بې عفته کړې او بیا به یې په ژوندوني سینې ترې غوڅې کړې، دا تکراري خبرې دي، دا ډول پېښې چې یې لیدلي داسي ډېر خلک -هم عاملین او هم شاهدان- اوس هم موجود دي. له حزب وحدت نه نیول شویو بندیانو هم د دغو اعمالو اعترافونه کړي دي.

له څرخي پله سره یوې پوستې پر اولاد ناروغه میرمن له موټره ښکته کړې وه او خاوند ته یې ویلي و، چې مورِ ښځې پر هر حال ولیدي خو یو د زیږون پرحال مو نه ده لیدلې، مورِ غواړو پر دغه حال یې هم ووینو.

د سیاف وسله‌وال چې اکثره یې چرسیان او نشه‌یان وو، د هزاره‌ګانو تورسرې یې وړلې او جنسي تېري پرې کول. د هغوی ماشومان او بوډاګان یې وژل، نه د چا په مال بند وو، نه په سر او عفت. مشران یې داسې شوي وو، چې که به هر ډول وحشي او ظالم وسله‌وال و، خو چې د ده لپاره یې وژل کولای شوای نور یې هر ډول امتیازات ورکول. د کابل او ننګرهار ترمینځ د سروبي پر پاټک د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمتیار قوماندان زرداد فریادي له خپل یوه وسله‌واله سپی جوړ کړی و. د دې وسله‌وال تېره غابنونه وو، چې چا به پیسې نه ورکولې، همدغه جعلي سپی به یې ورخوشې کړ او لارویان او مسافر به یې پرې وداړل، ترڅو د دوی له خوښې سره سمې پیسې ورکړي.

پر دغو وحشیانو د خپلو مشرانو تسلط هم تردې کچې رسیدلي و، چې په دې اړه په کابلیانو کې کیسه مشهور ده، وایي د شورا نظار یوه قوماندان پوستې ته د چا میرمن په زور بولې وه او خاوندیې د دولت مشر برهان الدین رباني ته خپله عرضه ور رسولې وه، رباني د عرضې پر شا ورته لیکلي و: "قوماندان صیب لطفا زنش بده"

کندهار د وحشت په ګروت کې

د کندهار ښار د لسګونو قوماندانانو ترمینځ وېشلی و. ستر واک د ملا نقیب له ډلې سره و، خو هغه په خپله دومره واکمن نه و، بلکې ټول واک او ځواک ورنه قوماندان خان محمد ترلاسه کړی و، چې په "خانو" یې شهرت درلود. خانو بدمعاشان او وحشي کسان پر ځان راټول کړي وو، ملا نقیب په خپله هم ترې ډاربده.

والي ګل اغاشیرزی و. شېرزی یوازې له رباني د کندهار د ولایت په نامه مالي سهم اخیست او نور واک یې نه درلود. له همدې امله یې ځان ښه شتمن کړی و، نظامي خلک یې کم لرل چې هغه هم ډېر بدخلقه نشه‌یان او بې‌کاره کسان وو. قول اردو د ملانقیب مربوط د خانو په واک کې وه. د خانو ډله په نظامي لحاظ یو څه ځواکمنه وه. زغروال ټانکونه او وسله یې هم لرله او رباني هم توجه ورته کوله، ځکه چې دا په کندهار کې جمعیت اسلامي پورې تړلې جبهه وه. د هوایي ډګر واک د کندهار د مشر قوماندان حاجي مغاش د زوی حاجي احمد تر واک لاندې و. د قشله جدید پوځي سیمه او د ښار غربي سیمې د امیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لالي د وسلهوالو تر واک لاندې وې چې وسلهوال يې ډېر وحشي او ظالم کسان وو. د سياف د تنظيم د قوماندان استاد عبدالعليم وسلهوال د کندهار لويديځ ته د سرپوزې په سيمه کې مېشت وو. استاد عبدالعليم تر جهاد مخکې موټروان پاتې شوی و. د موټروانۍ له وخته په "استاد" مشهور و. په دې سيمه کې موټروان ته هم استاد ويل کيږي. د ده کسان هم په هيڅ کې ترڅا کم نه و، نور هم ډېر واړه او غټ قوماندانان وو، چې ځوک يې ډېر بد وو او ځوک لږ.

دکندهار د زوړ ښار پر سيمه د حزب اسلامي د قوماندان عطا محمد سرکاتب وسلهوال واکمن وو.

په کندهار کې د روسانو پر ضد جهاد ډېرو سپېځلو خلکو پيل کړ او ډېر وروستني خلک هم داسې سپېځلي اوسېدل، ځکه جهاد هغه چا کاوه چې د جهاد روحيه يې لرله او د جهاد روحيه ايماندارو او اسلام پالو خلکو لرله، خو د وخت په تېرېدو ځينې مشهور او محرک مشران شهيدان شول لکه لالاملنګ او نورې اکثره له صحنې ووتل، بله خوا د وخت په تېرېدو د مال او ځواک شوق په مجاهدينو کې زيات شو، چې دا ستونزه په ټول هېواد کې وه. د دې کار لپاره له نامشروعو لارو ګټه اخيستل پيل شول، چې په دې کې نامطلوبو، غلو او اجرتي قاتلانو ته هم خلکو په جبهاتو کې ځای ورکړ، چې له دې امله ځينې دغه غله او اجرتيان تر دې کچې پياوړي شول چې بيا د خپلو قوماندانانو هم زور پرې نه رسېده. په کندهار کې داسې ډېر سرګروپان وو، چې پخوا خلقيان وو او په کمونيستي ملېشو کې پاتې شوي وو، خو ځينو قوماندانانو د قوم پالنې پر بنسټ يا هم د خپل رقيب د ځپلو لپاره له ځانه سره ونيول، چې وروسته بيا ورنه ځواکمن ټوپکوال جوړ شول او د هم مثله خلکو له راجلبولو وروسته يې خپل پاټکونه واچول. همدې خلکو بيا د چا د عزت او ابرو څه پروا نه لرله؛ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کمونیستي دورې له پیله په همدې مظالمو او وحشت روږدې وو، چې ببلګه یې "منصور" او "بارو" وو چې د کندهار ښار او بولدک ترمینځ یې پر لویه لار پاټک اچولی و، له مسافرو یې ځوانې تورسرې او کشران هلکان د جنسي اشباع لپاره ګرځول، چې بیا طالبانو د کندهار ښار تر نیولو لږ وړاندې د دوی پر پاټک برید وکړ. منصور او بارو دواړه یې ووژل او د خپلو ټانکونو د توپونو پر میلونو یې را ځوړند کړل. وسلهوال یې اکثره په جنګ کې ورته ووژل، یوازې یو وراره یې "عبدالرازق" ورته د کم عمرۍ له امله ژوندی پرېښود (اوس د کندهار امنیه قوماندان دی). همدې پېښې د کندهار ښار پر ټوپکیانو رعب واچاوه او د کندهار تصفیه یې طالبانو ته اسانه کړه.

د کندهار په ښار کې د څو ګروپونو ترمینځ داسې جنګونه روان وو، چې د خلکو کورونه یې هم په لمبو کې سوځېدل. خلکو پر خپلو عزتونو او کورونو ټوله شپه پیرې کولې. اکثره ښځیني مجاهدین په کورونو ناست وو، یوازې هغه قوماندانان پر میدان وو چې د قوم-قبیلې پر بنسټ یې حتی زاړه کمونستان پر ځان راټول کړي وو او له یو بل سره د سیمې د نیولو پر سر په جګړو کې ښکېل وو. داسې جګړې چې د کندهار څو اوسېدونکو عیني شاهدانو راته کیسه کوله چې په دا پورې پوسته کې یو ټانک ولاړ و پوره یوه میاشت یې په مقابل لوري د توپ ډزونه کول. د میاشتې په اخیر کې د زیاتو ډزو له امله د ټانکسټ ماغزه خراب شول او د تداوۍ لپاره یې پاکستان ته یوړ.

د کندهار خلک د کمونیزم پر وړاندې جهاد کې ډېر حیرانوونکی تاریخ لري. د کندهار مجاهدین دومره وسپنیز او غښتلي جنګیالي وو، چې په شپه کې به د ښار مینځ ته ننوتل او تر سهاره به یې له حکوت سره د حکومت د کور دننه جګړه وکړه او سهار چې به وتل، نو دښمن ته به یې درانه تلفات اړولي وو. که د کندهار ښار د خلکو همکاري نه وی، نو مجاهدین د ښار مینځ ته نه شوای

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوتلی. د ښار په مینځ کې کمونستان په ډاډه زړه له پوستو نه شوای راوتلی، ځکه چې د ښار نیم ولس ورسره جنګېده، یو ځل د دولت پر ضد د ښار خلکو پر خپلو بامونو د تکبیر نارې پیل کړې. دا دومره زیاتې او عمومي چیغې شوې چې دولت یې په ورځو ورځو له وارخطایۍ سره مخ کړ، ګولۍ یې پرې وورولې، خو خاموش یې نه کړای شوای. بالاخره یې عذر زاریۍ او جرګې پیل کړې، خو له بده مرغه ننګیالي او پاک نفسه مجاهدین، څوک شهیدان شول او چا د نجیب د رژیم له نسکورېدو سره پر کور ناسته غوره کړه. پاتې خلکو د قوم او قبیلې په نامه زاړه کمونستان، غله او فاسقان پر ځان راټول کړل چې له املې یې د وحشت یو زړه لړزوونکی تاریخ جوړ کړ.

د خلکو له خولې څو خاطرې

د طالبانو د واکمنۍ ستر مفتي او د هېواد په کچه عالم او زاهد شخصیت مرحوم مولوي عبدالعلي دیوبندي صیب نه مې دا کیسه اورېدلې چې ویل یې، یو قوماندان له یوه کندهاري نه مېرمن بوتله او خپل اطاق ته یې د بې عفتۍ لپار وخېژوله. سړی پښتون و، نور وس یې کار نه کاوه، په ډېر لوړ اوازیې کوکې او نارې شروع کړې، چې د خدای په خاطر دا مې عزت دی، قوماندان یو څو د غښتلو متو خاوندان وسله‌وال ورته راواستول، سړی یې چپه کړ او په زور یې تناسلې اله ورتاوولې، تر هغو چې ورنه بیله یې کړه، سړی ځای پر ځای مړ شو.

د کندهار د راډیو یوه مامور د خپلو سترګو لیدلې کیسه کوله، چې د کندهار شهرنو په سیمه کې یو کشر هلک روان و، د پوستې والا پسې غږ کړل، چې دې خوا راشه، هلک پوهېده چې د بدفعلۍ لپاره یې غواړي. هغه منډه کړه ټوپکوال کلاشینکوف پسې ونیو او ضربه یې کړ، هلک یې ځای پر ځای شهید کړ. دغه تنکی زلمی په وینو کې رغړېده او دوی چورت هم نه واهه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کوټې یو ځوان مهاجر ملا د خپل پلار جنازه له پاکستانه د زابل شاجوی ته وړه. د کندهار-زابل پر لار له شهرصفا ولسوالۍ سره د حزب اسلامي د "ګرانو" قوماندان پوسته وه. ملا وایي زما او زما د کورنۍ جهادي تعلق له حزب اسلامي سره و، ما غوښتل چې د ګرانو له پاټکیانو ځان خلاص کړم، خپل حزبي تعارف مې ورته وکړ، هغوی له غوسې په خندا شول، راته ویل یې موږ یوازې پیسې پېژنو، خو ما د پلار د یو ناڅاپي وفات له امله دومره پیسې راخیستې وې چې د لارې کرایه مې ورکړه او نورې رانه په لاره کې پاټکونو واخیستې، دا ځوان مولوي صیب وایي چې له جنازې سره یې په ولسوالۍ دننه کړم، جنازه یې پر میدان کښښوده، ماته یې مخ را واړاوه چې دا دې د پلار جنازه ده؟ ما ورته وویل هو. وایي چې پیسې نه شې پرې کولی، اوس به د پلار جنازې ته ګډېږې، اتې به کوې، ما عذر او زارۍ شروع کړې، چې د پلار مرګ او ګډا او بیا زه ملا سړی یم! اتې مې زده هم نه دی، خو هغوی نور مرمۍ کلاشینکوف ته ټېره کړه، زه پوه شوم چې پیسې خو نه شته یا دې وژني یا اتې وکړه! بس مجبور شوم په نه زړه مې د دوی د حیواني نفس د تسکین لپاره اتې شروع کړ او تر هغو یې ګډولم، مګر نور له پښو ولوېدم، مولوي صیب وایي بیا مې په ستړي وجود د پلار جنازه پورته کړه او تر ننه مې کور کې له شرمه کیسه نه ده کړې، خو د الله فضل و، چې کومه تورسړې راسره نه وه.

د کندهار د ټوپکیانو د غلا، چور، تالان، مرګ، بې عفتۍ، د قوماندانانو ترمینځ د هلکانو ودول او دې ته ورته بې شمېره کیسې مشهورې دي، خو ما د لنډون لپاره دغه پورتنۍ د خلکو او عیني شاهدانو د خولې خاطرې کافي وګڼلې.

همدې حالت د هغو پاکو او زړورو مجاهدینو لار ځارله چې کندهار یې په خپلو وینو له کمونستانو ازاد کړی و او بیا د فساد پر وخت پر کور کښناستل او پر ځای یې مفسدو پخوانیو کمونستانو او بې لارې شویو مجاهدینو په ګډه د کندهار غیرتي ولس یرغمل کړی و. د همداسې پاڅون د رهبرۍ لپاره ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد عمر را وړاندې شو، ولس تش یو اواز غوښت، ځکه خو د تش‌لاسي ملا محمد عمر ولسي ملاتړ ډراماتیکه بڼه لرله.

ملا محمد عمر مجاهد څوک و؟

ملا محمد عمرد کندهار د خاکړېز ولسوالۍ د "چاه همت"په کلي کې په یوه علمي او ديني کورنۍ کې په ۱۳۳۹ لمریز کال چې له ۱۹٦۰ میلادي سره سمون خوري، زېږېدلی. د پلار نوم يې مولوي غلام نبي و. نیکه يې مولوي محمد رسول نومېده او د غور نیکه نوم يې مولوي باز محمد و. د ملا محمد عمر پلار مولوي غلام نبي هم د کندهار په خاکړېز ولسوالۍ کې دنیا ته راغلی او د همدې سیمې په بېلابېلو دیني ښوونځیو کې يې خپلې دیني زده‌کړې کړې وې، چې بیا په دغه سیمه کې د تدریس او اسلامي دعوت په چارو کې د زیار او مصروفیت له امله د خلکو په مینځ کې د یوه دیني او ټولنیز شخصیت په توګه وځلېد. ملا محمد عمر له اره پښتون هوتک او په هوتکو کې په تومزي ښاخ پورې اړه لري.

هوتک د پښتنو قبیلو په مینځ کې یوه مشهوره او تاریخي قبیله ده، چې په تاریخي لحاظ له غوریانو وروسته دوهمه قبیله ده چې د پښتنو د مشرۍ ویاړ يې په برخه شوی. هوتکیان د معاصر افغانستان په تاریخ کې د حاجي میرویس خان(میرویس نیکه) په څیر ملي او اسلام پال مشران لري

د ملا محمد عمر مجاهد کورنۍ له مسلکي اړخه ټول دیني علماء او د دیني علومو مدرسین تېر شوي دي، چې امله يې په خپله سیمه کې ښه نوم لاره.

د ملا محمد عمر له زوکړې دوه کاله وروسته د هغوی کورنۍ د کندهار له خاکړېز ولسوالۍ د دې ولایت د ډنډ ولسوالۍ "نودې" کلي ته وکوچېده او هلته د خپل ژوند تر پایه د سیمې د خلکو د دیني ښوونې او روزنې په چارو بوخت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملا محمد عمر پلار مولوي غلام نبي په ۱۳۴۴ لمريز کال چې له ۱۹۶۵میلادي سره سمون خوري په همدې سيمه کې وفات شو او د کندهار ښار د طالبانو په نامه پخوانۍ مشهوره هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

ملا محمد عمر د خپل پلار له وفات وروسته د پنځه کلنۍ په عمر له خپلې کورنۍ سره د کندهار له ډنډ ولسوالۍ څخه د اروزګان ولايت د دهراود ولسوالۍ ته ولېږدېد او هلته يې د خپلو ترونو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه تر سرپرستۍ لاندې د ژوند لومړنۍ مرحله پيل شوه.

ملا محمد عمر په اته کلنۍ کې د ديني علومو د ترلاسه کولو لپاره د اروزګان د دهراود ولسوالي د شهرکهنه په سيمه کې په يوه ابتدايه ديني مدرسه کې داخل شو. د دغې مدرسې سرپرستي هم د ملا محمد عمر د تره مولوي محمد جمعه له خوا کېده او ملا محمد عمر هم لومړنۍ ديني زده‌کړې له هغه څخه پوره کړې.

ملا محمد عمر د خپلو دوو ترونو مولوي محمد انور او مولوي محمد جمعه په سرپرستۍ او روزنه کې رالوی شو.

کله چې يې د ديني زده‌کړو لومړنۍ او مينځنۍ دوره په همدې مدرسه کې په بريالۍ توګه پای ته ورسوله، دا وخت هغه اتلس ۱۸ کلن و. هغه د مروجو لوړو ديني زده‌کړو پر لوستلو پيل وکړ، خو دا زده‌کړې لا بشپړې نه وې چې د ۱۳۵۷ لمريزکال د غوايي پر اوومه کمونستانو کودتا وکړه او له ملا محمد عمره هم د نورو مسلمانو زده‌کوونکو په څېر لوړې زده‌کړې نيمګړې پاتې شوې.

شورويضد جهاد کې ونډه

ملا محمد عمر د شوروي يرغل پر ضد لومړنۍ وسله‌واله مبارزه د اروزګان په دهراود ولسوالۍ کې پيل کړه. په دې ولسوالۍ کې له څه وخت تېرولو وروسته د اروزګان په کچه په زړور جنګيالي مشهور شو. له همدې امله به هغه په ځينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوځي عملياتو کې د بېلا بېلو جبهاتو د ګډ پوځي ځواک د تعرض قوماندان ټاکل کېده. هغه د اروزګان په ډېرو جګړو کې د تعرضي قوماندان يا هم عادي مجاهد په توګه برخه اخيستې، خو د يوه بنه جنګيالي په توګه يې په ټول ولايت کې شهرت لاره، د هغه وخت ملګري يې وايي چې ملا محمد عمر له کم عمرۍ سره سره د ځينو ځانګړنو له امله هغه وخت لا يو شمېر قايدانه صلاحيتونه لرل، چې له امله به يې د تعرضي جګړو متحد قوماندان غوره کېده، هغه د جهاد په پيل کې د مضبوط وجود او سالم بدن څښتن و.

وروسته په ۱۳٦۲ل او ۱۹۸۳ ميلادي کال کې له خپلو جهادي ملګرو سره د کندهار ولايت ميوند ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې د حرکت انقلاب اسلامي د تنظيم د مشهور جهادي قوماندان حفيظ الله اخندزاده په جهادي جبهه کې په شوروي ضد جګړو کې برخه اخيسته. دا وخت د کندهار په کچه څو طالبانو په زړورتيا او تاکتيکي جګړه کې خورا شهرت درلود، چې په دې کې زيات شهرت ملا نبک محمد، ملا محمد عمرمجاهد او ملا محمد اخوند لاره. ملا نبک محمد د هغه وخت د کندهاريانو په وينا په تنها سر له پوره روسي زغروال کاروان سره په ساعتونو ساعتونو جګړه کوله او د آر پي جي راکټ په مټ به يې په يوه جګړه کې درځن زغروال ټانکونه ويجاړول، ويل کيږي چې په يوازې سر به يې دري ډوله وسله له ځانه سره وړله، ترڅو د زغروالو ټانکونو او پلې عسکرو دواړو سره په يوازې سر جګړه وکړای شي. ملا محمد عمر هغه څوک و، چې د ملا نبک محمد سره يې يو ځای نوم يادېده او په ډېرو جګړو کې دواړو په ګډه برخه اخيسته. ملا محمد عمر له روسانو سره په جګړه کې څلور ځله زخمي شو او په وروستي ځل يې بنۍ سترګه هم له لاسه ورکړه.

د ملا محمد عمر څو جهادي خاطرې

ملا محمد عمر ته له نږدې کسانو نه د هغه دا څو خاطرې رانقل شوې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ خاطره: په کندهار کې د دولت یوه ځواکمنه پوسته وه چې د "بدوانو" پوسته یې بلله. له دې پوستې سره کمونستانو په خورا حساس او حاکم ځای کې ټانک درولی و، چې له ګذارونو نه یې مجاهدین ډېر تکلیف وو. ډېرو مجاهدینو څو ځله کوښښ وکړ، چې دا ټانک له مینځه یوسي او مجاهدین یې له شره خلاص شي، خو له بیا بیا هڅو سره سره یې کوم مجاهد په ویشتلو بریالی نه شو. بالاخره د سیمې مجاهدینو د میوند له سنګیسار نه د مرستې لپاره ملا محمد عمرمجاهد راوغوښت او همدا ټانک مرحوم ملا محمد عمر په آر پي جي راکټ په ډېر مهارت په نښه او له مینځه یې یوړ. دې ته ورته د هغه بل ملګری ملا عبید الله اخوند له روسانو سره د جهاد په دوران کې د کندهار د محله جات په سیمه کې په یوه مخامخ جګړه کې د روسانو دومره ټانکونه او موټرونه وسوځول، چې په سبا ورځ له لېرې نه کتونکو خلکو چې دا سوځول شوی کتار لیده، نو ګومان یې کاوه چې روسي کاروان اوس هم ولاړ دی. ملا عبید الله اخوند د طالبانو په واکمنۍ کې د ملي دفاع وزیر شو او د امریکا له یرغل وروسته د ملا محمد عمرمجاهد د نائب په توګه وټاکل شو. اروابنباد په پای کې د پاکستان په زندان کې تر شکنجې لاندې په ۲۰۱۰ کال کې شهید شو.

دوهمه خاطره: د شوروي یرغلګرو پر ضد د جهاد پر مهال د کندهار-هرات پر لویه لار د ژړۍ ولسوالۍ د سنګیسار په سیمه کې د روسانو ټانکونه تیرېدل. ملا محمد عمر مجاهد او ملا عبدالغني برادر، چې په ملابرادر مشهور و، هم ورسره و. د روسانو په یوه قوه د برید لپاره یوازې د راکټ څلور ګولۍ ورسره وې، دوی له همغو څلورو ګولیو سره د دښمن په کتار جنګ شروع کړ چې په ترڅ کې یې په همدې څلورو مرمیو د دښمن څلور ټانکونه وویشتل. ملا برارد د طالبانو د واکمنۍ پرمهال لوی درستیز او وروسته د هرات والي و او د امریکا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغل وروسته د ملا محمد عمر نا ئب شو.اوس په پاکستان کې په مړ ژواندي حالت کې بندی دی.

دریمه خاطره: د ډنډ ولسوالۍ په تیموریانو سیمه کې ملا محمد عمر د روسانو اوه ټانکونه په داسې حال کې په راکټ وویشتل چې په نوبت به د روسانو ټانکونه د مجاهدینو د سنګرونو پر لور د جګړې له پاره رامخکې کېدل. په هغه جګړه کې د شاهدانو په وینا ملا محمد عمر او ملا عبیدالله مجاهدینو ته نجات ورکړ او د روسانو مجهزه قوه یې له پوره ماتې سره مخ کړه. د جنګ په اخر کې ملا عبیدالله د اخرني ټانک له ویشتلو سره په یوه وخت زخمي شو.

له کال ۱۳٦۲ل ـ ۱۹۸۳ م تر۱۳۷۰- ۱۹۹۱ پورې ملا محمد عمر مجاهد د کندهار میوند، ژړۍ، پنجوایي او ډنډ ولسوالیو په مربوطاتو کې چې د شوروي قواوو پر ضد د جهاد مهم مرکزونه وو او نړدې هره ورځ به یې مجاهدین له دښمن سره په جګړه بوخت وو، همدارنګه د زابل په ولایت کې د شهرصفا ولسوالي او مرکز "قلات" اړوند سیمو کې د کابل ــ کندهار پر لویه لار د روسي یرغلګرو په خلاف ډېر بریالي عملیات ترسره کړل، چې په ټولو هغو کې په خپله ملا محمد عمر مجاهد برخه لرله.

تر ټولو خوښه وسله یې د روسي جنګي شوبلو (ټانکونو) پر ضد استعمالېدونکې خورا مؤثره وسله .7R.P.G توغندی و، چې د مجاهدینو په مینځ کې به راکټ بلل کېده او ده یې په ویشتلو کې ځانګړی مهارت درلود..

د جهاد په وروستیو کلونو کې د طالبانو په ځینو جبهاتو کې ابتدایي ضبط او کنټرول پاتې نه شو، ځکه خو ملا محمد عمر هم د حفیظ الله اخندزاده له جبهې څخه له خپلو څو نورو نامتو ملګرو سره ووت. څه وخت وروسته ملګرو مجبوره کړ چې د مجاهدینو یوه وړه جبهه جوړه کړي، هغه د کندهار – هرات د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړک غاړې سره د سنګیسار سیمې د "اډې" په کلي کې یو وړوکی مرکز (د مجاهدینو ټولی) جوړ کړ. دا مصارف به یې د خپلو مجاهدو ملګرو او اهل خیر خلکو په مرسته پوره کول، ترڅو یې وروسته خپله جهادي جبهه د حرکت انقلاب اسلامي له تنظیم سره رسمي کړه، خو د جهاد پرمهال ملا محمد عمر کله هم د حرکت مشر مولوي محمد نبي محمدي نه دی لیدلی او نه هم پاکستان ته د وسلې لپاره تللی دی. په ټول ژوند کې یو ځل د روسانو پر ضد جهاد کې د پاکستان کوټې ښار ته زخمي وړل شوی، چې د سترګې له تداوي وروسته ښرته کندهار ته راغلی، همدا یو سفر پاکستان ته د هغه په ژوند کې لومړی او وروستی سفر و.

د شوروي پر ضد د جهاد پای

په ۱۳۷۱ل - ۱۹۹۲ز کال کې د نجیب د کمونستي واکمنۍ له سقوط او په هېواد کې د تنظیمي جګړو له پیلېدو سره سم ملا محمد عمرمجاهد هم د نورو ربښتینو مجاهدینو په څېر له وسلې سره مخه ښه وکړه او د کندهار میوند ولسوالۍ د سنګیسار په سیمه کې د ګیشاڼو کلي د حاجي ابراهیم د مسجد ترڅنګ یې یوه دیني مدرسه جوړه کړه او په همدې مدرسه کې یې د خپلو څو تنو جهادي ملګرو په ملتیا د خپلو نیمګړو دیني زده‌کړو په پوره کولو بیا پیل وکړ. ملا محمد عمر په دې مدرسه کې د حدیثو کتاب "مشکواة المصابیح" ولوست او د قران کریم تفسیر او ترجمه یې هم ولوسته، خو د حدیثو د نورو کتابونو لوستلو ته یې فرصت پیدا نه کړ. ترڅنګ یې خپلو ملګرو ته د قران کریم د قرائت او تجوید درس هم ورکاوه. ملا محمد عمر د قران کریم په تجوید او قرائت کې پوره مهارت درلود، چې د اختر د لمونځونو په امامت کې د هغه قرائت او تلاوت په لکونو خلکو اوربدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت ملا محمد عمر هم شاګرد و او هم مدرس، او هم د يوې وړې مدرسې موسس او مدير و. کله چې په کندهار او شاوخوا سيمو کې د ټوپکمارۍ وحشت اوج ته ورسېد، خلکو ديني علماوو ته ډېر مخ ور اړاوه چې د شوروي پر ضد جهاد خو ستاسې پر فتوا و، خو اوسني وحشت ته ولې چوپ ياست؟

اکثره هغه جبهات چې مشران يا غړي يې طالبان او ملايان وو، دا وخت له جرياناتو وتلي وو، مشران او ډېرى کشران يې پر کورونو ناست وو. نښار او ورسره ترڅې سيمې تر ډېره د هغو مجاهد نما وحشيانو په واک کې وې چې دا وخت له لوټمار او بد اخلاقۍ پرته ورسره هيڅ سپېڅلې روحيه پاتې نه وه. که به مشر پخوانى جهادي قومندان هم و، خو افراد يې مجاهدين نه وو، بلکې په قوميت او نورو ناوړه مشترکاتو به پر ده راټول وو.

وحشت په نښار او اطرافو دواړو کې و، خو د لويې لارې پر سر چې لارويانو سره کوم ناوړه چلند کېده دا د هلمند او کندهار، کندهار او بولدک ترمينځ زيات و. د هلمند او کندهار ترمينځ وحشت د ملا محمد عمر استوګنځي سره مښت ولس هم له درنو ستونزو سره مخ کړى و، له ميوند نه د کندهار تر نښاره داروخان، صالح او نادرجان په وحشت کې ډېر مشهور پاټکوال قوماندانان وو، چې پر مسافرو يې هر ډول تېرى کاوه. د دوى پر پاټکونو د مسافرو سر، مال او عفت درې واړه له ګوانښ سره مخ وو. د بولدک او کندهار نښار ترمينځ د انځرګي غرني تنګي اوتخته پول کې د منصور او قوماندان بارو پاټکونه په ظلم کې مشهور و. منصور د کمونستانو د وخت د مشهورې جنګي ملښې د مشر "عصمت مسلم" قوماندان پاتې شونى و. پر ده اکثره پخواني کمونيستان او د اځکزو د قوم ځينې کسان هم د قوميت په جذبه راټول وو.

د ۱۹۹۴ميلادي کال د جون په ۱۳مه چې د۱۴۱۵هجري قمري کال د محرم الحرام د مياشتې له ۱۵مې سره سمون خوري د پنجشنبې په ورځ د ملا محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمر په ابتکار د سیمي د علماوو، د مدرسو د ناظمانو، استادانو او د مساجدو د امامانو ترمینځ د سنګیسار د یوه پخواني مجاهد حاجي غوث الدین په جومات کې غونډه وشوه، د غونډې په ګډونوالو کې مولوي سید محمد چې په مولوي پاسني مشهور و او د سیمي د مجاهدینو قاضي پاتې شوی او همداراز مولوي عبدالحکیم -چې اوس په شیخ عبدالحکیم مشهور دی او د طالبانو د شورا غړی او د قضا مسئول دی- هم ګډون لاره. غونډې د دې ناخوالو پر ضد د یوه اصلاحي غورځنګ پر جوړېدو سلا وکړه او مولوي سیدمحمد (مولوي پاسنی) ته یې د دې غورځنګ د مشرۍ وویل خو هغه مشري ونه منله، دغه غونډه بې نتیجې پای ته ورسېده. د غونډې پر سبا ملا محمد عمر په خپله له یوه بل ملګري مولوي عبدالصمد سره په مدرسو وګرځېد چې د دې کار لپاره د مدرسو طالبان د ځان ملګري کړي.

د تحریک پیل د ملا محمد عمر په ژبه

د ۱۳۷۵ل کال د وري په۱۶مه چې د ۱۹۹۶میلادي کال د اپریل ۴له می سره یې سمون خوړ، د افغانستان د جیدو علماوو یوه ستره غونډه په کندهار کې پیل شوه چې په پایله کې یې ملا محمد عمر ته د "امیرالمومنین" لقب ورکړ. په وروستۍ ورځ امیرالمومنین غونډې ته وینا وکړه. زه هم د دې غونډې د خدمت‌کوونکو په ډله کې وم او په ټول جریان کې حاضر وم، ملا محمد عمر مجاهد په دې لنډه وینا کې د تحریک د پیل لنډه کیسه هم په خپله ساده او عادي لهجه وکړه. دوه ورځې وروسته د بولدک د علماوو یوه وفد ته یې په لږ تغیر سره بیاهم دغه وینا وکړه، د دې دواړو وینا غورچاڼ په دې ډول و:

> د کندهار ښار او شاوخوا حالت دې ته ورسېد، چې د مسلمانانو عزت او ابرو، سر او مال هېڅ هم خوندي نه و. یوه ورځ پر سایکل راسپور وم، د مدرسې خوا ته راتلم. پر سړک سړی ولاړ و، چې ورته راورسېدم، سړی مړ و او په مړینې یې درولی و. دغه وحشت او دا ډول نورو وحشتونو مي پر ذهن بد اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ، چې کله مدرسې ته ولاړم، نور مې د دې جنایاتو مخنیوی پر ځان فرض وګانه. له مدرسې راووتم، یو بل ملګری مې له ځان سره کړ، له سنګیسار څخه زنګاوات ته راغلو، له سرور نامي کس څخه مو موټرسایکل وغوښت، سرور د تلوکان د کلي اوسېدونکی و. ملګری مې پر موټرسایکل راسره کښناوه، ملګري ته مي ویل اوس به پر مدرسو او درسو ګرځو، مابنام ته یوه کلي ته راغلو، پر لار مې ملګري ته ویل دغه لارې په یاد لره. یو تغییر به ضرور راځي. سهار بیا پر موټرسایکل سپاره شوو، یوې مدرسې ته ورغلو څوارلس طالبان په کې وو، دوی ته مو دعوت ورکړ، چې توکل محض له ذهنه مه باسئ، مسلمان بربادیږي، یو څو وحشي فاسقان او قاتلان نور مسلمانان هم بربادوي، غلو او فاسقانو ټوله سیمه نیولې ده، نه د چا عزت خوندي دی، نه سر او نه مال، پر هره لار د خلکو ناموسونه بې عفته کیږي، بدخویه او بدخلقه خلک پر خلکو هر رنګ نارواوې کوي. موږ تاسو ته په داسې وخت کې ناسته پکار نه ده، په رښا ورځ خلک وژل کیږي مال یې لوټیږي، په عزت یې تجاوز کیږي، که تاسو دا سبقونه د الله د رضا لپاره وایاست نو د الله د رضا لپاره یې پریږدئ.

د ظلم او ستم په دغه دور کې درس او تدریس نه سي کېدای، په دې ډول یا د زنده باد او مرده باد په نارو د دې کارونو مخه نه نیول کیږي، ما هغوی ته دا هم وویل چې له موږ سره هیڅا د کومک وعده هم نه ده کړې، بلکې د وطن له عامو مسلمانانو به ډوډۍ غواړو، دا هم معلومه نه ده چې خلک به ډوډۍ راکړي که نه، کېدای سي بیا د درس ویلو موقع هم پیدا نه سي او دا هم معلومه نه ده چې به موږ کامیاب سو او که نه.

ما د هغوی په غیرت راوستلو لپاره دا هم ورته وویل، چې دغه فاجران او فاسقان چې په دې سره ګرمۍ کې پر سرو ډبرو ناست وي او په ښکاره د الله نافرماني او دښمني کوي، نو موږ ولي په ښکاره د دین خدمت نه سو کولای. دومره غفلت او بې همتي مه کوئ، بیا مي خبره نوره هم ورته سخته کړه چې که موږ کوم ځای ونیو، بیا به هلته کینو، دا شکایتونه به نه وي چې زموږ درسونه قضا کیږي، یا پیسې، وسلې او خوراک نه سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې خبرو وروسته مې ورته وویل چې تاسي په دې کار کې راسره دریږئ که نه؟

یوه هم ونه ویل چې یا کولای سو او یا تیار یو، ټولو راته وویل چې که د جمعې په شپه تاسې څه کولای سوای مورِ درسره همکاري کوو (جمعه درسونه رخصت وي) ما ورته وویل چې له جمعې وروسته به یې څوک کوي؟

خدای شاهد دی ټوله کیسه همداسې وه، که مورِ توکل محض نه وی کړی او ظاهري اسبابو ته مو کتلي وای نو نورې مدرسې به مو هم همداسي فرض کړې وای او سیده به بېرته (نامیده) خپلې مدرسې ته تللي وای، خو ما له الله سره عهد کړی و او توکل محض مې کړی و، دا ټول د توکل محض برکت و چې تر دې ځایه راورسېدو.

له دغه ځایه بلې مدرسې ته ولاړو، هغوی ته مو خبره نوره هم سخته کړه، چې دا کار اسانه نه دی، خو هغو ټولو چې پینځه یا اوه نفره وو خپل نومونه له مورِ سره ولیکل، دغه او هغه نور طالبان د یوه امت او یوه وطن خلک وو، د یوې سیمې اوسېدونکې وو، داسې نه وو چې هغه د یوه امت و او دا د بل امت و یا دا عالمان وو او هغه جاهلان وو، داسې هم نه وو چې دا نارینه وو او هغه ښځې یا هغه سپین ږیري وو او دا ځوانان، په ابتدا کې د الله یو عجیب حکمت و او زه د الله له ډېر سخت امتحان سره مخ وم.

دغه د تحریک شروع وه.

مورِ همداسي پر موټرسایکل ګرځېدو، ان تر مابنامه مو ۵۲ نفر برابر کړل. صرف د توکل محض والا کسان وو، دوی ټولو نومونه راسره ولیکل.

دوی ټولو ته مې وویل چې سهار وختي زما ځای ته ځانونه راورسوئ، مورِ بېرته خپل ځای ته راغلو، خو هغوی د شپې یوه بجه ټول راغلي وو، سهار چې زمورِ یو مولوی صیب مسجد ته ورغی، دوی ټول له مخه لا هلته موجود وو، په دغه شپه کې د دې مولوي صیب یوه مقتدي فرښتې په خوب کې لیدلې وې چې پاسته لاسونه یې پر پر بدن ور ایښي و(له دې خبرې سره ملا صیب په ژړا شو او یو څه وخت خاموش و).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سبا ورځ مو دوه موټروانان هم برابر کړل او په لس بجې مو حاجي بشير ته سړی ولېږه، له هغه مو دوه موټران او یو څه وسله وغوښتله هغه موټران او وسله راکړه، مورِ کشکِ نخود (د کندهار هلمند ترمینځ د میوند ولسوالۍ مرکز) ته راغلو او هلته مو نور کسان هم برابر کړل، چې ډېری سو، نو مو وسلې واخیستې او له خپله ځایه په پینځه میله فاصله کې مو خپل کار شروع کړ.

ملا صیب د خبرو په اخیر کې وویل چې مورِ ستره دعوه کړې دا دعوه سخت امتحانات لري، دا کار توکل محض ته ضرورت لري، په خوله دعوه اسانه ده، خو عملي امتحان سخت دی. هغه دا هم وویل چې اي ديني عالمانو زه ستاسې همکاري او رهنمايۍ ته محبوره يم، ځکه زه د وړوکتابونو طالب (شاګرد) يم، که تاسو د الله د دين په نفاذ کې زما سمه رهنمايي ونکړه، نو د اخيرت په ورځ به زما لاس اوستاسي ګريوان وي.

حاجي بشير ولې ملا محمد عمر ته لاس ورکړ؟

کله چې ۱۹۹۴ ميلادي کال د پسرلي په اخر کې ملا محمد عمر د سيمه‌ييز وحشت او پاټک سالارۍ پر خلاف د غورځنګ جوړولو پر هڅو بوخت و، دا وخت حاجي بشير په خپله ټوپک سالارو سره په يوه ناورين کې ښکېل و. حاجي بشير نورزی د مولوي خالص د حزب يو محلي قومندان و چې د کندهار د ميوند ولسوالۍ مرکز يې په واک کې و. د ده کسانو د سياف د قوماندان استاد عبدالعليم له کسانو سره شخړه راغله. د عبدالعليم کسانو غوښتل چې ميوند سره خوا کې پاټک واچوي چې په دې سره د دې سيمې خلکو ته يوه نوې ستونزه رامينځ ته کېده، د حاجي بشير وسله والو يې مخالفت وکړ، د بشير د کسانو يو مرکز چې د ميوند د لوکل خپلوهديرې سره و، دلته د عبدالعليم له کسانو سره په شخړه کې د بشير د وسله والو لخوا د عبدالعليم يو تن وسله وال ووژل شو، څه موده وروسته د عبدالعليم وسله والو د بشير پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه مرکز برید وکړ چې د ملاعبدالستار په مشري یې د حاجي بشیر نورزي اولس تنه ووژل. دې کار بشیر ته سخت ټکان ورکړ، ځکه هغه تر دې وخته له داخلي جګړو ځان ساتلی و، اوس چې له دې پښې سره مخ شو نور د دې ستونزو نه د باعزته خلاصون په لټه کې و، حاجي بشیر ملا محمد عمر له پخوا لا پېژاند او د هغه جهادي کارنامې یې لیدلې او اوربدلې وې. کله چې د هغه په اراده خبر شو نو سمدستې یې لاس ورکړ او خپله سیمه او وسله یې دواړه په واک کې ورکړل. په دې سره طالبانو د میوند ولسوالي تر واک لاندې راوسته؛ هلته یې مرکز جوړکړ او د کندهار لور ته د حوض مدد په بازارګي کې یې خپل بل مرکز جوړ کړ. ملا محمد عمر او ملګرو یې د دې سیمې یعنې کندهار او هلمند ترمینځ د پاټکونو له مینځه وړل او د دې لارې د خوندي‌توب او امن لپاره اصلاحي مبارزه پیل کړه. کندهار ښار ته نږدې د ډنډ ولسوالۍ اړوند سیمه کې یې هم یو وړوکی مرکز جوړ کړ، لږ او ډېر دوه میاشتې یې د دې سیمې پاټکوالو ته د دې کار د پرېښودو دعوت ورکاوه. بالاخره یې د کندهار ښار او میوند ترمینځ پاشمول سره نږدې د کولک په سیمه کې د یوه پاټکوال قوماندان پاټک په زور لېرې کړ، چې په دې سره په لومړي ځل د هغوی پوځي تحرک ته مخه شوه.

د طالبانو له نوي مرکزه (حوض مدت) تر کندهار ښاره تقریبا لس پاټکونه وو، چې د قوماندانانو او ځایونو نومونه یې په دې ډول وو: داروخان (کولک)، بسم الله (پاشمول)، پیرمحمد (پاشمول)، صالح محمد (پساو وزیرو کلا سره)، قیوم خان (اشوغه)، حبیب الله جان (سنځری)، نادرجان (شا اغا دوراهي)، عطامحمد سرکاتب (باغ پول)، استاد عبدالعلیم (سرپوزه)، ملانقیب الله (هندو کوټی).

لومړی پاټک او لومړۍ جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ملا محمد عمر او ملګرو يې د حاجي بشير نورزي له مرستې وروسته ميوند کې خپل ځانونه ټينګ کړل او د اوسنۍ زېرې ولسوالۍ په حوض مدد کې يې د پاټک والو پر وړاندې د منظمې مبارزې لپاره مرکز جوړ کړ، پر پاټکيانو بار بار غاړې خلاصې شوې، زارۍ او جرګې ورته وشوې، خو غبرګون ډېر سپور او سپکوونکی و نو لومړی پاټک د داروخان و چې پاشمول سره پر لويه لار پروت و او د وحشت او زور زياتې انګازو يې د سيمې اوسېدونکي او لارويان تر پوزې راوستې وو، ،کم زيات دوه مياشتې تېرې شوې، بالاخره د ۱۹۹۴کال د ستمبر په۲۹مه د کندهار او هلمند ترمينځ "کولک" په سېمه کې د توپکي قواندان "داروخان" پر پاټک برید وشو. د دې بريالي برید په پايله کې دغه پاټکيان وتښتېدل، لارويان او د سيمې خلک د دې پاټک له ظلمه خلاص شول، چې له امله يې د سيمې د خلکو له خوا د طالبانو بې ساري هرکلی وشو، چې دې کار طالبانو ته هم روحيه ورکړه، هم ولسي مرسته راجلب شوه او له هر لوري نوي کسان هم ورته رامات شول.

همدا د طالبانو د وسلهوال پرمختګ لومړی ګام و، چې د طالبانو او په خاصه توګه ملا محمد عمر د پخواني نفوذ په ساحه کې يعنې د ډنډ، پنجوايي او ميوند ترمينځ يې ظهور وکړ. ځينې ناخبره خلک يا غرضي تبصره کوونکي، د طالبانو د ظهور نقطه د پاکستان پولې ته څېرمه د بولدک ولسوالۍ ګڼي، چې دا يوه تاريخي تېروتنه او وهم دی. طالبانو د کندهار او هلمند ترمينځ د ميوند، ډنډ، پنجوايي او ژرۍ ولسوالیو په شاوخوا کې پاڅون وکړ او لومړی يې د ستر افغان غازي محمدايوب خان د حماسې په ډګر (ميوند)کې سر راپورته کړ.

د متحد امير په توګه د ملا محمد عمر انتخاب

"داروخان پاټک" له مينځه وړلو وروسته نور پاټکيان هم وارخطا شول، ځينې په خپله خوښه لاړل او څو وحشي پاتکمار لا پاتې وو، لکه صالح، نادرجان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو نور. دا وخت د بولدک، ارغسان، ارغنداب او معروف څخه نوي طالبان چې د پخواني جهاد مشهورې څېرې هم په کې وې له طالبانو سره یو ځای شول. تر دې مهاله مولوي عبدالصمد او ملا محمد عمر ګډ کار کاوه، جنګي مشر ملا محمد عمر و او نوره مشري مولوي عبدالصمد کوله، عبدالصمد د کار له پراخوالې وېرېده او سوړ مزاج یې درلود. طالبانو تر ډېره ملا محمد عمر خپل اصلي مشر ګانړه، د دې نوي غورځنګ مخورو ملګرو او د سیمې علماوو غوښتل چې په دوی دواړو کې دې یو تلپاتې مشر شي. له لومړیو پوځي عملیاتو نږدې اته ورځې وروسته د دې انتخاب لپاره غونډه را وغوښتل شوه، چې د تحریک ټولو افرادو او د سیمې علماوو په کې ګډون کړی و، د حوض مدد په سپین جومات (هغه وخت د میوند او اوس ژیړې ولسوالۍ سره اړه لري) غونډه وشوه چې اکثره ګډونوالو پر ملا محمد عمر توافق وکړ، په دې کې ملا نور الدین ترابي د ملا محمد په ملاتړ ټینګار وکړ چې په پایله کې ملا محمد عمر د ټولو په خوښه د واحد امیر په توګه منتخب شو.

له دې وروسته طالبانو د بولدک د ولسوالۍ د نیولو لپاره ځانونه چمتو کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم څپرکی

د سپين بولدک نيول

سپين بولدک که څه هم د طالبانو د پيدايښت او نفوذ ابتدايي سيمه نه وه، بلکې طالبان د کندهار او هلمند ترمينځ په هغو سيمو کې راپيدا شول چې د غورځنګ د مشر ملا محمد عمر د جهاد او شخصي نفوذ ساحه وه، خو د لومړي پاټک له نيولو وروسته چې د طالبانو لومړی ظهور ګڼل کيږي، د معروف، ارغسان، بولدک علماء او طالبان په ډېر تعداد ملا محمد عمر ته رامات شول او دغو ولسوالیو ډېر مشهور مجاهدين او طالبان لرل، چې په دې کې د ارغسان نه ملا محمد رباني (په حاجي معاون مشهور و، چې بيا د ملا محمد عمر مرستيال او رييس الوزرا شو) چې په کندهار کې د جهادي دورې د يوې مشهورې جبهې مرستيال او تعرضي قوماندان و. همداراز په بولدک او معروف کې مهم طالبان او علماوو، چې له همدې امله دغه ولسوالۍ بالقوه له سقوط سره مخ وه، يوازې يو غږ يې غوښت، هم هغه و، چې ملا محمد عمر د دې سيمې له طالبانو سره له مشورې وروسته د بولدک د نيولو پلان جوړ کړ او د ۱۹۹۴ميلادي کال د اکتوبر په لسمه يې پربولدک برید وکړ.

د کندهار او هلمند ترمينځ له پوځي عملياتو نږدې يوولس ورځې وروسته يې په ډېر مهارت دوه هينو لارې له وسلهوالو ډکې کړې او ترپالونه يې پرې واچول، چې څوک پوه نه شي چې وسلهوال په کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې لارې د طالبانو مشر د ارغنداب ولسوالۍ د "ژوندو هدیرې" د کلي اوسېدونکی حاجي ملا محمد اخوند و (چې بیا وروسته په جنوب کې د طالبانو عمومي نظامي قوماندان و) او بل جګ ملا محمد و (په همدې نامه شهرت لري) چې د ملا محمد عمر نږدي ملګری و. دواړه لارې موټرونه د بولدک ولسوالۍ په مینځ کې ودرېدل او په یوه غږ وسلهوال طالبان ترې ښکته شول. د بولدک ولسوالۍ د حزب د قوماندان اختر جان په واک کې وه، ده د جګړې تیاری نه و نیولی. وسلهوال یې تیت و پرک وو، چې د وارخطایي له امله ټول موجود کسان د ولسوالۍ له مرکزه وتښتېدل. طالبانو د هغوی د وېرولو لپاره خطایي ډزې وکړې، د ولسوالۍ ډېره برخه د طالبانو لاس ته ورغله. د اخترجان او نورو ټوپکمارو وسلهوال د ولسوالۍ څنډو ته لاړل، خو پر دا سبا د جوابي جګړې په تیاري بوخت شول او پر طالبانو یې ډزونه پیل کړل. طالبانو هڅه کوله چې مخالف وسلهوال له جګړې پرته سیمه پرېږدي، له همدې امله یې د ډزو جواب نه ورکاوه، مشرتابه ورته امر کړی و، چې د هغوی د ډزو په جواب کې به ډز نه کوئ.

ولې درېیمه ورځ چې هغوی پر طالبانو برید پیل کړ طالبانو هم پر هغوی وسلې وروړولې. لومړی د اَرپي جي راکټ ډز ملا دادالله وکړ او له دې سره جګړه پیل شوه. طالبانو په لومړي ځل یو تن له لاسه ورکړ چې سلیم اغا نومېده، د کندهار د زنګاوات د سیمې اوسېدونکی و، تر دې وړاندې هیڅ یو طالب د ټوپکمارو پر ضد جګړه کې نه و شهید شوی، همدا د تحریک لومړی شهید و. له لږې جګړې وروسته د بولدک ولسوالۍ پاتې سیمه هم د طالبانو لاس ته راغله. د بولدک د نیولو خبر سیمهییزو مطبوعاتو خپور کړ چې له دې سره د سیمې او نړۍ پام طالبانو ته واوښت. له شکه پرته چې د بولدک په نیولو کې د ملي تجارانو، عام ولس او د لویې لارې د موټر چلوونکو له خوا طالبان په لویه پیمانه استقبال شول. دغه شهرت په لر او بر کې خور شو، چې له امله یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان‌مېشتي ديني زده‌کوونکي هم د طالبانو مرستې ته رامات شول او د کندهار د نيولو پر مهال ډېرى نوي طالبان هم راجذب شوي وو.

د بولدک نيول د طالبانو د غورځنګ لپاره يوه ښه پيلامه وه، ځکه چې له يوې خوا د دوو نړيو ولسوالیو نه زيات شمېر طالبانو او مشهورو قوماندانانو مرستې ته را ودانګل. له بلې خوا له پاکستاني مدرسو ځوان افغان طالبان رامات شول، بل پلو د بولدک او چمن ترمينځ د کاروبار او تجارت ستره منډۍ وه، چې دلته د هېواد سترو تجارانو کاروبار کاوه. د طالبانو وجود هغوى ته د ارام سا ورکړه، چې له همدې امله دغو سوداګرو له طالبانو سره پراخې نقدي مرستې وکړې، چې له امله يې طالبان په پښو ودرېدل او د وسله‌والو لپاره يې د خوراک او د موټرو د تېلو مصارف پيدا کړل. د بولدک له نيولو وروسته طالبانو د پخوانيو جبهو ځينې ډيپوګان هم ونيول (لکه د بولدک د پښې دغره ډيپو) چې له دې لارې يې زياته وسله او کارتوس هم ترلاسه کړل.

بل پلو د پاکستان‌مېشتو افغان مهاجرينو او دين‌دوستو پاکستاني پښتنو د مينې او مرستې باران د بولدک او کندهار ښار د نيولو پرمهال د دې تحريک مالي او تبليغاتي ځواک دوه چنده کړ، ځکه هر افغان چې پر دې لار پاکستان او ايران ته سفر کړى و، يا تنها يا له کورنۍ سره، نو له داسې ستونزو سره مخ شوى و، چې د دې ستونزو له مينځه وړونکى هر انسان ورته د غيبي پرښتې مقام درلود او د دوى دغه تاثر د پاکستان پر ځايي خلکو هم اغېز وکړ، چې په خپل ګاونډ کې يې امنيت او ارامي د ټولې سيمې لپاره ښه راتلونکى ګاڼه.

د کندهار ښار فتحه

د طالبانو وسله‌وال د بولدک له نيولو وړاندې هم په کندهار ښار کې ګرځېدل، ځکه په ښار کې واحده امنيتي قوه او کومه اداره نه وه. له ځينو خاصو ځايونو پرته په نور ښار کې هر وسله‌وال ګرځېدای شواى، خو پر چا يې برید نه کاوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې وخت او فرصت ته اړتیا وه.د داروخان د پاټک له نیولو وروسته د کندهار اومیوند ترمینځ اکثره پاټکیان پخپله وتښتیدل اوځینې له جزي مقاومت وروسته تښتې ته مجبور شول ، یواځي باغ پول کې د حزب د قوماندان عطامحمد (سرکاتب) پاټک پاتې و، همداراز د استاد عبدالعلیم وسلوالو دلته مرکز لاره.

طالبانو له دوي دواړو سره له اوله د تفاهم هڅه کوله خو له سرکاتب سره د باور فضا هغه وخت خرابه شوه، چې کله یې د ملا محمد عمر د ترور دسیسه جوړه کړې وه او تر عملي کیدو وړاندی افشا شوه، طالبانو د شا اغا پر دوه لاري د نادرجان د پاټک له ښکلو وروسته د کندهار ښار په هندو کوټې کې مرکز جوړ کړی و. ملا محمد عمر به وخت ناوخته له میونده دغه مرکز ته راته، چې لاره یې په باغ پول کې د سرکاتب پر پاټک وه، یوه ورځ قوماندان سرکاتب د ملا محمد عمر د وژلو دسیسه جوړه کړه، خو د "عمرخطري" په نامه د ملا محمد عمر یو پلوي، ملا محمد عمر ته دغه راز ورساوه؛ ملا محمد عمر خپل راتګ وځنډاوه او دغه دسیسه شنډه شوه. له دې څو ورځې وروسته د طالبانو مشهور قوماندان ملابورجان د سرکاتب له خوا پر دغه لاره ونیول شو، چې بیا د طالبانو لخوا د حزب یوه بل سرګروپ عبدالاحد ونیول شو او په ملابورجان تبادله کړای شو.

د کندهار په نیولو کې د بولدک د ځایي علماوو او طالبانو رول ډېر ښکاره دی. د کوړک غره پر لمنو اباد پښتانه د کندهار د سرحدي ولسوالیو له پښتنو سره د قوم او قبیلې یووالی لري. د دې سیمې د پولې دواړو غاړو پراخې مدرسې لرلې او د شوروي یرغل پر ضد جهاد پرمهال د مجاهدینو د عبور او مرور مهمې لارې او تمځایونه دلته خورا مشهور وو، چې له امله یې پر دې لار د کمونستانو او مجاهدینو ترمینځ اوږده جنګونه هم شوي دي. د کندهار ډېر مهاجرین د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېرې ځايونو په پرتله د قومي تړاو له امله د بولدک، معروف او ارغستان ولسوالیو ته څېرمه له ډېورنډ کرښې پاکستان ته اوښتل او هلته يې ژوند کاوه. په دې لړ کې چمن، ګلستان، پښين، ځنګل، کلا عبدالله او د توبه سيمې د يادولو وړ دي.

دلته پراخې مدرسې او علماء هم شته، چې قومي او سيمه‌ييز نفوذ لري او هم يې د شوروي‌ضد جهاد پرمهال روحاني او ديني انګيزې لرلې، چې په دې کې د چمن مولانا عبدالغني مرحوم د يادولو وړ دی، چې د روسانو پر ضد جهاد کې به يې ويناوو کمونستان دومره وېرول، چې کله ناکله به يې د ډېورنډ کرښې له پورې غاړې د ده پر جومات د توپونو ګولې ورولې.

د بولدک د طالبانو او علماوو مشهور خلک مولوي عبدالصمد، ملا سراج الدين، ملا عبدالرزاق (چې بيا داخله وزير شو) ملا دوست محمد، ملا خالق داد، مولوي ولي جان، مولوي عبدالمنان حنفي او يو شمېر نور وو.

د نومبر پر درېيمه د کندهار ښار او بولدک ترمينځ د پوستو له نيولو وروسته کندهار ښار ته طالبان دننه شول. په انځرګي او تخت پول کې د ټوپکيانو تيښتې او تلفاتو د کندهار پر قواندانانو هم روانی اثر وکړ. که څه هم هغوي د طالبانو پر ضد د دفاعي ايتلاف هڅې کولې خو د څو کالو تربګنيو او خپل منځي جګړو وروسته داسي يو ناڅاپي ايتلاف ته وخت کم و. هوايي ډګر بې مقاومته د طالبانو لاس ته ولوېد؛ د ښار ډېرې سيمې د طالبانو لاس ته ورغلې. له قوماندان سرکاتب سره د مذاکراتو له ناکاميدو وروسته جګړه وشوه هغه ماتې وخوړه او د تېښتې لاره يې خپله کړه؛ د سرکاتب له ماتې وروسته د کندهار ترټولو ستر قوماندان ملا نقيب الله اخوند خپله ټوله وسله او نظامي وسايل طالبانو ته وسپارل. ځکه خو سړی ويلی شي چې د ښار په نيولو کې اصلي رول د ملا نقيب اخوند مرسته وه، چې بشپړه قول اردو يې طالبانو ته وسپارله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې نړۍ څلوېښت زغرەوال ټانکونه یې لرل او زیات شمېر درنه او سپکه وسله په کې وه.

د ملا نقیب اخوند په تسلیمۍ کې د طالبانو دوو مهمو قوماندانانو ملا محمد (چې بیا په تحریک کې د ژوند تر پایه د طالبانو عمومي نظامي مسئول و او د کندهار او هرات ترمینځ له اسماعیل خان او فراري ملېشو سره په جګړه کې شهید شو) او بل ملا محمد رباني و (وروسته د مشر مرستیال او د سرپرستې شورا رییس شو). ملا نقیب تر دې یو کال وړاندې د کندهار خلکو ته د خرڅې په جومات کې په خپله وینا کې ویلي وو، چې ما ته منسوب قوماندانان نه زما په واک کې دي اونه هم زه وړاندې کنټرول لرم. چې له دې ښکارېده ملا نقیب هم نور له دغه حالته د وتلو لار څارله. د قول اردو په تسلیمۍ کې ملا نقیب خپل نقش ادا کړ او مشهور قوماندان یې خان محمد (خانو) له خپلو وحشي کسانو سره نور تېښتې ته مجبوره شو، چې بیا د کرزي په رژیم کې د کندهار امنیه قوماندان و او د طالبانو په برید کې ووژل شو.

د نومبر په ۱۵مه د کندهار ښار او ورسره تړلې سیمې په بشپړه توګه د طالبانو تروا‌کمني لاندې راغلې او طالب مشرتابه د ولایت ټولو ملکي او فوځي ادارو ته مسئولین وټاکل. د کندهار له نیولو وروسته طالبان د سیمې او نړۍ په کچه په رسنیو کې د بحث موضوع وګرځېدل او هر چا د خپل برداشت او معلوماتو او ځینو د رخې او کرکې په دایره کې تعریف کړل. له کندهاره ځینو تېښتېدلیو ټوپکیانو له پښتو بي بي سي سره (چې هغه وخت په افغانستان کې یوازنۍ مشهوره تبلیغاتي سرچینه وه) په خپلو مرکو کې ویل چې د کندهار په نیولو کې پاکستانیانو کومک وکړ. دا خبره چا په فرمایش او چا په خپله رخه کوله، خو دې تبلیغاتو له مخالفینو سره ډېره مرسته کوله، چې له همدې امله طالبانو ته د پاکستان د ملاتړ تور له هم هغه وخته ور په غاړه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ټوپکیانو پرته عام ولس د دې تبلیغاتو تر اغېز لاندې نه و، بلکې له هر لوري د طالبانو د استقبال اوازونه پورته شول، چې همدې بې ساري استقبال د طالبانو پښه ټول هېواد ته وغزوله. د تنظیمونو د مشرانو په کچه یوازینی شخص حکمتیار و، چې د طالبانو پر ضد یې د جګړې اعلان وکړ. په کندهار کې د حزب اسلامي قوماندانو له طالبانوسره تر ډېره بریده د جګړې تابیا نه لرله، خو له پېښوره د حکمتیار مخابروي قوماندې (چې دغه مکالمه د طالبانو مخابرو کشف کړې او ثبت کړې وه) قوماندان سرکاتب دې ته اړ ویست، چې طالبانو سره وجنګیږي. سرکاتب وجنګېد خو له ماتې وروسته یې وسله‌وال تیت و پرک شول او دی په خپله پاکستان ته وتښتېد.

دا وخت لا د حکمتیار تر شا پاکستان په کلکه ولاړ و او د کابل د چار اسیاب د جنګ کرښو ته یې د پاکستان د ځارګرې ادارې مشرانو سفرونه کول، وسله او مهمات یې ورکول، ځکه خو حکمتیار پر طالبانو د پاکستان د ملاتړ تور نه شوای پورې کولای، خو د دې په مقابل کې یې د پخوانیو کمونستانو او بیا وروسته د امریکا او برتانیې د ملاتړ تور پرې پورې کړ. د بلوچستان د کوټې په ښار کې د حزب اسلامي کسانو لیکلي کاغذونه خپاره کړي وو، په هغو کې یې لیکلي وو، چې ملا بورجان په اصل کې یو کمونیست جنرال دی، چې اوس یې پر ځان د ملا بورجان نوم ایښی دی، خو دا خبره د کندهار خلکو ته ځکه د منلو وړ نه وه، چې ملا بورجان یې د جهاد له پیله لا پېژنده.

د حکمتیار دغه تبلیغ تر هغه وخته روان و، چې د رباني د حکومت له خوا د طالبانو استقبال کېده او سیاف طالبانو ته د "نجات فرښتې" ویل. کله چې طالبانو په غزني کې د قاري بابا او حزب متحدې قواوي پر شا وتمبولې او په یوه شپه کې یې میدان وردګ هم ونیو، د حکمتیار ځواکونو د کابل په څنډو کې د چهاراسیاب سیمه هم پربښوده او طالبان د رباني او مسعود له قواوو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ شول. تر دې مهاله حکمتیار او ملګرو یې طالبان په دې دلیل د روسیې لاس پوڅي او پخواني کمونیستان بلل چې د رباني د رژیم له خوا یې هرکلی کېده، خو له هغه وروسته یې بیا د برتانیې، امریکا او پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په ملاتړ تورنول او چې کله حکمتیار ۱۹۹٦ کال کې له مسعود او رباني سره د طالبانو پر ضد د پاکستان د جماعت اسلامي د مشر قاضي حسین احمد د هڅو په پایله کې اتحاد وکړ، نو هغه وخت چې طالبانو کابل ونیو، ولسمشر رباني او صدراعظم حکمتیار دواړه د کابل شمال ته وتښتېدل.

په دې وخت کې حکمتیار له بي بي سي پښتو سره په مرکه کې وویل چې "انګریزان هم د جلال اباد له لارې کابل ته ننوتي وو او دا دی اوس یې غلامان هم ننوتل".

له کندهار وروسته پرمختګونه

د کندهار له نیولو وروسته د زابل ولایت مرکز ته طالبان ورسېدل او په زابل کې د طالبانو د پخوانیو جبهاتو د رسوخ له امله چا د مقابلې اراده ونه کړه. یوازې د حزب قوماندان حمیدالله اراده لرله خو د طالبانو د زور لیدلو له امله له زابله وتښتېد او د غزني او میدان په سیمو کې د حزب له وسله‌والو سره یو ځای شو. په کندهار کې د سرکاتب له ماتې وروسته په هلمند کې د حرکت له قوماندان غفار اخندزاده سره له مسلسلو خبرو او کوښښونو وروسته چې د مولوي محمد نبي سپارښتنو هم کار ورنه کړ، طالبانو جګړه وکړه؛ خو څنګه چې د هلمند عام طالبان او علماء له طالبانو سره ودرېدل، غفار اخندزاده یوازې له خاصو قومي ملېشو سره د طالبانو د مقابلې هڅه وکړه. په مقابل کې د جمعیت قوماندان رییس عبدالواحد له طالبانو سره ودرېد. د غفار اخندزاده له ماتې وروسته د هلمند د مرکز لښکرګاه په ګډون هلمند په بشپړه توګه د طالبانو لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ولوېد او د هلمند او کندهار فراري قوماندانان اکثره فراه ته وتښتېدل او هلته د قوماندان اسماعیل خان له ځواکونو سره یو ځای شول، چې بیا د فراه او نیمروز له نیولو وروسته ایران ته وتښتېدل.

بل لوري ته په ژمي کې طالبانو د غزني اطرافو ته ځانونه ورسول.د غزني جنډه، مقر او قرباغ ولسوالۍ د طالبانو د مرکزي تحریک د ځواکونو له ورتګه وړاندې د ځایي طالبانو لخوا اکثره برخې کنترول شوې وې.

دا وخت د پکتیکا با اثره قوماندانانو له جګړې ډډه وکړه او د پکتیا مرکز چې د مولوي نصرالله منصور د کورنۍ او متحدو قوماندانانو په لاس کې و، ټولو د طالبانو پلوي کوله. د کندهار او زابل له نیولو وروسته د پکتیا د والي مولوي عبداللطیف منصور (وروسته په طالبانو کې د زراعت وزیر او د کندهار ښاروال او اوس د شورا غړی دی) له خوا طالبانو ته د هرکلي پیغام ولېږل شو، چې له همدې امله د غزني په جګړه کې د مولوي نصرالله منصور د زوی شهید سیف الرحمن منصور په مشرۍ پیاوړی ځواک له زغرهوالو ټانکونو سره د طالبانو ملاتړ ته راغی او د حزب، قاري بابا او هماهنګي شورا په وړاندې جګړه کې یې کلیدي رول اداکړ.

د ۱۹۹۵م کال د جنورۍ په وروستیو کې د غزني جګړه پیل شوه، چې د مولوي نصرالله منصور د زوی ملا سیف الرحمن منصور د وسلهوالو طالبانو او زغرهوالو وسایلو ملتیا او له بلې خوا د مولوي احسان الله احسان په هڅو د قاري بابا د عمومي پوځي قوماندان خیال محمد له خوا د طالبانو ملاتړ، د دې جګړې په ګټلو کې بنسټیز رول لاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فبروري په دوهمه طالبانو د همدې جګړې په جریان کې د میدان وردګو ولایت مرکز ونیو او په سبا یې د لوګر ولایت مرکز او چاراسیاب ولسوالۍ چې د حزب اسلامي مرکز و، پرته له مقاومته ونیول شول.

دا وخت د جګړې په دواړو برخو لویدیځ او مرکز کابل کې طالبان د برهان الدین رباني د جمعیت او متحدینو له ځواکونو سره مخامخ شول، چې کابل کې یې مشري احمدشاه مسعود کوله او په لویدیځ کې د اسماعیل خان له خوا جګړه رهبري کېدله، چې د هلمند او کندهار فراري قوماندانان هم ورسره وو.

د لویدیځ پر کرښه طالبانو د فراه او نیمروز تر ولایتونو ځانونه ورسول.

د میدان وردګو په مرکز میدان ښار کې احمدشاه مسعود له طالبانو سره مخامخ خبرې و کړې. ملا محمد رباني ورته وویل چې ته باید کابل موږ ته وسپارې او له موږ سره په ګډه د هېواد د ارامۍ لپاره مبارزه وکړې. مسعود لومړی تیاری څرګند کړ او حتی د خپلې غاړې توپنچه یې هم طالبانو ته وړاندې کړه، خو په حقیقت کې هغه د طالبانو د زور او پوځي ځواک جاج اخیسته، چې کله ببرته لاړ، څه موده وروسته یې د طالبانو پر کمربند لومړی بمباري وکړه او بیا یې برید وکړ.

دا وخت د طالبانو وسلهوال د ریشخور له فرقې سره وو، د مسعود د یو ناڅاپي برید له امله طالبان له چاراسیاب نه هم شاته راغلل. دې کار د طالبانو په روحیه اثر وکړ. د فتوحاتو سلسله په لومړي ځل له یوه ستر خنډ سره مخ شوه، خو طالبانو له لوګر سره ببرته خپله جنګي کرښه ټینګه کړه او د میدان ښار په خواکې یې پغمان ته نږدې خپله جنګي کرښه وټاکله، چې دلته جګړه د سیاف او مسعود قوماندانانو په ګډه کوله او هره ورځ به متقابلې ډزې کېدلې. همدا د احمدشاه مسعود او ایتلافیانو او طالبانو ترمینځ د جګړې پیل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فبروري پر۱۹مه د مولوي احسان الله احسان د سوله ییزو هڅو او مولوي جلالدین حقاني د ملاتړ په نتیجه کې د خوست ښار طالبانو ته وسپارل شو. له پکتیکا او پکتیا وروسته د خوست نیول پر لویه پکتیا طالبان مکمل واکمن کړل. که له یوې خوا د کابل پر استقامت د طالبانو د فتوحاتو درېدل او د مسعود سخت مقاومت د طالبانو روحیات لږ کمزوري کړل، خو له بلې خوا د خوست ښار او مرکز سپارلو طالبانو ته د هېواد په جنوب کې نور ځواک هم وروبانبه او د لویې پکتیا عام ولس او علماء هم د لوی کندهار په څېر د طالبانو تر شا کلک ودرېدل.

په ټولیزه توګه دا وخت دولتي ځواکونه او ایتلافیان یې په رواني لحاظ له سخت فشار سره مخ و. دوی هره شېبه د کابل ښار د سقوط وېره کې وو، ځکه چې کابل په عملي توګه د طالبانو له کلابندۍ سره مخ و.

د عبدالعلي مزاري تېښته او مړینه

د ۱۹۹۵م کال د مارچ په لومړیو کې طالبان په لومړي ځل د کابل په دروازو کې ولاړ وو، چې له امله یې په کابل کې د وېرې او تېښتې فضا خوره وه. دا وخت د حزب ځواکونو د چاراسیاب سیمه پرېښوده او حزب وحدت هم له حزب سره په یوه دولتضد ایتلاف (هماهنګي شورا کې) غړیتوب درلود.د دې ایتلاف په غړو کې د غزني له ماتې وروسته د طالبانو سره د مقابلې قوماندہ واحده پاتې نشوه د دوستم ملیشې له کابله وتلې وي. د حزب له خوا د چار اسیاب له پرېښودو وروسته د حزب وحدت ځواکونه د کابل په غرب کې د مسعود او طالبانو د ځواکونو ترمېنځ په یو ډول محاصره کې وو.

د حزب وحدت قوماندانانو د غزني په جګړه کې د طالبانو پر ضد د حزب اسلامي په ملاتړ په جګړه کې برخه هم اخیستې وه.خو د کابل ځنډو ته د طالبانو له ننوتلو وروسته د احمدشا مسعود او سیاف ملیشو هڅه کوله چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت نه په ګټه اخیستلو د حزب وحدت نه سیمي ونیسي، له همدې امله د دوي ترمینځ خونړۍ جګړه روانه وه. د وحدت قوماندانانو طالبانو ته لاره ورکړه چې کابل ته ننوزي. د طالبانو ټیټ رتبه قوماندنان د مشرتابه له امره او یوه جنګي پلان نه پرته دکابل په غرب کې پرمخ لاړل چې د مسعود د قواوو له یو ناڅاپي برید سره مخ شول او د چار اسیا په شمول یې ډیرې نیولې سیمې له لاسه ورکړې.

حزب وحدت غوښتل چې د طالبانو او مسعود ترمینځ له جګړې ځان وباسي او خپله محاصره پای ته ورسوي. د مارچ په یوولسمه د وحدت ګوند مشر عبدالعلي مزاري له کابله د وتلو هڅه کوله خو د وتلو لار یې پر طالب وسله‌والو وه. په چادري کې یې له څو نورو قوماندانانو سره په یوه روسي" پیکس واګون" موټر کې له کابله وتل غوښتل، چې د دې ځای د اوسېدونکو له خوا چا طالبانو ته خبر ورکړ. طالبانو هغه په چادري کې ونیو او مرکز ته یې د هغه د نیولو خبر ورکړ. ملا محمد عمر ورته وویل چې په یوه الوتکه کې یې کندهار ته انتقال کړئ، چې دلته یې توقیف کړو.

د مشر نظر دا و چې د جګړه مارو ډلو هغه مهم قوماندانان چې په خپله تسلیم نه شي او په جګړه کې ونیول شي، نو باید تر هغو بندیان وي، ترڅو یا کوم تضمین او رضایت ته راسره ونه رسیږي یا یې د بغاوت او مقابلې خطر ختم نه شي.

له کندهاره د هغه او د هغه د څو قوماندانانو د انتقال لپار چورلکه واستول شوه. چورلکه کې هغوی لاس تړلې کښول شول او یو وسله‌وال طالب د پیره‌دار په توګه ورسره مل شو. پر لار طالب د خپل طالبي غفلت د مزاج له مخې خوب وړی و. له بندیانو نه یوه کس له چورلکې لاندې لار ځارلې، چې کله د غزني ښار نه چورلکه تېره شوه، دلته وړې وړې غونډۍ راځي، چې له دې ځایه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزني هزاره مېشته سيمه پيليږي. قوماندان ابوذر چې د غزني اوسېدونکی و، د دې سيمې له جغرافيې سره بلد و، خپل لاسونه يې خلاص کړي او د ويده وسلهوال پر کلاشينکوف يې برید کړی. پيلوټ ته يې په دغو غونډيو کې د ناستې امر کړی، پيلوټ لومړی خبره نه ده منلې، دوی پرې ډز کړی. هغه يې پر لاس زخمي کړی، چې پيلوټ مجبوراً الوتکه په ډېره بيړه او متزلزل ډول په همدې سيمه کې عمومي سړک ته نږدې د نوغي د سيمې له "اوګرې" هديرې سره کوزه کړه. له کندهاره د وسلهوالو طالبانو يو کاروان د غزني ښار ته روان دی، چې کله يې د الوتکې بې ډوله ځپځانده ناسته ليدلې، هغوی سمدستي د حادثې ګومان کړی او له دوی نه يو موټر وسلهوالو سمدستي د الوتکې لور ته ځان رسولی، چې کله الوتکه کيناسته څو د لويو ږيرو والا وو سرتور سرونه او تړلي لاسونه له الوتکې د غونډۍ لور ته منډه کړې. همدا طالبان پوهيږي چې دا خلک تښتي، سمدستي يې د پيکا ماشيندار ډزې ورباندې کړي او وژلي يې دي، چې يو په کې په خپله عبدالعلي مزاري و.

کله چې له پښېنې مشرتابه خبر شو، د تحقيقاتو امر يې وکړ او دا يې ناوړه پښېنه وګڼله، ځکه چې په لومړي ځل د يوه ګوند مشر د يوې ناڅاپه پښېنې له امله ووژل شو، چې هيڅا يې د وژلو اراده نه لرله. د دې کار ځانګړې قومي اغېزې هم وې،ځکه خو طالبان په دې پښېنه خپه وو، د هغه مړی د هغه پيروانو ته وسپارل شو. د هغوی پيروانو دا د طالبانو له خوا يوه قصدي پښېنه وګڼله او ويل کيدل چې د مزاري مړی يې د بلخ په اطرافو کې څو ورځې په تابوت کې د آس پر شا ګرځاوه او د هغه د مړينې په اړه يې ډول ډول دردونکي فرضي داستانونه او تبليغات جوړ کړي وو، ترڅو په دې اړه د طالبانو پر ضد د هزاره قوم جذبات راوپاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په داسې حال کې چې طالبانو له هزاره توکم سره هیڅ توپیریز فکر نه درلود، بلکې د هر قوم او سیمې جنایتکار ورته جنایتکار و او نیکوکار ورته نیکوکار و، خو دې پېښې په هزاره توکم ناوړه تبلیغاتي اغېز وکړ. همداراز دې پېښې په لومړي ځل د ایران پاملرنه هم دې لور ته جدي کړه.

د طالب مشرتابه له خوا د څو ورځو تحقیقاتو نه وروسته پېښه غیر ارادي ثابته شوه او غلطي خپله د اسیرانو وګڼل شوه. کومو لاروي طالبانو چې د پېښې پر وخت پر تېښتیدونکو له شا نه د پیکا ماشیندار ډزې کړې وي، هغوي د بندیانو له هویته ناخبره وو او ګمان یې کړی و چې دغو کسانو د الوتکې پیلوټ او سپاره طالبان ټول ویشتلي دي.

عبدالعلي مزاري او د هغه قوماندانان د کمونیستي رژیم له سقوط نه وروسته د کابل ښار په خونړیو جګړو او جنایاتو کې یو فعال طرف و، مزاري عصباني او انتقام جو شخصیت لاره، چې له املې یې د هزاره ډلو په خپل منځي جګړو کې هم په بې رحمي او تشدد تورن و.

دوو جبهو کې توندې جګړې او د وسلو ټولولو بهیر

د ۱۹۹۵ م کال اوړی ټول په دوطرفه جګړو کې تېر شو. طالبان د مرمیو او پیسو له کمښت سره هم بار بار مخېدل چې د عامو بسپنو لور ته یې د هېواد دننه او بهر ځانګړې پاملرنه وکړه. طالبانو تر دې دمه یوازې د کندهار له ګمرکه چې د پاکستان پر پوله پروت و یو څه عواید لرل. له دې علاوه ډېر کم عواید په نورو ولایتونو کې ترلاسه کېدل، خو د پښتون‌مېشتو او سرحدي سیمو تجارانو پرېمانه مرستې کولې. دوی د سیمې د ارامۍ او ښه راتلونکي لپاره یوازینۍ هیله طالبان ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بل لوري طالبانو د وسلو ټولولو کار ته زیاته پاملرنه کوله. لومړی هدف خو د وسله‌والو بې‌وسلې کول، د امنیت برقرار ساتلو لپاره حتمي ګڼل کېدل، خو دوهم هدف په کې ضمني دا هم راپیدا شو، چې طالبانو کارتوسو ته هم اړتیا لرله، چې له دې امله د وسلو د لټون په کار کې د مشرتابه په ناخبرۍ کې ډېر زور زیاتی هم وشو، حتی په ځینو مواردو کې وحشیانه اعمال هم ترسره کېدل. د یوه کلاشینکوف لپاره به یې د ابرو سړی تر وهلو لاندې نیولی و، چې اقرار وکړه، ته وسله لرې، خو پټه کړې دې ده. دا له هغو لومړنیو ناوړه اعمالو یو عمل و، چې د ځینو کشرانو او متوسطو قوماندانانو له خوا په ځینو سیمو کې ترسره کېده، ان چې په زابل کې یې یو کس د وسلې په سر تر کیبل لاندې وژلی و، چې بیا خبر ملا محمد عمر ته ورسېده او هغه په دې اړه فرمان صادر کړ او په طالبانو کې یې خپور کړ. د دې لیکلي فرمان ځینې توري چې ماته یاد دي غالباً په دې ډول او یا دې ته ورته و:

" له الله وویرېږئ، د وسلو په نامه خلک مه وهئ او خبر شوی یم چې خلک په کیبلو وهل کیږي، دا ناروا عمل دی د الله له قهر ووېرېږئ، د اقرار لپاره خلکو ته وهل مه ورکوئ او له دې وروسته که څوک چا په کیبل وواهه هغه ته به درنه سزا ورکول کیږي".

دا وخت د کابل میدان ښار لوري ته د جنګي کرښې عمومي قوماندان د وسپنیزه هوډ خاوند ملا مشر و او د چاراسیاب د کرښې مسئول ملا بورجان و، چې بیا د سخت ټپي کیدو له امله څو میاشتي پر کور و او د لویدیځ په کرښه کې د تحریک عمومي نظامي مسئول ملا محمد و.

د اوړي په پیل کې لویدیځ کرښه هغه مهال شاته راغله چې کله۱۹۹۵ د می په لسمه د لوی اختر په ورځ داسماعیل خان او متحدو قواوو د هوایي ځواک په ملتیا په یو ناڅاپي برید کې فراه او نیمروز د طالبانو له سخت مقاومته وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو له ولکې ووتل، د فراه له سقوط وروسته نیمروز محاصره شو، د اسماعیل خان او متحدو قوماندانانو یو لوي تعداد وسله‌وال دایران له خاورې زرنج ښار ته را واوښتل، د نیمروز امنیه قوماندان قاري احمدالله (چې د طالبانو په حکومت کې تر داخله او د استخباراتو تر وزارتونو ورسېد) ټوله ورځ په یوازې سر وجنګېده او د کارتوسو له ختمیدو سره د اسماعیل خان ځواکونو ژوندی ونیو. والي مولوي عبدالغني جوزجانی او یو شمېر ملکي رییسان د برید له پیله په ټېښته بریالي شوي وو، خو د ولایت مستوفي مولوي عزت الله عارف تر اوږده مقاومته وروسته شهید شو.

له دې وروسته د طالبانو لویدیزې کرښې د فراه په حدودو کې وې چې کله به د هرات لور ته نږدې شول او کله به بېرته راشا ته شول، چې له امله یې په دې کرښه سخت خونړي جنګونه وشول. طالبانو په دغه کرښه کې په پرله‌پسې جنګونو کې تقریباً تر زرو تنو تلفات ورکړل. په دغه لوري جنګونو کې به په خپله ملا محمد عمر مجاهد هم د جګړې کرښو ته ورته. دا ځکه چې د هلمند او فراه ټول تښتېدلي قوماندانان په همدې کرښه د اسماعیل خان په ملګرتیا جنګېدل او د هغوی پرمختګ د طالبانو اصلي مرکز ته مستقیم ګواښ و.

د روسي الوتکې پېښه: نړۍ سره د طالبانو لومړنۍ مخامختیا

د ۱۹۹۵ د اګسټ میاشتې په ۳مه TD76Ilyushin Il- ډوله روسي الوتکه د کندهار د فضا پر مسیر د کابل پر لور روانه وه. ښایي کابل چارواکو ته به دا معلومه نه وه چې د کندهار پر هوایي ډګر کومه داسې الوتکه ناسته ده، چې هوایي چلند کنټرولولای او ناستې ته اړ ایستلای شي. دا ځکه چې د نجیب د واکمنۍ له نسکورېدو وروسته هېواد په څو سترو او وړو قوماندانیو وېشل شوی و، چې له امله یې د کندهار د هوایي ډګر اړیکه له کابل سره شلېدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې دغه مشکوکه الوتکه پر رادار ولیدل شوه او د هوایي ډګر د هوایي تماس برج ته یې خپل مسیر کابل وښود، د پوځي هوایي قوماندانۍ له خوا له مشرتابه سره له بیړني تماس وروسته الوتکې ته د کیناستو امر وشو او ښکاري پوځي الوتکه د هغې د کښېنولو لپاره والوزول شوه. د دغې ښکاري جنګي الوتکې پیلوټ ډګروال جیلاني خان نورزی و، چې په دغه دنده کې یې ډېر مهارت او سابقه لرله. الوتکه یې ناستې ته اړ ایستله. وروسته معلومه شوه چې الوتکه د روسي فدراسیون تاتارستان هېواد پورې اړوند ایرستان هوایي ټرانسپورټ سره تړاو درلود. د سپکو او درنو وسلو په کارتوسو بار وه، چې دا مهال یې د طالبانو غورځنګ ته د مسیحا حیثیت لاره، ځکه چې دا وخت تحریک د کارتوسو له کمښت سره مخ و.

د الوتکې له عملې د تفتیش او د اسنادو له بشپړه څېړلو جوته شوه، چې دغه وسله د روسیې فدراسیون د البانیا هېواد نه د برهان الدین رباني په مشرۍ کابل حکومت ته د روسیې فدراسیون د پوځي مرستو د لړۍ برخه وه. کارتوس پوځي مسئولینو ته د جګړې د پیاوړتیا لپاره وسپارل شول او د الوتکې عمله د ښار په یوه هېلمستون کې ځای پرځای شول. د یوه ترجمان تر څنګ چې د شوروي د یرغل په دوره کې یې له روسانو سره کار کړی و، څو تنه ساتونکي له دغو روسي بندیانو سره مله شول او عمومي څارنه یې د هېلمستون د مشر په غاړه وه، چې لومړی د امیر خان متقي ورور مرحوم احمد علي خان متقي و او بیا وروسته د کابل د للندر اوسېدونکی مولوي سلیمان و.

د دغو اسیرانو د دوسیې د تفتیش لپاره یو هیئت هم تشکیل شو، چې د بندیانو دوسیه وڅېړي او قانوني اړخونه یې جوت کړي.

په دې اړه روسانو د خپلو بندیانو او الوتکې د خلاصون په اړه هر اړخیزې هلې ځلې پیل کړې. طالبانو یوه غوښتنه دا وکړه چې ۵۰ یا۶۰زره هغه افغان بندیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کمونیستي رژیم له خوا ژوندي ورک دي، اکثر یې دیني علماء دي، که ژوندي وي هغوی دې راوسپاري. هغه وخت داسي فکر کېده چې هغه یې روسې ته وړي دي او افغان کمونیستانو به هم د کمونیستي رژیم له سقوط وروسته د خلکو له قهره د ځان ساتلو لپاره ویل چې بندیان مور نه دي لیدلي، بلکې هغه روسانو له ځان سره بوولي، خو وروسته خبره معلومه شوه چې دا بندیان ژوندي نه دي؛ بلکې خپله افغان کمونستانو وژلي دي.

په الوتکه کې ۳۰ ټنه مهمات بار وو او د ۷تنه عملې له خوا الوتکه کنټرولېده چې نومونه او دندې په لاندې ډول وې:

Vladimir Sharpatov (commander), Gazinur Khairullin (second pilot), Alexander Zdor (navigator), Askhad Abbyazov, Yuri Vshivtsev, Sergei Butuzov .and Viktor Ryazanov

د طالبانو او روسانو خبرې په ډېرو اوږدو لارو ترسره کېدې، ځکه دا وخت طالبان هیڅ کوم هېواد په رسمیت نه وو پېژندلي. ویل کیږي چې یوه امریکایي سناتور "براون هینک" په ازاده توګه په دې لاره کې هلې ځلې کولې، چې په دې کې د روسي بندیانو دغه غونښتنه هم راغله چې د الوتکې د سالمیت لپاره یې کله کله باید انجنونه چیک او تخنیکي ځارنه یې وشي. طالبانو همدا خبره د بین المللي اصولو له مخې ومنله، د ډېر وخت لپاره به بندیان په اوونۍ کې یو ځل هوایي ډګر ته وړل کېدل چې دا چیکینګ به معمولا د جمعې په ورځ ترسره کېده. د جمعې په ورځ به په ټولو ادارو کې رخصتي وه او طالبان به له خپل مزاج سره سم په دغه ورځ ډېر زیات غافله وو. د الوتکې د کېناستو کال پوره شو.

په ۱۹۹۶کال کې د اګست په ۱۶مه د جمعې په ورځ د دغو ۷ تنو عملې سره د پخوا په څېر نن هم وسلهوال ساتونکي ولاړ دي او دوی ته تر خپل ټاکلي وخت او محدود کار زیات وخت نه ورکوي. د طالبانو مزاج دا و، چې لږ به یې اعتماد

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدا شو نور به ښغمه شول. د جمعې ورځ یوازې شپږ ساتونکي له عملې سره الوتکې ته راغلي او نن کوم تخنیکي کس هم نه شته چې د کار ظرفیت او حدود وڅارلی شي. دا وخت درې تنه وسله‌وال د جمعې لمانځه ته تللي، یوازې درې غافله طالبان دننه په الوتکه کې ناست دي او انتظار کوي چې اوس به پیلوټان فارغ شي او درې ملګري او د دوی د ښرته انتقال موټر به هم راشي، خو داسي معلومېده چې عملې له ډېره وخته راهیسي پر دې پلان غور کړی و او د طالبانو غفلت یې مطالعه کړی و. نن یې فرصت مناسب وګانه، لومړی یې د یو بیټرۍ په واسطه د الوتکې یو انجن د رننګ په پلمه ستارټ کړ، چې پوه شول، چې نور انجنونه خو نور اسانه ستارټیږي او طالبانو خو همېشه داسي فکر کاوه، چې زموږ له راداره چې کومه الوتکه په هوا نه شوای تښریدای، نو له ځمکې به ځنګه پورته شي، خو پیلوټان د خپل روسي رادار له خواصو سره بلد وو او له راداره د بچ کېدو تدبیر یې هم مخکې لا کړی و. درې کسانو غافله ساتونکو ته یې دروازه وربنده کړه، الوتکې ته یې یو ناڅاپه پرواز ورکړ، دوي ته تر متحده اماراتو د ریګستاني سیمو لاره په نقشه کې معلومه وه، چې مخ ته یې غر نه راته، په ډېر ټیټ پرواز یې د ریګستاني سیمو پر سر ځان بحر اوبیا شارجې ته ورساوه.

د شرم ځای خو دا و چې په دې ورځ چې کومې میګ ۲۲ الوتکې ته د دي کار تمه کېده، هغې هم عوارض وکړل او له پروازه ولوېده چې کله اماده شوه، نو تښتیدلې الوتکه نوره رادار نه شوای ځارلی، ځکه چې ډیره ټیټه وه او د هیڅ لوری یې هم معلوم نه و.

لومړی ګومان کېده چې د کابل یا ترکمنستان لور ته به روانه وي، په لږ امکان د ایران لور ته هم ذهن ته راته؛ خو د عرب اماراتو لوري ته ذهن دومره نه ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره زیاتې الوتکې طالبانو نه لرلې، چې په یوه وخت یې څو جهتونو ته والوزوي.

دا پښښه لکه څومره چې د باندې هښښوونکې وه، همدومره په داخل کې له ګڼو سوالونو سره مخ شوه. د طالبانو په ټیټو او لوړ رتبه چارواکو کې د بدګومانۍ او معامله‌ګرۍ شکونو او اعتراضونو زور واخیست. په مشرتابه چا د معاملې شک نه کاوه، ځکه د مشر مزاج ټولو ته معلوم و، چې پټې معاملې یې نه عادت دي، نه ورته اړتیا لري او نه یې بل ته اجازه ورکوي. کوم کار چې به مشروع ورته ښکاره شو، بیا یې ښکاره کاوه د هیچا پروا یې نه لرله، خو پر لاندې خلکو، د میدان پر مسئولینو، د مېلمستون پر مسئولینو او د بندیانو په انتقالوونکو تورونه خوله په خوله شول، فضا یې ډېره خرابه کړه، بالاخره مشر یو لیکلی پیغام د کندهار پر راډیو او ټولو سنګرونو ته په مخابره خپور کړ.

په پیغام کې راغلي وو "مورِ د طیارې د تښتې په موضوع کې پوره تحقیق کړی، له ظاهري غفلته پرته نور د تحریک هیڅوک په دې کې لاس نه لري. دا یوه تقدیري پښښه وه، له ټولو طالبانو هیله کوو، چې په دې موضوع کې نه پر چا شک وکړي او نه په چا پسې ناحقه خبرې وکړي. دا غیب ویل دي چې بې ثبوته په مسلمان پسې خبرې وتړي، د الله نه ووېرېږئ او نور په دغه موضوع کې چوپ سئ". له همدې اعلان وروسته بیا په طالبانو کې ما له چا نه په دې اړه بله خبر وانه وریده، ټولو ویل چې لکه څنګه چې ملا صیب وایي دا یوه تصادفي او تقدیري پښښه وه، سمدستي خبره سړه او فضا سمه شوه.

په لویدیځ کې د جګړو شدت او څپڅپاندې جنګي کرښې

د ۱۹۹۵م کال د مارچ له میاشتې بیا د همدې کال د سپټمبر تر ۵مې چې د هرات مرکز سقوط کاوه، په لویدیز کرښه کې د طالبانو او مخالفینو لپاره دا پنځه واړه میاشتې خورا خونړۍ میاشتې وې، چې کله په پسرلي کې طالبانو د فراه او نیمروز ولایتونه ونیول. مولوي عبدالغني جوزجاني د نیمروز والي، قاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدالله امنیه قوماندان او مولوي عزت الله عارف د مستوفي په توګه غوره شول. تقریبا دوه میاشتې دغه ولایتونه د طالبانو په واک کې وو او طالبانو د شیندنې په حدودو کې د هرات ولایت تر فشار لاندې نیولی و او د اسماعیل خان له ځواکونو سره جګړې روانې وې، خو کله چې مخالفینو د۱۹۹۵م کال د می په لسمه د لوی اخترپه ورځ فراه ولایت ونیو، ګڼ شمېر طالبان شهیدان، زخمیان او اسیران شول. د فراه سرپرست والي ملاعبیدالله اخوند هم اسیر شو، ورپسې یې د ایران له لورې پر نیمروز ولایت برید وکړ، په نیمروز کې د طالبانو ټول وسله‌وال محاصره شول. والي عبدالغني او یو شمېر نور ملکي رییسان په تېښته بریالي شول، امنیه قوماندان ټوله ورځ له څو ملګرو سره یوازې وجنګېد چې بالاخره د کارتوسو د خلاصون له امله ژوندي ونیول شول. مستوفي مولوي عزت الله عارف هم تر وروستۍ سلګۍ وجنګېد او بالاخره شهید شو. په دغه جګړه کې مهم طالبان اسیران شول، چې په دې کې ملا عبیدالله اخوند (وروسته د ملي دفاع وزیر) مولوي عبدالصمد د بولدک، قاري احمدالله او ګڼ شمېر نور طالبان اسیران شول، چې بیا وروسته د یوې سترې تبادلې په ترڅ کې ټول راخوشې شول، خو قاري احمدالله او مرستیال یې ملا عبدالباري له دې تبادلې مستثنی شول او د هرات تر سقوطه په زندان کې پاتې شول.

د جون د میاشتې په وروستیو کې یو ځل بیا د فراه ولایت د نیولو لپاره جګړې زور واخیست او یو شمېر ولسوالۍ او مهمې سیمې طالبانو ونیولې. د هرات لور ته د پرمختګ لپاره خونړۍ جګړه روانه وه. د دې جګړې څارنه په خپله ملا محمد عمر کوله. بار بار به د جنګ کرښې ته خپله ورته، بالاخره د دې کال د اګست په وروستیو کې د کندهاري او هلمندي فراریانو، د اسماعیل خان د ځواکونو او له شماله د مسعود د کومکي ځواکونو په ګډون یو ستر څو زریز ځواک برابرشو او د هجومي عملیاتو په ترڅ کې یې غوښتل چې د طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي مرکز هلمند او کندهار ته سقوط ورکړي. په دې جګړه کې د طالبانو د دې جبهې عمومي قوماندان حاجي ملا محمد اخوند شهید شو. طالبانو ماتې وخوړه، جګړه په دوه ورځو کې د فراه له حدودو د هلمند ګرشک ولسوالۍ ته را ورسېده.

د کندهار د سقوط وېره او د ګرشک تاریخي جګړه

کله چې د ۱۹۹۵م کال د اګست په وروستیو کې د جګړې لویدیزې کرښې راشاته شوې. د اسماعیل خان او متحدینو ځواکونو چې د کندهار، هلمند زاړه ټوپکیان او د احمد شاه مسعود له لوري کومکي ځواکونه هم ورسره وو، له طالبانو د فراه مرکز ونیو او د هلمند پر خوا یې په څو ورځو کې پرمختګ وکړ. په دې کې د طالبانو تر ټولو مهم قوماندان ملا محمد اخوند په شهادت ورسېد. طالبانو د هغه له شهادت وروسته نور هم روحیات وبایلل. مسلسلو ماتو د جنګ کرښه د هلمند د ګرشک د "شوراو مانده" سیمې ته راورسوله، چې نور نو ګرشک هم له خطر سره مخ و، مخالفینو له ګرشک وروسته د کندهار تر بنارە د پرمختګ تابیا نیولې وه.

زما د سترګو لیدلی حال

دا وخت زه د سپین بولدک په ولسوالۍ کې د یوې کوچنۍ پوځي ډلګۍ مشر وم. بولدک په اول کې د طالبانو یو مهم مرکز ګڼل کېده، ځکه چې دا له میونده ورسته د یوې بلې مهمې ولسوالۍ مرکز و چې طالبانو ونیو او بیا یې کندهار بنار هم له همدې ځایه فتح کړ. دا وخت په بولدک کې ۱۳ډلګۍ وې، چې یوه یې د ولسوالۍ د مرکز دلګۍ وه، چې د دغې ډلګۍ مشري او سرپرستي زما پر غاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملا محمد شهادت پر دې سربېره چې د لويديځ لور ته د جنګ کربنې يې متاثره کړې، د طالبانو لپاره د يوه بې سياله قوماندان له لاسه ورکول هم و، چې بيا تر پايه د هغه په ځېر قوماندان پيدا نه شو. ملا محمد هغه قوماندان و، چې د طالبانو له خوا د نيم افغانستان د فتح کولو جګړې ده رهبري کړې او طالبان د ده د تاکتيکونو په مټ فاتحان شول؛ هغه جګړه په نويو تاکتيکونو کوله او په هر جنګ کې يې د دښمن له تاکتيک سره ځان بلداوه؛ چې له امله يې د کمو تلفاتو په بدل کې جنګ ګټلای شوای. له دې علاوه هغه په جنګ کې له اسيرانو سره له ترحم کار اخيست؛ په جګړه کې يې ټول اسلامي اصول مراعتول او پوره رحمدله او زړه‌سوانده انسان و. ويل به يې "کوم ځای چې په ټوپک ونيسئ، له نيولو وروسته هلته د ټوپک رويه مه کوئ". تل يې هڅه داوه چې مقابل لوری مرګ ژوبله يا ونه لري يا ډېره کمه وي.

ملا محمد د روسانو پر ضد جهاد کې په يوه ماهر جنګي قوماندان شهرت درلود او د تحريک له پيله د ملا محمد عمر د جنګ لومړی او باوري قوماندان و. ملا محمد عمر ته ملا محمد د تحريک له پيله تر بل هر چا ډېر ګران و. له همدې امله يې خپل مخابروي نوم "مرحوم" ايښی و.

دغې ماتې او د ملا محمد شهادت د طالبانو کربنې دومره شاته کړې، چې نور د هلمند او کندهار د سقوط خطر پيدا شو، له همدې امله مشرتابه د نورو ځايونو ترڅنګ له بولدکه هم کومکي وسله‌وال وغوښتل دا وخت د بولدک ولسوال ملا خيرالله خيرخواه و (چې د دې دندې ترڅنګ د تحريک ويانډ هم و) هغه او د هغه معاون او يو بل قوماندان ملا دوست محمد له يو څه وسله‌والو سره تيار شول. زه هم ورسره وم، ما د ځان لپاره د لرګي باډۍ والا يو ار پي جي د اوږې راکټ غوره کړ. دا مې په وړکتوب کې د روسانو پر ضد جګړه کې له مجاهدينو سره ليدلی و، ځکه راته ښه ښکارېده. مور د ملا خيرالله د سپينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاټسنې په باډۍ کې پر مهماتو برسېره ناست وو، پښې مو له ډاټسن نه لاندې راځوړندې کړې وې. ملا دوست محمد هم خپل ډاټسن له وسلەوالو ډک کړی و. مازیګر ناوخته راروان شوو، ماسخُتن کندهار ښار ته راغلو هلته وضعیت بیړنۍ و. له کندهاره ناوخته ووتو، هلمند ته پر لار د کندهار له ښاره چې لږ ولاړو، مخې ته د تورو ښیښو یو موټر په ډېر سرعت راروان و، چې مورږ یې ولیدو راته سوکه شو، ملا خیرالله او ملا دوست محمد ورښکته شول، مورږ هم ورته نږدې و، د موټر ښیښه یې ښکته کړه. ملا محمد عمر و، چې پر اوږو یې تازه خامک شوی څادر پروت و، پر سر یې نوی تور پاچ پټکی و، سپین نري اوږده لاسونه یې پر سټرینګ ایښي و، څېره یې روښانه وه، د پرېشانۍ اثار په کې نه ښکارېدل، ورو ورو غږېده، ملا صیب ویل "زه ځم نور وسلەوال او جنګي وسایط هم برابروم. تاسو درځئ، سبا ته به د جګړې لپاره سم تیاری وکړو". د ملا صیب ارامو روحیاتو زه هم ډاډه کړم، چې دا مې په جګړه کې لومړنی ګډون و.

مورږ سوکه سوکه روان وو. سهار خوا ته مو مخې ته ډک موټرونه تښتېدلي طالبان راغلل چې ټوله شپه یې جګړه کړې وه او د ملا محمد د شهادت له اوازې سره پر شا راروان وو، چې څومره ګرشک ته ورنږدې کېدو، همدومره نوي تښتېدلي طالبان پر مخه راتلل. سهار سپېدو کې ګرشک ته نږدې شوو، د ملا دوست محمد مشر ورور ملا خالق داد د چهل میلې (۴۰میله لرونکي ځانګړي روسي توپونه) د دستګاه موټر د سړک پر سر درولی و او سړک یې بند کړی و، ترڅو نور طالبان ونه تښتي. مورږ چې راورسېدو، ملا خالق داد د ملا محمد د شهادت په وجه سخت ژړل.

طالبان یې سره کنټرول کړل. ملا محمد عمر څو ځله راغی او ولاړ. د جنګي کرښې د کنټرول لپاره یې له کندهاره د وسایلو او وسلەوالو اکمالات په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړل. دغه ورځ موږ تر غرمې د ګرشک په فرقه کې و، د اسماعیل خان د الوتکو له خوا سخت بمبار روان و. په فرقه کې مو د غرمې ډوډۍ په داسې حال کې وخوړه، چې د بمونو غرزهار د خونو ښیښې ماتولې، چې ماسپښین شو موږ له ګرشک دوه کیلومتره د کندهار لور ته د ملاخالق داد له چهل میلو سره واړول او دغه ځای مو خپل موقتي مرکز وګرځاوه. د ماسپښین او مازیګر ترمینځ اعلان وشو، چې مازیګر ته به تعرض کوو، ځکه چې دوی د تعرض اراده لري، نو ښه به دا وي چې موږ پرې وار د مخه کړو.

د ملا محمد عمر په هڅو ترمیم شوي ټانکونه هم راورسېدل، چې ورسره د طالبانو روحیات نور هم ښه شول. مازیګر تر تعرض تقریباً یو ساعت مخکې د ګرشک ښار کې د برید لپاره تیاری کېده. زه د ګرشک ښارګوټي په مینځ کې د تیرې شوې سترې ویالې پر غاړه ناست وم. ځان مي په ویاله کې وینځلی و، خپلې څنې مې رُمنځ کړې. وروسته په فکرونو کې ډوب شوم، ما دا فکر کاوه چې ننني جګړه کې خو ژوندي پاتې کېدل تقریباً ناممکن ښکاري، خو زما د کلي او شیمې هیڅوک دلته نه شته، که داسې شوي وای چې له مرګه وروسته چا زما جسد د هلمند په نادعلي کې زما د تره کور ته وړی وای، تر څو مې مړی لا وارثه په شپو شپو پاتې نه وای. دوهمه خبره دا وه چې په ما باندې په کویټه کې د چا دوه زره کلدارې پور وې. ما ویل که زه مړ شوم دغه حق به یې زما په ذمه پاتې شي، په همدې تصمیم کې وم چې د دواړو خبرو په اړه یو وړوکی لیک ولیکم او د کمیس په جیب کې یې کېږدم. په همدې فکرونوکې وم، چې یو ښکلی دنګ زلمی چې اوږدې تورې څنې یې وي، زما خواته راغی او راته وې ویل: طالبه ولې په فکرونو کې ډوب یې؟ ما غږ ونه کړ. هغه زیاته کړه: واده دې کړی؟ ما ویل نه! له خندا شین شو وایي بیا خو بیخي فکر مکوه...!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د بولدک اوسېدونکی ملا سراج الدین و، چې ډېر زړور او وسپنیز قوماندان و. اوس څو کاله وړاندې له امریکایانو سره په مخامخ جګړه کې شهید شو.

دا یوه ډېره تاریخي ورځ وه، ځکه چې دښمن د طالبانو د تحریک د مرکز کندهار د نیولو خوبونه لیدل او طالبان د دغې ورځې د برید لپاره یوازې شاوخوا۸۰۰کسان وو او د دښمن لور ته په زرګونه وسله‌وال، زیات شمېر ټانکونه او ورسره هوایي ځواک و. زمور تعرض یو ډول فدایي برید ته ورته و، له ټولو مجاهدینو عهد واخیستل شو، چې نن به پرشا راتلل نه وي، تر وروستۍ سلګۍ به جګړه وي.

د برید لپاره تشکیل داسې جوړ شو، چې زریدار ټانکونه او نور درانه وسایط لکه دوه میلې دستګاوې به په عمومي سړک له پلیو ځواکونو سره وي او یو ستر تشکیل به د سړک ښي لاسته د ښته کې له بایپور موټرانو سره چې وسله‌وال به په درنو وسلو لکه ماشیندار، ۸۲ملي متري توپ، ار پي جي راکټ او وړه وسله سمبال وي او همداراز د سړک چپ طرف ته به هم همدغسې تشکیل وي. ترڅو برید ټوله سیمه په حلقه کې راولي او دښمن د محاصرې لپاره خپل وسله‌وال تر مور شا ته تېر نه کړای شي.

مازیګر له لمانځه مخکې د هغوی له لوري له تعرض سره سم جګړه پیل شوه، مور د سړک د ښي لاس په تعرض کې وو، دې لوري ته وچه دښته وه. چې د ځان خوندي ساتلو لپاره یې هیڅ نه لرل. یوازې یوه نیمه ټیټه د ریګو غونډۍ وه چې په پرېوتلو د سړي سر تري پټېدای شوای. جګړه پیل شوه، مور خپل موټر له وسله‌والو ډک د سړک چپ طرف ته په سرعت روان کړ. له مور وړاندې یو سپین بایپور موټر په ډېر سرعت لاړ او د مخالفینو مینځ کې یې وسله‌وال ښکته کړل. نه پوهیږم دومره جرئت د هغوی زبون وواهه که څه خبره وه، چې مخالفینو تر ورسېدلو وړاندې هغه په نښه نه کړای شو. د دغه موټر وسله‌وال

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بیړه تیت شول او دښمن یې تر ګذار لاندې ونیو. مورچل ورپسې وو، یو توپدار ټانک زمونږ په وړاندې راروان و، ما ورباندې ار پې چې ونیو، خو چې ماشه مې ټینګه کړه؛ ډز یې ونه کړ. ما مې ملګري ته غږ کړل، چې زما راکټ کار نه کوي. هغه ویل دا زور راکټ دی، ممکن ستنه یې زنګ وهلې او ماتې شوې وي. رښتیا هم ستنه یې ماته وه. لېرې مې وشاړه او د بولدک له ملا ظاهر سره په راکټ کې شریک شوم. ملا ظاهر د روسانو د جګړو له مهاله مشهور نشان زن راکټي و. سمدستي یې په اول ډز ټانک له حرکته واچاوه، نوره جګړه په توندۍ پیل شوه.

طالبانو دا جګړه د یوې پرېکنده جګړې په توګه په ډېره بې ساري فداکارۍ او زړورتیا جاري وساتله. الوتکو بمونه غورځول، چې مورچل ته به ښکارېدل او کتل به مو چې اوس به چېرې لویږي، په فضا کې د مرمیو له کړسهار سره د الله اکبر او د (و ما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی) غږونه پورته کېدل.

پر مورچل د پیکا ماشیندارو او زیکوک ماشیندارو ضربې وهل کېدلې. ځان به مو هم نهام کاوه او پر هغوی به مو هم ډزې کولې، ملا ظاهر یو بل ټانک هم په نښه کړ او پر ټانکونو یې نورې ډزې هم وکړې. زمورچل دغه واړه ټولی چې اووه یا اته کسه به کېدو، د دښمن تر سختو پیرونو لاندې وو او مورچل هغوی ترفایرونو لاندې نیولي ول. د مانښام خوا ته د ځینو وسلو د مرمیو رڼاوو فضا رنګینه کړه، مورچل نور د مرمیو د کمښت له وېرې ډزونه نه کول. یوه ملګري غږ کړل، نور کارتوس مه مصرفوئ هسې نه محاصره شو.

د کارتوسو د اکمالاتو موټر له مورچل سره په فاصله کې د ریګو یوې ټیټې غونډۍ ته ولاړ و او په کې نصب زیکویک ماشین دارېې پر مقابل لورې ډزې هم کولې. زمورچل او د اکمالاتو د لارۍ مینځ کې وچ میدان و. د مرمیو د کمښت له وېرې ما د ملګرو له اجازې پرته د اکمالاتو موټر ته ورمنډه کړه. له شا یوه بل ملګري هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپسې منډه کړه چې وچ ډاګ ته شوو. د ماشیندارو فایرونه راباندې پیل شول، خو زمونږ قسمت ښه و، د اکمالاتو موټر ته مو په منډه ځانونه ورسول، له هغه ځایه مو یو وړوکی صندوق د پیکا ماشیندار، یو صندوق د کلاشینکوف او څو د راکټ مرمۍ په ګډه راواخیستي او په ټیټ سر مو رامنډه کړه، خو دا ځل لکه چې د هغوی راته فکر نه شو، ډزې یې راباندې ونه کړې، مورږ ملګرو ته راورسېدو، ملګري مو سخت خوشحاله شول او بیا مو جګړه پیل کړه، چې له دې سره د فتحې نارې شروع شوې او مخالفینو شاته منډې پیل کړې، مورږ لومړی نږدې ویشتل شوي ټانک ته ورغلو، چې ټانکست یې تښتېدلی و، ورسره خوا کې یو سپین ږیری هلمندی زخمي پروت و، چې پر شا یې لویه د اوبو بوشکه تړلې وه. چې هغه هم په ګولیو سورې شوې وه او اوبه یې لاندې روانې وې؛ په جیب کې یې د رباني د دولت له لوري د چاپ شویو افغانیو بنډلونه وو، چې په ګولیو سوري سوري وو. یوه ملګري ورته وویل د همدې لپاره جنګ ته راغلی وې؟ زخمي په درېدلي اواز ورته وویل، ما ویل دا ځل به مې روزي شي خو لکه چې اخیره مې شوه.

دا وخت فضا کې لا د کارتوسو شپیلکي روان وو خو روحیات ژوندي و او جګړه ختمه شوې وه. مورږ یو ډول روحي سکون احساساوه، ځکه چې یو خو له یوې اوونۍ وروسته په لومړي ځل، طالبانو بېرته پرمختګ وکړ، بل لور ته د مخالفینو پراخه مرګ ژوبله د یوې اوږدې بریا پیلامه وه. مورږ دغه کوچنۍ ټولۍ بېرته د ګرشک ښار ته ورغبرګ شوو، خو د ښار ښې ډېره بدله وه، له کندهاره سپین ږیري، ځوانان او نوي هلکان په زرګونو د مرستې لپاره رارسېدلي وو او د هر چا په سترګو کې دا نتقام لمبې بلې وې. دا ځکه چې په کندهار ښار کې چې کله اوازه خپره شوې وه چې ټوپکیان بیا ښار ته راځي، خلکو د خپل ښار، عزت او مال ساتلو په موخه یو ډول ملي قیام کړی و او پرته له دعوته هر چا وسلې ته لاس کړی و، چې د طالب ځنګ ته ځان ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ورځې په ماسپښین د طالبانو پیاوړي قوماندان ملا بورجان (چې دا مهال د زخمي کېدو له امله د جګړې نه و) د خرڅې په جامع جومات کې خلکو ته د مرستې اعلان کړی و. خلکو نه یوازې چې د جګړې لپاره ځانونه رارسول، بلکې مور په ګرشک کې له خوراکي موادو نه ډک موټرونه هم ولیدل، چې خلکو په کې تازه انګور، پخې کړې غوښې او ډوډۍ را بار کړې وه. چا چې څه لرل هغه یې د طالب د مرستې لپاره راوړي وو. د خلکو دغه جذبه او جنون د ګرشک بنارګوټی په یوه احساساتي لښکرتون اړولی و. زمور جذبات هم ورسره درې چنده شول او دومره پراخ ولسی ملاتړ او مینه مې چېرته په خوب کې هم نه وه لیدلې. مور له پرون شپې لا ستړي، ستومانه او وږي وو. له ځانه سره مو د خلکو د مرستو له موټره یوه ستره سوده (ټوکرۍ) انګور او یو څه خواړه واخیستل او هم هغه د ملاخالق داد د چهل میلو تم ځای ته راغلو. نن دلته د جنګ فضا نه وه، ارامه ارامي وه، یوازې د طالبانو غږونه، د موټرو غرهار او خنداوې اوربدل کېدې، د جګړې او وېرې د پرونۍ فضا نور څرک هم نه لګېده. ډوډۍ مې وخوړله،لمونځ مې وکړ او یوې ډبرې ته مې سر کېښود. نور په ځان خبر نه شوم. سهار چې مې اوږې لمر تودې کړې، را ویښ شوم، د سهار لمونځ رانه قضا شو. کوم ځای چې مې سر لګولی و، هغه ځای د ملګرو د بانډار له ځایه نهام و، هغوی هم نه وم لیدلی، ځکه خو یې لمانځه ته هم نه وم پاڅولی.

سهار شاوخوا ۹ بجې وې د مولوي عبدالمنان حنفي، ملا خالق داد او مولوي دوست محمد ملګرو د خوراک لپاره غوښه کبابوله او چای لا هم ګرم پروت و. چای مو وڅښه، څه کم لس بجې وې، چې یوه ملګري غږ کړل: چې مشهور پاټکي "نادرجان" یې ژوندی نیولی او پر سړک یې په موټر کې کندهار لور ته تېروي. زمور هم ورته سودا شوه، سړک ته مو ورمنډه کړه، لږه شېبه وروسته خړه هینو لارې راغله، مور ودرولې، ځینې طالب ځوانان په لارې کې ناست دي، ځینې ولاړ او یو شمېر په جنګله کې ختلي دي. په مینځ کې یو غټ مخی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین ږیری ناست دی، سرې خونکارې سترګې او شین تندی یې دی، زه حیران شوم، چې په دغه ستره اوږده سپینه ږیره دغه بابا دومره ستر جنایات څنګه کول، لکه د تورسرو بې عفتي، مرګونه او نور...

موټر له موږه تېر شو، خو د کندهار له لورې پر سړک د ملا محمد عمر موټر په سرعت راروان و، چې کله یې لارې ولیده، موټر یې ودراوه. نادرجان یې رابنکته کړ او په خپله توپانچه یې پر سر څو ډزه وویشت. ځای پرځای یې مړ کړ، زما د معلوماتو له مخې دا به لومړنی او وروستنی کس وي، چې ملا محمد عمر په خپل لاس وواژه.

نادرجان هغه پاټکي و، چې د ملا محمد عمر د قیام مرکز ته نږدې یې یو ډبر بدنام پاټک درلود، چې ویل کیږي له خلکو یې تورسرې هم د بې عفتۍ لپاره کوزې کړې وې او د ملا محمد عمر د پاڅون په لومړیو لاملونو کې یو هم د ده پاټک ګڼل کېده.

د شپې د ملارحمت الله، ملا عبد السلام او نورو وړو اوسترو قوماندانانو په مشرۍ ځواکونو مخالفین تعقیب کړي وو، سهار چې مور د نمیروز د دلارام ولسوالۍ مرکز ته ورغلو، نو له لرې جګړې وروسته مخالفینو دغه سیمې پرې ایښې وې او د فراه د مرکز لور ته تښتېدلي ول. د سړک دواړو لوریو ته د هغوی بې شمېره مړي پراته وو، چې ښایي دغو درنو تلفاتو به د هغوی جنګي ملا ماته کړې وه، خو د اسماعیل خان د الوتکو له خوا بیا هم سخت بمبار روان و.

له اسیرانو سره ناوړه چلند او زما روحي ځور

په سبا چې مور له ګرشک نه حرکت وکړ، نو د یو شمېر مړو جسدونه مو ولیدل چې د اسیرانو په توګه نیول شوي وو او بیا د کوم مشر له امره پرته ځینو عامو طالبانو وژلي وو. ډبر داسې کسان چې په جګړه کې یې برخه هم نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستې خو له جنګه وروسته به یې اسیران وژل. له بده مرغه د ملا محمد له شهادت وروسته تر دې دمه بل قوماندان دومره واکمن او متوجه نه و، چې په ټولو اطرافو کې طالبان له ناوړه او غیر اصولي چلنده منع کړي. ملا محمد د جنګي اسیر د وژلو اجازه چا ته نه ورکوله، ډېرى طالبانو به دا خبره کوله چې حاجي ملا محمد چې کوم ټوپکیان معاف کړي، هغه ټول ببرته له موږ سره جنګیږي، نور باید ونه ښیل شي. رښتیا هم د هلمند او کندهار په فراري ټوپکیانو کې ډېر داسې خلک وو چې له دوه ځلو نیول کېدو او ښیل کېدو وروسته بیا جنګېدل. له یوې خوا په دې جګړه کې د طالبانو د ډېرو ملګرو تلفات، بل پلو ته د ملا محمد د انتقام جذبه او بل لور ته تر دې مهاله د یوه بل ځواکمن قوماندان د وېرې او حاکمیت نه شتون، د دغو بې مسئولیته کسانو مخه خلاصه کړې وه، چې اسیران یې بې درېغه وژل. وروسته چې ملا محمد رباني راورسېد دغه کار لږ کنټرول شو، خو یو ځل نږدې ملا محمد رباني په خپله د دې پېښې ښکار شوی و. ملا محمد رباني غوښتل چې سپین ږیرى هراتی اسیر د یو طالب له ډزو وژغوري، ورمنډې یې کړې، خو طالب پرې ډزې وکړې او ملا محمد رباني ترې په ډېره کمه فاصله بچ شو، خو اسیر یې وژغورلای شو، وروسته هغه وسله‌وال طالب د مشرانو له سخت تهدید سره مخ شو.

وژل کېدونکي اسیران اکثره کندهاري اوهلمندي فراریان وو، ځکه چې همدوی ته د ځینوعامو طالبانو زړونه بې رحمه وو. که څه هم د وژل شویو اسیرانو تعداد کم و، خو دغه حرکاتو زما پر ذهن ډېر ناوړه اغېز وکړ، ان چې د یوې مقدسې جګړې پر مشروعیت مې لا شکوک پیدا شول. دغه فتحه چې زما همزولو ته د خوښې میله وه. زه یې په فکري انحطاط او روحي فشار کې واچولم، نور مې د پرمختګ د خوښۍ ځای هغو ترخو خاطرو ونیو چې یوه تنکي ځوان به عذر کاوه چې دا ځل مي معاف کړئ په زور یې راوستی یم، خو بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باکه کارتوس به یې بیا هم ژوند واخیست. دغه بې خونده حالت چې اوس هم رایاد شي، روح مي ځوروي، هلته مې هم همزولي په طبعیت پوه شول، له ځانه سره به په فکرونو کې ډوب وم.

ملا محمد رباني په چیغو وویل چې دا عمل مو ناروا دی، او هیڅوک اجازه نه لري، خو ملا محمد رباني د جګړې عمومي کنټرولوونکی و. پر هره وړه ډلګۍ یې ځان ځان ته ځارنه نه شوای کولای، ملا محمد عمر امر کړی و، چې یو تن اسیر به هم ځوک نه وژني، خو په دغو نامنظمو او هجومي عملیاتو کې یوشمېر اسیران د عامو او بې مسئولیته طالبانو له خوا ووژل شول.

د درېیم تعرض په شپه چې عمومي قوماندې ملا محمد رباني ورکوله، هغه په نفلونو ودرېد، ډېر اوږده رکعتونه یې وکړل او بیا یې دعا پیل کړه. دومره اوږده دعا یې وکړه، چې نور قوماندانان په تنګ شول چې هسې نه دښمن وار راباندې ړومبی نه کړي، خو ملا محمد رباني یو عابد انسان و. هغه ته معنویاتو همدومره ارزښت لاره (زه تر ننه لا د هغه د سپیڅلې روحیې او تقوا تر اغېز لاندې یم) خو په همدغه وخت کې له یوه ستر پوځي موټره یو کشري ځوان ځان را وغورځاوه او پر پیریانو یې ځان واچاوه (په دودیزه اصطلاح کې پیریانو ګنده کړ) د هلک عمر د ۱۸ او ۱۹کلونو شاوخوا و؛ د باغران رئیس ملا عبدالواحد پرې لیونۍ رمباړه وکړه: چې پورته شه!

هلک سمدستي په خود شو، ببرته موټر ته وخوت او له ویرې په ریږدیدو شو. ماچې پوښتنه پسې وکړه، ملګرو مي راته وویل چې د باغران رئیس وسلهوال په زوره راولي او دغه تنکي ځوان د جنګ له وېرې ځان همداسي کړ، خو ببرته د خپل قوماندان (د باغران د رئیس) له وېري سم شو. زما زړه ډېر وربانديد و دردید. د رئیس عبدالواحد (د باغران رئیس) په پوځي لاریو کې د یو عمر او سن خلک نه وو. یو به نوی ځوان و، بل به سپین ږیری و. چا راته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه له خپلې سیمې او قوم نه خلک د عسکري جلب په طریقه ټولوي او خلک دې کار ته مجبوروي، نو که څوک ځوان ونه لري تنکي ځوانان او سپین ږیري ورسره کوي، دغه دود زه ډېر خپه کړم او د طالبانو په څېر تر ډېره بې داغه تحریک ته دا یو ډېر څرګند داغ و.

ما کله هم داسې صحنه لیدلې نه وه.د بې محکمې اسیرانو وژلو د جګړې دغه رُخ هسې هم راته وحشي ښکار ه کړ، زه له دې سره چې بیا هم متیقین وم او یم چې د دنیا په سپېځلو جګړو کې یوه هم د طالب جګړه سپېځلي او مقدسه وه، خو دا مې هم احساس کړه چې په ربښتیني ډول د جګړې تقدس څومره ګران دی چې د طالب غوندې مدعي هم په کې کله ناکله دومره ښوېیدلای شي! د هغه نورو به څه حال وي؟

همدې تصور روحاً او فکراً دلسرده کړم، ما دا ومنله چې ربښتیا هم انسان له مرګ او وژلو سره ډېر ژر عادي کېدای شي، ما له ځانه سره ویل: یا الله ما ورسره مه عادي کوه!

همدا مې فیصله شوه، خلک او ملګري د فتح په جذباتو د هرات نیولو ته لیواله پرمخ ولاړل، خو ما ایله د آب خرما تر غره ملګرتیا ورسره وکړه، چې کله په دې پوه شوم چې نور نه طالب تلفات لري او نه هم د وسلهوالو ضرورت لري، بلکې تر جنګیالیو سیلاني ډېر راروان وو، نو باور مې وکړ چې نور په" زحاف عن الحرب" کې نه راځم، ځکه خو بې مشورې راغبرګ شوم او له قوماندان حاجي بشیر سره موټر ته وختم. بیرته دلارام ته راغلم، د غرمې ډوډۍ مو یوه کور کې وخوړله، له هغه ځایه په سورلۍ موټر کې کېناستم، کندهار ته لاړم. یو دوه میاشتي مې لا بولدک کې تېرې کړې، نور مې د ډلګۍ ۳۵میله وسله د بولدک ولسوال ته تسلیم کړه او له نظامي مبارزې سره مې مخه ښه وکړه، له هم هغه ورځې مې بیا په طالبانو کې فرهنګي او سیاسي چوپړ ته مخه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات فتح

له یوې هفتې جګړو وروسته طالبانو د ۱۹۹۵م کال د سپټمبر په ۵مه د هرات مرکز ونیو. د اسماعیل خان ځواکونو له هراته بهر مقاومت وکړ، خو په ښار کې دننه یې له جګړې ډډه وکړه. اسماعیل خان او مهم قوماندانان یې د اسلام قلعه له لارې ایران ته وتښتېدل، نیمروز او فراه خو تر دې وړاندې لا ونیول شول، طالبانو د هرات په اطرافو کې تصفیه پیل کړه او د غور، بادغیس او فاریاب ځینې سیمې یې هم تر واک لاندې راوستې، چې له امله یې د دوستم له ځواکونو سره په لومړي ځل جګړیزې کرښې مخامخ شوې، طالبانو د نورو ښارونو په څېر د هرات له فتحې سره هم د عمومي عفوې اعلان وکړ او د پخواني رژیم ډیر مامورین او کسان بیرته له لنډ توقف وروسته اداره ته راغلل، البته سترې څوکۍ او ریاستونه طالبانو ته ورکول کېدل، او لاندې طبقه به زاړه مامورین وو.

په دې جګړه کې چې له ګرشک نه پیل او په نږدې یوه هفته کې د هرات، نیمروز او فراه د نیولو سبب شوه، د طالبانو مخالف لوري ته ډېر درانه ځاني او مادي تلفات واوښتل.

تقریباً تر زرو پورې وسله‌وال مخالفین ووژل شول، چې په دې د کندهار هلمند د فراري ټوپکي قوماندانانو وسله‌وال، د اسماعیل خان ملېشې او د احمدشاه مسعود کومکي ځواکونو ټول وو، په دې کې د شمال او په خاص ډول هغه پنجشیریان هم وو، چې د تېښتې پرمهال د سیمې له جغرافیې او طبیعت سره نابلده ول او د هلمند او فراه ترمینځ په سترو دښتو کې د ورکیدو له امله له تندې مړه شوي وو. دغه سیمه پراخه او هوارې دښتې دي، چې تر ورځو مزلونو پورې اوبه نه پیدا کیږي. دا وخت چې د اګست ګرمي وه او د دې سیمې یو ډول خاص ګرم باد انسان په څو ساعتونو کې له ډېرې سختې تندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مخ کوي. البته د هلمند او کندهار فراریان د دې سیمې له جغرافیې او اقلیم سره بلد وو. هغوی د کارتوسو د چانټې ترڅنګ هر یوه د اوبو لوبې بوشکې هم په ځانونو پورې تړلې وې. له دې سره سره دا هم ورته معلومه وه، چې کوم لوري ته اوبه ژر پیدا کېدای شي، چې له همدې امله هغوی د تندې له امله تلفات نه لرل، خو له تندې نه تر ټولو زیات تلفات کومکي پنجشیریانو لرل، د تندې مړي به په دې پېژندل کېدل، چې پرمخ به یې د خولې برخې یو ډول ځانګړی توروالی درلود.

طالبانو هرات ته ملا یارمحمد د والي په توګه غوره کړ، ملا یارمحمد ولس دوسته، نرم طبعه او هوښیار سړی و. د روسانو پر ضد جهاد کې د کندهار په کچه نامتو قوماندان و او د هېواد په کچه د روسي الوتکو د رانسکورولو یو اتل نشان زن و. هغه په یواځې توګه په خپل لاس د امریکایي سټینګر توغندیو په وسیله درویشت (میګ یوویشت او دوه ویښت) جنګي الوتکې رانسکورې کړې وې، خو دا چې ځرنګه په دومره پیمانه سټینګر توغندي په تنها سر په ګوتو ورغلي وو، د دې لامل دا و چې ده له حامد کرزي سره د جهاد پرمهال دوستانه اړیکې وې. دواړه د یوې قبیلې وو او کرزی هغه وخت غالبا د سي آی ای له خوا د سټینګر توغندیوو ځارونکی و.

د هرات نیولو طالبانو ته د هېواد د یوه بل ستر ولایت اداري چارې ورله غاړې کړې. د هرات ډېری خلک علم دوسته، فرهنګ دوسته او ارام طبعه خلک دي. البته د ایران له خوا د طالبانو پر ضد وخت پر وخت انتقامي دسیسې جوړېدلې، چې کله ناکله به یې ستونزې هم جوړولې. څو ځله د والي د وژلو دسیسه د ایران له خاورې جوړه شوې وه. یو ځل یې د تیلیفون یو سیټ د والي دفتر ته تېر کړی و، چې د استخباراتو د موظفینو له خوا له سپړلو وروسته په کې یو دقیق بم کشف شو، چې د تیلیفون په غوږګي کې په ډېر مهارت ځای شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د والي ترځنګ د طالبانو د عالي شورا غړی او د تحریک ستر داعي مولوي احسان الله احسان هم هرات ته واستول شو، چې له ولسي خلکو سره د طالبانو د دوستانه اړیکو د ټینګولو په برخه کې کار وکړي. هغه په دې اړه ځانګړی استعداد او مهارت درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات له نیولو وروسته طالبان د سترو دولتي عوایدو څښتنان شول

هرات ښار ایران او ترکمنستان سره رسمي تجارتي دروازه ده. له ایران نه د ایراني اجناسو علاوه خلیج نه هم افغانستان ته مالونه د بندر عباس نه د هرات پر لار افغانستان ته راځي. دا لار د ایران او افغانستان دواړو لپاره خورا اقتصادي ارزښت لري. همداراز د ترکمنستان د تورغوندۍ دروازه نږدې د ټولې مینځنۍ اسیا د تجارت مهمه دروازه ګڼل کېدله، د ایران سرحد څه وخت د تجارت لپاره بند و،خو وروسته بیرته پر انیستل شو،ځکه چې دا د ایراني اجناسو لپاره هم مهمه صادراتي دراوزه و. د هرات د ګمرک مجموعي عواید هغه وخت په ابتدایي ډول تقریبا د میاشتې له ۵ نه تر ٦ لکو ډالرو رسېدل، چې دا د طالبانو په څېر غورځنګ ته کمې نه وې، دا عواید وروسته څوچنده جګ شول ، خو په ابتدا کې دغه اندازه پیسو هم د طالبانو د تحریک مالي حالت ته حیاتي ارزښت درلود.

پر دغې لار له خلیج نه دوهم لاس (استعمالي) موټران، ټیرونه، مبلایل، د کورني استعمال توکي او دې ته ورته اجناس او له ایران او ترکمانستان څخه تېل او خوراکي توکي ډېر راتلل. له دې نه علاوه د نیمروز سرحد هم یوه کمه اندازه عواید لرل او په جنوب کې د خوست ښار سره د پاکستان پر پوله (غلام خان سرحد) هم څه ناڅه عواید لرل.

طالبانو پر تجارتي توکو ډیره کمه مالیه وضع کړې وه ، د ټول هیواد له نیولو وروسته هم د ټول هیواد د ګمرکونو عواید دورځې تریولک ډالرو نه اوښتل، چې دا د نورو حکومتونو په پرتله ډیرکم عواید وو.

پر دې سربېره په هرات، نیمروز او فراه کې د مخالفو وسلوالو نه ډېره لویه اندازه وسله، مهمات موټرونه، زغره‌وال ټانګونه او په شنډنډ هوایي ډګر کې څو باله جنګي او ملکي الوتکې د طالبانو لاس ته ورغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان څنګه طالبانو ته ترجیح ورکړه؟

کله چې د هرات له فتحې یوه ورځ وروسته په کابل کې د برهان الدین رباني د دولت پلویانو یوه مظاهره ترتیب کړه او د پاکستان پر سفارت یې برید وکړ، سفارت ته یې اور واچاوه. دې برید کې د سفارت په عمله کې یو تن مړ او څو نور شدید ټپیان شول، دغه عمل د پاکستان د حکومت درنه غوسه راوپاروله چې له امله یې خپل سفارت وتاړه او له افغانستان سره یې دیپلوماتیکې اړیکې وشلولې. دغه کار تر ټولو ستر زیان د برهان الدین رباني واکمنۍ ته واړاوه، چې د یوه مهم ګاونډي هېواد له رسمي اړیکو بې برخې او خپل مخالف یې په نامستقیمه توګه قوي کړ.

پاکستان چې په کابل کې یې د جهادي قوماندانانو ترمینځ قوي استخبارات لرل، په دې پوه و، چې دا مظاهره په خپله دولت ترتیب کړې وه او هر څه یې په شعوري ډول ترسره کړل. د رباني او مسعود پلویانو فکر کاوه چې د هرات د نیولو په جګړه کې د زیاتو پنجشیري ځوانانو د مرګ په اړه دا مناسب غبرګون دی، چې پاکستان تر فشار لاندې ونیول شي. په داسې حال کې چې پاکستان تر دې دمه هیڅ عملي مرسته له طالبانو سره نه کوله، بلکې یواځې د پاکستاني ولس د خواخوږۍ او مرستې په اړه یې نرم دریځ ښوده.

له بلې خوا پاکستان شک کاوه چې ښایې د هرات له سقوطه وروسته ایران په افغانستان کې ځان کمزوری احساسوي، نو ځکه غواړي چې پاکستان هم له ورته دریځ سره مخ کړي او سفارتونه یې په افغانستان کې وتړل شي. همداراز پاکستان په دې پېښه کې ممکن د هند د لاس وهنې شک هم کاوه.

ځینې شننونکي داسې فکر کوي چې کله په ۱۹۹۷ کال داګست پر۸مه (۱۷اسد) د مزار شریف ښار بیا طالبانو ونیو او د ایران په سفارت کې یوولس ایراني اتباع په مرموز ډول ووژل شول. ښایي دا د پاکستان له خوا پر خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفارت د شوې حملې غبرګون وي، خو په دې اړه هیڅ شواهد ترلاسه نه شول، یواځې د ادعاوو تر کچې دا ډول خبرې کېدې.

د سفارت سوزولو پیښې پاکستان له کابل رژیمه مایوسه کړ. هغوی طالبانو ته د دوستانې د لاس غځولو د هڅو ترڅنګ د سفارت له ټرلو څو میاشتې وروسته په جلال اباد کې د معادل سفارت د پرانیستلو تابیا هم وښوده، چې د ربانې پر ځای د حاجي قدیر په مشرۍ مشرقي شورا سره روابط ټینګ کړي او د کابل د سفارت کار د جلال اباد له کونسلګرۍ واخلي.

که څه هم د مجاهدینو اوه‌واړه ګوندونه پاکستان کې جوړ شول او له هغه ځایه یې افغانستان کې د نجیب د واکمنۍ تر ړنګېدو سیاسي او پوځي فعالیت وکړ. برهان الدین ربانې هم د پاکستان په مرسته تر کابله ورسېد او له مجددي وروسته د هغه د څلور میاشتنې جمهوري ریاست انتخاب هم په پېښور کې د پاکستانیانو په مشوره اوغوراوي وشو، خو د حکمتیار او ربانې د ملېشو ترمینځ د جګړو په شدت کې پاکستان د حکمتیار په پلوۍ تورن و.

کله چې طالبانو په کندهار کې لومړی سر راپورته کړ، نو ربانې او سیاف یې کلک هرکلي وکړ آن چې طالبانو ته یې د امن فرښتې وویل، خو کله چې طالبان په جنوب کې له اسماعیل خان او مرکز کې له مسعود سره ونښتل، نو ربانې او پلویانو یې پر طالبانو د پاکستان د ملاتړ تور پورې کاوه. دا مهال د ربانې د حکومت او پاکستان رسمي او دیپلوماتیکې اړیکې سمې روانې وي، پاکستان د ربانې حکومت ته د افغانستان د نماینده حکومت په سترګه کتل.

د کندهار له فتحې څو ورځې ورسته کله چې په لومړي ځل د پاکستان یو ټیټ رتبه هیئت د پاکستان د هغه تجارتي کاروان د پاتې شونو د وصول لپاره کندهارته راغی، چې تر طالبانو وړاندې د لویې لارې پرسر ټوپکې قوماندانان لوټلی و.دغه تجارتي کاروان د کندهار د والي ګل اغا شیرزي او د پاکستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخله وزارت تر مینځ د توافق نه وروسته د کندهار له لارې هرات اوبیا تورغوندي ته روان و، خو شیرزی که څه هم په ظاهره د کندهار والي و، خو داسماعیل خان په ځیر یې د لویې لارې د امنیت ساتلو توان اوځواک نه لاره،ځکه خو دغه کاروان لوټ شوی و. د طالبانو له راتګه وروسته د دغه کاروان محدود وسایل د ټوپکیانو نه طالبانو ته ورپاتې شول،چې د همدې پاتې شونو په بهانه دغه پاکستانی هیئت کندهارته راغی، چې په ترکیب کې یې د داخله وزارت د ټیټ د رتبه مامورانو ترڅنګ دآی اس آی غړی هم و، طالبانو که څه هم داسنادو اوشواهدو په په بدل کې د هغوي سامانونه ورته وسپارل، خو نورېې ورسره ډیر محتاط ، سوړاو حتی بیخونده تعامل وکړ.

له هغوي سره د لیدونکو مشر د عالی شورا غړی ملا محمد عباس و، کله چې د هیئت مشر ملا عباس ته وویل: پاکستان ستاسي سره د ښو اړیکو او همکاري نیت لري، نو ملاعباس په تونده لهجه ورغبرګه کړه چې مور ستاسي له مرستي او دوستي بیزاره یو، نور دافغانانو په مینځ کې ستونزي مه جوړوي! د ملاعباس اشاره د حکمتیار او رباني خپل منځي جکړو ته وه. دغه کرنل بیا وروسته د طالبانو د حکومت په دوره کې افغان سفیر شهاب الدین دلاور ته دغه کیسه کړې وه چې په لومړي ځل چې طالبانو د ملاعباس په ژبه مور ته تریخ او نامناسب ځواب راکړ. نو مور خپل مینځ کې سره وویل: چې طالب جان د جګړې د دوام له زوره خبر نه دی! اخیر به د یو چا مرستې ته اړ کېږي.

په اول کې د طالبانو اوپاکستان د رسمي اړیکو سوړ جریان د طالبانو د محالفینو په ګټه و؛ خو د پاکستان میشته افغان مهاجرینو مرستو او له پاکستان نه د هغوې د ډلې ډلې کومکي ځوانان ازاد راتلل او له افغانستان نه هره ورځ په لسګونو زخمي جنګیالي د پاکستان روغتونونو ته وړل، هغه څه وو، چې پاکستان یې د طالبانو لپاره یو کومکي هېواد معرفي کړی و. که څه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغان جهاد له پيله پاکستاني حکومتونه د افغان وسلوالو د ټپيانو د درملنې او تګ راتګ په اړه عادي وو او د داخلي جګړو زخميان هم په ازاده توګه پاکستان ته دتداوي لپاره وړل کيدل ، خو د طالب غورځنګ مخالفانو د پاکستان دغه رويه مستقيمه مرسته نومولې. کله چې د رباني اومتحدينو لخوا د پاکستان پرضد نيوکې زياتې شوې، ورپسې يې د پاکستان پر ضد هند ته لاس وغځاوه او بلاخره يې په کابل کې د پاکستان پرسفارت خونړی بريد وکړ، نو پاکستان د ځينې سياسي اومذهبي ډلو او اشخاصو په واسطه له طالبانو سره د اړيکو د ټينګولو هڅې له سره پيل کړې، له دې سره سره د طالبانو له خوا د مخالفينو په وړاندي مسلسل پرمختګ او د پراخو سيمو لاندي کول هم د دې باعث شول چې پاکستان نور هم دغو اړيکو ته ليواله شي او له طالبانو سره د افغانستان د يوه مهم فوځي او سياسي جهت په توګه اړيکې ولري. لومړی پاکستان د هرات، مزار او جلال اباد په څېر په کندهار کې هم يوه سمبوليکه کونسلګري لرله چې اصلي واک يې د کابل له سفارت سره و، خو د سفارت له سوزيدو وروسته يې د کندهار کونسلګري مجهزه کړه او په هرات کې يې هم کونسلګري پرانيسته. چې له امله يې له طالبانو سره رسمي اړيکي جوړې شوې، چې بيا د طالبانو د حاکميت په دوره کې د اړيکو دغه بهير د دوو دولتونو د اساسي او ضروري اړيکو ځای ونيو. بل پلوته له نړۍ سره ناسمو اړيکو طالبان په اخيرکې د پاکستان د ټيلوماتيکو اوسياسي اړيکوته ډير محتاج کړل.خو پاکستان تل د خپلو ګټو او ضرورتونو ترکچې له طالبانو سره اړيکې پاللې او له دې ور هاخوا يې نه کومه ديني انګيزه لرله اونه استراتيژيک شراکت!

مګر عوامي پيوستون او د پاکستان له ديني طبقې سره د طالبانو اړيکو بلکل له دولتي هغې نه يو جلا انګيزه او رنګ لاره.بل پلو طالبانو هم د پاکستان اړيکوته رو رو پام واړاوه او د لومړيو ورځو په محتاط دريځ کې بدلون ته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کندهار کې د هېواد د ديني عالمانو ستره غونډه او ملا محمد عمر ته د امیرالمومنین لقب ورکول

د ۱۹۹۶م میلادي کال پسرلی مارچ میاشت کې عالي شورا مشرتابه ته د ا نظر ورکړ؛ که د عمومي وضعیت او جنګ په اړه د ټولو مفتوحو سیمو او په بهر کې د مهاجرو علماوو یوه غونډه دایره کړو، چې د هغوی مشورې، هدایات او تایید ترلاسه او راتلونکي کارونه مو نور هم د ديني اصولو او اوامرو چوکاټ کې تنظیم کړو.

ویل کیږي چې د دې کار مشوره اول مولوي جلال الدین حقاني د مولوي احسان الله احسان له لارې شورا ته را لیږلې وه، چې د دې جګړې د مشروعیت او ضرورت په اړه د هیوا له ديني علماوو نه شرعي هدایات او ازاده رایه واخلئ، مولوي احسان الله د شورا له نورو غړو سره دا مشوره شریکه کړې وه اوبیا مشرتابه ته وړاندې شوې وه.

د غونډې لپاره د کندهار ښار میخانیکي ښوونځي غوره شو، چې پراخې ودانۍ او د یوې سترې غونډې وړ تالار یې درلود. د ښوونځي په دروازه کې یو موقتي دفتر خلاص شو چې د راتلونکو مېلمنو نوم او ولایت به یې ثبتول او بیا به یې د هغوي د اوسېدو لپاره د مناسب اطاق کیلیاني د هغوی مؤظف خادم ته سپارلې. د دې دفتر مسئول مولوي حمدالله نعماني و، چې دا وخت د اطلاعاتو او کلتور لوی ریاست اداري مدیر و. ورسره د مېلمستون مشر مرحوم احمد علي خان متقي د غونډې نورې چارې تنظیمولې. مور څو تنه نور ملګري هم ورسره همکاران وو.

کوم علماء چې به په یوځای راغلي وو او غونډتل به یې چې په یو ځای اووسي، هغوی ته ستر ستر مجهز اطاقونه ورکول کېدل. څوک چې تنها او یو دوه یا درې تنه وو، هغوی ته د هغوی د اوسېدو وړ اطاقونه ورکول شول. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اطاقونو کې ټولې اسانتیاوې ورته بر ابرې شوې او د خدمت لپاره یې معلوم کسان مؤظف وو. له دې ودانیو علاوه ځینې مېلمانه د ولایت په مېلمستون او د میوند هوټل په ودانیو کې هم اوسېدل. د کندهار اوسېدونکي اکثر علماء د شپې ببرته کورونو ته تلل.

غونډه د ۱۳۷۵لمریزکال د وري د میاشتې په۱۴مه نېټه چې د ۱۹۹٦میلادي کال د مارچ له۳۰ ورځې سره یې سمون خوړ پیل شوه او په درېیمه ورځ غونډې ته ملا محمد عمر هم راغی. د ماسپښین له لمانځه مخکې ملا محمد عمر مجاهد خپله وینا پیل کړه. د تحریک د پیل کولو ټوله کیسه یې په لنډ ډول بیان کړه. د وینا مینځ کې یې وژړل او تقریبا ټول محفل ورسره وژړل. (د دې وینا غورچاڼ د کتاب په سر کې راوړل شوی).

مولوي احسان الله احسان د خپلې وینا په ترڅ په احساساتي ډول ناستو علماوو ته په شخصي توګه وړاندیز وکړ چې مور باید خپل مشر ته د امیرالمومنین نوم ورکړو، ناستو علماوو په یو اواز د دې هرکلی وکړ. مولوي احسان الله له علماوو نه د بیعت غوښتنه وکړه. بیعت شروع شو، ملاصیب حیران ولاړ و، زړه نازړه شو، ځګه چې د لقب دا ټول کار ورته تصادفي و. علماوو له هغه سره په لاس بیعت پیل کړ، د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې او بدن یې په لړزېدو شو. ماحول یو ډول جذباتی و، یو خوا د ملاصیب ساده او صادقه وینا اغېزناکه وه. بل پلو مولوی احسان الله خلک نورهم په جذباتو راوستل. ما له یو دوو مشرانو ملګرو نه پوښتنه وکړه چې د لقب اعلانول په پروګرام کې وو؟ هغوی وویل چې نه هیڅکله داسې خبره نه وه شوې او نه ملا محمد عمر دا ډول غوښتل، خو د مولوي احسان جذباتي چیغې او د علماوو هرکلي ملاصیب هم له انکاره را وګرځاوه.

هغه علماء چې په شخصي توګه په ښار کې یا له وسلهوالو طالبانو سره د هغو په اطاقونو یا هم هوټل یا بل ځای کې اوسېدل، له هغوی پرته یواځې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماء چې د غونډې د منتظمينو له خوا يې نومونه ثبت شوي وو، تعداد يې د څوارلس-پينځلس سوو تنو ترمينځ و.

په غونډه کې د عالي شورا له غړونه مولوي احسان الله احسان، ملا محمد رباني، ملا بورجان، ملانورالدين ترابي، مولوي وکيل احمد متوکل، او يو څو نورو غړو هم ګډون درلود.

د غونډې پای کې علماوو د برهان الدين رباني واکمني په هېواد کې د نه حاکميت او پر پاټک سالارانو د نه تسلط له امله غيرمشروع وګڼله. استاد رباني يې واجب العزل اعلان کړ او په زور يې د هغه د ګوښه کولو فتوی ورکړه. دغه اعلان او د اميرالمومنين لقب په مطبوعاتو کې د مخالفينو غوغا راپورته کړه.

له غونډې وروسته د عالي شورا له خوا علماوو ته هغه فورمې توزيع شوې چې په کې د مختلفو چارو په اړه له علماوو نه هدايات او مشورې غوښتل شوي وې. همداراز له علماوو نه د عامو مشورو غوښتنه هم شوې وه. څلورمه ورځ مورِ فورمې په بوجيو کې راوړې، ځکه ډېرې زياتې وې او د دې ليکلو هدياتو او مشورو د بررسۍ لپاره يوه کمېټه هم وټاکل شوه، چې دغه هدايات يو يو ولوستل شي.

د دې غونډې له برخه‌والو علماوو نه د څو علماوو نومونه چې زما په حافظه کې پاتې دي، د ښلګې په توګه يې راوړم:

کندهار: شيخ الحديث مولوي عبدالعلي ديوبندي، قاضي مولوي سيد محمد(مولوي پاسنی) شيخ التفسير مولوي عبدالسلام، مولوي عبدالودود، ثاني مولوي عبيدالله، مولوي غلام حيدر، شيخ الحديث مولوي عبدالحکيم، شيخ الحديث مولوي عبدالغني، مولوي عزيزالله، مولوي سدوزی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلمند: مولوي محمد خواص، مولوي عبدالروف، مولوي عبدالواحد، مولوي محمد، مولوي مطيع الله.

زابل: مولوي عبدالغفور سناني، مولوي عنايت الله غبرګوي، مولوي سيف الرحمن اخنزاده، مولوي محمد نعمان او لسګونه نور

غزنی: مولوي محمد ابصر، مولوي حيات الله (کاکا)، مولوي عبدالباري، مولوي فيض الله، مولوي عبدالستار، مولوي رضاخان، مولوي عبدالبصير(ريس)، مولوي علم ګل، مولوي محمد غيور، مفتي رحمت الله ديوبندي.

ميدان: يوسف خپلو اخنزاده صيب، مولوي رفيع الله موذن، مولوي محمد ملوک.

کابل: شيخ الحديث مولوي تره خپل، مولوي نورمحمد ثاقب، مولوي احمدالله، مولوي عبدالله جان، مولوي عبدالقدوس.

پکتيکا: مولوي حميدالله فايض، مولوي محمد فريد محمود، مولوي محمد يعقوب، مولوي محمد عمر، مولوي راز محمد.

پکتيا: مولوي خليل الله فيروزي، مولوي فضل الرحمن، مولوي حمدالله نقشبندي، مولوي اعظم ګل.

خوست: مولوي عبيدالله صبری، مولوي سيد وسيم، مولوي عبدالرحيم بلالي، مولوي عاقل محمد ځنيخيل.

لوګر: مولوي موسی جان، مولوي فضل احمد، مولوي محمد مير، شيخ الحديث مولوي محمدنعيم، مولوي محمد صادق، مولوي فرقاني، مولوي شهاب الدين دلاور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګرهار: مولوي عبدالقادر، مولوي قاري محمود شاه، قاري الهام الدين، مولوي عبدالرشيد، مولوي عبدالباقي، مولوي سيد رسول.

کنړ: شيخ عبدالقادر اسعد ابادي، مولوي نورجلال.

لغمان: مولوي سعيدالرحمن

هرات: مولوي خدای داد، مولوي جليل الله مولوي زاده، حسن وثيقي (داهل تشيع يوتن عالم)

فارياب: مولوي عبدالرحمن

بلخ: مولوي عبدالصمد

فراه: مولوي نجيب الله

کندوز: د ګجرو اخندزاده صيب

بغلان: مولوي محمد مسلم

باميان: مولوي محمداسلام

دا هغه نومونه دي چې زما په حافظه کې تر اوسه پاتې وو. په دې غونډه کې د هېواد د ټولو برخو جيدو او نامتو علماوو ګډون کړی و.

په جنوب کې د حکمتيار له پلويانو سره بيا نښتې

په تېر ژمې کې د پکتيکا په ارګون او سروبي کي د حکمتيار له مهم قومندان خالد فاروقي سره جګړه وشوه. هغه ماتي وخوړه له هغه وروسته په پکتياکې د مولوي محمديونس خالص د اسلامي حزب قوماندان "پري ځدران" سره جګړه وشوه. هغه وتښتېد وسله او مهمات يې طالبانوته په لاس ورغلل. د طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو د ملابورجان په مشرۍ په ځائیو کې د سیاف د وسلو ډیپوګان او په سپینه شګه کې د حکمتیار مرکز او وسایل ترلاسه کړل. د حکمتیار او سیاف له مرکزونو ډېره زیاته اندازه وسله ترلاسه شوه، چې په غرونو کې ځای پر ځای شوې وه. له سپینې شګې د حکمتیار هغه د چاپ ماشین هم ترلاسه شو، چې حزب اسلامي غوښتل خپلې افغانۍ کرنسۍ پرې چاپ کړي، ځکه دا وخت دوه ډوله نورې افغانۍ هم چلېدې، چې یو د رباني د رژیم له خوا روسیه کې چاپېدې اوبل یې د دوستم له خوا چاپېدې چې جنبشي پیسې بلل کیدې، نو ځکه حکمتیار هم غوښتل خپلې جعلي پیسې چاپ کړي.

د کابل د نېولو لپاره د ملابورجان اخند ستراتیژي خورا بریالۍ وه. نوموړي دښمن په خورا پراخه سیمه کې په جګړه کې ښکېل کړ، په پای کې یې دې ته وادار کړ چې په هر استقامت شکست ومني. هغه خپله د پکتیا له مرکز ګردېز څخه حرکت پیل کړ. د میرزکه او ځائي احمدخیل ولسوالۍ یې تصفیه کړې چې تردې مهاله د سیاف او حکمتیار د کسانو په لاس کې وې. ورپسې یې ځائي اریوب او سپینه شګه ونیول او له هغه ځایه دلوګر په ازره او حصارک ورغلل.

د ملا بورجان په مشري ځواکونو د خپلو عملیاتو په پیل کې د پکتیا او خوست په هغو سرحدي او غرنیو سیمو کې چې د ښاغلي حکمتیار، سیاف او نورو تنظیمونو وړو یاغي قوماندانانو پرېښودې وې، تصفیوي عملیات وکړل چې له امله یې په پراخه کچه وسله او مهمات ترلاسه کړل. د دولت او حکمتیار ترمینځ د پاکستان د جماعت اسلامي د مشر قاضي حسین احمد په مینځګړتوب مذاکرت پیل شول چې د می په میاشت کې د غو مذاکراتو رنګ راوړ او د می د میاشتې په په ۲۴مه د رباني حکومت او حکمتیار ترمینځ د ګډ حکومت او اتحاد تړون لاسلیک شو. له څلور کاله مخالفته او د لسګونو زرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

افرادو له وژولو وروسته ښاغلي حکمتیار یو ځل بیا د رباني تر مشرۍ لاندې حکومت کې د ګډون فیصله وکړه.

حکمتیار مخ پر کابل، طالبان مخ پرننګرهار

۱۹۹٦ کال د می د میاشتې په ۲۴مه د پاکستان د جماعت اسلامي د ګوند مشر قاضي حسین احمد په مینځګړتوب د حکمتیار او رباني ترمینځ د روغې او د طالبانو پر ضد د اتحاد ټرون امضاء شو. حکمتیار ته پرته له کومه امتیازه هم هغه زړه دنده ورکول شوه چې هغه اول نه وه منلې او په مخالفت کې یې نږدې دري کاله له مسعود سره خونړۍ جګړې وکړې چې تقریبا د کابل ښارپنځوس زره عام ښاریان په کې قربانیان شول. دا مهال ببرته هم هغه مسعود ته ځلور کاله وروسته کابل ته ور روان شو، په دا سې حال کې چې رباني یې د واکدار جمهور رییس او مسعود یې د دفاع وزیر په توګه ومنل.

د جون د میاشتې په ۲٦مه حکمتیار د موټرو په یوه ستر کاروان کې د سروبي له لارې کابل ته روان شو، چې پلویانو یې تر کابله فاتحانه شعارونه ورکول. د کابل په دولتي هوټلونو کې څو هفتې د حزب د مېلمه کاروان مسافرو اړولي وو. د جولای د میاشتې په لومړیو کې حکمتیا رته د منل شویو څو وزارتونو وزیرانو د وزارت لوړې وکړې.

دا وخت د مشرقي شورا په مشرۍ د ننګرهار له والي حاجي عبدالقدیرسره د رباني حکومت خبرې روانې وي چې له مرکزي دولت سره یو ځای شي او د طالبانو پر ضد د کابل او نږدې ولایتونو دفاع وکړي. دا وخت د کابل په دوو مهمو دروازو کې -د لوګر له پلوه چاراسیاب او د میدان وردګو له طرفه د میدان ښار په حدودو کې د طالبانو نظامي ځواکونه ځای پرځای وو، خو یواځینۍ لار د کابل-جلال اباد وه چې د رباني او حکمتیار له اتحاده وروسته تر سروبي پورې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت سره وه. په سروبي کې د حزب اسلامي قوماندان زرداد و او بيا تر جلال اباده لويه لاره له مشرقي شورا سره وه.

طالبانو د ملا بورجان په مشرۍ د جنوبي سيمو له تصفيې وروسته مشرقي سيمو ته پام واړاوه. دا وخت له يوې خوا د حکمتيار او مسعود له اتحاده وروسته له سروبي نه تر ننګرهاره سيمه د دولت اکمالاتي او سترتيژيکه سيمه شوه، له بله پلوه د مشرقي ځينې قوماندانان له دولت سره په تماس کې وو، خو ځينې مهم قوماندانان بيا له طالبانو سره په تماس کې وو او ننګرهار ته يې نه يوازې د طالبانو پټ هرکلی کاوه، بلکې د مرستې ډاډ يې هم ورکاوه، ځکه هغوی هم د ننګرهار او ټول مشرقي له يو درجن پاچاهيو او بدمعاشيو تر پوزې راغلي وو.

طالبان له يوې خوا له مشرقي نه په وېره کې وو او له بلې خوا د کابل د محاصرې لپاره مشرقي لور ته پرمختګ ورته اړين ښکارېده. په لوګر کې د ملابورجان په مشرۍ د جلال اباد لپاره لښکر تيار شو او د حاجي قدير او ملګرو له خوا زرکسيزه ځواک حصارک کې د دې لپاره ځای پرځای شو چې د لوګر له ازرې د ورتلونکو طالبانو سره جګړه وکړي.

دا وخت د حاجي قدير کورنۍ پر مولوي محمد يونس خالص زور راوړ، چې پر طالبانو له خپل جهادي نفوذه کار واخلي، چې د ننګرهار خوا ته رانه شي. مولوي صيب ته يې دا ذهنيت ورکړی و، چې که هغوی ننګرهار ته راشي نو ښار کې به زياته خونريزي وشي. بناء د ستمبر د مياشتې په نيمايي کې مورِ کندهار کې وو، چې د ملا محمد عمر دفتر ته د مولوي محمديونس خالص مرحوم ليک راغي چې ليکلي يې وو، که د ننګرهار پر لور طالبان پرمختګ وکړي، د ناوړه عواقبو مسئوليت به يې پر خپله غاړه وي، خو مشرتابه پوهېده چې دا د حاجي قدير او دين محمد فرمايش دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو بیا وروسته څرګنده شوه چې مرحوم مولوي خالص د خپلو دوو مشاورینو په واسطه طالبانو ته ننګرهار ته د ورتللو دعوت ورکړی و.

طالبان د لوګر له خوا د ملا بورجان په مشرۍ د ازرې په سیمه کې حصارک ته خپل ستر پوځي کاروان په محتاط ډول روان کړ. شپه پر لار په دوهمه ورځ په حصارک کې د ننګرهار له منتظره زرکسیزې قطعې سره مخ شول.خو د قطعي مشر له طالبانو سره په اړیکه کې و، طالبانو ته یې لاره ورکړه. د ستمبر په ۱۰مه د مشرقي شورا د قوماندانانو د موټرو یو لوی قطار د تورخم او جلال اباد ترمینځ د قوماندان شمالی خان د ورور "منجي " له خوا په دا سي حال کې تر برید لاندې راغی، چې تورخم ته روان وو، منجي او ډلې یو ناڅاپه برید پرې وکړ او په بې رحمانه ډول یې شهیدان کړل. په دې کې د انجینر محمود او سازنور په ګډون یو شمېر قوماندانان او د هغوی افراد وو، چې له طالبانو سره یې لا له وړاندې اړیکه وه. له بریده وروسته منجي پاکستان ته وتښتېد.

له پکتیا نه د طاالبانو دغه فاتحانه عملیات د ملا بورجان په جنګي قومانده او د ملا محمد رباني په طرحه اوپلان ترجلال اباده پرمخ روان و، دلته هم د هرات د فتح په څیر ملا محمد رباني د جنګي پلان ګذاري اصلي طراح و. ملابورجان د کاروان په مخکې د قومندان په حیث خو ملارباني د کاروان ترشا د نظم، ظبط او اکمال چارې پرمخ وړلې او د هر نوي برید د پلان طرح هم د ده په هدایت جوړیده.

طالبان د ستمبرپه ۱۱مه د جلال اباد ښار ته ننوتل. د جلال اباد ښار له هر ډول جنګ جګړې پرته په ارامه د طالبانو تر واک لاندې راغی. د طالبانو لښکرې د کونړ او لغمان مرکزونو ته پسې وخوځیدې، هلته هم مقاومت ونه شو. خلکو طالبان استقبال کړل او طالبانو هر وسلّه‌وال د وسلې له تسلمولو وروسته وبانبه، خو وسله عامو او کشرانو طالبانو ته خورا مهمه وه. کنړ ته په ننوتلو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کونړ د اسعد اباد ښار په مینځ کې قومندان ملک زرین د دوو بې ړیرو هلکانو مینځ کې روان و. پر اوږه یې روسي کیرینکوف (کلاشنکوف ته ورته روسۍ وسله) و. یو ځوانکي طالب ته یې ملګري ورغړ کړ. محمدانشا! هغه ده، هغه ټوپک چې ستا خوښېده! د ټوپکي قوماندان غاړه کې ده. دغه زلمۍ طالب پر ځان پوه نه شو او پر ملک زرین یې ورټوپ کړل اوله غاړې نه یې په یوه برید ټوپک وویست. د قوماندان بې ړیرې ماشومان هم له وېرې وتښتېدل. د ملک صیب مودې خراب شو او ملابورجان ته په شکایت راغی. ملا بورجان ځوانکي طالب ته وویل "کیرینکوف" ښېرته راکه په مقابل کې یې پیسې واخله. طالب امر ومانه خو پیسې یې قبولې نه کړې او په مروره لهجه یې وویل دا مې خپل غنیمت و. په اخیرت به یې پوښتنه کوم.

قافله روانه شوه خو چې سبا طالبان له لغمانه د سروبي پر لور کوزېدل. ملا بورجان کاروان ودراوه. او په موټرو ګرځېده چې هغه طالب پیدا کړي چې پرون یې د قیامت اخطار ورکړی و. اخیر یې طالب پیدا کړ. ورته ویې ویل ستا خبره خو ماته ګورم (اندېښنه) اچولای، وایه په څه مي بښې؟ همدا ټوپک بل در پیداکړم او که که نقدي تاوان؟ طالب خجالت شو ورته ویې ویل، دا تاسو چې ما پسې راغلئ دا زما لپاره هر څه دي ما دربښلی.

د ننګرهار له نیولو وروسته په کندهار کې د مشرتابه دفتر د ننګرهار لپاره د والي په توګه د مولوي محمد طاهر انوري په نوم مکتوب تیار کړ، خو طاهر انوري چې په حاجي مدیر یې شهرت درلود، د دې کار له قبلولو انکار وکړ او دلیل یې دا وایه چې دا یوه پیچیده دنده ده، دی یې وړتیا نه لري. ملا محمد عمر په غوسه شو چې زه دې وړ ګڼم او د امیر په حیث امر درته کوم، انوري وویل په دې ځایي کې ما معذور وګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي محمد طاهر انوري د پکتيا د زرمت اوسېدونکي و او له شهيد مولوي نصرالله منصور سره نږدې پاتې شوی و. کله چې مولوي نصرالله منصور د پکتيا والي و دا وخت انوري د ګارنيزون مدير و، چې له همدې امله په طالبانو کې په مديرصيب مشهور و. انوري زاهد او عابد سړی و، ساده لباس او ژوند يې خوښاوه. له واکمنۍ اومسوليت سره يې نه لګېده، خو بيا هم د کابل له نيولو وروسته د مشر په تاکيد د اداره امور مشر شو. له هغه وروسته د څه وخت لپاره د مالیې وزير و او اخير کې د پلان وزير شو. انوري له علمي استعداد سره سره په اداري کارونو کې پوهه او تجربه هم لرله.

د طاهر انوري له انکار اوعذر غوښتلو وروسته د لوګر والي مولوي عبدالکبير د ننګرهار د والي په توګه غوره شو. او لوګر کې مولوي عبدالحکيم والي وټاکل شو، چې بيا وروسته مولوي عبدالکبير د ننګرهار د والي ترڅنګ د ختيځ زون تنظيمه رييس هم شو او اخير کې د امارت تر سقوطه د ننګرهار والي، ختيځ زون تنظيمه رييس او وزيرانو شورا مرستيال پاتې شو چې له ملا محمد عمر نه وروسته په مقتدر ترينو چارواکو کې راته او ملا محمد عمر ته ډېر زيات باوري و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیم څپرکی

د کابل فتح۲٦ستمبر

د لغمان په دوه لارې سرخکان کې د حزب او شورای نظار د متحدو ځواکونو له ماتې وروسته، طالبان د ملابورجان په مشرۍ له لغمانه د سروبي لور ته لاړل. پر سروبې د عملیاتو له پیل سره د طالبانو ستر پوځي قوماندان ملابورجان د متحدو قواوو د یوه ۸۲ملي متري توپ په ګولۍ ولګېد او شهید شو. طالبان د دې لپاره چې دښمن مورال پیدا نه کړي د ملابورجان د شهادت خبر یې له عامه خپراوي او میډیا نه د کابل تر نیولو پورې پټ وساته. ملا محمد عمر د ملابورجان پرشهادت دومره ودردید چې دکابل لور ته پرمختګ یې هم دغه خپګان کم نکړای شو، دا له ملا محمد اخوند نه وروسته دوهم ستر قوماندان و چې مرګ یې پرملا محمد عمر ډیر دروند و.

دا وخت چې طالبان له څلورو لوریو کابل ته ګوابنې شول، د مسعود او حکمتیار متحدو قواوو سخت روحیات له لاسه ورکړل. طالبان د میدان‌ښار له لوري پر کابل برید ته له وړاندې لا تیار وو. همداراز د چاراسیاب له لوري، ورسره د ازرې له خوا د کابل لور ته څه قوه روانه شوه. په سروبې کې متحدو قواوو له پرله‌پسې سخت مقاومت نه وروسته پښې ټینګې نه کړای شوای او ۲۵م ستمبر یعنې د جلال اباد له نیولوڅوارلس ورځې وروسته د سروبي ولسوالۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو تر واک لاندې راغله. له متحدو قواوو زیات شمېر وسله اوعرادەجات پاتې شول. دې سره پر کابل له څلورو خواوو عملیات پیل شول. د مسعود ځواکونو د طالبانو د یوې میاشتې پرلەپسې پرمختګونو له امله د جنګ روحیه بایللې وه. مسلسل تعرض د مسعود تاکتیکي هنر ګډوډ کړ او د نوي پلان جوړولو فرصت یې نه شو موندلای.

د طالبانو لښکرې د نویو پرلپسې پرمختګونو او د وینو له بهېدو پرته د درېوو مشرقي ولایاتو فتحو په رواني لحاظ پر ځان باوري کړي وو. د سیمې د خلکو پراخ ملاتړ او په کابل کې د عامو خلکو هرکلي، د مسعود او متحدانو روحیات نورهم وځپل. پر کابل له څلور اړخیزو پرلەپسې بریدونو نه وروسته چې د ستمبر له ۲۵مه پیل شو او د۲٦م تر مانبامه په پرلەپسې ډول روان وو، مسعود او پلویانو یې په نښار کې د نور مقاومت چانس کم وګانه او د ۲٦ م ستمبر په شپه کې یې خپل پوځي قطعات د شمال لور ته له کابله ویستل. دغه تېښته کې د هغوی مسئولین او قوماندانان په ډېره وارخطایۍ له کابله وتښتېدل چې د سیمې د خلکو له قوله ډېرو یې په پنچرو ټایرونو او لغړو ویلانو موټرونه زغلول.

د کابل په شمالي کې ځینې ځایي خلکو له کابل نه تښتېدونکو پنجشیریانو ته لاره نیوله او د هغوی کورنۍ یې لوټلې. مسعود او قوماندانان یې لومړی وتلي وو. سیاف، حکمتیار او رباني وروسته وتلي وو، چې بیا په پنجشیر دره کې سره یو ځای شوي وو. کله چې طالبان د پنجشیر خولې ته ورسېدل نو رباني، حکمتیار او یو شمېر نور زاړه چارواکي تاجکستان ته لاړل.

د ستمبر په۲٦ مه نیمه شپه کې طالبان کابل ته د ننه شول او د ۲۷م په سهار یې نجیب له وژلو وروسته پر اریانا چوک را ځوړند کړ.د کابل نښاریانو له اوږدو جګړو وروسته په لومړي ځل د کابل فضا ارامه احساس کړه، چې له همدې امله یې طالبانو ته خوشحالي کوله او د نښار په ځینې برخو کې خلګو پر طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلونه وشيندل. د نجيب د وژلو مشوره کابل ته تر داخلېدو وړاندې شوې وه چې ملاعبدالرزاق، ملا يارانه، عبدالسلام راکټي او يو شمېر نور قوماندانان په دې مشوره کې وو. دوی فکر کاوه که نجيب پربېردي، ښايي نړۍوال اوسيمهييز فشارونه يې تر ې وژغوري، چې دا به د ملت د يو ستر قاتل ژغورل وي.طالبانو د نجيب په اړه دا دريځ لاره چې هغه د پردي يرغل په چوپړ کې د خاد درئيس په توګه لسګونه زره مسلمان افغانان په خپله خوښه او پريکړه وژلې چې له امله يې هغه د مسلمان ملت يو بربنډ قاتل دی، کنه طالبانو د خپل تحريک په دښمني اسيران نه اعدامول. تورن اسماعيل خان په مخامخ جګړه کې تر زرو تنو زيات طالبان وژلي وو، خو طالبانو د اسارت پروخت کله هم د هغه د اعدام او مرګ اراده نه دې کړې، بلکې تر دريو کالو د طالبانو په زندان کې هغه په موقت ډول اسير و، ځکه چې اسماعيل د طالبانو مخالف و، خو ملي قاتل نه و!

طالبانو په کابل کې د ملګرو ملتونو له دفتره د نجيب د راوستلو لپاره طالبان موظف کړل. نجيب يې را وويست، لاره کې يې په توپانچه باندې وواژه او بيا يې پر اريانا څلورلارې ځوړند کړ.

د کابل سوبه، د طالب واکمني او نړۍوال غبرګونونه

د کابل له نيولو يوه ورځ وروسته د ملا محمد عمر له خوا د کابل واک د ملا محمد رباني په مشري شپږ کسيزې شورا ته وسپارل شو چې په دې کې ملا محمدحسن، ملاعبدالرزاق، سيدغياث الدين اغا، ملا محمدغوث اوملا عبيدالله وو.

ملا محمد رباني د نوې اداري د مشر په توګه په کابل کې د لومړي مطبوعاتي غونډې په وړاندې په لنډ ډول د خپل نظام پاليسي اعلان کړه. په دې کې د مکمل اسلامي نظام نفاذ، په نړۍ کې د افغانستان له سفارتونو او کونسلګريو د پخواني رژيم سفيران شړل، د ځان او وسلې د سپارلو په صورت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفینو ته عمومي بښنه، د عمومي لارو خلاصول، د نجیب او ورور د اعدام دفاع، ظاهر شاه ته د یوه افغان په توګه د راتلو هرکلی، له دوستم سره د سولهییزو خبرو اعلان او دې ته ورته خبرې وې.

دوه ورځې وروسته اکثر هغه رئیسان چې په کندهار کې وو کابل ته د سرپرستو وزیرانو په توګه واستول شول او د خپلو ادارو بندې دروازې یې پرانیستې.

د کندهار د اطلاعاتو اوکلتور رئیس ملا امیرخان متقي د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر په توګه. په کندهار کې د خارجه ارتباط مسئول ملا محمد غوث د خارجه وزارت سرپرست په توګه. د کندهار ولایت اداري رئیس مولوي محمد طاهر انوري د چارو د اداري د مشر په توګه. د کندهار د اوقافو رئیس مولوي عبدالشکور د اوقافو د سرپرست وزیر په توګه. د کندهار د مخابراتو رییس ملا الله داد د مخابراتو د سرپرست وزیر په توګه. د کندهار د قول اردو قوماندان ملا عبیدالله د دفاع د سرپرست وزیر په توګه. دعالي تحصیلاتو رئیس مولوي حمدالله نعماني د لوړو زدکړو د سرپرست وزیر په توګه. د کندهار د استخباراتو رئیس ملا خاکسار د استخباراتو د سرپرست وزیر په توګه، خو د وخت په تېرېدو نوي بدلونه راغلل او په ډېرو وزارتونو او معینیتونو کې نوي کسان مقررشول. لکه قاري احمدالله (غزني) داخله وزیر، مولوي محمد طاهر انوري (پکتیا) مالیه وزیر، قاري دین محمد حنیف (بدخشان) د پلان وزیر، مولوي عبدالرقیب (تخار) د مهاجرینو وزیر، مولوي عبدالباقي (ننګرهار) د شهیدانو اومعلولینو وزیر، مولوي رستم (لغمان) د شهرسازۍ وزیر،مخدوم عبدالسلام (بدخشان) دکار او اجتماعي امورو وزیر، بوکس وهونکي عبدالشکور مطمئن (کابل پغمان) د اولمپیک د عمومي کمیټې رئیس او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول کې عامه روحیه دا وه چې دا واړه وزیران موقتي او سرپرست دي. د هېواد له مکمل کنټرول نه وروسته به وزیران د نوې اداري د پالیسۍ له مخې ټاکل کیږي، چې په هغو کې به د طالب غورځنګ پخوانی غړیتوب شرط نه وي. وروسته د داخلي جګړې اوږدوالي او نړۍوالو ستونزو دا امکانات کم کړل.

ملا محمد رباني د سرپرستو وزیرانو د شورا مشر و، چې د سرپرستې شورا مشر به یې باله. د طالبانو نوې سرپرسته کابینه ټوله له طالبانو جوړه وه، خو مرستیالان، مشاورین او اداري چارواکي او مامورین یې اکثره د زاړه نظامونو مسلکي خلک ورسره مقرر کړل. له همدې امله هغوی ته اداري او مسلکي ستونزې ډېرې نه پېښېدې.

د کابل له نیولو سره د سیمې او نړۍ نېغ نظر د هېواد نوي حکومت ته واوښت. په رسنیو کې خپاره شوي ځینې مهم نړۍوال او سیمهییز غبرګونونه په لاندې ډول وو:

د کابل د نیولو په لومړۍ ورځ د روسیې د بهرنیو چارو وزارت اعلامیه خپره کړه. په اعلامیه کې راغلي وو چې د کابل سقوط د افغانستان مسئله نوره هم پېچلې کړه، ملګري ملتونه دي طالبان یوه پراخ بنسټه حکومت ته وهڅوي.

د کابل د فتحې په دوهمه ورځ د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ویاند له ویس اف امریکا سره په مرکې کې وویل: واشنګټن د نجیب په دارول د خوابښیني وړ عمل ګڼي. طالبان دې د ملي روغې جوړې لار خپله کړي. دوی دې د مخدره موادو د قاچاق او د وران کارو د ټریننګ د مرکزونو مخنیوی وکړي. د رسمیت پېژندلو خبره لا تر وخت مخکې ده، خو امریکا دا فغانستان په بیا ودانولو کې مرستو ته ژمنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدې ورځ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په یوه خپره شوې اعلامیه کې د نجیب اعدام غندل شوی و او د جنګ له دواړو غاړو نه د جګړې پر ځای د خبرو غوښتنه شوې وه او له نورو هېوادونو یې د افغانستان په چارو کې د نه مداخلې غوښتنه کړې وه.

په همدې ورځ د بښنې نړیوال سازمان (ایمنسټي انټرنیشنل) د نجیب وژل په یوه اعلامیه کې وغندل.

تاجکستان، ازبکستان او قازاقستان د طالبانو واکمني د تشویش وړ وګڼله. ترکمنستان بې لوري دریځ اعلان کړ او طالبان یې د خپل هېواد لپاره بې خطره وګڼل. ترکیې د بې طرفه دریځ له نیولو سره سره د طالبانو او مخالفینو ترمینځ د سوله‌ییزو خبرو د کوربه‌توب وړاندیزهم وکړ.

ایران د طالبانو راتګ او واکمني په سختو الفاظو وغندله. پاکستان مثبت دریځ اعلان کړ او ترځنګ یې د طالبانو او مخالفینو د روغې ملاتړ او همکاري هم اعلان کړه. سعودي عربستان او خلیجي هېوادونو پاکستان ته ورته دریځ درلود. د پاکستان اکثرو مهمو اشخاصو د خپل حکومت د دریځ ملاتړ وکړ. مولانا فضل الرحمن د پاکستان له حکومته د طالبانو د حکومت د رسمیت پېژندلو غوښتنه وکړه. هغه د پاکستان جنګ ورځپاڼې ته وویل که امریکا د طالبانو د حکومت په مخ کې خندۍ جوړ کړي، د ټولې اسلامي نړۍ اسلامي غورځنګونه به د امریکا پر ضد لاس یو کړي. د جماعت اسلامي مشر قاضي حسین احمد سوړ غبرګون وښود او په طالبانو یې نیوکې وکړې، چې ښایي له رباني او حکمتیار سره د دوستانه اړیکو له امله وې.

د افغانستان په جهادي مشرانو کې مولوي محمدنبي محمدي او مولوي محمد یونس خالص د نجیب د اعدام هرکلی وکړ او پر ولس یې د طالبانو د اسلامي حکومت د ملاتړ غږ وکړ. پیر سیداحمد ګیلاني د نجیب مرګ سم وګاڼه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاته یې کړه چې باید له محکمې وروسته اعدام شوی وای. ښاغلي ګیلانی وویل طالبان د ولس په مرسته واک ته ورسېدل اوس باید د ملګرو ملتو په مرسته یوه ممثله جرګه را وغواړي.

حکمتیار د اکتوبر په څلورمه له امریکا غږ سره په مرکه کې وویل طالبان د انګرېز غلامان دي او د امریکا خلک دي. مورږ له دوی سره په کابل کې سم جنګ نه دی کړی، مورږ به هغوی ډېر ژر له کابله وشړو.

د اکتوبر په لسمه پخواني واکمن برهان الدین رباني د تخار له مرکز تالقان نه له بي بي سي پښتو سره په مرکه کې طالبان د پاکستان لاس پوڅې وګڼل او دعوه یې وکړه چې که زه په واک پاتې وای، ما به عام انتخابات تر سره کړي وای. په داسې حال کې چې رباني د اهل الحل والعقد په نامه له یوې مصنوعي شورا د دایمي مشرتوب جواز پیدا کړی و او د واک پرېښودو کومه سوله‌ییزه اراده یې نه لرله.

د کابل شمال ته د طالبانو تېز پرمختګ

د کابل نیولو نه یو ورځ وروسته طالبان په پروان کې له مخالفینو سره مخ شول. له لنډې جګړې وروسته هغوی پنجشېر ته وتښتېدل. د ستمبر په دېرشمه طالبانو د جبل السراج په ګډون د سالنګ تر تونله ټوله سیمه تر واک لاندې راوسته او د ګلبهار بازار له نیولو وروسته د پنجشېر درې خولې ته ورسېدل. دا وخت طالبانو پنجشېر ته د ننوتلو پر ځای د سالنګ طرف ته توجه وکړه چې د بغلان، پلخمري، کندوز او تخار لور ته پرمختګ وکړي. د سالنګ ها غاړې ته د دوستم ځواکونه پراته وو. طالبانو هغوی ته خبر ورکړ چې مورږ ته لار راکړئ، خو هغوی لار ورنه کړه او طالبانو نه غوښتل له دوستم سره جګړه پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په همدې ورځ طالبانو د پنجشېر لور ته پرمختګ روان ساتلای وای، نو نېایي د مسعود مورال بایللي جنګیالي نه وای ټینګ شوي. د وخت په تېرېدو مسعود له یوې خوا د پنجشېر درې خوله په سترو کانیو بنده کړه چې له غره یې را رغړولي وو او د طالبانو موټرو نه شوای کولای چې درې ته ننوځي. بل پلو یې د کابل په شمالي کې د طالبانو پر ضد چریکي جګړه ترتیب کړه چې د خلکو له کورونو، باغونو او فصلونو د طالبانو پر روانو کارانونو یو ناڅاپه بریدونه وکړي او د هغوی ترمینځ د وصل په له مینځه وړلو د هغوی لوی شمېر محاصره کړي.

د اکتوبر په پینځمه طالبان د پنجشېر درې ته دننه شول خو وړاندې لار د عبور قابله نه وه او مسعود په ځان پورې بنده کړې وه. د غرونو له سرونو د مسعود د جنګالیو له خوا د سترو وسلو ګذارونه هم روان وو، له دې سره سره بیا هم طالبانو په هرحال درې ته ننوتل غوښتل.

د مسعود سرګروپانو په شمالي کې د جبل السراج او ورسره سیمو کې د طالبانوله غفلته په استفادې د اکتوبر په اتمه ناڅاپي بریدونه پیل کړل. طالبان په سیمه او اراضي کې نابلده وو او دغسی عمل یې نه وو اټکل کړی، نو ځکه یې قواوې دوه ځایه شوې او ترمینځ یې د مسعود وسله‌وال ننوتل، چې د خلکو له باغونو او کورونو یې زیات شمېر طالبان په نښه کړل. طالبانو په مقابلو ډزو کې کورونه نه شوای په نښه کولای. ډېر طالبان ټپیان او لوی شمیر ژوندي د مسعود ځواکونو ته په لاس ورغلل. د وخت په تېرېدو د مسعود د پلویانو له خوا د طالبانو له ساده رویې نه ګټه پورته شوه او د شمالي په خلکو کې د قومي تعصب تبلیغ وشو. رنګارنګ تبلیغاتو دغه سیمه د طالبانو پر ضد مسعودته نږدې کړه. په داسې حال کې چې د کابل شمالي سیمه کې تر پنجشېره پراته خلک له دې نه وړاندې د جهاد په وخت د مسعود د ډېرو مخالفو قوماندانو پلویان وو او مسعود په کې ډېر کم نفوذ درلود، آن چې له کابله د مسعود له

(c) ketabton.com: The Digital Library

تښتېدونکو پلویانو نه د شمالي خلکو موټرې او مالونه په زور ګرځول. تر ټولو بده دا چې له زنانهوو یې په زور زېورات خلاصول، خو اوس دلته یوه دستوري قومي نغاره غږول شوې وه. د خلکو ذهنیت سرچپه و. په مقابل کې طالبانو د هیڅ مثبت تبلیغ او ذهن سازۍ هڅه ونه کړه او دوی فکر کاوه چې د دې سیمې خلک به هم د نور افغانستان په څېر زمور له عملي کړو وړو مور وپېژني او هرکلی به مو وکړي.

دلته دومره دعوت او سپیناوي ته اړتیا وه چې د خلکو زړه ته لوېدلې وای چې طالب رښتیاهم په کوم قوم پورې اړه نه لري او نه قومي تعصب ته اهمیت ورکوي. د دې سیمې مجاهدین او علماء یې مخ ته کړي وای، بلکې د سیمې واک یې هغوی ته پرېښی وای.

وروسته ورو ورو حالات دومره خراب شول چې بار بار د خلکو له باغونو او کورونو بریدونو طالبان هم د سیمې پر خلکو بدګمانه کړل او په څو میاشتو کې څو ځله دغې سیمې د مسعود او طالبانو ترمینځ تبادله شوې. د جګړې کټلو جذبې طالبان د باغونو سوځولو او د ځینې سیمو د خلکو جبري جلا وطنۍ ته اړ کړل چې دا نو بیا یو ناورین او شرماوره معضله وګرځېده.

د شوروي ضد جهاد په دوران کې د نور افغانستان په څیر په دغه سیمه کې هم د ژبې او قوم تعصب نه و، د دې سیمې خلکو په ډیره میړانه او متانت جهاد وکړ او د کابل کمونیستي رژیم یې په خپلو ګذارونو لړزولی و.د پنشیر له څنډو د کابل ښار تر دروازو جنګیدونکي زړور او مشهور قوماندانان او جهادي څیرې هغه تاجکان وو چې د مسعود مخالف وو او اکثره یې د حکمتیار په مشري له اسلامي حزب سره تړلي وو لکه: د سالنګ صوفي پاینده، استاد صبور فرید، د پروان استاد فتح محمد، د جبل سراج انجینر طارق، د پروان الماس، د قرباغ کریم، د کلکان حاجي داود، د کلکان صوفي نعیم، د میربچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوټ حاجي قادر او داسې نور... دا ټول تاجکان وو او د حکمتیار په مشري حزب اسلامي سره یې اړه لرله. د دې په مقابل کې ډیر پښتانه قوماندانان د رباني په مشري جمعیت اسلامي سره وو لکه: د شکر درې انور ډنګر، د فرزې صوفي رسول، د قرباغ قاري محب او د پروان قوماندان شاهین. دا ټول پښتانه قوماندانان وو خو له جمعیته سره ول. احمدشاه مسعود په دې سیمه کې د قومي تعصب زیږون د ځان ضرورت ګانړه او د دې لپاره یې په لوی لاس کوشش وکړ چې د دې سیمې خلکوته د طالبانو لخوا زیان واوړي ترڅو په قومي تعصب له ده سره ودریږی، په مقابل کې طالبانو دغه نزاکتونه درک نکړای شول او د سیمې د خلکو په وړاندي یې له نامشروع جرائت نه کار واخیست، چې د خالق او مخلوق دواړو د ناراضي سبب شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کورنیو لېږدول او د باغونو سوځول

د کابل په شمال کې څو ځله طالبانو د پنجشېر تر درې پرمختګ وکړ. ولې بېرته د کورونو او باغونو له مینځه پرې یو ناڅاپي بریدونه پیل شول چې له املې یې نیم محاصره او نیم شاته راغلل. په دې ډول طالبان څو ځله له درنو تلفاتو سره مخ شول.

کله چې پوځي قوماندانانو او د دفاع وزارت مشر ملا محمد عمر ته وړاندیز وکړ چې د دې سیمو ډېر خلک د مسعود په پلوۍ کې له باغونو پر مورچلونو حملې کوي، مورچلونه اجازه راکړئ چې هغه یو شمېر باغونه چې لویې لارې ته نږدې دي او دښمن زمورچلونو پر ضد ورنه د سنګر کار اخلي له مینځه یوسو. مشرتابه ورته ځواب کې وویل چې زه امر نه شم درکولای، خو که علما جواز درکوي نو بیا مو زه نه منع کوم.

خبره د سترې محکمې دارالافتاء او د علماوو شورا ته لاړه. هغوی مشروطه اجازه ورکړه چې که له کومه باغه رښتیا د زیاتو تلفاتو خطر یقیني وي او تاسو پرې شاهدي ولرئ نو له مینځه یې وړلای شئ. دا فتوا هم د سترې محکمې له مشرتابه او یو څو نورو علماوو پرته، د اکثرو علماوو له خوا تایید شوې نه وه. دفاع وزارت ته نو همدومره اجازه په کار وه، نور یې پیل پرې وکړ، خو د شمالي پر جنګې کرښه دا وخت ځینې داسې طالب مشران او قوماندانان هم وو، چې د دې کار مخالفت یې کاوه. لکه د ختیځ زون مشر او د ننګرهار والي، مولوي عبدالکبیر چې بیا وروسته د وزیرانو شوری مرستیال هم شو. مولوي عبدالکبیر چې له مشرقي زون نه یې له ځانه سره دوه زره جنګیالي د کابل شمال ته د جګړې لپاره راوستي وو. د دفاع وزارت له دې اقدام سره یې مخالفت وکړ.هغه کندهار ته لاړ او ملا محمد عمر ته یې وویل چې د باغونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوځولو اوخلکو د شړلو حکم ستا له خوا دی؟ مشر ورته وویل چې نه! ما یواځې ملاعبیدالله ته دومره اجازه ورکړې چې له علماوو فتوا وغواړي. مولوي عبدالکبیر ورته وویل: نو بیا خو زه مکلف نه یم، ملا محمد عمر ورته وویل چې زما امر نه دی، که درته درست نه ښکاري مه یې کوه!

همدا و چې مولوي عبدالکبیر خپل کسان منع کړل او له دې وېرې چې کسان یې د چا د باغ انګور ونه خوري، خپلو جنګالیو ته یې د ملا محمد عمر په اجازه د یوه ستر باغ حاصلات د شپږو یا اوو زرو ډالرو معادل افغانیو په بدل کې واخیستل چې جنګیالي یې له همدې باغه انګور وخوري.

د باغونو او ځینې کورونو سوځول داسې فاجعه وه چې نه یواځې په دې سیمه کې یې طالبانو ته پرمختګ سخت کړ، بلکې مخالفینو ته یې ډېره تبلیغاتي او پوځي مرسته ورسوله، د سیمې خلک په دې اعمالو نور هم د طالبانو پر ضد شول.

تر ټولو بده یې دا چې د طالبانو غوندې یو ولس منلي غورځنګ په لومړي ځل د عامو خلکو د شتمنۍ او عامه ژوند په وړاندې دومره ستر جرئت وکړ، چې عامو خلکو ته په کې په ډېره ناوړه توګه دروند مالي زیان واوښت.

د کورنیو د انتقال پروسه له دې نه هم لږزونکې وه. که څه هم طالبان د خلکو د عزت او دودیزو نزاکتونه په اړه د سخت دریځۍ تر بریده محافظه کار او محتاط وو، خو د کورنیو دا ډول انتقال په خپله د افغانانو په طبیعت کې یو ډول تحقیر امیزه او نادوده عمل و. له دې سره چې د یوه اسلامي غورځنګ له خوا دا یوه ښکاره ظلم و. تر شا یې ډېرو ناوړه تبلیغاتو ته هم لار هواره کړه چې په دې اړه به د طالبانو مخالف لوري ډول ډول زړه بوږنوونکې اوازې، فرضي کیسې او پروپاګند هم خپرول چې د طالبانو د سختې بدنامۍ سبب وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له شکه پرته چې دا د توجیه وړ عمل نه و چې له امله یې د تحریک په مینځ کې هم ډېر مخالفین لرل. د وخت په تېرېدو له یو څو پوځي قوماندانانو پرته نور ټول تحریک ورسره ښکاره مخالفت درلود، چې اخیر کې د چارواکو له مینځه یو شمېر مهمو خلکو ملا محمد عمر ته احتجاج وکړ. لکه ملا محمد رباني، مولوي عبدالکبیر، مولوي عبدالطیف منصور، ملا امیرخان حقاني،ملا محمد ګل نیازی، مولوي وکیل احمد متوکل.

کندهار ته د کابینې یو شمېر وزیرانو او پوځي قوماندانان بار بار سفرونه وکړل او له ملا محمد عمر سره یې دغه ناوړه صورت حال شریک کړ. ملا محمد عمر د دې کار اصلاح ته بډې را ووهلې او مثبت بدلونونه هم راغلل، خو دا وخت ډېر څه شوي وو. فضا او وضع دومره خرابه وه چې نور یې رغول د دوو- دریو کالو کار نه و او نه هم د دې سیمو په خلکو کې باور ترلاسه کول نور دومره اسانه وو.

له دوستم سره د جګړې پیل

د کابل له نیولو نږدې لس ورځې وروسته د اکتوبر په اوومه د مزارشریف په ښار کې د شړل شوي جمهور رئیس برهان الدین رباني او دوستم ترمینځ لیدنه وشوه او پر ایتلاف خبرې وشوې. د خبرو تر شا د ازبکستان، تاجکستان، روسیې او ایران هڅې وې، چې د طالبانو د واکمنۍ پر وړاندې درې باغي ډلې شورا نظار (جمعیت)، حزب وحدت او د دوستم ملېشه په درې ګوني جنګي ایتلاف بدل کړي. له دې ملاقات نه درې ورځې وروسته د مسعود، کریم خلیلي او دوستم ترمینځ د افغانستان د دفاع د شورا په نوم د یاغي ملېشو یو بل ایتلاف اعلان شو او د خنجان په ولسوالۍ کې په دې اړه په یوه غونډه کې درې واړو لورو یو تړون امضاء کړ. له دوی سره په پلخمري کې منصور نادري او په بغلان کې د حکمتیار پلوي قوماندان بشیر بغلاني هم ملاتړ اعلان کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکمتیار زوم غیرت بهیر مطبوعاتو ته وویل د دوی ګوند د خنجان د ټرون برخه نه و او نه وربلل شوی و، نو ځکه دوی د دې ایتلاف غړي نه دي.

د اکتوبر په دیارلسمه جنرال دوستم او رباني په سالنګ کې یوه بله غونډه وکړه چې سیاف او د حزب اسلامي مشرانو هم ورکې ګډون درلود. پر کابل د یرغل لپاره یې په ټولو سره نوی هوډ څرګند کړ. په همدې وخ د دې ټرون په مخالفت کې د مسعود درې تنه قوماندانان عبدالقادر، نثار احمد او محمد نظیر له مرکزي حکومت سره یوځای شول او طالبانو یې پراخ هرکلی وکړ.

له دې نه څو ورځې وروسته د دوستم ملېشې هم د کابل په شمال کې د طالبانو پر ضد جنګي کرښه جوړه کړه او د اکتوبر پرشپږویشتمه د دوستم جیټ الوتکو د طالبانو لومړۍ جنګي کرښې بمبارکړې. په سبا یې د بادغیس په بالامرغاب ولسوالۍ کې د طالبانو پوځي مرکزونه بمبارکړل. له دې سره دوستم په دواړو جبهو کې له طالبانو سره په جګړه کې کېووت.

د متحدې جبهې (دفاع شورا) په استازیتوب قوماندان مسعود طالبانوته خبرداری ورکړ چې کابل دې خوشې کړي، که نه په زور به یې ونیسي. همداراز یې د ملګرو ملتونو اداري ته وړاندیز وکړ چې کابل دې غیر نظامي شي او د طالبانو، دوستم ، حزب وحدت او شورای نظار قواوې دې کابل په ګډه اداره کړي. ډېرو کارپوهانو دا وړاندیز پر کابل د زړو جګړمارو ملېشو د دوبار ټپلو دسیسه وګڼله. ځکه چې دغه ډلې ټپلې تر طالبانو وړاندې تل پخپل مېنځ کې سره جنګیدلې وې او دوي کله هم یو باوري او رښتیني اتحاد نشوای کولای اونه یې په هیواد کې واحده اداره اونظام راوستلای شوای ،دوي یواځې د سخت مجبوریت پر وخت د طالب په وړاندې د نورو هیوادونو په منځکړتوب موقت اتحاد کاوه، خو خپل منځي رقابت به یې ترمینځ پاتي و، هغوي په جګړه کې هم یو پربل حتی پر خپلو افرادو باوري نه ول، چې کوم ښار به یې ونیو نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرانو تر راتګ وړاندې به يې وړو سرګروپانو او عامو افرادو د خلکو دوکانونه، کورونه او شتمنۍ لوټ کړې وه، لکه د جنرال ملک له تيښتې او د دوستم له دوهم ځل راتګ سره چې د مزار ښار د وحدت او متحدينو مليشو چور کړ.

طالبانو د کابل ښار د دفاع لپاره له لويې پکتيا نه د مولوي جلال الدين حقاني په مشرۍ او له لوی ننګرهاره د مولوي عبدالکبير په مشرۍ زرګونه جنګيالي د کابل د شمال جنګي کرښو ته راوستل او د ياغيانو يرغلونه يې پرشا وتمبول. دا وار يې بيا تر جبل السراج او ګل بهاره پورې ورسول، خو جنګي کرښې بيا تر پايه په يوه حال پاتې نه شوې.

تر دې مهاله طالبانو يواځې د رباني او متحدينو پر ضد د جګړې فتوا لرله، خو د دوستم له لوري د پرله‌پسې يرغلونو وروسته د اکتوبر په ډېرشمه د طالبانو د شورا او ديني علماوو له پرېکړې وروسته طالبانو رسما د دوستم پر ضد د جګړې اعلان وکړ.

له دې وروسته د دوستم له ملېشو سره د هېواد په لويديځ شرقي ولاياتو غور، بادغيس او فارياب کې د طالبانو مخامخ جګړې وې. ان چې د جنرال عبدالمالک له خوا پر دوستم کودتا وشوه او دوستم له هېواده وتښتېد، خو د مالک له بېرته ماتې او دوستم له دوباره بري وروسته بيا د شمال تر ورستۍ فتحې له دوستم سره خونړۍ جګړې وشوې.

له دوستم سره له جګړې وروسته د هند او ايران استازيو مزارشريف ته سفرونه وکړل او له دوستم سره يې د پوځي او سياسي مرستې ژمنه وکړه. په دې لړ کې د نومبرپه نهمه د ايران مرستيال خارجه وزير"علاءالدين بروجردي"

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مزار کې له دوستم سره ولیدل او د نومبر په شپاړسمه د هند مرستیال خارجه وزیر "ګونات" ورسره ولیدل.

د ۱۹۹۷ کال په جنورۍ کې دوستم د طالبانو له پرمختګه په وېره کې شو. د کابل په شمال کې د سالنګ تونل شمالي برخه یې لږ ونړوله او د تونل هغه لوری یې د طالبانو د پرمختګ د مخنیوي لپاره په نړولو بند کړ.

د دوستم پر ضد د جنرال عبدالمالک او طالبانو اتحاد او خونړۍ پایلې

عبدالرشید د عبدالرحیم نامې بزګر پلارنه او د "انبارشا" نامې مور نه په ۱۳۳۱ لمریزکال د جوزجان ولایت په خواجه کوه ولسوالۍ کې زیږیدلی؛ د ازبک ټبر سره اړه لري؛ د داودخان د واکمنې پرمهال د شبرغان د ګازو د څاهګانو د کندلو یو عام کاریګر و. د شوروي یرغل نه وروسته د پیسو په بدل کې د کمونیستي او شوروي قواو ملاتړی جنګیالی و چې د سختې جګړهماری له امله لومړی د یوه کنډګ قوماندان شو او بیا وروسته یې نوي پلویان جلب کړل او یوه بې رحمه جنګي ملیشه وګرځیده. د شوروي په دفاع کې یې پر خلکو هر ډول تېری مجاز ګانه. هغه خپل تخلص له دې امله دوستم کېښود چې د روسانو له یرغل سره د روسي عسکرو یو عام شعار دا و چې کوم کلي ته به ننوتل نو عامو خلکو، ماشومانو، تورسرو او بوډاګانو ته به یې همدا یوه فارسي جمله کاروله چې "دوست یا دښمن". تر هغو به یې د ټوپک شپېلۍ پر تندي ور نیوله چې ترڅو به یې د دوست او یا دوستم کلمه ورته ونه یله!

چې له دې امله به ډېر کله تورسرې، ماشومان یا هم لویو سړیو له وارخطایۍ نه د دوست پر ځای "دښمن" توري وکاروه او له ژونده به بې برخې شول. دا کار تر ډېره په پښتني سیمو کې شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرشید له روسانو سره د زیاتې وفاداریۍ ښودلو لپاره پر ځان"دوستم" تخلص کښښود او روسانو به هم هغه د وفاداري له امله دوستم "زمور دوست" باله. د دوستم ملېشې ته د ګیلم جم (ټغر ټولوونکي) ملېشه هم وایي، ځکه چې د دې ملیشي جنګیالي به چې هرې سیمې ته ورغلل نو له جګړې وروسته به یې کلي او کورونه لوټول.

جنرال ملک یا مالک د دوستم د جوړ شوي ګوند "جنبش ملي" د خارجه اړیکو مسئول و. د دوستم او ملک ترمینځ دښمني هغه وخت پیل شوې وه، چې د جنرال ملک ورور "رسول پهلوان" چې د بې رحمۍ له امله به د سیمې خلکو "رسول بې خدا" هم باله- د دوستم لخوا د یوې جنسي موضوع پر سر شخړه کې ووژل شو. ملک د انتقام لپاره فرصت لټاوه او له بلې خوا دا هم و یل کیږي چې د ایران، احمدشا مسعود او جنرال ملک ترمینځ د یوه بل پلان تیاری هم نیول شوی و، چې هم دوستم له صحنې وباسي، هم طالبانو ته د سترو تلپاتو دسیسه جوړه کړي او هم به ملک له دوستم نه دخپل ورور انتقام واخلي.

د ۱۹۹۷کال په لومړیو میاشتو کې د جنرال دوستم او طالبانو ترمینځ له څو لارو مستقیمې او نا مستقیمې خبرې روانې وې چې یو هم پاکستانی چاینل و. په اسلام اباد کې د دوستم له نماینده عبدالباقي ترکستاني او د جنبش د بهرنیو اړیکو مسئول جنرال عبدالمالک سره د پاکستان د حکومت په توسط طالبانو څو ځله ناستې وکړې چې له دوستم سره له جګړې پرته لانجه حل شي. بالاخره د مې په میاشت کې د دوستم څو پیاوړو قوماندانانو عبدالمالک، ګل محمد پهلوان، غفار پهلوان او نورو د دوستم په خلاف پاڅون وکړ او دوستم یې د جنبش له مشرۍ لېرې اعلان کړ.

د دواړو خوا وو قواوې سره په جګړه شوې، د ملک استازو اسلام اباد کې د کرنل ریاض او څو نورو پوځي او ملکي مامورینو په توسط له طالبانو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحاد او یو کېدو لپاره مذاکرات شروع کړل. د طالبانو مرکچي خارجه وزیر ملاممحد غوث و، چې تر ډیره یې د دغه جریان جزیات له مشرتابه نه پټ ساتل. ملک د طالبانو د باور ترلاسه کولو لپاره د طالبانو یو بل مهم مخالف قوماندان د هرات پخوانی والي تورن محمد اسماعیل خان هم طالبانو ته وسپاره، چې په پټه له ایرانه له طالبانو سره د چریکي جګړې لپاره افغانستان ته را اوښتی و او له دوستم سره په ګډه یې د طالبانو پر ضد عملیات کول.

د ۱۹۹۷م کال د مې په شپږمه د جنرال مالک، د هرات والي ملاعبدالرزاق او خارجه وزیر ملا محمد غوث ترمینځ داسې یو تړون امضاء شوی و چې د شمال د هغو ولایتونو مسئولیت به چې د حنبش په لاس کې دي، جنرال مالک ته ورکول کیږي، خو په دې ولایاتو کې به اسلامي شریعت نافذیږي او ټول قانون به د مرکزي دولت وي او وسله‌وال طالبان به دغو ولایاتو ته ورځي او داسې نورې خبرې...

لومړی به د دوستم پر ضد متحده جګړه کوي. له دې ټول جریان نه، نه ملا محمد عمر خبر و، نه دفاع او داخله وزارتونه او نه هم د استخباراتو لوی ریاست.

ملاصیب ته داسې اطلاع ورکول شوې وه چې مالک بې شرط او قیده له طالبانو سره یو کیږي. وسلې او مهمات ټول تسلیموي، چې دلته اوله درجه بې اطاعتي او له حکومتي اصولو سرغړاوی ملا محمد غوث کوي او دوهمه درجه ملاعبدالرزاق ورسره شریک دی. دوی فکر کوي چې که جزیات مشرتابه ته وړاندې کړي، ښایي دا تړون ببرته مات شي نو که یو ځل شمال له دوستمه تصفیه شي بیا به دوی ملا محمد عمر قانع کړي، خو دې تصور لوی ناورین وزېږاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا محمد عمر دې ته هیڅکله نه و اماده چې په ایتلافي شکل زاړه مستبد خلک پر ولس واکمن پریږدي، بلکې هغوی به سیمه او واک لومړی سپاري، بیا به هغوی ته مقام ورکول کیږي، ځکه چې د تحریک د پیل هدف د دغو ځانځانیو او مقامي پاچاهیو او استبداد خاتمه وه، نه د قدرت لپاره د چا په ظلم او وحشت سترګې پټول.

د می له اتلسمې د طالبانو او جنرال مالک د قواوو ګډ عملیات د دوستم د ملېشو خلاف پیل شول. د می په نولسمه جنرال مالک له مطبوعاتو سره د جنرال دوستم پر ضد د پاڅون او له طالبانو سره د پیوستون لاملونه بیان کړل. هغه بې بي سي سره مرکه کې وویل: "د جنبش ملي اسلامي له پرېکړې او د ملت له هیلو سره سم مې جنرال دوستم له دې کبله د ګوند له مشرتابه لېرې کړ چې له افغانستان سره یې خیانت وکړ او د ډېرو مسلمانانو وینې تویې کړې. شورا یې ملي اسلامي داسې تصمیم نیولی دی، چې له طالبانو وروڼو سره یو ځای د ملي یوالي او شرعي نظام د راوستلو په خاطر د ورستیو کمونستانو د ویستلو لپاره پاڅون وکړي".

هغه په خپلو پلویانو کې د دوستم د مرستیال مجید روزي، غفار پهلوان، ګل محمد پهلوان او دسمنګان والي مولوي عبدالقدوس نومونه هم یاد کړل.

ورپسې غفار پهلوان دې ته ورته خبرې مطبوعاتو ته وکړې او اعلان یې وکړ چې له طالبانو نه یې د لس زره پیاده قواوو د کومک غوښتنه کړې او طالبانو هم موافقه کړې. هغه وویل کومکي طالبان لا اکثره په فاریاب کې دي، خو یو شمېر یې شبرغان ته هم رارسېدلي دي.

د می د میاشتې په څلورویشتمه د شبرغان او مزار ولایتونو سقوط وکړ او دوستم ازبکستان ته واوښت. دا وخت ملاعبدالرزاق د الوتکو له لارې زرګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان په دې نیت خالي لاس مزار ته واستول، چې بیا به یې په مزارشریف کې مسلح کړي. دا د ناورین د لوبې پیل و.

مابنام مولوي وکیل احمد متوکل پرته له دې چې د ټرون له جزیاتو او نورو نزاکتونو ځان خبر کړي، ملاعبدالرزاق یې د بلخ تنظیمه رئیس او جنرال مالک یې د خارجه چارو د وزارت مرستیال اعلان کړ.

د مزار ظاهري فتحې د سیمې او نړۍ پام طالبانو ته واړاوه. ډېرو افغانو رونړاندو او د سیمې هېوادونو دا سوبه د افغانستان لپاره مثبت ګام او د جګړو پای ونوماوه. هر چا فکر کاوه چې نور په افغانستان کې واحد حکومت رامینځته شوی. د امریکا خارجه وزارت په یوه اعلامیه کې د جګړې ښکېلو غاړو نه د اوربند او پراخ بنسټه حکومت غوښتنه وکړه. په بهر کې د افغان سفارت یو شمېر دیپلوماتانو د طالبانو ملاتړ اعلان کړ، لکه سعودي عرب، پاکستان او ایټالیا. په ایټالیا کې د افغانستان شارژدافیر محمد نعیم مسلمیار سره له ټولې عملې سره د طالبانو ملاتړ اعلان کړ. د امریکا حکومت په واشنګټن کې د افغانستان سفارت له دې امله وتاړه چې یوه سکرتر سراج جمال د طالبانو ملاتړ اعلان کړ او بل سکرتر یارمحمد د رباني ملاتړ اعلان کړ.

بل لور ته طالبانو د بامیان لور ته پرمختګ وکړ او د کابل په شمال کې یې یو ستر کاروان مزار ته د مرستې لپاره چې د مهمو وزارتونو ځینې وزیران هم په کې و تیار کړ. په سالنګ کې د مسعود قوماندان بصیر سالنګي طالبانو ته تسلیم شو. طالبانو د بغلان ځینې سیمې هم ونیولې. نور په سیمه او نړۍ کې عام ذهنیت داسې شو، چې ښایي دا به ورستۍ جګړه شي.

له همدې امله د مې په پینځه ویشتمه پاکستان د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژاند. په سبا سعودي عربستان د طالبانو حکومت په سمیت وپېژاند. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېیمه ورځ د مې په اووه ویشتمه عرب اماراتو د طالبانو حکومت په رسمیت وپېژاند. نورو ځینو هېوادونو هم تیاری نیولو، چې د مې په دېرشمه د دې ظاهري سوبې پاڼه سرچپه شوه. د مې په اته ویشتمه د وحدت او مالک ملېشو پر طالبانو برید پیل کړ. زرګونه طالبان لا بې وسلې وو چې له هر لورې پرې بریدونه پیل شول. کوم چې وسلەوال وو هغوی ته ملاعبدالرزاق اجازه نه ورکوله. عبدالرزاق دا وخت له جنرال مالک سره یرغمل و، خو طالبان له اصلي وضعیته ناخبره او حیران وو. د مالک له خوا ورته ویل کېدل چې دا بریدونه د حزب وحدت قواوې کوي.

دا وخت د مزار د اداري د سمبالېدو لپاره له کندهاره راغلي مشران هر یو ملا اخترمحمد منصور د هوانوردې وزیر، ملا محمد صادق د عالی شورا غړی، د هوایي ځواک قوماندان پیلوټ جیلاني خان، حاجي فضل محمد او څو نور د مالک له خوا یرغمل شول. له خونړیو جګړو وروسته له جوزجان، سرپل او فاریاب ولایتونو مسلح طالبانو ووتل او یو لوی شمېر مسلح او تقریبا د درېوو یا څلورو زرو شاوخوا نامسلح طالبان د وحدت او مالک ملېشو ژوندي ونیول.

مولوي احسان الله احسان د ملي بانک رئیس او د طالبانو مشهور داعي په مخامخ جګړه کې شهید شو او ملا محمد غوث څو اونۍ ورسته کندهار ته راورسېد. ویل یې د سیمې په هزارګانو کې پټ شوی و او بیا یې ځان په تاکتیک تر کابله راورساوه. ږیره یې خریلې وه او د شمال د خلکو اوږد ډبل کمیس یې اغوستی و. پر سر یې د ستمال ټرلی و. د هغه سور مخ او وړو شنو سترګو له دغه ډول لباس سره رښتیا هم هزاره ګانو ته ډېر ورته والی درلود.

بل لور ته بصیر سالنګي بېرته احمدشاه مسعود ته واوښت او د سالنګ لاره یې ونیوله. د مسعود قواوو یو ځل بیا د طالبانو له دغه حالته په استفاده د کابل په شمال کې پرمختګونه وکړل، ځکه چې دا وخت د کابل په شمال کې یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلګونه وسله‌وال طالبان پاتې وو، خو له کابل او اطرافو کومکي ځواکونو د کابل د شمال کربنې ټینګې کړې او د مسعود ملېشو څخه يې بېرته يوشمېر سيمې ونيولې.

په بغلان کې د طالبانو محاصره قوه چې ملاداالله او اميرخان حقاني او يو شمېر نور قوي قوماندان په کې وو، په دې وتوانېدل چې پلخمري سيمه تر واک لاندې راولي، خو وروسته بېرته بغلان ته راشا ته شول. په بغلان کې بشير بغلاني د حکمتيار په هدايت غوښتل طالبان بې وسلې کړي او مشران يې متحدې حبهې ته وسپاري، خو طالبانو په ډېره هوښيارۍ سره ځانونه بېرته مضبوط کړل او څه موده وروسته د جون پر نولسمه د يو تاکتيک په نتيجه کې د سيمه‌ييزو قوماندانانو په همکارۍ کندوز ته ننوتل او ورو ورو يې پر کندوز واک ټينګ کړ. له هر لوري پر کندوز کېدونکي يرغلونه يې په حيرانوونکي ډول شنډول چې په دې کې د ملا دادالله او ملا اميرخان حقاني سخت مقاومت شهرت پيدا کړ.

د جون په دوهمه د مزار په ښارکې د جنبش، حزب وحدت، شورای نظار او د محسني حرکت ترمينځ د جبهه نجات ملي افغانستان په نامه نوې جبهه جوړه شوه چې له طالبانو سره په ګډه جګړه وکړي. د جون په شپږمه د ايران مرستيال خارجه وزير علاء الدين بروجردي مزارشريف ته راغی او نوې جبهې ته يې د مبارکۍ ترڅنګ د همکارۍ ډاډ ورکړ.

د جون په شپږمه يوه باري الوتکه چې له تاجکستانه يې احمدشا مسعود ته وسله لېږدوله د کابل پر خواجه رواش هوايي ډګر ښکته شوه. پيلوټ ډګرمن عبدالصبور او مرستيال يې ډګرمن محمد نادر له تاجکستان او ايرانه مسعود او حزب وحدت ته د وسلو او مرستو په اړه ډېر اسناد طالبانوته ورکړل. په دوهمه ورځ د فراه د "داني اباد" په سيمه د مخالفينو يوه ډله له درنې وسلې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونیول شوه، چې له ایرانه را اوښتې وه او دوه ایراني نظامیان هم په کې وو چې په دې سره د ایران او تاجکستان بربنډه پوځي مداخله نوره هم طالبانو ته څرګنده شوه.

طالبانو د کندوز هوایي ډګر ورغاوه او د پوځي ترانسپورتي الوتکو له لارې یې له کابل سره اړیکه ټینګه کړه چې په دې سره یې هم محاصره ماته کړه او هم طالبان په کندوز کې د ټول شمال لپاره په یوه کلک مرکز جوړولو قادر شول. هغوی ته وسله، تازه دمه قوه د هوا له لارې راتله او هم یې خپل جنګي ټیپیان او ستړي طالبان کابل ته دهوا له لارې استول.

لیلې دښته د زرګونو ځوانانو هدېره

له هراته تللي طالبان چې پوره نام نویسې یې نه وه شوې یواځې څو زره یې معلوم وو، خو څو زره داسي هم وو چې د نومونو لېست یې نه و، چې مجموعا خبره له اتو تر لسو زرو رسېده. دا اکثره د مدرسو نوي ځوانان طالبان او حافظان وو. په دې شوق راغلي ول چې نور به هېواد له دایمي جګړې خلاصون مومي او دا به ورستۍ جګړه وي. وسله ورسره نه وه. څوک په ښار کې وویشتل شول او څوک یې ژوندي ونیول بیا له زندانه هره ورځ ویستل کېدل، په کانتینرونو کې یې اچول، د شبرغان لیلې دښته کې یې په ګولیو غلبیل کول او د ګازو په څاګانو کې یې غورځول. څوک یې تر خاورې لاندې کول او یو لوی شمېر یې همداسې لمرونو ته پراته وو.

د جنرال دوستم له بیا واکمنیدو سره د څو زرو کسانو مړي راڅرکند کړای شول او ځینې بهرنیو ادارو هم ډله‌ییز قبرونه معاینه کړل، زرګونه طالبان چې لاسونه یې په شا پورې تړلي ول په کې مړه پراته وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلابېلو مدارکو او شواهدو له مخې په دې پېښه کې تقریبا ټول ټال دیارلس زره او دوه سوه طالبان شهیدان او تری تم شول. په دوی کې یواځې زر تنه وسله‌وال ول، دا نور ټول خالي لاس د مالک د مرستې لپاره د مالک په دعوت راغلي وو او د مالک مېلمانه ول.

د اسماعیل خان اسارت او تېښته

کله چې د ۱۹۹۷م کال د مې په اتلسمه د افغانستان په شمال کې د جنبش پر مشر عبدالرشید دوستم خپل یوه جنرال، عبدالمالک کودتا وکړه. د جنرال ملک استازي په اسلام اباد کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ملا محمد غوث سره داسې یوې موافقې ته رسېدلي وو، چې مشرتابه یې له پوره جریانه خبر کړی نه و. مالک د باور جوړونې لپاره په فاریاب کې اسماعیل خان د ۱۳۷۶لمریزکال د غوایي په اته ویشتمه چې د ۱۹۹۷میلادي کال د مې له اتلسمې سره سمون خوري، طالبانو ته په لاس ورکړ.

اسماعیل خان لومړی د لویدیځ زون مشرتابه ته وسپارل شو او له هغه ځایه کندهار ته راوړل شو. په کندهار کې د ملي امنیت د ریاست په خصوصي زندان کې ساتل کېده. په سبا ملا محمد عمر امر وکړ، چې یو کس دې له اسماعیل خان سره تفصیلي خبرې وکړي. ټولې پوښتنې دې ورسره مطرح کړي او بیا دې ریکارډ شوې کیسټ ما ته راوړي. زه او د کندهار د اطلاعاتو او کلتور رییس سید محمد حقاني د استخباراتو د تحقیق ریاست ته ورغلو. د کندهار د ملي امنیت مشر قاري حمید ګل ته لا له وړاندې د مشرتابه له دفتره تیلیفون شوی و. د تحقیق ریاست په یوه خونه کې لومړی مور کېناستو. لږ وروسته تورن اسماعیل خان په داسې حال کې چې زولنې یې په پښو کې وې راوستل شو. تورن صیب کیناست خو په څېره کې یې د ژور خپګان او اندېښنې نښې له ورایه ښکارېدې. رنګ یې الوتی و او ډېر زهیر معلومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ چې دغه ضعیف البدن سپین ږیری ولید، زړه مو په دې خپه شو، چې باید زولنې یې پښو کې نه وای، ځکه چې دا د سړک د غاړې پوسته یا محبس نه دی، بلکې یو فعال ریاست دی. لږه تر لږه له مورِ سره د ملاقات پر وخت یې باید په پښو کې زولنې نه وای. ترمینځ دسترخوان وغوړول شو. د تازه زردالو قابونه پرې کښښودل شول. مورِ لومړی له تورن اسماعیل نه د ستړې مشۍ او روغبړ په دود د صحت او طبیعت پوښتنه وکړه، بیا مو ورته د زردالو خوړو وویل. ده راغبرګه کړه چې هیڅ نه خورم او هیڅ ته مې زړه نه کیږي. بیا مې خپله غوښتنه ورته وړاندې کړه، چې څه پوښتنې درنه کوو او ریکارډ کوو یې. ده تیاری وښود.

لومړی مې ترې وپوښتل، د طالبانو په اسارت کې څه ډول احساس کوئ؟

له اوږده اسویلي وروسته یې وویل: ډېر افسوس کوم چې د روسانو پر ضد مې دومره جهاد وکړ او نن د خپلو مسلمانو وروڼو او علماوو په اسارت کې د یو مجرم په توګه بندي یم.

ما ورغبرګه کړه: تاسو خو زرګونه طالبان په جګړو کې شهیدان کړي دي او اوس هم د بیا جګړې په تیاري بوخت واست ایا تاسو د دغو اعمالو د سزا مستحق نه یاست؟

له دې پوښتنې سره د اسماعیل خان اواز تغیر وکړ، ولړزېد او ویې ویل:

-زه مجرم یم، خو د امیرالمومنین رحم او کرم ته مې همدومره امید دی چې زما ټول ګناهونه به راوبښي.

داسې معلومېده لکه دی چې هم په دې پوه وي، چې زما دا خبرې به ملا محمد عمر اوري او مورِ ته هم فضا معلومه وه، چې داسې کسان کم نه وو، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسماعیل خان د اعدام فکر یې په دماغ کې درلود. له همدې امله ما په لوی لاس هڅه وکړه چې له یو څو ضروري سوالونو علاوه نور داسې مسایل راپورته کړم چې فضا نورماله کړي.

ورپسې پوښتنه مې د نیول کېدو په اړه ترې وکړه، هغه وویل جنرال مالک ورته دسیسه جوړه کړې وه، خو دا یې هم ورسره زیاته کړه چې گورئ پر مالک باور مه کوئ، دا یو ډېر مکار او بې باوره شخص دی. زما په گومان همدې خبرې هم وروسته د فضاء په نورمالیدو کې له اسماعیل خان سره څه ناڅه مرسته وکړه.

د ده او مسعود ترمینځ اختلافات مې وپوښتل. په ځواب کې یې راته وویل: مسعود د شورای نظار تسلط په ټول جمعیت غواړي او استاد رباني یې بې صلاحیته کړی، ځینې فاشستي افکار لري، زه چې د رباني کلک پیرو وم، مسعود زما د ځواک او اختیار مخالف و، دې ته ورته نورې خبرې یې هم وکړې، چې د ده او احمدشاه مسعود ترمینځ ژور اختلاف ترې څرگندېده.

د سوالونو په تسلسل کې مې د تېر جهاد خاطرو ته خبره ورسوله، دا نو هغه پوښتنې وې چې اسماعیل خان پرې ایله د ارام سا واخیسته. په دې لړ کې یې د هرات په ښار کې د جهاد پر مهال د یوه اوږده خندق کیندلو کارنامه بیان کړه. ورپسې یې د خپل زوی په اړه خپله خاطره بیان کړه، چې دی په جهاد کې و او زوی یې شوی و، ده شپږ کاله وروسته په داسې حال کې ولید چې زوی یې دی نه پېژاند، چې دا مي پلار دی او ده هم خپل زوی نه پېژند!

له دې کیسې سره اسماعیل خان په ژړا شو! ډېر سخت یې وژړل؛ پر سپینه ږیره یې ډېرې اوښکې راغلې، مورِ هم څو شېبې خاموش وو. اسماعیل خان په معذورانه لهجه په غږو نیولې اواز زیاته کړه، زه ډېر افسوس کوم چې ما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جهاد کې دومره ستونزې ګاللي دي او نن د خپلو مجاهدینو وروڼو په بند کې د سزا انتظار کوم. زه د امیرالمومنین رحم ته امید لرم چې ما وبښي او په نظام کې رانه د یوه تجربه کار پوځي قومندان په توګه کار واخلي.

ما سمدلاسه ورغبرګه کړه: تاسو به امیرالمومنین څنګه مطمئن کړئ چې بیا به د طالبانو پر ضد وسله نه اوچتوئ؟

اسماعیل خان په هیله منو سترګو راوکتل او زیاته یې کړه: زه به کلک عهد وکړم، درووند ضمانت به ورکړم، په الله به قسم ورته وکړم، چې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ به ستاسي مخالفت ونه کړم او که تاسو له ما د یو مسلمان مجاهد په توګه کار اخلئ، نو زه به د طالبانو په صف کې د تېر جهاد په څېر کارنامې پرېږدم.

په لسګونو دا ډول پوښتنې مې له اسماعیل خانه وکړې او ثبت شوې کیسټ مې مشر ته ورواستوله. ملا محمد عمر په دقت سره د خپل موټر په ټایپ کې دغه مرکه واورېده او چې د جهاد د خاطرو ځای راغی، په خاص ډول د اسماعیل خان له خوا د زوی کیسه، نو د مشر سترګې هم له اوښکو ډکې شوې، ځکه چې مشر ته د جهاد په لاره کې تکلیف ډېر ارزښت درلود او دا ډول کارنامې هغه ته ډېرې ارزښتمنې وې.

له همدې وروسته د مشر پرېکړه دا وه، چې د نظام تر بشپړ ټینګېدو دې اسماعیل خان په زندان کې وي، خو مشقت او تکلیف به نه ورکول کېږي، هدف یې نبایي دا و، چې کله فضاء مطمئنه شي، نو د یوه عهد او تضمین په صورت کې به یې ازاد کړو.

پنځه میاشتې وروسته د همدې کال په اکتوبر کې مې اسماعیل خان یو ځل بیا هغه مهال ولید، چې پاکستانی ژورنالیست رحیم الله یوسفزی مې وروسته و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل اسماعیل خان ډېر ارام و، حالت او څېره يې نورماله وه، له ما يې يوه غوښتنه وکړه، چې ماته دې د قلم او کاغذ اجازه راکړل شي، چې زه خپل خاطرا ت وليکم. ما د ده پيغام مشرتابه ته ورساوه، بيا پوه نه شوم چې اجازه ورکول شوه او که نه.

له رحيم الله يوسفزي سره د اسماعيل خان د مرکې غټ ټکي چې د بي بي سي د پښتو سرويس په مانښامنۍ خپرونه کې د همدې کال د اکتوبر په دربيمه خپاره شوي وو، په دې ډول وو:

"طالبانو پر ما هېڅ سختي نه ده کړې او نه يې په زندان کې ځورولی يم. موږ ته پکار دا وه چې د دوی ملاتړ مو کړی وای، خو افسوس پر دې چې مقابلې ته يې راووتو او ورسره وجنګيدو. دوی به په افغانستان کې د شرعي نظام په راوستو کې بريالي کيږي، ځکه چې بری مدام د حق په برخه وي."

شاوخوا درې کاله اسماعيل خان د طالبانو په زندان کې و، چې ځارنه او ساتنه يې د کندهار د استخباراتو د رييس قاري حميد ګل په غاړه وه.

قاري حميد ګل د استخباراتو په برخه کې کومه سيستماتيکه تجربه او وړتيا نه لرله. تر ډېره به په هغو کارونو بوخت و، چې په ده پورې يې اړه نه لرله، خو ځرنګه چې حميد ګل د روسانو پر ضد جهاد کې د مجاهدينو لپاره د ښار په مينځ کې د يوه عادي مخبر دنده ترسره کړې وه، نو ځکه ځينو هغو طالب مشرانو ته د اعتماد وړ و، چې ده يې د شوروي پر ضد جهاد کې پېژاند.

حميد ګل د کابل تر نيولو وړاندې د استخباراتو په څانګه کې کارمند و، خو چې کله کابل ونيول شو، دی د کندهار لپاره د استخباراتو رييس وټاکل شو. حميد ګل به د روسانو د وخت د مخبرۍ اکټونه دا وخت هم کول. د کندهار په ښار کې به پر موټر سايکل ګرځېده. د کورونو بامونو ته به يې کتل، چې کوم نابلده

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتن خو به پر کوم بام نه وي ولاړ او بې ضرورته به په ځینو مسایلو کې ښکېل و. خپل مقام او دنده یې په سمه توګه نه پېژندله، علمي استعداد او دیني پوهه یې هم نه لرله، ځکه به اکثره په نامشروع ډول تعذیب او ظلم کې لتاړ و.

بل پلو ته هغه مزاجاً سمت پرست و، د استخباراتو له مرکزي رئیس قاري احمدالله سره یې هم له همدې امله کلکه رخه لرله، چې تل به یې د هغه په اړه منفي تبلیغات کول. پر هغه یې تور دا و، چې احمدالله په ریاست کې کمونستان پریښي او له خلکو سره بې ضرورته نرمي کوي، خلک نه مجازات کوي، ځکه نو د دې دندې اهل نه دی.

کله چې قاري احمدالله د اسماعیل خان له تیښتې نږدې یوه میاشت وړاندې، د مشرتابه دفتر ته خبر ورکړ، چې موږ ته دقیق راپور رسېدلی چې د اسماعیل خان د تښتولو منظم پلان جوړ شوی، که تاسو اسماعیل خان د ساتلو لپاره موږ ته وسپارئ،موږ به یې ساتنه وکړو. مشرتابه دې خبرې حیران کړ او دا یو ډول مبالغه ورته ښکاره شوه.

سمدستي یې د خپل دفتر یو مهم غړی ملا غازي حمید ګل ته واستاوه او ورته وې ویل: مشر وایي ته نور ټول کارونه پرېږده، تنها د اسماعیل خان ساتنې ته پاملرنه وکړه. چې دا یو ډول تاکید و. په دې خبره حمید ګل نور هم قاري احمدالله سره رخه زیاته کړه او ځینې نورو پلویانو یې هم د احمدالله له لورې دا یو ډول تور وګاڼه، خو چې میاشت پوره کېده یعنې د ۲۰۰۰م کال د مارچ په شپږویشتمه اسماعیل خان د شپې په وروستۍ برخه کې له زندانه د هغه د ساتونکو له لارې وویستل شو او حمید ګل او همکاران یې سهار د نهو بجو په شاوخوا کې خبر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت نو تورن اسماعیل د منظمې ټبنټې په ټولو امکاناتو برلاسی شوی و. د مشرتابه له خبرېدو سره د هېواد ټولې سترې لارې وترل شوې. هر لورته سخته تالاشي او تفتیش روان و، خو اسماعیل خان له یوې داسې کلیوالې او ریګستانۍ لارې چې تفتیش یې ناشونی و، په څو ورځو کې ایران ته ورسېد.

د هغه سورلۍ موټر د لارې په اوږدو کې پر ماین هم وربرابر شوی و، چې له املې یې د اسماعیل خان پښه هم زخمي شوې وه. وروسته معلومه شوه، چې د هغه یوه ساتونکي د یوه کال په اوږدوکې د یوې اوږدې پروسې له لارې د اسماعیل خان له کورنۍ سره د زیاتو پیسو په بدل کې د هغه د را ویستلو موافقه کړې وه او بیا یې د دې لپاره ګډ منظم پلان وار له مخه ترتیب کړی و.

څرنګه چې د اسماعیل خان د ساتنې طریقه دودیزه اوساده وه او حمید ګل تر ډېره بې ظرفیته او د باریکو پېښو د درک له استعداده محروم سړی و، بل پلو یې شخصي ډلګۍ مخلوط او بې باوره خلک وو، چې په دې کې همدغه ساتونکي هم د ده اعتمادي کس بلل کېده، نو ځکه د پېښې ټول عامل په خپله حمید ګل و. حمید ګل د تفتیش لپاره زندان ته واچول شو، مرستیال یې حاجي قاهر د لټون په بهانه غوښتل ایران ته وتښتي، چې د هرات او کندهار ترمینځ ونیول شو.

طالبان یو ځل بیا د شمال پر لور

طالبانو د کندوز له لوري یو ځل بیا د ۱۹۹۷م د ستمبر په اوومه د سمنګان ولایت د تاشقرغان ستراتیژیکه ولسوالي ونیوله. په نهم ستمبر یې د مزارشریف هوایي ډګر ونیو. ملا محمد عمر طالبانو ته اعلان وکړ چې ښار کې دې جګړه نه کوي چې عامو خلکوته زیان ونه رسېږي او له مخالفینونه یې وغوښتل چې له جګړې لاس واخلي او طالبانو ته د ښار د کنترول مخه ورکړي. د سیمې د ځینې قوماندانانو په همکارۍ طالبانو د ښار نورو لوریو ته پرمختګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، خو مشکوکو الوتکو د تاجکستان له لوري بمبار وکړ. طالبانو پر تاجکستان رسمي تور پورې کړ چې له خپلو هوايي ډګرونو زمور پر ضد بمبار کوي.

د ستمبر په دیارلسمه د ازبکستان سرحد ته څېرمه حیرتان بنار ګوتې طالبانو ونیو. د جنرال مالک او جمعیت ځواکونه له مزاره شبرغان ته په شا شول. یواځې حزب وحدت مقاومت کاوه. دا جګړه یوه اونۍ روانه وه چې اخیر د اکتوبر په څلورمه یوځل بیا جنرال دوستم له ازبکستانه راواوښت او له نویو پلوي وسلهوالو سره یې د حزب وحدت ترځنګ له طالبانو نه د بلخ ولایت د چمتال او چاربولک ولسوالۍ او د مزار شریف هوایي ډګر بیرته ونیول. په دې سره دوستم له څلور میاشتو وروسته بیا صحنې ته راغی او د مالک قواوې له سیمې ووتلې.

د اکتوبر په اوومه طالبانو حیرتان بندر او په یوولسمه تاشقرغان ولسوالۍ بېرته له لاسه ورکړل. پر مزار د مالک پرځای بېرته دوستم واکمن شو.

د مزار بنار د دوستم او وحدت د ملېشو له خوا چور شو. د خلکو دوکانونه او کورونه وسلهوالو ولوټل او بې عزتۍ یې وکړې، چې په شاړسم اکتوبر د حزب وحدت ملیشو مشر محمد محقق رسنیو ته دغه چور او تالان ومنل. هغه وویل چې مور په جګړه مصروف وو، ځینې خلکو زمور په ناخبرۍ کې چور ګډ کړی و.

د ایران په مینځګړتوب د دوستم او جنرال ملک ترمېنځ بیرته روغه وشوه او د اکتوبر په ۱۴مه جنرال ملک بیرته مزار بنار ته راغي او هوډ یې وکړ چې په ګډه به له طالبانو کندوز بنار نیسي.

څه موده وروسته یې بیا ترمینځه شخړې راغلې. مالک او ورور یې فاریاب کې د دوستم پر ضد فعالیت پیل کړ چې بیا د نومبر په دوهویشتمه جنرال دوستم له جنرال مالک او ورور یې ګل محمد پهلوان نه د هغوی وروستی مرکز میمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار او شیرین تګاب ولسوالۍ ونیوله. مالک ایران ته وتښتېد او د طالبانو پینځه لوړ پوړي زندانیان یې په بادغیس کې د طالبانو جنګي کړنې ته نږدې خوشې کړل. دغه بندیان ملا اخترمحمد منصور، ملا محمد صادق، حاجي فضل محمد، ملا عبدالرزاق او د هوایي قواوو د قوماندانۍ مشر پیلوټ جنرال جیلاني خان نورزی و. دوی لومړی په بادغیس کې طالبانو ته ځانونونه ورسول او بیا هرات ته را ورسول شول.

ترکمنستان نه د ګازو نل لیکه او نړۍوالې کمپنۍ

پر افغانستان د شوروي یرغل له ماتې او د روسي قواوو له وتلو وروسته چې پخواني شوروي سره ټرلیو د مینځنۍ اسیا یو شمېر جمهوریتونو خپلواکي ترلاسه کړه. د سیمې هېوادونه او د لویدیځ ستر شرکتونه له مینځنۍ اسیا سره د هند بحر له لارې د تجارت او هم د طبعي منابعو د صادرولو په فکر کې وو. له همدې امله له ترکمنستان نه د ګازو صادرولو پروژه په ۹۰ ۱۹کې تر پلان او سروی لاندې وه. په دې اړه روسانو نه غوښتل چې دا کار د دوی له حضور پرته د لویدیزو کمپنیو له خوا وشي. بل پلو ایران دې ته ښه کاندید و.

په ۱۹۹۲ کې د نجیب حکومت نسکور شو. هېواد په څو ډلو ووېشل شو، بیا هم دا پلان یواځې د تصور او نقشې تر کچې پاتې شو. پاکستان له مینځنۍ اسیا سره د رباني د حکومت د کندهار و هرات والیانو ګل اغا شیرزي او اسماعیل خان په توسط قراداد وکړ چې د دوی تجارتي مالونه به د کندهار او هرات له لوري تورغونډۍ ته صادروي او هم به له هغې خوا دا کا رکیږي، خو په سیمه کې د اړي ګړي له امله دغه کاروانونه تر کندهار ښاره هم ونه رسېدل، بلکې وړو وړو قوماندانانو چې د والي وس پرې نه رسېده، کاروانونه چور کړل.

د طالبانو له خوا د جنوب غربي سیمو له نیولو وروسته د سیمې هېوادونه یو ځل بیا مایوسه شول او دغه کار په ټپه ودرېد. کله چې طالبانو کابل ونیو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتې وروسته د دې پروژې لپاره درې اړخیزه مجلسونه پیل شول. په ترکمنستان، پاکستان، سهیلي او شمالي امریکا کې د دې پروژې د اقتصادي او تخنیکي کار لپاره پروګرامونه جوړ سول، خو بیا هم کوم لیکلی قرارداد ونه شو. یوازې په هغه وخت کې د ارجنټاین یوې کمپنې "بریډاس" په ترکمنستان کې د تفحصاتو او یو څه داخلي صادراتو په فعالیت پیل کړی و.

په سېیمه کې ستټلایټ او مسلکي سروې ښودلي وه چې د افغانستان په شمول دا سیمه د طبیعي معادنو په ځانګړي توګه نفتو او ګازو څخه ډکه ده. همدا وجه وه چې د لویو هېوادونو رقابتونه همدې سېمې ته راورسېدل او د همدې موخې د لاس ته راوړنې په خاطر یې د خپل برخلیک لپاره ګړندۍ هڅې پیل کړې.

بل خوا د ترکمنستان نوي ازاد شوي هیواد غوښتل چې خپل طبعي منابع له روسانو په ازاده توګه، په خپل اختیار وکاروي او نړیوال بازار ورته وموميي، روسانو غوښتل چې د روسیې د چیچن او داغستان په حدودوکې تیرشوي پیپلاینونه د ترکمنستان دګازو لپاره لاره وګرځوي او دغه ګاز د روسیې له لارې اروپا ته تیرشي، ترڅو روسیه د ترکمنستان د ګازو ترانزیتي لاره شي.

د بریډاس د ارجنټاینې کمپنۍ مشر کارلوس بلغیرونيCarlos Bulgheroni)) د نوییمو کلونو په سرکې د ترکمنستان له ولسمشر نیازوف ترکمن باشي سره د تیلو او ګازو داستخراج په قرارداد بریالی شوی و او خپل فعالیت یې پیل کړی و، خو بریډاس له مالي اړخه ځواکمنه کمپنۍ نه وه، ځکه یې سعودي چارواکي خپل پاټنران وګرځول، دوي د سعودي مالي مرستو ته اړتیالرله . خو دنل لیکې غزولو په اړه لاهم کوم تړون نه و شوی او یوازې خبرې پرې روانې وي، د سعودي د استخباراتو مشر ترکي الفیصل ترکمن باشي او بریډاس دواړوته دا اطمنان هم ورکړی و، چې دوي به د نل لیکي په غزولوکې پر افغانستان او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکستان خپل اغیز وکاروي. د مجاهدینو د حکومت پر وخت پاکستان او سعودي دواړو همدا هڅې پیل کړې، خو داخلي جګړې او دکار ابتدایي حالت لا د دې نه و، چې د نل لیکې غزولو پلان ترتیب شي، د ۱۹۹۴ په پای کې د طالبانو پاڅون په جنوب کې سر راپورته کړ او په ۱۹۹۵ کې چې طالبانو ډیرې سیمې ونیولې، بریډاس د رباني له دولت، دوستم او طالبانو درې واړو سره اړیکې ساتلې، چې په همدې وخت کې د یوې بلې امریکایي کمپنۍ لخوا له ترکمنستان سره خبرې پیل شوې. دا د "یونیکال" په نامه کمپنۍ وه چې مرکزیې د امریکا په ټیکساس ایالت کې و.

د یونیکال مشر "مارټي میلر" د همدې کال په مینځ کې ترکمنستان ته سفر وکړ او په عشق ابادکې د امریکا د سفارت په مرسته یې د ترکمنستان مشر نیازوف ترکمن باشي دې ته تشویق کړ، چې له بریډاس کمپنۍ سره خپل کړی ټرون لغوه کړي. ځکه چې د میلي په وینا دا قرار داد د ترکمنستان لپاره په تاوان دي چې د ګټې ۷۵ فیصده به بریډاس شرکت ترلاسه کوي او ترکمنستان ته به ۲۵ فیصده ګټه ورکوي، دا د امریکا هغه ټرون ته ډیر ورته و، چې د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې یې له سعودي عربستان سره د تیلو د صادارتو په اړه کړی و. میلر ترکمن باشي ته دا مشوره هم ورکړه چې که بریډاس له ټرونه نه په شا کیدو، نو تاسو په ټیکساس کې د طبعي زیرمو د نړیوالو شخړو په محکمه کې ورباندي عریضه وکړې، هلته قاضیان زمور خپل خلګ دي، پریکړه به ستاسي په حق کې وکړي، که چیرې بریډاس خپل لګښتونه غوښتل نو دغه مبلغ به مور (یونیکال) ورکړو.

بل پلوته یونیکال د پاکستان حکومت ته د زیاتې برخې منافعو په ورکړه، پاکستان هم له یونیکال سره مرستې ته تشویق کړ، کله چې د ۱۹۹۶م کال په پای کې طالبان د هیواد پر پلازمینه واکمن شول، نو دا و خت ورسره د دې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه خبرې نیغې پیل شوې، طالبانو وویل مورِ یوازې د ترانیزیتي هیواد په توګه د هر هغه چاسره همکاري کوو چې ترکمنستان او واریدوونکې هیوادونه ورسره موافقه وکړي او زمورِ هیوادته زیاته ګټه راکړي.

د ۱۹۹۷م کال د می د میاشتې په څلورمه د بریډاس مشر د طالبانو په واکمني کې له افغانستان سره له ترکمانستانه د وارېدونکي ګازو په اړه د یوه قرارداد توافق ته ورسېد، چې له ترکمانستانه به د دوه نیم میلیارده ډالرو په لګښت د دولس سوه کیلومترو په واټن د طبعي ګاز نل لیکه وغځوي، خوتوافق نامه لا امظا شوې نه وه. په دې پروژه کې د بریډاس کمپنۍ رقیبان "یونیکال" امریکایي کمپنۍ او "ډلټا" سعودي کمپنۍ وې.

بل لور ته له دې لس ورځې وروسته د می په څوارلسمه په عشق اباد کې د ګډو ګټو د هېوادونو (ایکو)غونډه وشوه. د غونډې غړي هېوادونه: ترکمنستان، قزاقستان، ترکیه، ازبکستان، ایران، پاکستان، کرغیزستان، تاجکستان، ازربایجان او افغانستان وو. په غونډه کې پېنځلس فقریز پربکړه لیک اعلان شو، چې په کې د ټولو غړو هېوادونو ترمینځ د اورګاډي د پټلیو، پخو لارو غځول او له عشق اباده تر ایران او پاکستانه د تیلو او غازو نل لیکې، د بریښنا واردول او خپل مینځي تجارت اصلي ټکي وو.

د می په پینځلسمه امریکایي رسنیو خبر ورکړ چې د پاکستان او ترکمانستان له خوا د ګازو د نل لیکې ټرون د یونیکال او ډلتا کمپنیو سره لاس لیک شوی چې هرکال به ترکمانستان پاکستان ته د ګازو شل ملیارده مکعبه متره ګاز واردوي. دا به په ۲۰۰۲ کې څلوېښت ملیارده مکعبه مترو ته ورسیږي. امریکا د پاکستان په توسط طالبانو ته وړاندیز وکړ چې د پیپ لاین تېرولو پروژه دې یونیکال امریکایي کمپنۍ ته ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت نور د هیوادونو او کمپنیو رقابت زور واخیست! د جولای په دوه ویشتمه د یونیکال او ډلټا د شرکتونو غړو په مزارشریف کې د شمال ټلوالې سره وکتل، چې د شمال له لارې د پایپ لاین په تېرېدو کې ورسره مرسته وکړي. د مزارښار د مخالفې ټولوالې لخوا خپله پلازمینه نومول شوې وه، د ټلوالې غړو د کمپنیو هیئت ته ډیر تود هرکلی وکړ، په سنګارشویو اولباسي انجنو یې د خپلې پلازمینې په انګړکې هیئت استقبال کړ.

په دوهمه ورځ درې‌ویشتم جولای په اسلام اباد کې د درېوو هیوادونو پاکستان، افغانستان او ترکمنستان ترمینځ د ګازو د نل لیکې د تېرېدو په اړه، د معادنو وزیر مولوي احمدجان، د پاکستان د مواصلاتو وزیر او د ترکمنستان د تیلو او ګازو د وزیر تر مېنځ ناسته وشوه.

د اګست په اته ویشتمه د افغانستان حکومت یو ځل بیا هیله څرګنده کړه، چې د بریډاس له کمپنۍ سره به ډېر ژر له ترکمانستانه د ګازو د نل لیکې قرارداد لاسلیک کړي.

مولوي احمدجان چې دا وخت یې په دې اړه ارجنټاین ته سفر لاره، له هغه لورې سعودي ته راغې او د سعودي له چارواکو سره په ناسته کې د سعودي د استخباراتو یو لوړ رتبه مقام ورته ویلي و چې تاسو د بریډاس سره ټرون امظا کړئ! ځکه چې بریډاس کارکول غواړي او یونیکال د کار ځنډول غواړي او که چیرې تاسو له یونیکال سره ټرون وکړئ، نو امریکا یو طاقت دی، هرڅه به د فشار له لارې دربانديي مني او د یو ازاد پاټنر حثیت به نه درکوي، هغه په مثال کې خپل هیواد یاد کړ چې اوس د امریکا له خوښې پرته د تیلو په قرادادونو کې هیڅ څه نشوای کولای .

د طالبانو مشرانو ترکمنستان او پاکستان ته بیا بیا په همدې موضوع سفرونه وکړل. له بهرنیو کمپنیو سره یې ناستې وکړې، خو د یونیکال او بریډاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسابقه د کار د پیل خنډ وه. ترکمنستان داوخت له یونیکال سره قرارداد ته میلان لاره او پاکستان هم ورسره موافق و. د دغو دواړو هېوادونو له توافق پرته افغانستان هېڅ هم نه شوای کولای، ځکه چې افغانستان یواځې د یوه ټرانزیټي لارې په توګه د دې پروژې غړی و.

مولوي احمدجان وایي د سعودي چارواکې داخبره چې یونیکال کار ځنډول غواړي تر ډیره حده رښتیا شوه، د احمدجان په وینا یونیکال تر ډیره یوه استخباراتي پروژه وه چې له یوې خوایې یې غوښتل چې د ترکمنستان تیلو اوګازو طبعي زیرمې د امریکا له نفوذه خارجې نشي اوله بلې خوایې غوښتل چې د طالبانو په واکمني کې د ګازو پیپلاین د افغانستان له لارې ونه غزول شي،چې له همدې امله ترهغه وخت په میدان کې ول چې ترڅویې د بریډاس کمپنۍ له میدانه ویسته، بیایې خپل دفترونه په افغانستان کې وټړل.

کله چې د یونیکال شرکت په نوې بڼه په یوه اتحاد کې راوړاندي شو نو ترکمنستان یې هم ملاتړ وکړ، ترکمنستان دا وخت د بریډاس نه په ټیکساس کې د یونیکال په مرسته دعوه ګټلې وه او بریډاس شرکت یې له میدانه ویستلی و آن تردي چې د څه مودې لپاره یې د بریډاس په استازو د ترکمنستان ویزې هم بندې کړې.

د ۱۹۹۷م د اکتوبر په درې‌ویشتمه د معادنو او صنایعو وزیر مولوي احمدجان په چورلکه کې د ترکمنستان پلازمینې عشق اباد ته لاړ او د ترکمنستان له خارجه وزیر شیخ مرادوف سره یې وکتل. مرادوف د شرکتونو له دې نوې اتحاد سره ګډ کارته افغان حکومت هم دعوت کړ، د طالبانو په مشري افغان حکومت فکر وکړ چې بله لاره نده پاتې،ځکه یې هوکړه وکړه.

د اکتوبر په پینځه‌ویشتمه ترکمنستان د شرکتونو له دغې سترې اتحادیې (international semposium) سره د ټرون لاسلیک اعلان کړ، چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتحادیه کې د امریکا یونیکال، د چاپان هوندا، د سعودي عربستان ډلتا او د جنوبې کوریا هونډایي کمپنۍ ګډون درلود او د روسیې د "ګازټروم" شرکت ته هم لس فیصده برخه په کې ټاکل شوې وه، خو روسانو په دې قردادکې له ګډون نه انکار کاوه. د قرارداد له مخې د ګازو نل لیکه به لومړی د پاکستان ملتان او بیا هند ته تېرېده، امریکا او پاکستان هم په دې نوي تړون موافق و.

د همدې کال د ډسمبر په لومړیو کې د افغانستان د حکومت یو هیئت د معادن او صنایعو وزیر مولوي احمدجان په مشرۍ د یونیکال کمپنۍ د مشر په بلنه د امریکا ټیکساس ایالت بوستن ښار ته سفر وکړ او د کمپنۍ له مشرتابه سره له اوږدو ناستو وروسته راستون شو.

له یونیکال او بریډاس سره چې کوم قرارداد لاسلیک کېدو ته چمتو و ، هغه دافغانستان لپاره خورا ګټور و. د معادنو وزارت د سرچینو له قوله د دې قرارداد څه مادې په دې ډول وې:

۱- په دې ستره پروژه کې کار کوونکي به له مسلکي کسانو پرته نور ټول افغانان وي چې په دې توګه به شپېته زرو کسانو ته د کار کولو زمینه برابره شي.

۲- نل لیکه به تر دېرشو کلونو پورې د پروژه تطبیقوونکي شرکت ملکیت وي، افغانستان ته به د هر متر مکعب پر سر ټرانزیټ فیس ورکوي چې دکال بیه یې ۳۵۰ میلیون ډالرو ته رسېږي.

۳- افغانستان کولای شي د دې نل لیکې له لارې خپل ګاز بهر ته صادر کړي، البته دېرش کاله وروسته به نل لیکه په بشپړ ډول د افغانستان ملکیت وي.

۴- له نل لیکې سره شاوخوا په دېرش کیلومترۍ کې پرتو ټولو کلیو ته به ګاز ورکوي او د ضرورت په ځایونو کې به د انرژۍ د تولید توربینونه نصب او له هغو څخه به نیږدي سیمو ته انرژي تقسیم شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- له شبرغان څخه به یوه نل لیکه له دې عمومي نل لیکې سره وصلیږي، او له دې نل لیکې نه د داخلیدونکې ګاز په اندازه ګاز په د کندهار په حدودکې په نویو فرعي نل لیکوکې د هېواد نورو ښارونوته ورکول کیږي.

٦- افغانستان سره به د نفتو او تېلو د څاګانو په بیا رغونه او پاکولو کې مرسته کوي، د شبرغان د ګازو تصفیه خانې به ترمیموي او همدې ته ورته نورې په لس ګونو وړې او عام المنفعه پروژې به په کار اچوي.

د ۱۹۹۸ کال په لومړیو کې له افغانستان سره د کوم تړون له امضاء کېدو وړاندې یونیکال په کابل او کندهار کې خپل دفترونه خلاص کړل او د دې پروژې د تطبیق پلان ګذاري یې پیل کړه.

له یونیکال سره د همکارۍ مزی هغه وخت سست شو، چې د اسامه بن لادن پر سر له امریکا سره لومړۍ ناندرۍ پیل شوې. له شکه پرته په دې شرکت کې هغه افغانان کم نه وو چې له سي آی اِي سره یې تړاو درلود او ډېری یې د امریکا له یرغل سره پر کلیدي پوستونو واکمن شول، لکه د سترې محکمې پخوانی مشر عبدالسلام عظیمي، خلیل زاد ،حامدکرزي او لسګونه نور.دغه افغانان څوک د عظیمې غوندي د کمپنۍ رسمي مامورین وو، څوک ناظرین ول او څوک مشاورین وو.

د سي اَی اې په خپرو شویو اسنادو کې دا هم راغلي چې په ۱۹۹۷م کال کې د یونیکال کارکوونکو دوی ته په کندهار کې د اسامه بن لادن د شتون او ګرځېدو راګرځېدو په اړه معلومات ورکول، چې له دې سره د دې شرکت اهداف او اغراض نور هم مشکوک ګرځي (د ګوستې وار په نامه کتاب نه).

بالاخره د امریکا له خوا د کروز توغندیو له برید سره چې د ۱۹۹۸په اګست کې تر سره شو، یونیکال د نل لیکې د ځنډولو رسمي اعلان وکړ، چې بیا د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا پر افغانستان د بندیزونو له اعلان سره یونیکال خپل دفترونه په افغانستان کې وتړل.

د یونیکال له خوا د ځنډ له اعلان نه وروسته ښکیلې غاړې مجبوره شوې چې یو ځل بیا د بریډاس شرکت ته مخ واړوي، دا وخت بریډاس په یونیکال باندې په نړیوال محکمه کې دعوه دایره کړې وه، خو تردې وړاندې یونیکال په ټیکساس کې په یوه بله محکمه کې د بریډاس شرکت د ترکمنستان په توسط محکوم کړی و.

د ۱۹۹۹ م کال د اپریل په نهه‌ویشتمه د پاکستان پلازمینه اسلام اباد کې د افغانستان د معادن او صنایعو وزیر احمدجان، د پاکستان د د تېلو او طبعي منابعو وزیر چوهدري نثارعلي خان او د ترکمنستان د صدر اعظم د مرستیال ترمینځ یو ځل بیا د ګازو د نل لیکې پر تړون له سره بحث و شو.

د همدې کال د ستمبر په میاشت کې د معادن اوصنایعو وزیر احمدجان له ترکمنستان او پاکستان سره د یوې چینایي کمپنۍ د ممکنه تړون خبر ورکړ چې د بریډاس او یونیکال په عوض به دغه کمپنۍ د نل لیکې غځولو پروژه اخلي، همدارازیې د مالیزیا له پیټروماس شرکت سره هم خبره روانه کړې وه، خو په نومبر کې د امنیت شورا له خوا د بندیزونو لګېدلو دا هر څه په ټپه ودرول.

ښاغلی ملاعبدالسلام ضعیف صیب چې د معادن او صنایع مرستیال وزیر پاتې شوی ګمان کوي چې د امریکا د بندیزونو اصلي علت له یونیکال سره د قر داد نه کول دي. هغه په ۲۰۱٦ کې په دې اړه د ټاپې پروژې په مناسبت په خپله ځانګړې لیکنه کې لیکلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۹۹ ز کال کې هغه وخت چې زه د معادن او صنائع وزارت معین وم، مورِ په عشق اباد کې د دې پروژې په اړه مجلس درلودی. درې ورځې مورِ د درو هېوادونو استازو خپلمینځي او دا رنګه د هغو کمپنیو استازو سره مجلسونه درلودل چې په دغه پروژه کې يې د اشتراک لېوالتیا لرله. که څه هم تر دې وړاندې یو ځل ما په دې اړه سفر کړی و او د دې پروژې اړوند ډېرو نورو مسؤلینو هم سفرونه او مجلسونه کړي وو، مګر زمورِ د ۱۹۹۹ کال ناسته وروستۍ وه. د دې مجلس په دوهمه ورځ د یونیکال کمپنۍ په رول باندې ډېرې خبرې وسوې. پاکستان په دې باندې زیات ټینګار کاوه چې دا پروژه باید یونیکال مخته یوسي، ترکمنستان یونیکال سره لیوالتیا نه ښودله او د بریډاس کمپنۍ ته يې تر یونیکال ترجیح ورکوله. مورِ په اوله مرحله کې د پاکستان لوری ونیو. د شپې لپاره د ترکمنستان ترکمن باشي یوازې مورِ ته یو خاص دعوت راکړ. د ډوډۍ د خوړلو په وخت کې هغه د افغانانو د احسان د یادونې سربېره درې مهمې خبرې مورِ ته وکړې. تر ډېره دا هغه اسرار وو چې هغوی په عام مجلس کې نه سو ویلای:

لومړی: هغه وویل چې مورِ د افغانانو د احسان پوروړي یو. دا چې ترکمنستان ازادي واخستله او مورِ به کله هم د دې بدله ورنه کړای سو. هغه وویل زما له خوا به د تحفې په توګه دوه کاره افغانانو ته خامخا کیږي. اول دا چې زه به تر هغه ځایه چې وتوانیږم د افغانستان ځینو سیمو ته برق ورکوم او دا به زما سوغات وي؛

دوهم: که دغه د تاپي پروژه هر څومره هم وځنډیږي دا به اخیر د افغانستان له لارې کیږي که څه هم ځینې هېوادونه دا کار نه غواړي؛

دریېم: هغه وویل تاسو ته به دا حساسیت معلومیږي یا نه؟ خو مورِ ته پوره معلومیږي هغه دا چې مورِ یو کوچنی او بې دفاع هېواد یو. تر اوسه هم مورِ د روسانو تر تاثیر او نفوذ لاندې یو، روسان په هیڅ قیمت نه غواړي چې د امریکا پښې دي همدې منطقې ته راداخلې سي، نو که تاسو هم د پاکستان غوندې د یونیکال غوښتونکي سئ بیا مورِ ته دا په ګټه ده چې دا پروژه وځنډیږي، ځکه چې زمورِ بقا او امنیت زمورِ ملي موضوع ده. په سبا ورځ مورِ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د ترکمنستان وړاندیز تایید کړ او د بریډاس کمپنۍ سره مو یو تفاهم لیک یا Memorandum هم لاسلیک کړ، کوم چې امریکایان یې په غوسه کړه.

دا چې امریکا دې یوازې د یوې کمپنۍ پر سر دا دریځ نیولی وي، زما په نظر یو سطحي تعبیر او محدود فکر دی. په دې کې شک نه شته چې د منځنۍ اسیا طبعي منابع د امریکا لپاره هدف و او دی، خو د دې ترڅنګ امریکا په سیمه کې ډېر نور اهداف هم لرل، چې په وړاندې یې د طالب د حکومت سستم او کلکه دیني بڼه خنډ وه. امریکا د مجاهدینو له بري وروسته د تل لپاره افغانستان د روسانو لپاره بایللې او د ځان لپاره ګټلې مړۍ ګڼله چې د مجاهدینو خپل مینځي کشمکش دا کار نورهم اسانه کړی و، خو د طالبانو کلکه اسلامي واکمني، له امریکا کرکه او له غربه بې پروایي امریکا ته د لیدلیو خوبونو سرچپه تعبیر وو چې په هېڅ ډول یې نه شوای زغملای. که څه هم طالب له امریکا سره د دښمنۍ سوچ او اراده نه لرله خو سر یې هم نه ورته ټیټاوه.

د ملا دادالله بې وسلې کول او پر کور کېنول

د طالبانو له خوا د کابل له نیولو وروسته چې کله د ملا بورجان، ملا مشر او ملا محمد په ځېر اوسپنیزو خو معتدلو قومندانانو نه طالبان محروم شول، دا وخت د کابل په شمالي کې د جګړې نامتو قومندانان ملافاضل او ملا دادالله وو. که څه هم د ملا نعیم، ملاعبدالرزاق نافذ، ملابرادر، ملاعبیدالله، امیرخان حقاني، مولوي جلال الدین حقاني او ملاسیف الرحمن منصور په ځېر تکړه قومندانان هم تر چا کم نه وو، خو د کسانو تعداد او شهرت د دغو دوو قومندانو ډېر و، چې یو ملا دادالله او بل یې ملا فاضل و. دوی ډېرې کمې دیني زدکړې کړې وي، خو په جګړه کې خورا زړور او د کلک هوډ خاوندان وو. د دوی په وسله‌والو کې د مدرسې د طالبانو ترڅنګ د خپلو سیمو عوام هم زیات وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا دادالله اخوند د زیاتو ملګرو له لاسه ورکولو او پرلپسي جګړو له جنګ سره ډیر عادي کړی و، چې له امله یې سخت زړی، بې پروا او مغرور مزاجه قوماندان و.خو د دې ترځنګ هغه په طالبانو کې د یوه فولادي جنګي قاید او فاتح سرلښکرپه توګه هم پیژندل کیده، چې شتون یې طالبانو ته د جګړې د بري په معنا و، له همدې امله دادالله فکر کاوه چې همدی دی چې جګړه ګټلای شي.

له دې وړاندې هم څو ځله ملا محمد عمر ته د ملا دادالله د سرکشۍ او خودسرۍ خبرونه رسېدلي وو. د تحریک له اصولو سرغړونه او پر رحم نه کولو تورن و، خو چې کله یې د ۱۹۹۸م کال په په پسرلي کې د کابل ولایت د یوې ولسوالۍ ولسوال په عام محضر کې وډباوه، ملا محمد عمر ته نور د هغه چلند یقیني شو. سمدستي یې دفاع وزارت ته امر وکړ، چې دادالله په څو ساعتونوکې بې وسلې کړئ.

دا یوه داسې خبره وه چې هغه وخت ظاهرا ناشونې ښکارېده. دفاع وزیر ملا عبیدالله د جګړې لومړۍ کرښې ته له وسله‌والو سره ورغی، ملا داد الله پر یوې غونډۍ ناست و، د جګړې قوماندې یې سمبالوله.

ملا عبیدالله ورته په ساده الفاظو وویل: اندیواله ستاسي جهاد او مېړانه هر څه ما ته معلوم دي او زما اندیوال یې، خو ملاصیب امر کړی، بله خبره په کې نه ځایېږي، ډېر کم وخت لرئ، اندیولان دې باید سمدستي وسلې راوسپاري او ته کندهار ته خپل کور ته ځان رسوه. دا د مشر امر دی!

د ملا دادلله بڼه بدله شوه. له یو څه فکر او غور وروسته یې پر خپلو وسله‌والو غږ کړل: ملاصیب امر کړی، ټول وسلې او موټرونه وزارتِ دفاع ته وسپارئ.

یو ساعت کې دننه د هغه ټول وسله‌وال بې وسلې کړای شول او سلګونه نقلیه وسایط هم ترې تسلیم کړای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا دادالله د خپلې اوږې توپانجه هم وسپارله!

په سبا مورِ په کندهار کې د هغه موټرونو د اوږده قطار نداره کوله چې یواځې یو یو ډرایور په کې ناست و، او د مشرتابه دفتر ته یې تسلیمي ورکوله.

هغه ستر سرای چې دغه موټران په کې درول کېدل، داسې ښکارېده، لکه د مستعملو موټرانو یو ستر نندارتون، چې ستر او واړه مستعمل موټران په کې ولاړ وي.

تقریبا له شپږو میاشتو وروسته، د امارت د ستر مفتي مولوي عبدالعلي دیوبندي په مشرۍ د علماوو یوه وفد ملا محمد عمر ته د دادالله د ښلو وړاندیز وکړ. ملا محمد عمر د علماوو خبره په مشروط ډول ومنله. ملا دادالله یې په دې شرط وبانبه چې اینده به هیڅ خودسره حرکت او بې له اجازې اجراءات نه کوي.

ملا محمد عمر قومندانانو ته دا خبره ډېره کوله؛ هرڅوک چې کبر اوغرور کوي اسلام هغه ته ضرورت نه لري، ځکه خو مورِ هم د مغرورو او کبرجنو خلکو جهاد او میړانې ته اړتیا نه لرو.

د شمالي ولایتونو وروستۍ او ربښتینې فتحه

د ۱۹۹۷ کال د می د میاشتې سترې ماتې او زرګونو تلفاتو طالبان بیا هم د شمالي ولایاتو له فتحې را ونه ګرځول. د همدې کال په ستمبر کې طالبانو دوباره مزار ښار ته دننه شول خو د دوستم د قواوو له خوا بېرته شاته کړای شول. طالبانو د ۱۹۹۸ م میلادي کال تر جولای پورې د کندوز له مرکزه پر شمال ځان یوه ستر برید ته چمتو کړ اوهم یې د لویدیځ شمال په کرښه کې د هرات او بادغیس له خوا خپل جګړه‌ییز پلانونه منظم کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۹۸جولای د میاشتې په دولسم (۱۳۷۷د جنګابښ یوویشتمه) غرمه د کندهار له دود سره سم د خوب په خونه کې ویده وم، چې د کندهار ښار پر فضا د جیټ الوتکو د ټیټ پرواز تیز غږ له خوبه راویښ کړم. دا د هغو دوو پیلټوټان همښنی فساد و چې د کومې سترې فتحې پرمهال به یې د ښار پر سر خپلې الوتکې دومره ټیټې کړې چې د غوږونو پردې به یې ولړزولې او مشرتابه ته به یې اشاره ورکړه چې مبارک دې شه!

پوه شوم چې د الوتکو ټیټ پرواز د کومې سترې سوبې زیری راوړي. په چټکۍ مي خپله وړه مخابر په زوره کړه چې د مشرتابه له مرکزي مخابرې راباندې چیغې وهل کېدې. عبرت، عبرت (د مخابرې کوډ مې و) زما له ځواب هغوی پوه شول چې ویده وم. د مشرتابه د مرکزي مخابرې مشر حاجي لالا راغبرګه کړه! یارانو دې فاریاب لاندې کړ اوته خوبونه کوي!

سمدستي دفتر ته لاړم د تلفونونو شرنګهار وو. د میډیا استازو او ادارو معلومات غوښتل. تر مابنامه مو رسنیو ته جزیات ورکړل. سبا ته مو د مشر له خوا د هغه په هدایت یوه اعلامیه خپره کړه چې تاجکستان او ازبکستان ته یې خبرداری ورکړ چې له خپلو هوایي اډو د ټلوالې الوتکو ته د بمبار اجازه ورنه کړي.

د مشر دوهمه اعلامیه دا وه چې طالبان دې له جنګي اسیرانو سره هیڅ ډول ناوړه چلند نه کوي.

طالبانو د فاریاب یو شمېر مهمې سیمې تصفیه کړې او د ولایت په مرکز کې یې د امنیت مسئول او نور چارواکي وټاکل. څو ورځې وروسته د همدې میاشتې په اتلسمه د دوستم او متحدینو قواوو د فاریاب "جمعه‌بازار" سیمه بېرته لاندې کړه. د دوستم الوتکو سخته بمباري جاري ساتلې وه چې ګمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښده له ګاونډي هیواده یې پرواز کاوه. طالبانو د ستنګر توغندیو مسلکي له څو توغندیو سره د جګړې کړنې ته واستاوه. پر سبا یې د دوستم یوه جیټ الوتکه د بمبار په حال کې په ننبه او رانسکوره کړه چې له دې سره بمبار نور ډېر کم او محدود شو. طالبانو ببرته د جمعه بازار سیمه ونیوله او پرمختګ ته یې دوام ورکړ.

د جولای په شپږویشتمه د غور او فاریاب ترمینځ غرنۍ سیمه کې د حکومت د مخالفو وسله‌والو یوه لویه ډله طالبانو ته تسلیم شوه چې شمېر یې پنځو سوو تنو ته رسېده.

د جولای په دېرشمه طالبانو د فاریاب پاتې مهمې ولسوالۍ دولت اباد، فیض اباد او خواجه موسی ونیولې.

د اګست په دوهمه له خونړۍ جګړې وروسته طالبان د جوزجان مرکز شبرغان ته دننه شول. له مزارشریف نه د خارجي موسساتو کارکوونکي او د ایران د سفیر مرتضی حدادي په مشرۍ د ایران ټول دیپلوماتان په الوتکو کې ووتل.

د اګست په دریمه طالبانو پر بلخ ولایت د کندوز او شبرغان له لوري غبرګ تعرضونه پیل کړل. دا وخت مور د مشر له خوا اعلامیه خپره کړه چې د وسلې سپارلو په صورت کې ټولو مخالفینو ته عمومي عفوه ده. خو له بده مرغه ورسته بیا دا خبره معلومه شوه چې د مشر له فرمان نه په سرغړاوي د عبدالمنان نیازي او څو نور و وړو قوماندانانو له خوا د دښتې لیلي د انتقام په جذبه په جګړه کې له نیول شویو جنګالیو نه د پام وړ شمېر جنګي اسیران قتل شوي وو.

د اګست په شپږمه د بلخ ولایت دولت اباد ولسوالي ونیول شوه او طالبانو د ښار لور ته پرمختګ جاري وساته. د اګست په اتمه (د زمري اولسمه) طالبان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاشقرغان او دولت اباد له لوري د ملابرادر او ملا محمد فاضل په پوځي مشرۍ مزار ښار ته دننه شول او د سهار په اتو بجو د مزار ټول ښار د طالبانو تر واک لاندې راغی.

د اګست په یوولسمه له یوې ورځې پرله‌پسې جګړې وروسته د تخار ولایت مرکز تالقان ښار ته له کندوزه د ملا محمد نعیم په مشرۍ طالبان ننوتل چې په دې سره طالبانو د شمال ټول مهم ولایتونه بادغیس، فاریاب، سرپل، جوزجان، بلخ، سمنګان، بغلان، تخار او کندوز تر خپل واک لاندې راوستل او د امریکا تر یرغله وروسته د کلک واکمن پاتې شول، چې مخالفینو یې بیا د امریکا تر یرغله سر پورته نه کړای شو.

په دیارلسم ستمبر د ملابرادر اخوند په مشرۍ طالبانو د بامیانو مرکز ونیو او څو ورځې ورسته یې پاتې سیمې هم تصفیه کړې.

د جنرال دوستم یو شمېر قوماندانان چې له فاریاب او جوزجانه سرپل ته تښتېدلي او هلته پټ شوي وو، طالبانو په سرپل کې د هغوی پلټنه پیل کړه چې د اګست په لسمه یې همدغه د دوستم درېدېرش جنګي قوماندانان په چادریو کې ونیول او زندان ته یې یوړل.

د مزارشریف د نیولو په شپه د ایران کونسلګرۍ نه یوولس تنه ایرانیان ویستل شوي وو او ورک وو. ایران د پاکستان او ملکرو ملتونو د سازمان په توسط د خپلو کسانو د موندلو غوښتنه کوله. د مشرتابه په امر د دې کسانو په اړه لټون او څېړنه پیل شوه. له څو اونیو وروسته یوه کنده کې یوولس موندل شوي مړي، همدغه ایرانانیان وختل چې له املې یې ایران د افغانستان پر ضد د ښکاره دښمنۍ اعلان وکړ او د افغانستان په سرحدونو کې یې د جګړې په دود نظامي قطعات ځای پر ځای کړل او جنګي مانورې یې پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستمبر په لسمه د ایرانیانو مړي ومومندل شول او د ستمبر په یوولسمه د افغانستان حکومت یوولس وژل شوي ایرانیان ایران ته رسما وسپارل.

د فتوحاتو له پراخیدو سره د مسلکي او وړ کدرونو کمښت

د مزار له ورستۍ فتحې وروسته طالبانو تقریبا دا افغانستان تر ۹۰ فیصده په زیاته برخه واکمن شول. یو درجن نوي ولایتونو والیانو،امنیه قوماندانانو،ملکي ریسانو، قاضیانو او د ولسوالیو ولسولانوته اړتیالرله، چې طالب مشرتابه د تلپاتي عادت له مخې ډیر ژر ټاکل. خو په مسلکي اداروکې د کار ماهیت او معیار په ډیرو برخو کې ستونځې لرلې، د والي، امنیه قوماندانانو او قاضیانو په برخه کې طالبانو اساسي ستونځې نه لرلې، ځکه چې طالب چارواکو په دغو دندوکې وړتیا لرله، خو په ملکي ادارو او مسلکي ارګانونو کې طالبانو د انتخاب لپاره دقت نه کاوه، اکثره وخت به په نویو مفتحو سیمو کې د زون مشرانو او والیانو خپل عادي ملګري مسلکي ادارو ته ټاکل، چې بیا به یې په مسلکي چارو کې د پخوانیو حکومتونو په تجربه کارو مامورینو پرده کیده، چې دا د حکومتولۍ په برخه کې وړوکې اشتباه نه وه.

بل خوا د شمال په نویو نیول شویو ولایتونو کې به اکثره نظامي کیفیت پر ملکي حکومت داري غالبه و.که له دې ور هاخوا د هیواد پلازمینې ته پام واړوو؛ نو هلته هم د کابل پرده په یو څو ذهینو طالب چارواکو خوندي وه. لکه په لوړ پوړو چارواکو کې مولوي عبدالکبیر، مولوي سید محمد حقاني او مولوي متوکل او یا هم د معینانو او منځني کچ چارواکو په کچه د صحت عامه مرستیال وزیر ډاکټر فضل رباني او د خارجه وزارت معین شیر عباس ستانکزی، یا کابل شاروال حمدالله نعماني او ځینې نور، چې له اداري او مسلکي چارو سره عیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بلد و او يا يې د خپل ذهانت پر مټ په کمه په موده کې ځانونه عيار کړای شول.

مولوي عبدالکبير د منظم اداري چوکاټ د رعايتولو او په کار کې د لوړ ابتکار او ذهانت په لرلو په طالب اداره کې طاق سړی و، د چارو د اداري له مرستيال محمد حسين مستسعيد نه مې اوريدلي چې د پيچيده دولتي کارونو په اړه به مسلکي مامورين د نورو مشرانو په پوهولو ستړي کيدل، خو له مولوي عبدالکبيره به بيا مامورين په په ويره کې و، ځکه هغه مسلکي چارې دقيقې تعقيبولې او په هرڅه به وار له مخه خبر و. مولوي عبدالکبير پر يوه وخت د وزيرانو شورا مرستيال، ننګرهار والي او مشرقي زون مشر و، خو پر دې برسيره کله چې دفاع وزير زخمي شو، نو ملا محمد عمر د څه وخت لپاره مولوي عبدالکبير پر يادو دندو برسيره په موقت ډول د دفاع وزارت سرپرست هم وټاکه، کله چې يې د دفاع وزارت دسنبالیدو ورته وويل، نو مولوي عبدالکبير پر تلفون ملا محمد عمر ته وويل: «کومې دندې چې دي راله غاړې کړې، نو پر هغو مې هم خلک نه زغمي، دفاغ وزارت که راکړې نو هسې نه زړونه نور هم راته تنګ شي» (اشاره يې ځينې سمت پرسته طالب چارواکوته وه). ملا محمد عمر ورته وويل مولوي صيب! ترڅو چې زه يم، بې فکره اوسه! ربښتيا هم ترڅو چې ملا محمد عمر په صحنه کې و او مولوي عبدالکبير ورسره اړيکه کې و، نو مولوي عبدالکبير يو باصلاحيته او واکدار طالب مشر و، خو چې ملا محمد عمر له صحنې غايب او اړيکه يې محدوده شوه، نو مولوي عبدالکبيرته له هر لوری د خنډونو رامخه شوه، چې له امله يې له ذهني او رواني ستوماني سره مخ شو. خو بياهم د غره په ځير په خپل ځای او موقف دروند پاتې شو او کله يې هم د اختلاف او انحراف کومه وړه جمله له خولې ونه وته! مولوي کبير په طالب حکومت کې د منظم اداري چوکاټ، اقتصادي پروژو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د لویو لارو پخول او همدا راز د ولسي شوراګانو د جوړولو پلان جوړونکي ګڼل کیده، خو د هغه د تصور او ابتکار د پلي کیدو په وړاندي عملي خنډونو ول.

ذهین طالب چارواکي اکثره د مدرسو ځوان فارغین ملایان و، دوي پر دې علاوه له ديني او روحاني اړخه هم د ډاډ وړ وو. طالبانو په پخپل حکومت کې هغه ديني فارغان ډیر کم لرل، چې له افغانستان او پاکستان نه پرته یې په نورو هېوادونو کې زده کړې کړې وي. د بیلګې په توګه د ګوتو په شمار د سعودي عربستان د ديني جامعو فارغین وو چې ښه رول او ښه ديني صبغه یې لرله، همداراز د مصر د الازهر د پوهنتون یو شمېر لیسانس لرونکي هم په ټیټو څوکیو کې وو، چې اکثره یې د حرکت انقلاب اسلامي د تنظیم له خوا د افغان شوروي جګړې پر مهال مصر ته استول شوي و. خو له بده مرغه د الازهر شریف ستر نړیوال ديني مرکز ته د افغان جهاد پر مهال د سیاسي روابطو پر مټ په رعایتي بورسونو تللي افغانان د ازهر علمي استازولي نشوای کولای. دغه ډله ازهریان چې په طالب حکومت کې یې کار کاوه، د مصر د کوڅو له عامیاني عربي، د اسکندریې د چکرونو او د اُم کلثوم له سندرو ورها خوا یې دازهر کومه علمي صبغه نه تمثیلوله او نه پکې د ربښتینو دینې رجالو دیانت او روحانیت تر سترګو کیده. د دغه حرکتي ازهریانو مشر د مولوي محمد نبي زوي محمد شریف و، چې له ازهر نه له راتګه وروسته یې له یوې مشهورې افغان سندر غاړې سره له څو کاله یارانې وروسته واده وکړ او د ازهر ملګري یې قاسم حلیمي او رحیم الله حنفي هم ورسره په دې راز اوجریان کې ول!

قاسم حلیمي او رحیم الله حنفي د طالبانو د حکومت د خارجه وزارت په چوکاټ کې د رئیسانو په توګه دندې لرلې.

په ټولیزه توګه د طالبانو په اداروکې له مسلکي ضعف سره سره په حیرانوونکې ډول نسبي اداري شفافیت او مسئولیت ترسترګو کیده، چې ښایي لامل به یې د چارواکو شخصي دیانت او ورسره د مشرتابه کلکه محاسبه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم څپرکی

امریکا سره د شخړو پیلامه، اسامه بن لادن او القاعده

اسامه بن لادن چې پوره نوم يې "اسامه بن محمد بن عوض بن لادن" دی، د سعودي د يوې يمني الاصله بډايه کورنۍ غړی و. د جدې د ملک بن عبدالعزيز پوهنتون نه يې په اقتصاد کې ماستري کړې وه. په افغانستان کې د شوروي يرغل په خلاف د افغان جهاد له بهرنيو مسلمانو ملاتړو و او د مشهور فلسطيني مفکر عبدالله عزام سره يو ځای يې د پاکستان په خاوره کې د عربو ځوانانو د تربيت مرکزونه او دفترونه لرل. د هغوی اصلي مشر عبدالله عزام و چې د يوې توطيې په ترڅ کې له خپلو غبرګو زامنو سره په پيښور کې ترور کړای شو. اسامه هغه وخت يو مهاجر ځوان و او د افغانستان په داخل کې يې د روسانو او روس پلوه نظام پر ضد جګړو کې په خپله هم برخه اخيسته.

هغه وخت د افغانانو مرستې ته راغلي خارجي مجاهدينو د عبدالرب الرسول سياف لوري ته ډېر ميلان درلود، ځکه چې سياف د دوی د خوښې شعارونه ورکول او د دوی تر مينځ يې پراخ نفوذ پيدا کړی و. بل پلو ته د سعودي استخباراتو او مرسته کوونکو ټولنو هم پر سياف پانګوونه کوله.

کله چې د شوروي ضد جهاد له اختتام سره اسامه خپل وطن سعودي ته وګرځېد، نو د ۱۹۹۰ کال داګست پر دويمه صدام پر کويټ برید وکړ. سعودي له امريکا مرسته وغوښته. امريکا ستره پوځي بحري قوه د سعودي حدودو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ځای پر ځای کړه چې په دې سره د سعودي ځینو علماوو او غرب دښمنه طبقې د سعودي پر حکومت اعتراض وکړ، چې امریکایي قواوې د سعودي خپلواکي تهدیدوي.

د دې خلکو په سر کې اسامه بن لادن هم و چې حکومت ته یې وړاندیز وکړ چې دوی به د سعودي د دفاع لپاره د عربو مجاهدینو یو ځواک ترتیب کړي. سعودي دې امریکایي قواوو ته د راتګ دعوت او اجازه نه ورکوي چې دا به بیا د تل لپاره د سعودي په حدودو کې پاتې شي، چې د اسامه دا خبره بیا رښتیاهم شوه. سعودي حکومت اسامه له خپلې خاورې وشړه او د هغه ډېرې ملګري او علماء یې بندیان کړل.

اسامه سوډان ته لاړ. د سوډان حکومت له اقتصادي پلوه کمزورى و. اسامه هلته اقتصادي پروژې پیل کړې چې په دې کې د لویو لارو جوړل هم شامل و. کله چې پر سوډان د سعودي او امریکا له خوا فشارونه زیات شول، اسامه افغانستان ته مخه کړه. د ۱۹۹٦م کال په پسرلي کې د ننګرهار څو تنه قوماندانان سوډان ته په یوه کانفرانس کې د شرکت لپاره لاړل. په دې کې د استاد سیاف قوماندان سازنور، د حزب قوماندان فضل الحق مجاهد او د مولوي خالص قوماندان انجنېر محمود او د فضل حق مجاهد ترجمان صفت الله قانت و.

دوی په سوډان کې له اسامه سره ولیدل او سازنور هغه ته له سوډانه د شړلو په صورت کې د سیاف له خوا دعوت ورکړ چې افغانستان ته راشي. له دې سفره وروسته د رباني او سیاف په مشوره او امر د اریانا افغان الوتکه چې هند ته یې پرواز درلود، له هنده ستنېدو کې سوډان ته ولېږل شوه. اسامه یې سره له کورنۍ او ملکرو جلال اباد ته راوړ او د جلال اباد په هوایي ډګر کوز شول. هغه ته د سیاف قوماندان سازنور هرکلی وکړ، خو وروسته د مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدیونس خالص له خوا د هغه قوماندانانو د هغه د ساتنې او همکارۍ دنده پرغاړه لرله.

یوه خبره چې د اسامه نړدې کړیو ته منسوبه ده هغه دا وه چې سیاف اسامه ته حال وراستولی و چې مور ته امریکایانو ستا د نیولو یا وژلو وړاندیز کړی. مور دا کار نه کوو خو ته مور ته یو لوی مبلغ پیسې راکړه چې مور پرې ستا امنیت هم وساتو او خپل دولتي اعضاء هم راضي کړو. اسامه ورته ځواب کې ویلي زه هغه پخوانی اسامه نه یم. لاس مې خالی دی او تش یو بې وزله مهاجر یم، دومره ستر مبلغ نه شم ادا کولای. کله چې یې د سیاف او رباني له لوري سخت غبرګون لیدلی و نو د ځان خلاصولو لپاره یې ورته ویلي وو چې زه به هڅه وکړم ما ته وخت راکړئ.

دا وخت ځینې نور علایم داسې وو چې سی آی ای د کوم بل هېواد او د رباني رژیم په وسیله ځان اسامه ته نړدې کاوه ،چې یا یې ژوندی ونیسي یا یې ووژني. له همدې امله د مولوي خالص ځینې قوماندانانو لکه انجنېر محمود او معلم اول ګل د اسامه د ساتنې لور ته فوق العاده توجه اړولې وه او د هغه د اوسېدلو ځای یې له عام محضره پټ ساتلی و. د هغه له راتګه څو میاشتې وروسته طالبانو ننګرهار ونیو او د اسامه د ترور یا نیولو دسیسه هم ناکامه شوه.

د طالبانو له خوا د کابل له نیولو وروسته په ننګرهار کې له اسامه بن لادن سره څو تنو طالبان مشرانو ولیدل او هغه ته یې اطمنان ورکړ چې د دوی له خوا ورته ستونزه نه شته. له دې وړاندې اسامه ځینې کړیو له طالبانو سخت وبرولی و. یوه حزبي قوماندان ورته طالبان د امریکا خاص خلک معرفي کړي وو، ځکه خو دا وخت اسامه بیا هم پر طالبانو شک کاوه او له طالبانو سره په اړیکه کې د شک او تردد نښکار و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسامه په اړه طالبانو ډیر تفصیلي تعریف ته ځان اړ نه ګانړه. فقط همدومره کافي وه چې د روسانو پر ضد مجاهد پاتې شوی؛ عرب دی او دلته مهاجر او مسافر دی. دا هغه څه وو چې د طالب غورځنګ مزاج په خپله غېږه ورکوله، مګر تر شا یې درنې خبرې لا طالبانو نه وې درک کړې. اسامه د طالبانو د راپیدا کېدو پر سیمه کندهار او ورسره ترړلیو سیمو کې کله هم قدم نه و ایښی، خو عرب مجاهدین د جهاد پر مهال له کندهاري مجاهدینو سره په جبهاتو کې وو.

د هغوی جګړه او مېړانه کندهاریانو هم لیدلې وه، چې له همدې امله یې دیني رغبت او مینه ورسره لرله. بل پلو په کندهار کې د مولوي محمد یونس خالص د سترو جهادي حبهو قوماندانان له طالبانو سره یو ځای او د لوړو مقامونو څښتنان وو او له مولوي خالص سره یې اړیکه وه او د مولوي خالص قوماندانان یې هم پېژندل، نو د اسامه په اړه طالبانو له همدې امله هم منفي ذهن نه شوای خپلولای.

د ۱۹۹۷میلادي کال په فروري کې اسامه کندهار ته وبلل شو او د مشر له خوا په افغانستان کې د پاتې کېدو او اوسېدو په اړه اطمنان ورکول شو. ملا محمد عمر ورته وویل دا چې تا خپل وطن هم نه پریږدې، بل وطن دې هم نه پرېږدي، زمونږ مسلمان ورور یې. دا دې خپل وطن دی، خو د امارت د څو نورو مسولینو له خوا په همدې سفر کې اسامه ته دا خبره هم وشوه چې د سعودي عرب په وړاندې دې داسې څه نه وایي چې د سعودي حکومت پرې ناراضه شي. اسامه ظاهراً په دې خبره هوکړه وکړه.

دا وخت امریکا سره د اسامه لانجه دومره سرسري وه چې په طالبانو کې هیچا فکر نه کاوه چې دا به یوې لویې دښمنۍ او مقابلې ته رسیږي.

اسامه چې له کندهاره بېرته ننګرهار ته راغبرګ شو، څو ورځې وروسته یې له طالبانو سره د خپلو امنیتي ستونزو په اړه خبره شریکه کړه. خبره مشرتابه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېده. ملا محمد عمر فکر وکړ چې هسې نه جلال اباد کې د دوستۍ په جامه کې څوک اسامه ته زیان ونه رسوي چې دا به بیا د طالبانو د بدنامۍ لامل وګرځي. له همدې امله یې هغه کندهار ته وروغوښت او د څو تنو مشرانو تر نظارت لاندې د اوسېدو وړاندیز یې ورته وکړ. اسامه او ملګری یې په دې خبره خوشحاله او ډاډه شول. د مارچ د میاشتې په لومړیو کې اسامه او ورسره مهم ملګري له کورنیو سره له ننګرهاره کندهار ته انتقال شول او په یوه پر امنه سیمه کې یې واړول.

د مارچ په دوهویشتمه له افغانستانه د اسامه بن لادن لومړۍ مطبوعاتي مرکه د لندن انډیپنډینټ ورځپاڼې خپره کړه چې سعودي عرب او امریکا دواړو ته یې په کې ګوابنس کړی و. دا مرکه کندهار ته له انتقالیدو وړاندې جلال اباد کې شوې وه.

همدې نه د اسامه لانجمنه دوره پیل شوه. ملا محمد عمر ته ځینې مشرانو وویل چې له یوې خوا نړۍ د کابل له نیولو سره مور د یوه حکومت په حیث نه پېژني او مخالفین هم راپسې د بدنامولو نغاړې ډنګوي. که اسامه له سعودي سره له دې ځایه لانجه پیل کړي نو د سعودي په څېر مهم اسلامي هېواد به مو هم دښمن شي. ملا محمد عمر اسامه د مارچ په پینځمه را وغوښت او ورته یې وویل مور له بې شمېره ستونزو سره مخ یو. له سعودي سره لانجه مور ته درنه ده. په تشو اخطارونو سعودي مه خپه کوه. تا ته هم ګټه نه کوي، ته نور د سعودي پر ضد څه مه وایه. اسامه بیا هم دا خبره ظاهرا ومنله خو دا یې ورته ونه ویل چې د امریکا پر ضد څه مه کوه ځکه چې دا وخت اسامه هیڅ عملي توان نه درلود او نه هم په طالبانو کې چا فکر کاوه چې اسامه به په دربیم هېواد کې د چا په وړاندې څه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میډیا د اسامه مرکه ډېره وشاربله چې له امله یې د مشر او اسامه له ملاقاته یوه ورځ وروسته د مارچ په شپږویشتمه د امارت د دفتر سمبالوونکي مولوي وکیل احمد متوکل له مطبوعاتو سره د اسامه په اړه لومړۍ څرګندونې وکړې. د هغه هغه مرکه چې له بي بي سي سره یې لرله. غټ ټکي یې دا وو.

"اسامه بن لادن ته مو ویلي: چې زمونږ له خاورې د چا پر ضد کار مه اخله او د سعودي پر ضد تبلیغات مه کوه. له صدام حسین نه نور سعودي ته کوم خطر نه شته، نو ځکه باید امریکایي ځواکونه نور د سعودي عربستان له حدودو ووځي".

له دې وروسته اسامه ته اجازه ورکول شوه چې خپلو ملګرو سره د ځان ساتنې په موخه د ناستې پاستې لپاره ځایونه بدل کړي او معتمد مسلح ساتندویان زیات کړي. له هغه سره د روزمره تماس لپاره څو مشران په ګوته شول چې یو په کې ملاعبدالجلیل هم و.

د همدې کال د می د میاشتې په اخیر کې د پاکستان او عربو اماراتو ترڅنګ سعودي هم د طالبانو په لاس جوړ شوي د افغانستان نوی حکومت په رسمیت وپېژاند. تر دې وخته لا سعودي د اسامه او ملګرو په اړه یواځې د سعودي پر ضد د څه نه کولو غوښتنه لرله، چې د طالبانو له خوا په اطمنان ورکولو هغوی تر ډېره ډاده وو، خو وروسته ستونزې ورو ورو زیاتېدې. له یوې خوا امریکا پر سعودي فشار راوړ چې طالبان د اسامه پر ضد وهڅوي او له بلې خوا د اسامه په پلویتوب د سعودي د ننه ځینې تحرکات د سعودي حکومت کشف کړل.

د اسامه بن لادن له خوا د ستلایټ تلفون له لارې د سعودي د شاهي کورنیو غړیو ته د هغو د فیکس په خاصو نمبرونو لیکلي اخطارونه ور فیکس شوي وو چې سعودیانو هم د سفارت له خوا او هم له نورو لارو رسمي شکایتونه وکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له امله يې د وزيرانو شورا غړيو او ځينو مهمو طالب چارواکو پر اسامه نيوکه وکړه، خو بيا هم اسامه دومره جدي نه ګڼل کېده.

د ۱۹۹۸م کال په فبروري کې د اسامه له خوا يوه اعلاميه رسنيو ته ورسېده چې د امريکا پر ضد تونده ژبه په کې کارېدلې وه. له هغه لږ وروسته د امريکا خاص استازي رچرډسن کابل ته سفر وکړ او د سرپرستې شورا مشر ملا محمد رباني او نورو چارواکو سره يې اوږدې خبرې وکړې. دغه امريکايي مقام هم د اسامه موضوع ثانوي وګڼله، اصلي خبرې يې د طالبانو او مخالفينو ترمينځ د روغې او ګډ حکومت د جوړولو په اړه وې. په اخير کې يې ملا محمد رباني ته تنها ويلي وو چې اسامه نه ستاسې په ګټه دی او نه زمور. دا سړی له خپلې خاورې وشړئ.

په عين وخت کې په کندهار کې له څو مياشتو راهيسې داسې علايم هم ليدل کيدل چې د کندهار شاوخوا د سي آی اي افغان ايجنټان د اسامه د ترور هڅه کوي، خو استخبارت دومره قوي نه وو، چې دا ډله په دقيقه توګه کشف او تعقيب کړي.

د مې د مياشتې په شپږويشتمه اسامه او ملګرو يې په خوست کې د ځينې پخواني قوماندانانو او يو شمېر طالب مشرانو په همکارۍ پټه مطبوعاتي غونډه جوړه کړې وه چې د سي اين اين په ګډون د ګڼو نړۍوالو خبري سرچينو نمايندګان يې د مشرتابه په ناخبرۍ کې رابللي وو. دغې وينا سخت نړۍوال غبرګون را وپاروه. د طالبانو مشران يې غوسه کړل خو اسامه ظاهرا داسې تاثر ورکړ، چې دی خو طالب مشرتابه يواځې د سعودي پر ضد له څه ويلو منع کړی و، نه د امريکا پر ضد.

مولوي وکيل احمد متوکل د افغانستان د حکومت په استازولۍ رسنيو ته وويل چې د خوست غونډه د مشرتابه په ناخبرۍ کې شوې چې په دې غونډه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسامه له څرګندونو سره د افغانستان حکومت موافق نه دی، اینده به هغه ته د داسې غونډو اجازه ورنه کړو.

مشرانو د هغه د محدودیت او کنترول پربکړه وکړه چې اینده به هیڅ سیاسي او مطبوعاتي هلې ځلې په خپل سر نه کوي. نه به له داخلي او خارجي کسانو سره د امارت له اجازې پرته خبرې کوي. دې مسئلې د طالبانو مینځ کې نوي بحثونه وزیږول. عام طالبان د اسامه کلک طرفدار وو، خو چارواکي له هغه سره د مینې او همکارۍ ترڅنګ د هغه د فعالیت مخالف وو. ټولو ویل باید د یوه مسلمان پناهنده په حیث یې قدر وکړو، خو زمونږ له خاورې دې نړۍ ته ګوابښ نه کوي، ځکه مونږ چا سره څه وس لرو؟ ایله دا خپل هېواد له ګډوډۍ وژغورو او اسلامي واکمني په کې وساتو.

د جون په میاشت کې د سعودي د استخباراتو رییس ترکي الفیصل کندهار ته غلچکی سفر وکړ او د اسامه موضوع یې جدي یاده کړه. چارواکو هغه ته وویل د دې موضوع شرعي حل علماء را ویستی شي. د سعودي او افغانستان د علماوو ګډ کمېسون به پرې بحثونه وکړي، خو سع ودیانو دا ډول کمیسون ته عملي جامه ور وانه غوستله.

اسامه بیا هم په پټه لګیا و چې امریکایان په ویناوو ووېروي، خو امارت ورته جدي ګوابښ وکړ چې زمونږ په خاوره کې به هر څه زمونږ په خوښه وي.

ترکي الفیصل په خپل سفر کې د ډېرو زیاتو مرستو وړاندیز هم کړی و، چې اندازه یې سلګونو مېلونو ډالرو ته رسېده، خو امارت د دغو مرستو په بدل کې د اسامه د شړلو بدله شرموونکي بللې وه او دا یې یو غلط وړاندیز ګڼلی و، چې په دې سره هغه اټکلونه هم ناسم ثابتیږي چې فکر کوي اسامه له طالبانو سره مالي مرسته کوله ځکه یې ساتلی و. اسامه طالبانو سره د یو ځای کېدو پرمهال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره شتمن نه و چې دومره ستر تحریک یا حکومت ته د پام وړ مرسته ورکړي، بلکې د دې په مقابل د سعودي مرسته دومره ستره وه چې د طالبانو لپاره یې ښایي ساری نه وای موندل شوی.

اخیر کې چې د اسامه مالي سرچیني کنګل کړای شوې، نو داسي وخت هم راغي چې د القاعده د محدودو موټرونو تېل هم د افغانستان حکومت ورکول. زه د داسې پرچو شاهد یم چې د مقاماتو له خوا به د انحصاراتو مسولینو ته لیکل شوي وو، چې د عربو مجاهدینو عرادهجاتو ته دومره لیتره تېل اجراکړئ.

پر افغانستان د امریکا د کروز توغندیو برید

د ۱۹۹۸ کال د اګست په اوومه د کینیا او تانزانیا په پلازمېنو کې د امریکا پر سفارتونو چاودنې وشوې چې مورِ یې خبر هم یوه هفته وروسته ولوست او دا راته دومره د پام وړ ښکاره نه شوه، نه مو نېغ د اسامه لور ته ذهن تللو. مشرتابه د شمالي ولایتونو فتوحاتو کې سخت مصروف و چې له دې چاودنو یوه ورځ ورسته مورِ د بلخ ولایت مرکز چې د دوستم ورستی مورچل و فتح کړ او مشرتابه د دغو ولایاتو په نویو تشکیلاتو او تصفیه مصروف و. امریکا لاهم د دې پېښو نېغ نسبت اسامه یا دهغه ملګرو ته نه و کړی او نه یې کوم خبر یا شواهد د افغانستان له حکومت سره شریک کړي وو.

دوه اونۍ لاپوره نه وې چې د اګست په شلمه د افغانستان پر وخت تقریبا د شپې لس بجې د خوست ولایت پر ژورې کیمپ امریکایي توغندي وار شول چې د اسامه په ګډون هیڅ یو عرب هلته نه و، بلکې یو شمېر پاکستانیان په کې له مینځه لاړل، چې د شوروي ضد جهاد له وخته دلته اوسیدل. څو توغندي خطا لاړل، چې یو د کندهار معروف ولسوالۍ کې ولګېد او یو څو یې د پاکستان په خاوره کې وچاودل، خو د معروف توغندی ناچاودلی پاتې و، چې بیا د کندهار وسلهتون ته انتقال کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عین وخت لس توغندي د سوډان په مرکز کې د درملو پر یوه فابریکه ولګېدل چې امریکایانو دعوه وکړه چې دا د شیمایي موادو فابریکه وه خو د امریکا دغه دعوه هم د صدام د هستوي وسلو په څېر تر اوسه ثابته نه شوه، آن چې د سوډان حکومت هغه وړاندیز هم امنیت شورا ونه مانه چې په دې اړه یې د پلټنو غوښتنه کړې وه چې بین المللي هیئت دې د دغې فابریکې څېړنه وکړي چې رښتیا د شیمایي وسلو کارخانه وه او که د درملو!

له شکه پرته چې د خوست برید د کینیا او تانزانیا له بریدونو سره اړه نه لرله، بلکې دا له څو میاشتو راهیسې پلان شوي بریدونه وو. امریکا د تانزانیا او کینیا له بریدونو دوه میاشتې ورسته په نومبر کې اسامه رسما په دې پېښه کې تورن وګانه.

دغې حملې له یوې خوا د امریکا جدیت په ډاګه کړ او له بلې خوا یې د امریکا پر ضد په طالبانو کې کرکه وزېروله، چې تر دې مهاله طالبانو د امریکا دښمني د پخوانیو جهادیانو په غوندو او لیکنو کې د شعار تر سرحده پېژندله خو دا چې امریکا پر افغانستان توغندي ووروي دا ورته نا اټکل شوې خبره وه، ځکه دې کار طالب ته دا روحیه ورکړه چې امریکا مو مخامخ دښمنه ده.

دې کار د اسامه په اړه د مثبت پېښرفت مخه نوره هم پیچیده کړه او طالبانو نور د امریکا دښمنان خپل دوستان وګڼل او د یوه یرغلګر انځور یې پر ذهنونو کې ځای ونیو. امریکایانو داسې وخت انتخاب کړ چې له یوې خوا طالبانو مخالفین په مخه کړي وو او بل لور ته د یوولسو دیپلوماتانو د مړینې پر سر له ایران سره اړیکې ترینګلې وي.

طالبانو د توغندویي حملې پر ضد سخت غبرکون وښود دا یې د هېواد پر حریم مغرورانه یرغل وګانه. پر سبا کندهار، کابل، مزار، جلال اباد او د هېواد په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر نورو ښارونو کې درنې مظاهرې وشوې. د طالبانو خارجه وزارت له امریکا نه د کینیا او تانزانیا په پیښو کې داسامه دلاس لرلو ثبوت او اسناد وغوښتل.

دا وخت د ملا محمد عمر دریځ نور هم سخت شو او د امریکا له خوا د نظامي برید او زور کې فشارونو په وړاندې یې جدي دریځ غوره کړ. یوه وجه همدا هم وه چې له املې یې په ستمبر کې له ترکي الفیصل سره ملاقات په خپګان بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار ته د ترکي الفیصل راتګ او له مشر سره ملاقات

په ۱۹۸۸میلادي کال ستمبر کې د افغانستان لپاره د سعودي سفیر سلمان العمري چې په اسلام اباد کې اوسېده، زمونږ د اسلام اباد سفارت ته خبر ورکړ چې د سعودي یو لوړ پوړی او ځانګړی هیئت کندهار ته راځي. د سفر تاریخ یې معلوم کړ. د هیئت له راتګه یوه ورځ مخکې د ستمبر په اتلسمه سلمان العمري کندهار ته راغي. د کندهار مېلمستون کې یې د خارجه چارو مرستیال وزیر ملا عبدالجلیل او نور مسئولین کوربانه وو. هغه د ځانکړي تلفوني تماس لپاره د ستلایټ یوه مخصوصه انټیناهم د مېلمستون په انګړ کې ولګوله چې د ډش تبخي یا ټیکۍ ته ورته وه.

د ستمبر په نولسمه سهار شاوخوا نهه بجې د سعودي د استخباراتو د وزیر شهزاده ترکي الفیصل په مشرۍ هیئت د کندهار پر هوایي ډګر خپله ځانګړې الوتکه ښکته کړه چې ویل کېدل د یوه مجرم د انتقال لپاره یې ځانګړې پنجره هم لرله.

د کندهار ولایت په مقام کې یوه ستره خونه د دغو مېلمنو لپاره په قالینو، توشکو او بالښتونو فرش شوې وه. دغې خونې د مشرتابه پخواني دفتر ته هم لار لرله. دغه ستره خونه او تالار به اکثره وخت د مهمو مېلمنو لپاره کارېده. ترڅنګ یې د خوړو د برابرولو او مخصوصې ناستې لپاره دوه نورې خونې لرلې. زه د خوړو د برابرولو په خونه کې د خوراک، څښاک او تازه میوې له برابروونکو سره بوخت وم، مېلمانه رارسېدلي وو. دسترخان اوار و، وچې، تازه مېوې او چای وربانديې ایښې وو. امیرالمومنین هم له خپله دفتره لنډ دغې خونې ته د مېلمنو هرکلي ته راغلی و. ما بیړه کوله، تر هغې چې د هرکلي خبرې خلاصیږي او اصلي بحث شروع کیږي، زه باید ځان ورته فارغ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلس ته د پاکستان دربمانه هیئت هم راورسېد چې مشري يې "تسنيم رانا" کوله. په کندهار کې د پاکستان پخواني کونسل مېجرګل د مشر خبرې هغوی ته په انګليسي ژباړلې او د هغوی خبرې يې مشر ته په پښتو ژباړلې. پينځه دقيقې لا نه وې پوره چې د ملا صيب اواز لوړ شو. ما سر ورښکاره کړ د ملا صيب د خبرو او غږ له کيفيته چې مور ورسره بلد و، پوه شوم چې خبره ورانه شوه. ملا صيب ميجرګل ته يې په غوسه وويل چې زما د خبرو يو يو توری به واضح واضح لکه څنګه چې زه وايم داسې ورته ترجمه کوې. دا وخت ګل هم کافي ورخطا او تر رعب لاندې و.

ملاصيب طيب اغا ته وويل چې که ګل کومه خبره نيمګړې او ناسمه ژباړله ما ته وايه، ځکه چې طيب اغا له انګليسي سره بلد و، فقط دومره مې واورېدل چې ملا صيب ورته وويل چې تاسو د اسلام د مرکز واکمن ياست او نيکونو مو ټولې دنيا ته د اسلامي غيرت او عزت درس ورکړي، خو نن يو مظلوم مسلمان د پرديو کفارو د خوښې لپاره نيسئ او هغوی ته يې سپارئ. پښنه په افريقا کې شوې، دښمن د امريکا دی، تاسو نور په کې څه حق لرئ؟

مجلس په پوره بې خوندۍ ختم شو. ترکي الفيصل په غوسه ولټېد او له خونې ووت، مشر هم د دفتر لور ته پر دروازه باندې له ساتونکو سره ووت. وروسته د حاضرو او شاهدو ملګرو له خولې د مکمل جريان لنډيز په دې ډول و:

مجلس چې پيل شو، مېلمنو ته د مشر له خوا په خورې ژبه هرکلی وويل شو. له هغه وروسته لومړی خبرې ترکي الفيصل پيل کړې. ترکي الفيصل په ډېره قاطعه لهجه او ژبه وار د واره ملا صيب ته وويل مور راغلي يو چې ته خپله وعده پوره کړې او زمور مجرم مور ته لاس ټرلی وسپارې. مور يې له ځانه سره په الوتکه کې وړو. د ترکي الفيصل قاطع انداز او بيا دوه ستړي غلطی؛ يوه دا چې له تحريک سره يې د هيڅ ډول خواخوږۍ او ملګرتيا کومه مقدماتي جمله ونه ويله او بله غلطي يا غلط فهمي دا وه چې ملاصيب له هغوی سره هيڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې وعده نه وه کړې او ملاصیب په مزاج کې له وعده خلافۍ او دروغو ډېره کرکه کوله.

دا وخت له یوې خوا دروغ وویل شول او بل پلو پر ملاصیب د وعده خلافۍ ناحقه تور پورې شو، دربیمه دا چې ملاصیب د شیخ پر سر هیڅ معاملې ته ذهنا او فکرا اماده نه و. د هیئت په اړه د داسې قاطعې غوښتنې اټکل یې هم نه و کړی، ځکه خو مشر یو ناڅاپه جدي شو او نه یواځې د قاطعې غوښتنې ځواب یې قاطع ورکړ، بلکې ترکي الفیصل ته یې عار او پیغور هم ورکړ. د ملا صیب جملې دا وې چې اول خو په ما پورې دروغ مه تړئ! ما کله هم داسې وعده نه ده کړې، نه مې بل چا ته زما په استازولۍ د داسې وعدو اجازه ورکړې. دوهم دا چې تاسو ته مورِ د علماوو د مشترک مجلس وعده درکړې وه، چې د دې ستونزې په اړه به غور کوي، خو د شیخ د سپارلو مو کله هم وعده نه ده کړې. تاسو د اسلام د مرکز واکمن یاست، مظلوم مسلمانان تاسې ته د مرستې او خواخوږۍ امید لري، خو تاسو سرچپه د اسلام دښمنانو ته مسلمانان سپارئ او د هغوی په امر دلته راځئ، پیښه په افریقا کې شوې، دعوه پرې امریکا کړې ستاسې وربانديې څه حق دی؟

له دې وړاندې د سعودي حکومت ته د امارت استازو اطمنان ورکړی و، چې اسامه به د سعودي په خلاف هیڅ نه کوي او دا یې غالبا پر اسامه هم منلې وه. له همدې امله ملا صیب دوی ته وویل چې ستاسو نور وربانديې حق نه شته.

ترکي الفیصل له څو ساعتونو وروسته ریاض ته ورسېد. په سبا یې په ریاض کې د افغانستان سفارت ته رسمي لیک واستاوه چې د افغانستان سفیر دي د سعودي له خاورې ووځي. سفیر را وویستل شو، پر ځای یې لومړي سکرتر د شارژدافیر په توګه او د جدې کونسل چارې پرمخ بېولې. له همدې ورځې سعودي سره د اسلامي امارت د خرابو اړیکو دور پیل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبرو او سفر کې کومو نقطو د ملا محمد عمر غیرعادي غوسه راوپاروله؟

وړاندې ما د دې جریان رښتینی انځور روښانه کړ. اوس غواړم د دغه ترخه ملاقات پر اسبابو او اړخونو لنډه تبصره وکړم. یوه ستره غلط فهمي خو له اوله دا پیدا شوې وه، چې د مشر په استازولۍ ښایي چا د سعودي حکومت ته د اطمنان ورکولو په برخه کې غیر ضروري افراط کړی وي. د حالاتو د عادي کولو او د اړیکو د نورمال ساتلو په موخه یې د اسامه په اړه د ملا محمد عمر موقف دومره نرم او تغییرمنونکی معرفي کړی وي، چې سعودي واکمنو فکر کاوه، چې دا خو یو ډول وعده شوه. که مور لږه قاطعه غوښتنه وکړو، کېدای شي ملا محمد عمر مور خفه نه کړای شي او یوه انقلابي فیصله وکړي، ښایي همدې تمې به هغوی ته دومره زړه ورکړی وي.

بل پلو دا وخت چې د مزار (بلخ) له نیولو وروسته د ایراني دیپلوماتانو د مرګ پر سر ایران د بریدګوابښ کړی و، له دې نه یواځې څو ورځې وړاندې طالبانو د ایراني د یپلوماتانو مړي موندلي وو او ایران د سخت غبرګون اعلان کړی و. طالبانو تمه لرله چې سعودي به یې په دې موضوع کې کلک ملاتړ وکړي. په دغه حساس وخت کې د طالبانو د امید سترګې تر ډېره سعودي ته وراوښتې، نو د ترکي الفیصل له خوا د خواخوږۍ او همدردۍ له هر ډول یادونې پرته دا ډول قاطعه او سپوره لهجه یو ډول ترخور ګوتې نیول وو. دا داسې ښکاره شوه چې ملاصیب دغم په غولي ناست و او ترکي الفیصل یې له دغه حالته ناوړه ګټه پورته کوله، چې له دې امله هم د مشر زړه په دې خبرو خپه شو، ځکه خو د ملا محمد عمر له خوا ورته د قاطع جواب او اضافي اعتراض لامل شوه.

بله مهمه تېروتنه دا وه چې ترکي الفیصل د یو امیر لهجه وکاروله او د نړۍ یو بې باکه او بې پروا شخصیت یې د یوه ماتحت په توګه مخاطب کړ. ښایي دا به د ترکي الفیصل لپاره نوې خبره نه وه، ځکه چې زمور په څېر د ډېرهغو غربیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلامي هېوادونو واکمنو ته چې د سعودي مالي مرستو ته حیاتي اړتیا لري؛ ښایي ترکي الفیصل دخطاب همدا ژبه لرله، خو ملا محمد عمر یو جلا تعریف ته اړتیا لرله، چې هوښیارو خلکو له هغه سره د تعامل لهجه او ژبه زده کړې وه.

په دې کې د پاکستان داخله او خارجه وزیران، دازبکستان خارجه وزیر، د ملګرو ملتونو استازی لخدار ابراهیمي او د ترکمانستان د ولسمشر مرستیال او مشاور د یادونې وړدي، چې د ملا محمد عمر د روحیاتو مطابق ژبه یې وکارولی شوه. یو یې هم د ښاغلي ترکي الفیصل په څېر له هر ډول نتیجې پرته نه دي تللي.

ملا محمد عمر مزاجا مغرور او ضدی انسان نه و. د چا د تواضع په وړاندې یې دومره تواضع کوله چې هغه به پرې د مشرتوب ګمان هم نه کاوه، که چا د حق په پلوۍ غرور کاوه هغه یې هم زغملای شوه، خو له ناحقه مغرور او متکبر سره یې بیا سر ترغړه جګ ووړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سعودي علماء د ملا محمد عمر له نظره

د سعودي د حکومت له دغه رسمي مقام سره له دا ډول ترخه ملاقات سره سره ملا محمد عمر د سعودي خلکو، قانون او ديني علماوو ته په زړه کې يو ډول درناوی درلود. هغه به په روژه کې کله نا کله د شپې له خوا د سعودي راډيو ديني خپرونې هم اورېدې. دا هم د هغه پرېکړه وه چې د روژې او اخترونو په اړه دې د سعودي اعلان کافي وګڼل شي، ځکه چې د هغه په آند هغوی د دې لپاره نېنه اهتمام کوي او دغه اداري يې د علماوو په واک کې دي، نو بايد پيروي يې وشي.

هغه په دې عقيده و، چې د حرمينو په ساتنه او انتظام کې سعودي واکمن تر بل هر چا زيات متوجه دي او ټولې چارې يې په ډېر نېنه ډول اداره کوي. له همدې امله هغه په سعودي کې له هر ډول ګډوډۍ سره مخالف و او له همدې امله زمونږ په رسمي نشراتو کې د سعودي پاچا ته د خادم الحرمين کلمه کارېدله. البته ځينې کړۍ او اشخاص چې د القاعده جهادي ملګرو سره يې نږدېوالی زيات و، کله ناکله به په دې برخه کې د امارت له رسمي پاليسي اوښتل.

يو ځل د مشرتابه دفتر په ځانګړې عربي مجله کې چې طيب اغا يې مشري کوله د القاعده د کوم عرب ليکوال په ليکنه کې د عدو الحرمين کلمه تېره شوې وه، چې مشرتابه يې په خپرېدلو خواشيني نښکاره کړه، د اينده لپاره يې د داسې کلماتو د نه کارولو امر وکړ.

مشرتابه د سعودي پر ضد د هر ډول رسمي بيان مخالف و، البته کله ناکله به چې په ميډيا کې د اسامه او ترکي الفيصل موضوع يادە شوه نو زمونږ دفاعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوابونو به یو ډول د سعودي د مخالفت بڼه خپلوله، چې دې کار به ستونزې زېږولې.

له سعودي سره د نورمالو اړیکو ارزو زمږ ټولو چارواکو لرله، خو د شیخ اسامه موضوع په دې اړه ډېره حساسه وه، ځکه خو دا کار په مکمله توګه هغه وخت ناشونی و.

له دې اخوا ملا محمد عمر له قطر، سوډان، ترکمانستان، ترکیې، چین او کرغیزستان سره د مثبتو اړیکو لپواله و. لیبیا سره یې هم اړیکې غوښتې، که څه هم د لیبیا ولسمشر قذافي د طالبانو د نظام نوعیت نه خوښاوه او ملا محمد عمر هم د قذافي د رژیم قانون او مطلق العناني نه خوښوله، خو د لویدیزو سیاستونو سره اختلاف له قذافي سره مشترکه نقطه وه.

زمږ د نورو چارواکو له خوا له ایران سره د نښو اړیکو جوړولو د هلوځلو مخالفت یې هم نه کاوه، خو په دې اړه یې ډېر محتاط دریځ درلود، چې له همدې امله یې د ایران د دوستانه اړیکو پر هلوځلو تل شک کاوه. تر مشرتابه لاندې چارواکو له ایران سره اړیکو ته ډېره تلوسه لرله او دا یې اشد ضرورت ګانه، خو ملاصیب په مجموع کې مخالف نه و.

زما نښه یاد دي چې کله د مزارشریف د سقوط پر مهال یوولس ایرانیان د ایران کونسلګرۍ کې ووژل شول، ملاصیب د تحقیقاتو پرمهال دومره په غوسه و، چې یوه ورځ یې په مخابره وویل که مي د دې پېښې عاملین پیدا کړل، بې محکمې یې په دار ځوړندوم! ما په لومړي ځل له هغه نه دا ډول جمله واورېده، زه په هغه ورځ پوه شوم چې دا کار طالبانو نه دی پلان کړی.

د پاکستان او عرب اماراتو اړیکې خو هغه وخت مورِ ته حیاتي وې او له نړۍ سره د هر ډول تعامل یواځینۍ دروازې پاکستان او عرب امارات وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ زاید مرحوم کورنۍ سره له دې چې په دې اړه تر بهرنیو فشارونو لاندې وه او یو لړ نړۍوالو ترڼونو ته وفاداره وه، خو بیا هم تر وروستۍ شیبې یې له طالبانو سره خواخوږي لرله. طالب مشرتابه هم ورسره پټه متقابله خواخوږي لرله. د اقتصادي بندیزونو له تشدیده وروسته یواځینی هېواد و چې مور د هوایي ترانسپورت استفاده ترې کولای شوای.

د بیت المقدس د پخواني امام زوی

په اسلام اباد کې د فلسطین سمبولیک سفیر د ۱۹۹۸ م کال اوړي کې کندهار ته سفر وکړ. هغه له ځان سره فلسطیني پوځ کې پاتې شوی جنرال چې پلار یې د بیت المقدس امام پاتې شوی و کندهار ته راوستی و. دوی له ملا محمد عمر سره ولیدل. ملاقات نه وروسته ملا محمد عمر د ځوځانو په هغه کوډله کې د غرمي (خوب) قیلوله کوله، دا د کندهار او هلمند دعامو خلکو دود دی چې د ګرمۍ په موسم کې په ځوخانو پوښلې ځاله اوبه اچوي او د هغه یخ شمال ته ځان له ګرمي ژغوري. ملا محمد عمر هم د خپل دفتر په انګړ کې همداسې یوه د ځوځانو ځاله جوړه کړې وه. کله چې دغرمي د یوساعت مسنون خوب لپاره دغې کوډلې ته دننه شو او خپل ځادر یې پرځان راکش کړ.

د بیت المقدس د امام زوي چې په دغه حالت کې ملا محمد عمر ولید سخت یې وژړل. هغه چې کله مېلمستون ته خپلې کوټې ته لاړ ډېر زیات متاثر و. د فلسطین سفیر هغه وپوښت چې ولې ژاړې؟ هغه وویل چې د ملا محمد عمر له خواخوږي او مینې ډک مجلس نه وروسته چې هغه په خپله ځاله کې په خپل ځادر کې ویده شو، ما ته د هغه اعرابي قول رایاد شو چې عمر فاروق یې فیصله وکړه او بیا یې یوه دیوال ته سر ولګاوه او ویده شو. اعرابي ورته وویل: حَکمتَ عَدلتَ اَمِنتَ فَنِمتَ (پرېکړه دې وکړه، عدالت دې په کې وکړ،امانت دارې دي وکړه او بیا ویده شوې). هغه بار بار دا جمله تکراروله او سترګې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکو ډکې وې. ما ته دغه صحنه ډېره جالبه وه او تر اوسه مې نه هیریږي. له نېکه مرغه د دې صحني شاهدان څو ملګري تر اوسه لا ژوندي دي.

د ایران او افغانستان د احتمالي جګړې په اړه د ملګروملتونو رول

په مزار کې د ایراني سفارت د یوولس تنو مړي چې په لسم ستمبر په یوه کنده کې ومومدل شول، د طالب مشرتابه لپاره تر ننه یوه مبهمه پېښه ده. له بار بار تحقیق سره پر چا ګمان هم ونه شو، ځکه چې دا پېښه ممکن څو عادي اشخاصو کړې وي او د موضوع له نزاکته په خبرېدو یې نوره له وېرې خوله پټه کړې وي او د ځینو په اند خو ښایي دا په خپله د ایران پالیسي وه. په لنډ ډول ویلای شو چې د دې پېښې په اړه هیڅ یو احتمال نه ردېدلای شي او نه تاییدېدلای شي.

په دې اړه ملا محمد عمر یو ورځ په مخابروي مکالمه کې د پېښو د عاملینوپه اړه ډېره سخته تهدیدي جمله وکاروله. زه هغه وخت لا پوه شوم چې په دې کار مشر ډېر سخت ټکان خوړلی او عاملین که یې ورته جوت شي نو وبه یې نه ښېي، ځکه چې مور ملا محمد عمر پېژاند چې هغه مصنوعي تکلم او رویه نه لرله، چې څه به یې وویل همغه یې خبره وه.

ایران نه یوازې طالبانو ته د پوځي برید خبرداری ورکړ بلکې پوځي قطعات یې هم د نیمروز او هرات په سرحدونو کې ځای پر ځای کړل او جنګي الوتکې او چورلکې یې څو ځله په لوی لاس زمور حدودو ته داخلې کړې خو مشرتابه د حالاتو د نزاکت له امله د هغوی پر چورلکو د برید اجازه ورنه کړه بلکې امر داسې و چې ترڅو یې عملي برید نه وي کړی، باید وسلهوال غبرګون ونه ښودل شي. د امریکا ځینو ادارو هم خبر ورکړ چې ایران پر افغانستان د برید اراده لري. طالبانو هم سرحدونو ته قواووې، زغرهوال ټانکونه او درنې وسلې ولېږدولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرو په اند په دې حرکتونو ایران غوښتل چې د حزب وحدت د ماتې خوړلیو قواوو پر ضد د طالبانو پرمختګونه ودروي او د ایران سرحد ته د طالبانو د پوځي قطعاتو په لېږلو پر حزب وحدت او مسعود د طالبانو پوځي فشار کم کړي. دا وخت مشرتابه له یوې خوا د ملګرو ملتونو له اداریې نه د خارجه وزارت له لارې د مداخلې غوښتنه وکړه، له بلې خوا یې د خپلو قواوو د روحیې د لوړ ساتلو او د ایرانیانو د پوهاوي لپاره تونده مطبوعاتي وینا وکړه، چې مشهورو رسنیو ټولو خپره کړه.

مشر په دې مطبوعاتي خبرو کې ایران مخاطب کړ او ویې ویل دوی (ایراني اخوندان) نه مسلمانان په اسلام ورګډوي اونه یې کفار په کفر ورګډوي. که د ایران له خوا نه پر مورږ برید وشو، نو زمورږ ځواکونه به دېرش کیلومتره دننه د ایران خاورې ته ننوځي. بل خوا د طالبانو له رسمي غوښتنې وروسته د ملګروملتونو خاص استازي لخدار ابراهیمي لومړی ایران ته سفر وکړ او بیا افغانستان ته راغي. کندهار کې له مشر سره د هغه په ملاقات کې مورږ هم حاضر وو.

د اکتوبر په څلورم سهار نږدې نهه بجې د ملګرو ملتونو په یوه الوتکه کې لخدار ابراهیمي او د اسلامي کانفرانس مشر ابراهیم بکر کندهار ته راغلل. دوي سره څو نور بهرنیان ملګري وو. د ابراهیمي په مشرۍ دغه هیئت لومړی هغه هدیرې ته بوتلل شو چې له مزار نه د جنرال مالک له خوا د وژل شویو زرګونو طالبانو رانقل شوي جسدونه په کې خښ وو. له هغه وروسته د کندهار ولایت مقام ته راغلل. د ولایت په یو ستر تالار کې پر افغاني دود قالینې هوارې وې. توشکې او بالښتونه وربانديې برسېره ایښې وو. ابراهیمي دقیق مزاجه او موقع شناس سړی و. مشر سره یې په ډېره هوښیارۍ د هغه له مزاج سره سمې خبرې پیل کړې. هغه د افغانستان پرهوا او دود دستور وغږېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته اصلي بحث ته راغي. هغه د مخدره موادو او نورو لانجو ترڅنګ اصلي بحث د ايران او افغانستان پر روانه لانجه اوړکړ.

خبرې په نرمه فضا کې پای ته ورسېدې، خو د اسلامي کنفرانس مشر ابراهيم البکر تر پايه چوپ ناست و. بده يې لا دا چې کله ملا محمد عمر تالار ته را دننه شو نو د ښاغلي بکر وجود په ړېرديدو شو. زما ګمان دا و چې ابراهيم بکر فکر کاوه چې ښايي ملا محمد عمر به هغه هم د ترکي الفيصل په څېر په سختو جملو مخاطب کړي، چې دا د هغه تبليغ اثر ښکارېده چې ويل کېدل به چې ملا محمد عمر له عرب واکمنو کرکه کوي. حقيقت داسې نه و، بلکې د ترکي الفيصل موضوع کاملا يوه حساسه او خاصه موضوع او حالت و.

ابراهيمي او بکر له غرمې وروسته اسلام اباد ته لاړل. اسلام اباد کې ابراهيمي رسنيو سره په خبرو کې له ملا محمد عمر سره د ملاقات خاطرې مثبتې او مفيدې وګڼلې. د ابراهيمي د دغو مطبوعاتي خبرو جريان بې بې سي په دې ټکو کې خپور کړ:

"زه د ملا محمد عمر له تودې مېلمه پالنې مننه کوم. له هغه سره مې دا لومړۍ کتنه په ډېره ښه فضا او بريالۍ توګه ترسره شوه. مورِ د افغان-ايران کړکېچ کمولو په لار کې پرمختګ کړی. لومړی هغې هديرې ته لاړم چې په مزارشريف کې وژل شوي طالبان په کې خښ وو او لاهم خښېدل. هلته مې داسې څه وليدل چې هېر به يې نه کړم. دا ليدنې مورِ دې ته هڅوي چې هر څه مو د لاسه کيږي هغه بايد وکړو چې په دې ويرِ لړلي هېواد کې جنګونه پای ته ورسيږي او د سيمې د ټولو وګړو ترمينځ ملګرتيا او همکاري پيدا شي."

د اسامه بن لادن شرعي محاکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د امریکا حکومت د نومبر په څلورمه اسامه بن لادن او د هغه دوه سوه اته دېرش ملګري په افریقا کې د اګست د لومړیو بمي بریدونو عاملین وبلل، نو د هغوي پر سر یې د نیولو یا وژلو په صورت کې د پینځو میلونو ډالرو انعام هم اعلان کړ. د هېښتیا ځای دا و چې پر اسامه د دې عمل شک په نومبر کې امریکا وکړ او رسما یې تورن کړ؛ خو هغه ته یې سزا دوه میاشتې مخکې ورکوله چې د کروز توغندیو پر برید یې واژه، خوهغه ترې بچ شو او د سي ای اې وروستي خپاره شوي اسناد دا هم ښیي چې د ۱۹۹٦ په اخیر کې جلال اباد او د ۱۹۹۷ لومړیو کې په کندهار کې سي ای اې د هغه د وژلو پر پلان کار کاوه.

طالبانو له امریکایي مقاماتو نه د افریقا په پېښو کې د اسامه د ککړتیا په اړه څرګند اسناد او ثبوتونه وغوښتل. د مشرتابه له هدایت سره سم مورِ رسنیوته وویل چې اسامه د محکمې لپاره سپارل بې معنا خبره ده، ځکه چې د هغه په مرګ پسې امریکا له دې پېښو وړاندې هم ګرځېده، نو که یې سعودي یا بل هېواد ته وسپارو، بیاهم له شکه پرته امریکایان هغه نیسې او تر محکمې وړاندې یې د سیاسي پالیسۍ په حکم محاکمه کوي. یواځینۍ لار د افغانستان خپله محکمه ده چې د ثبوت په وړاندې کولو به له هر ډول مداخلې پرته حکم صادروي.

د مشر د فرمان له مخې د افغانستان سترې محکمې د شلو ورځو لپاره اختصاصي محکمه اعلان کړه چې په دې موده کې دې د تورن په اړه شواهد وړاندې شي، خو امریکا زمورِ دغه اعلان ته هیڅ ارزښت ورنه کړ او د اسامه د نیولو او وژلو هلې ځلې یې تېزې کړې. د محکمې په اخیرو ورځو کې یې په اسلام اباد کې د امریکا له سفارته یوه ویډیو کیسټ را واستول شوه چې د اسامه بن لادن د ککړتیا ثبوت وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت له خارجه وزارته پرته د طالبانو په نورو دفترونو کې د تلویزون یا وي سي ار اجازه نه وه ، په کندهار کې یواځینې ځای چې هلته مو دا کیسټ کتلې واي د رادیو تلویزون ودانۍ وه چې د ویډیو غږولو زاړه وسایل ورکې موندل کېدل. متوکل مانبنام د کندهار د رادیو تلویزون ودانۍ ته له پخواني ډول ویډیو کیستې سره راغی. زماهم د لچسپي زیاته شوه چې د اسامه په اړه ژوندي شواهد په خپلو سترګو ووینو. د تخنیک مدیر صیب مو را وغوښت، ورته ومو ویل مور ته د تلویزون د ودانۍ ټرلې خونه پرانیزه چې مور یوه کیسټ گورو. مدیر په هېښ نظر راته وکتل په شونډو یې د حیرت موسکا خوره شوه چې په تیاره کې به دا خلک اوس کوم فلم په تنها خونه کې گوري!.

مدیرصیب چې دا وخت د طالبانو په واکمنۍ کې په اوداسه او لمانځه ټینګ او لویه ږیره لرونکی سپین ږیری و. اول ځل یې زمور همدا نشیطه جمله واورېده چې اوس به په تیاره کې فلم کتل کیږي. مدیر ښه ګړۍ په کیلیانو پسې ورک و. وروسته یې د زنګ وهلیو کیلیانو یوه غونچه لاس کې اړوله راوړله او یوه کیلي یې په کې لټوله. د د روازې قلف زنګونو مړ ژواندی کړی و. اخیر کې یوې کیلي کار ورکړ، د دراوزې له وازیدو سره ګردونه خواره شول. دا څو وم کال و چې له دې خونې سره د چا کار نه و. خونه کې د ډېرو توکمو له وهلو وروسته یوه زاړه زېړ ګروپ کار ورکړ او روښانه شو. هر لور ته ګردونه وو، کرسۍ، دېوالونه او فرش ټول په ګردونو لړلی و. څو کرسۍ ایښې وې. مور دوه درېوو ملګرو ځانو ته یو دوه زړې کرسۍ پو کړې او ورباندې کېناستو. مور ته د وي سي ار د چالانېدو چل هم نه راته. مدیرصیب ته مو سترګې نیولې وې. مدیرصیب د لرګي باډۍوالا یو زوړ روسی تلوېزون پر مېز راکش کړ. مورته یې مخامخ برابر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ هم غاړې ورته تازه کړې. ټول په ډېره تلوسه د یوه ډېر نوي څه ترې انتظار کوو. تلویزیون زوړ و او ښیښه یې هم په ګردونو لړلې وه. متوکل کښت ورکړه او مدیرصیب وي سي ار ته کښت ورټېله کړه. تلویزیون په تته رڼا فلمي صحنه تته ښودله. لکه په اوبو کې چې څوک خپله څېره ویني؛ سکرین څپه څپه کېده. زمورِ د انتظار ګړۍ نورې پای ته ورسېدې، ټول خاموش یو او په رڼو او غرقو نظرو سکرین ته ګورو.

فلم په سوډان کې د اسامه د ملګرو کورونه ښکاره کړل او بیا یې د هغوی ماشومان ښکاره کړل چې په یوه میدان کې لوبې کوي. د هغوی هغه مطبوعاتي ویناوې په کې وې چې هر چا اوربدلې وي. نور کومه نوې خبره نه شته خو مورِ بیا هم د فلم تر پایه د نویو معلوماتو په تلوسه سترګې پر سکرین کلکې نښلولې وې. دا د سي این این یو زوړ راپور و چې د اسامه او ملګرو په اړه یې ترتیب کړی و. د همدې راپور کاپي یې مورِ ته هم د شواهدو په توګه استولې وه. د فلم له اختتام سره د متوکل حوصله تنګه شوه له کرسۍ نه ولاړ شو، لاسونه یې ومروړل: "دوي د ... زامن هم په مورِ پسخند (ملنډې) وهي". د دې جملې کارولو سره متوکل ترخه موسکا وکړه.

په سبا یې میډیا ته وویل چې امریکایي مقاماتو د سي این این تلویزیون له یوه راپور نه یوه کاپي مورِ ته د اسنادو په نامه رالېږلې چې د افریقا له پښتو سره هیڅ تړاو نه لري او نه هم په دې اړه دې فلم کې څه شته، نو له همدې ا مله د امریکا دغه دعوه بې ثبوته ده. له دې سره د محمکې لپاره ټاکلی وخت هم پای ته ورسېده.

امریکا: که اسامه له افغانستان ووځي بیا هم طالبان نه پرېږدو

د ۱۹۹۹ فروري کې د نیروبي او دارالسلام د پښتو په تور امریکا پر اسامه د انعام اعلانونه تکرارول او له بل پلوه یې درګرده پر افغانستان هر اړخیز فشارونه واردول. دا وخت اسامه او ملګرو یې د ځان ورکولو او له افغانستانه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وتلو پلان سنجولی و. هغوی خپل نظر له مشرتابه سره د طیب اغا په واسطه شریک کړ. مشر وویل مورږ ته به څه درک ولګیږي چې هغه روغ او سالم رسېدلی؟ له همدې امله یې د څو خاصو محافظینو د ملتیا ورته وویل چې په رسېدلو کې ورسره مرسته هم وکړي او اطمنان یې هم راوړي. که بالفرض وړاندې تلل ناممکن و، نو په بېرته راستنېدو کې به یې هم حفاظت کوي.

شیخ له خپلو کسانو سر ځان غایب کړ. رسنیو ته خبره لاړه. طالبانو هم ومنله چې تللی، خو طرف یې نه دی رامعلوم. دا وخت ځینې غرضي کړیو دا خبر خپور کړ چې طالبانو د اسامه پر سر یا معامله کړې یا یې ترور کړی. د فروري پر څوارلسمه بي بي سي رادیو په دې اړه له ملا محمد عمر سره مرکه وکړه. د مرکې غټ ټکي دا وو:

مورږ ته د اسامه د اوسېدو ځای معلوم نه دی. لس تنه محافظین مو د ده ساتنې لپاره ورسره کړي، هغوی ته مو ویلي، که اسامه له افغانستانه د وتلو اراده وکړه نو په ښه توګه یې رخصت کړئ. دا وخت مورږ نه پوهیږو چې دی په افغانستان کې دی، که بل هېواد ته تللی. مورږ یې نه په زور شړلای شو او نه یې سپارلای شو.

کله چې رسنیو د اسامه د و تلو خبره د یقین تر حده تبلیغ کړه او نړۍوالو هم د هغه د تلو ګمان وکړ، نو د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ویاند"جیمز رابن" په خپله رسمي وینا کې وویل: "که اسامه له افغانستان ولاړ هم شي نو زمورږ په تګلاره به کې د طالبانو په اړه بدلون رانه شي".

د فروري په څوارلسمه د واشنګټن دغه رسمي وینا طالبانو ته یوه نوې اشاره ورکړه او په دې یې خبر کړل چې له اسامه نه وروسته هم دوی نه پریږدي. تر دې مهاله چې اسامه د امریکا یواځینی هدف ګڼل کېده، نور طالبانو فکر وکړ چې اوس د دوی ټول نظام امریکا ته هدف دی. که له دې وینا د امریکا هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدف و، خو په طالبانو کې يې د هغو مشرانو خولې بندې کړې چې اسامه يې د لانجې اصلي جړه ګڼله، بلکې يو نوی ذهنيت مخ پر وده شو چې امريکا يعنې د اسلامي حکومت او حاکميت اصلي دښمن.

دلته نو په ډېرو ځوانانو کې دالقاعده داعيه نوره هم تقويه شوه چې امريکا د اسلام او مسلمانانو نړۍوال دښمن دی. بايد د دوستۍ تمه ترې هيڅکله ونه شي. زما ياد دي، په دغه ورځ زه دعامو طالبانو مينځ کې په يو لوی مجلس کې ناست وم چې يوتېټ رتبه چارواکي بل ته وويل: "وادې ورېدل؟ والله که مو پرېږدي. بايد شيخ ورباندي خپه نه کړو. هسې به په دنيا او اخرت ځان مختورن کړو. نښه ده چې ټول (طالبان او القاعده) په يو ځای د امريکا دښمني وکړو".

له دې وروسته بيا بيا د امريکايي مقاماتو دې ته ورته څرګندونې په رسنيو کې خپرېدې چې په عامه طالبي ذهنيت کې يې د امريکا په وړاندې د افراط تر حده کرکه زېږوله او دې کار د القاعدې ځواک او دعوت ته زياته ګټه رسوله.

څو مياشتې وروسته مشرتابه پوه شو چې اسامه بل هېواد ته نه دی اوښتی. کله چې ملا محمد عمر نه متوکل پوښتنه وکړه چې مور رسنيو ته څه ووايو چې چېرته دی. مشر ورته وويل دروغ نه شو ويلی. اوس خو معلومه شوه چې نه دی وتلی. بس دومره وايايست چې په افغانستان کې دی، خو مور ته معلوم نه دی. د جولای په اوومه چې د يوه خبريال په ځواب کې متوکل همداسې وويل نو ډېرو کتونکو داسې فکر وکړ چې دا خبره خبريال د متوکل له خولې وويستله!

پر افغانستان اقتصادي بنديزونه

د ۱۹۹۹م کال د جولای په پنځمه د امريکا له لوري يو طرفه بنديزونه اعلان شول. د اکتوبر په پينځلسمه د افغانستان پر يواځيني ايرلاين اريانا افغان الوتکو له هېواده بهر پرواز بنديز ولګېد. د رباني په مشرۍ ټلوالې پر افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتصادي بندیزونو هرکلي وکړ. ایران هم د بندیزونو پرېکړه وستایله. هند د طالبانو ترڅنګ پر پاکستان هم د اقتصادي بندیزونو غوښتنه وکړه. د امریکا له خوا اقتصادي بندیزونه ورو ورو سخت شول.

د اکتوبر په شپږمه امریکا د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندیز وکړ چې پر افغانستان دې بندیزونه ولګوي. د نومبر په څوارلسمه د ملګرو ملتونو امنیت شورا هم پر افغانستان اقتصادي بندیزونه ولګول.

ملا محمد عمر مجاهد د بندیزونو په اړه په خپل غبرګون کې وویل: امریکا ته اسامه اوس تشه بهانه ده، امریکا د یو سوپر طاقت په توګه غواړي هرڅه په خپله خوښه برابر کړي. د پښتو متل دی: د زورور اوبه پر لوړه خیږي...نن هر څوک د زورور ملاتړ کوي، ټول پوهیږو چې حقایق څه دي، د امریکا بې انصافي ټولې نړۍ ته معلومه ده.

د نومبر په څلورمه چې د امنیت شورا له خوا بندیزونه ولګېدل د افغانستان په غټو ښارونو کې د پلازمېنې په ګډون درنې مظاهرې وشوې. په کابل کې د ملګروملتونو پر دفتر مظاهره کوونکو برید وکړ. د دفتر ښیښې یې ماتې کړې. د کلنټن مجسمې یې وسوځولې او د امریکا بیرغ ته یې اور واچاوه.

دغه مظاهرې دومره درنې شوې چې د نه کنترول وېره وه، خو د میډیا حضور په کې نه و، ځکه بروډکاسټ نه شوې. له څو مسلسلو مظاهرو وروسته ملا محمد عمر افغانانو ته د مظاهرو درولو وړاندیز وکړ او په دې اړه یې په خپله وینا کې وویل: "بل کلنټن او د هغه ملګري نه مور ته رزق راکولای شي اونه د الله راکړی رزق را څخه بندولای شي. افغانان دې د بندیزونو په اړه نورې مظاهرې نه کوي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلنټن له خوا د بندیزونو د پرېکړې تر امضا او اعلان پورې لا نړۍ په دې نه وه خبره چې اسامه په افغانستان کې دی که وتلی دی؟ له دې دوه ورځې وروسته متوکل د هغه شتون ومانه. د کلنټن دغه تلوار هم د دې غمازي کوله چې نور ورته د اسامه موضوع جدي نه وه او د هغه دغه عمل طالبان هم مایوسه کړل. د اسامه موضوع نوره طالبانو ته هم د ستونزې اصلي جړۍ نه ښکاریده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملا محمد عمر پرکور خونړی چاودنه

۱۹۹۹ کال د اګست د میاشتې څلورویشتم مازیګر و، د ریاست په دروازه کې ولاړ وم چې د کندهار د شپږمې حوزې امنیتي مسئول بخت محمد په خپل موټر کې له څو ملګرو سره تېرېده ما وروباندې غږ کړ. د څه په اړه مې معلومات ورنه کول. اخیر چې رخصت کېده، ما وپوښتت چېرته روان یاست؟ بخت محمد وویل د ملاصیب کور سره په عمومي سړک چا باردار موټر درولی جیک ورلاندې دی، خو خلک نشته. اوس د ملاصیب د کور پیره دارانو خبر راکړ. ځمه چې ویې ګورم چې د چا دی او ولې لاړ دي؟

ماسخُتن له دفتره د ولایت مېلمستون ته روانېدم چې د مشر له کور سره لګېدلی و او زمونږ له دفتره تقریبا یو کلیومتر لاره وه. ما موټر د تلو لپاره ریوس کاوه چې یوې چاودنې ټول ښار ولړزاوه او په هوا کې د اور سپرغی پورته شوې. چاودنه دومره درنه وه چې د موټر ټایرونه یې له ځمکې وخوځول. دا وخت چې زمونږ ذهن ټول د امریکا بندیزونو او د کروزتوغندیو د احتمالي بریدونو طرف ته و، فکر مي وکړ چې یا توغندویي برید وشو یا هم پر مشر د الوتکو بمبار وشو.

په همدې ورځ له پاکستان سره د افغانستان پر سرحد ناپیژاندې الوتکې لیدل شوې وې. د اکثرو چارواکو ذهن هم دې تللی وو، خو تر ټولو نه زغمېدونکی خبر د مشر د ژوند او مرګ دواړو احتمال و، چې له موږه یې نور هر څه هېرول. ما څو دقیقې انتظار وکړ چې دقیق پوه شم چې د چاودنې بمبار یا توغندي هدف د مشر کور و که بل ځای؟ د موټر پرسویچ پورې مخابره نصب وه. به مخابره هر چا د ملاصیب د ژوند او مرګ په اړه بې تابه چیغې وهلې چې په دې کې ملاصیب غږ کړ. زه ژوندي یم خو نور کور او ملګري تر خاورو لاندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ژر له موټره ښکته شوم. د دفتر د لمانځه خونې ته لاړم. د شکرانې دوه رکعته لمونځ مې وکړ. بیا مې موټر د مشر کور ته وځغلاوه. دا وخت ټول مشران د مشر د کور پر خوا خوشې ول. هلته ورغلو. د هغوی د کورنۍ غړي مو محفوظ ځای ته انتقال کړل، خو بیا هم د اسمان پلو ګورو. نه پوهېږو چې حمله هوایي ده که ځمکنۍ؟ په برید کې درنه مرګ ژوبله اوښتې او عمومي دروازې خوا ته څوک ژوندي پاتې نه دي چې سمدستي د چاودنې معلومات ورکړي.

په دې کې د ملا محمد عمر د جهاد د وخت له لسو زیات خاص ملګري او دوه ورونه یې ملاعبدالخالق او عبدالسلام هم شهیدان وو. یوه مېرمن یې سرسري زخمي وه، خو د ده داوسیدو اصلي خونې ته د چاودنې زور پوره نه و رسېدلی. د لارې دېوالونو د چاودنې زور کم کړی و چې له همدې امله دی او اونور اهل بیت یې روغ ول، خو د خاصو ملګرو شهادت هغه ته سخته ذهني ضربه ورکړه چې بیا یې تر پایه هم هېر نه شول.

وروسته چې د پېښې ځای ته ورغلو نو د استخبارات رییس له مخابرې سره ولاړ و، نورو ملګرو یې شهیدان لټول، قاري حمیدګل وویل هم هغه مازیګرنې موټر له باروتو ډک و. بخت محمد او د ملا محمد عمر ورونو غوښتل په بل موټر پسې یې وټړي او له دې ځایه یې لېرې کړي خو داسې معلومه شوه چې د ریموټ کنټرولوونکی چېرته ناست و او د موټر له بې ځایه کېدو سره یې توکمه وهلې.

د دې موټر پلان داسې و چې کله ملا محمد عمر کورته د ننه کیږي، دوی به موټر ته انفجار ورکوي. دا ورځ د پنجشنبې وه چې په همدې ورځ به ملاصیب معمولا مازیګر له دفتره کور ته وختي تللو. هدف نیوونکو همدې وخت ته ځان برابر کړی و، خو په دې ورځ ملا محمد عمر تر دوی مخکې کور ته تللی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طالبانو له واکمنۍ وروسته دا په کندهار کې د امنیت له اړخه لومړۍ ستره پېښه وه. کندهار د امنیت په برخه کې د طالبانو په واکمنۍ کې امتیازي حثیت درلود. هیڅا هم فکر نه کاوه چې دومره ستره پېښه به کیږي. تر دې وړاندې طالبانو د خپل امنیت په برخه کې هیڅ توجه نه کوله، بلکې یواځې د ولس او عامه ځایونو امنیت ته متوجه وو. خو له دې وروسته مهمو چارواکو په خپلو ادارو کې هم امنیتي تدابیرو ته څه نا څه پام واړاوه.

پر سبا د امریکا خارجه وزارت دا پېښه وغندله او له زیانمنو سره یې خواخوږي وښودله. له لنډو تحقیقاتو وروسته متوکل مطبوعاتو ته وویل چې له لومړیو تحقیقاتو جوته شوې چې امریکا په دې پېښه کې لاس نه لري. ملا محمد عمر له امریکا غږ سره په خپله مرکه کې وویل په چاودنه کې بهرنی لاس و، خو د امریکا لاس په کې نه شته، زمور دښمنان ډیر دي. د چاودنې مسئولین نه شي ورکېدای.

د دې پېښې دقیق عاملین د طالبانو مسئولو ادارو او چارواکو تر پایه نه دي په ډاګه کړي. ځینې خبرې اوربدل کېدې خو تش شکوک ګڼل کېدای شي. د بېلګې په توګه د ایران په مرسته د هلمند د ځینې قوماندانو نومونه اخیستل کېدل. د ایران په مرسته د حکمتیار او حتی حامد کرزي نومونه هم اخیستل کېدل، خو د پلان جوړولو اصلي ځای تر ډېره ایران ګڼل کېده.

له چین سره سیاسي او اقتصادي اړیکې

د طالبانو په حکومت کې د چین څو هیئتونو افغانستان ته سفرونه وکړل، چې په دې کې هم د وزارت خارجه مامورین وو، هم د استخباراتو او هم د چینایي کمپینیو استازي وو چې په افغانستان کې یې د رغنیزو چارو په برخه کې د سرمایه ګذارۍ ارادې لرلې. دغو هیئتونو د نورو چارواکو ترڅنګ له ملا محمد عمر مجاهد سره هم لیده کاته کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اقتصادي برخه کې چینایي کمپنیو د لویو لارو، مخابراتي اسانتیاو او د سیمنټو د فابریکو په فعاله کولو کې د پانګونې ارادې لرلې او ځینې ټرونونه هم نهایي شوي وو چې د اقتصادي بندیزونو له امله وځنډېدل.

کله چې د ۱۹۹۸م کال اګست کې امریکا پر افغانستان توغندي وار کړل، یو ناچاودلی توغندی د کندهار د معروف ولسوالۍ په حدودو کې پرېوت چې د ستمبر په دوهمه دغه توغندی د معروف امنیتي مسئولینو پیدا کړ او د کندهار وسله‌تون ته انتقال شو. د چین د استخباراتو مامورینو د اسلام اباد د سفارت له لارې تماس ونیو چې په پټه دا توغندی معاینه کړي. څو ورځې وروسته دوو چینایي انجنېرانو د چین د استخباراتو د مامورینو په ملتیا کندهار ته پټ سفر وکړ. هغوی د کندهار د قشله جدید په وسله‌تون کې روغ پاتې شوی "کروز" توغندی تفصیلي معاینه کړ.

له دې پېښې مفتی معصوم افغاني خبر شو. هغه له دې وړاندې په اسلام اباد کې سفیر و خو دا وخت د ناروغۍ له امله پر کور ناست و او د پاکستان "ضرب مومن" اخبار ته به یې له کندهاره راپورونه ورکول. هغه د ضرب مومن اخبار د موسس مرحوم مفتي رشید احمد لدیانوي د تصوف په سلسله کې مرید و. معصوم افغاني دغه پټ خبر د چا له اجازې او مشورې پرته ضرب مومن اخبار ته واستوه. ضرب مومن اخبار چې کله دغه راز افشا کړ. چینایانو سخت خپګان ښکاره کړ او طالبان یې د استخباراتي رازونو د ساتلو وړ ونه ګڼل. بل پلو امریکایانو پر چینایانو د پوځي ټیکنالوژۍ د کاپي کولو تور پورې کړ، خو د امریکایانو اصلي اندېښنه د چین او طالبانو له اړیکو وه.

د امریکا او روس له ګډو فشارونو نه وروسته ملا محمد عمر خارجه وزارت ته رسما امر وکړ چې له چین سره په روابطو توجه متمرکزه کړي. مشر ویلي وو د دوو ستر قوتونو په مقابل کې چین زموږ لپاره یوه ښه انتخاب دی، ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینایان په دماغ کې د افغانانو په اړه استعماري نظر او پالیسي نه لري او د افغانستان مهم ګاونډي دی.

د ۱۹۹۹م کال د می په نهه ویشتمه د معادن او صنایع له وزارت سره یوې چینایي کمپنۍ د کندهار ، پلخمري او هرات په ښارونوکې کې د سېمنټو د څو فابریکو د جوړو لو قراردادونه وکړل، همداراز یې دعامه تجارت او رغنیزو چارو په اړه له اړوندو ادارو سره په نورو قراردادونو بحثونه پیل کړ.

مولوي احمد جان وایي یو ستر چینایي مقام راته وویل چې تاسو له اقتصادي بندیزونو نه مثبته ګټه هم پورته کولای شوای. هغه وویل چې مورږ چینایان یو وخت لویدیځو بشري او خیریه انجوګانو دې ته رسولي وو، چې د دې موسیسو لخوا د توزیع کېدونکو خوړو لپاره مو لوښي هم نلرل، بلکې په لمنو کې به یې خواړه را اچول. خو چې کله راباندي بندیزونه ولګیدل او زمورږ انقلابي مشر ټولې لویدیځې خیرې اداړې له هیواده وشړلې او چینایانو پر خپل ځان اتکا، تعلیم او صنعت ته مخه کړه، نو له شلو کالو وروسته چین اتومي ځواک شو. هغه زیاته کړه ترڅو چې په کوم هیواد کې لویدیځي خیریه اداړې وي هغه به کله هم له فقر او غلامۍ نه خلاص نشي!

له هغه وروسته طالبانو د خارجه وزارت په کچه له چین سره وفدونه تبادله کړل خو تر ډېره به خبرې له میډیا پټې ساتل کېدې.

د طالبانو د واکمنۍ ړنګېدو وروسته هیڅا هم نور د طالب د سیاسي وجود ته تمه نه لرله او د مقاومت په بڼه هم طالب دومره ځواکمن نه ښکارېده. له ۲۰۰۶م وروسته طالبانو له ګاونډي هېواده له چین سره د تماسونو هڅې پیل کړې خو دا هڅې چې کله د ګاونډي هېواد له لوري کشف شوي، نو فعالین یې د مرګ تر کچې تهدید کړل، خو د قطر دفتر له پرانیستو وروسته یو ځل بیا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره هیئتونه لاړل، چې ورپسې له ګاونډي هېواده هم هیئتونه لاړل او چینیانو هم په ښکاره له طالبانو سره خپل روابط ومنل.

د طالبانو مشر ملا اخترمحمد منصور په اخیر کې د پاکستان او قطر له لارې چین او روسیې ته سفرونه له سي آی ای نه پټ نه ګڼل او فکر یې کاوه چې دا سفرونه یواځې سمبولیکه بڼه لري ، په حقیقت کې دغه هېوادونه هم پر دغو هیئتونو پوره باور نه کوي او نه ستراتیژیک مسایل ورسره څېړي. له همدې امله یې له قطر او پاکستانه پټ له بل لوري ځانګړي هیئتونه واستول خو د ملا اخترمحمد منصور له مینځه تللو وروسته د قطر د دفتر د غړو له خوا دغه پروسه شنډه کړای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاکستان سره ترینګلي اړیکې او د مشرف کودتا

په ۱۹۹۹کال جولای نه چې امریکا یو طرفه بندیزونه ولګول نو دا وخت د پاکستان د صدر اعظم نوازشریف له خوا پر طالبانو له دې امله سختې نیوکې روانې وي چې طالبانو سره د پاکستان د توندروه ډلو یو شمېر داسې کسان شته چې پاکستان ته مطلوب دي. دا کومه پټه خبره نه وه چې د ازبکو، تاجکو او چیچن د خلکو ترخنګ د پاکستان جهادیان هم له طالبانو سره په مرکزونو کې وو او په سنګرونو کې یې طالبانو سره په جګړه کې هم برخه اخیسته چې اکثره یې د کشمیري تنظیمونو خلک وو او پاکستان ورسره هیڅ مشکل نه درلود. د کشمیر ي ډلو رضا کار د روسانو پر ضد د جهاد پر مهال د عربانو په څېر د مجاهدینو په جبهاتو او ټریننګ سنټرونو کې هم کم نه وو. د حزب المجاهدین، البدر او حرکة المجاهدین رضاکاران د خوست، پکتیا، ننګرهار او یوشمېر نورو ولایتونو له مجاهدینو سره بلد وو.

دغه رضا کار نه طالبانو دعوت کړي وو او نه پاکستان په رسمي ډول رالېږلي وو، بلکې د جهاد په جذبه له طالبانو سره همکار وو، نو ځکه خو طالبانو هم د پاکستان په غوښتنه د هغوی په مینځ کې د ښه و بد چاڼ او توپیر نه شوای کولای. که هغوی په پاکستان کې هر نوم درلود، خو دلته یواځې د خارجي مجاهد او مسلمان ورور په حیث اوسېدل.

د سپاه صحابه تګلارې او منشور سره ملا محمد عمر دلچسپي نه لرله. د دغه ګوند ځینې کسان له نورو کشمیري جهادیانو سره په افغانستان کې ول. کله چې په کراچۍ کې یو مشهور ديني عالم مولانا محمدیوسف لدیانوي ترور کړای شو، نو ما په مخابره کې د ملا محمد عمر خبرې اوربدې چې طیب اغاته یې وویل دوی (د سپاه صحابه کسانو) ته ووایه خدای مو خوار کړه ستاسې د حرکاتو له لاسه د امت په کچه علماء شهیدانیږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نوازشریف د توندو څرګندونو په اړه طالبانو ګومان کاوه چې د دې څو تنو موجودیت دومره خبره نه ده چې نوازشریف دومره چیغې وهي. اصلي خبره د امریکا او لویدیځ خوشحاله کول دي او په دې بهانه د پاکستان حکومت غواړي چې د لویدیځ په ملګرۍ د طالبانو په وړاندې ودریږي او ولس هم د ځان ملګری کړي.

نوازشریف سعودي او اماراتي واکمنو ته هم په دې د طالبانو پر ضد خبرې کولې. اخیر کې د نواز شریف ورور د طالبانو او افغانستان پر ضد تونديې او ترخې خبرې وکړې چې دا د پنجاب د ایالتي مشر کار هم نه و. داسې معلومېده چې له لویدیزو کړیو سره د شهبازشریف همکاري او خواخوږي تر نوازشریف هم زیاته وه. شهبازشریف اخطار ورکړ چې پر افغانستان به خپل ټول سرحدونه وتړو. دا وخت چې مورږ تر نړۍوالو فشارونو لاندې وو دغه ډول خبرې راته کافي د تشویش وړ وې.

کله چې د اکتوبر په دولسمه د پاکستان فوځ پر نوازشریف کودتا وکړه نو مورږ هم ورته یواځې په دې خوښ وو چې د نوازشریف د حکومت تریخ دریځ به نښایي د ډېر وخت لپاره له مینځه لاړ شي او مورږ ته به د یو څه وخت لپاره له پاکستانه ستونزې کمې شي.

د کودتا له اعلان او بري وروسته ملا محمد عمر ما ته په دې اړه د یوې اعلامیې د ترتیب وویل ما اعلامیه ترتیب کړه خو د اعلامیې په الفاظو کې یو ډول د دې کودتا هرکلی او تېر رژیم غندنه نغښتې وه چې کله مې مشر ته په تلفون داعلامیې متن ولوست هغه وویل د دې اعلامیې ژبه ناسمه ده. نه باید زوړ رژیم وغندو، نه د نوي هرکلي وکړو. بلکې نېکې تمناوې، دوطرفه همکاري او اسلامي اخوت باید د اعلامیې اصلي توري وي او د پاکستان د داخلي سیاست په اړه د نه مداخلې دریځ په کې روښانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلامیه مې بیا مرتبه کړه خو بیا مې هم دغه کودتا د پاکستان د مخالفینو په وړاندې یو ډول غبرګون ونوماوه. دوهم ځل مې مشر ته اعلامیه واوروله هغه منظوره کړه. بیا مې رسنیو ته واستوله. د اعلامیې توري په لاندې ډول وو:

د افغانستان حکومت او خلک په پاکستان کې امن، سوله او ټینګ حکومت غواړي. د پوځ له خوا پرونۍ کودتا د پاکستان خپله کورنۍ مسئله ده او له دې هېواد سره د ځینې بهرنیو کړیو د یو لړ هغو حرکتونو په وړاندې غبرګون دی چې د پاکستان د ولس، پوځ او پارلماني حکومت د غرور او خپلواکي پر ضد یې ترسره کوي.

مشرف ته د ملا محمد عمر له خوا د اسلامي نظام د نفاذ وړاندیز

کله چې مشرف کودتا وکړه نو له څه وخت تېرېدو وروسته د پاکستان د جمهوري ریاست پر څوکۍ یې هم ځان وټاکه. ملا محمد عمر هغه ته یو رسمي لیک واستاوه. دا لیک چې د ملا محمد عمر مجاهد په دفتر کې لیکل کېده، مهم ټکي یې دا وو چې پاکستان د مسلمانانو هېواد دی او ټول ولس یې اسلامي قانون غواړي، نو دا یو ښه فرصت دی چې تاسو (پروېزمشرف) دا وخت ملکي او پوځي واکونه دواړه په لاس کې لرئ او هیڅوک مو مخ ته نه شي درېدای، په اساني کولای شئ چې اسلامي شریعت د پاکستان رسمي قانون اعلان کړئ او په خپلو عالي محاکمو کې یې عملي کړئ.

د دې لیک په ځواب زه بیا خبر نه شوم. ښایي یا مشرف خاموشي غوره کړې وي یا یې معذرت او نور دلایل وړاندې کړي وي.

دا وخت چې پاکستاني علماوو او دیني طبقې د طالبانو پراخ ملاتړ کاوه نو ملا محمد عمر په دې کار کې له مشرف سره د مرستې توان هم په ځان کې لېده، خو وروسته طالبانو ته د مشرف شخصیت او تګلاره جوته شوه چې نه یواځې له اسلام او مسلمانانو او سره دلچسپي نه وه، بلکې زمونږ پر ضد یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

امریکایي یرغل سره لاس یو کړ او د پاکستان خپلواکي یې هم له ننګوونو سره مخ کړه، چې له امله یې دغه هېواد د تلپاتې نا امنۍ په غېږ کې ورکړ. هغه خپل افتخارات هم توهین کړل، خپل اتومي ساینس دانان یې هم د نورو د خوشحالۍ لپاره تهدید او تذلیل کړل.

پاکستاني حکومتونو له طالبانو سره اړیکې د یوسیاسي او تخنیکي ضرورت په توګه پاللې او په دې اړه یې نړۍ هم ځان ته اړ ګڼله، خو د پاکستان عام ولس او دیني طبقې اکثره له طالبانو سره ژور دیني او قلبي تړون درلود.

ملا محمد عمر مزاجاً د هیڅ یوه هېواد په چارو کې مداخله نه غوښتله چې په دې کې پاکستان هم و، خو د پاکستان له دیني خلکو او ولس سره یې اړیکه داسې ګڼله لکه له خپل ولس سره. که څه هم ملا محمد عمر د پاکستان د مذهبي ګوندونو کردار اوپالیسي نه خوښوله او نه یې په مروج جمهوریت کې د هغوی سیاسي رول مناسب ګاڼه، خو د پاکستاني علماوو په حیث یې د هغوی درناوی کاوه او خپل دوستان یې ګڼل.

دیموکراسي او طالبان

د طالبانو دیني او سیاسي څېړې د جمهوریت او دیموکراسۍ په اساسي ریښو او حقیقت پسې ډېر سر نه ګرځوي. هغوی څو بنسټیزه او پام وړ تصورات لري. یو دا چې په کمزورو اسلامي هېوادونو کې چې د جمهوریت په نامه کوم څه روان دي، هغه یو ډول جعل دی. ستر قدرتونه په کې فضا د ځان په ګټه برابروي. په اقتصادي، تبلیغاتي او استخبارتي هڅو هغه څوک سر ته راباسي چې د دوی د ګټو ساتونکی وي. که هغوی د خپل هېواد کټو ته وفادار هم نه وي او داخلي پس منظر یې هر څومره خراب وي خو چې دوی ته وفادار وي. د هغوی د بري لپاره، مال، میډیا او پټې توطیې هم په کار اچوي، چې کله دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک بریالي شي نو بیا یې استعمارګر هېوادونه نړۍ‌واله دیپلوماتیکه ننګه هم کوي او په اړه یې مثبت تبلیغات هم کوي.

بل اساسي تصور دا دی چې د ټاکنو لپاره دروغ ویل، بې ځایه دعوې، ریاکاري، یو پر بل ناحقه الزام او تهمت پورې کول په ټاکنیزو سیالیو کې هره ډله او کاندید خپل ضرورت ګڼي. سیکولر او اسلام پال په کې یو ډول دي، نو له داسې چا نه به د سوچه اسلامي شخصیت تمه څنګه وشي چې هغه دروغ، وعده خلافي، منافقت او ریاکاري خپل معمول وګرځوي!

د داسې چا په لاس بیا د اسلام مقدس دین د یوه نظام په توګه نافذول هم له اسلام سره ټوکې دي او که دا اعمال هغوی نه کوي، نو بیا د هغوی د هغو مخالفینو انتخاباتي بریا حتمي ده چې د استعمارګرو او اسلام دښمنو قوتونو د زر، زور او میډیا همکاري ورسره وي،چې دا بیا د یوې اسلامي ټولنې لپاره فکري او نظریاتي ناورین دی.

په هغو کمزورو اسلامي هېوادونو کې چې پوځ یو مستقل ځواک وي او اسلامي نظریاتو ته وفادار نه وي، نوهلته که اسلام پال بری هم ترلاسه کړي نو استعمارګر یې پر ضد پوځ هڅوي او پانګونه پرې کوي، لکه په مصر او الجزایر کې.

هو! مګر هغو هېوادونو کې چې د مارشل لا واکمن یې د اسلام پر ضد هم وي او پر مسلمانانو د یکتاتوري واکمني هم چلوي، نو بیا ورنه جمهوري واکمني په هر حال ښه ده.

همداراز هغه شاهي مستبد حکومتونه چې د استعمارګرو په اشاره او مشوره یې خپل مسلمان ولسونه زندۍ کړي وي، له هغوی نه هم جمهوریت ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مجموع کې که مسلمان خپلې عقیدې ته وفادار، خپلواک او پر خپل ولس مهربان حاکمان په هر ډول او هره وسیله په مسلمانانو حکومت کوي، نو دا اسلام او مسلمانانو ته ګټور او غنیمت دی.

په لنډ ډول که ووایو نو طالبان د انتخاب شکل او ډول ته اهمیت نه ورکوي، بلکې پایلې او پر اسلامي ټولنه یې فکري او عقیدوي تاثیر ته اساسي اهمیت ورکوي، چې له همدې امله طالبان مستقیما د انتخاب د طریقې پر ډولونو فتواوې لګول نه خوښوي.

د هندې الوتکې کړکیچ - ۲۲ ډسمبر ۱۹۹۹

له یوې بوختې کاري ورځې وروسته له دفتره وتم، چې د مشرتابه ځانګړې مخابرې (نصرت) غږ وکړ. له دې غږ سره بېرته کارځای ته راغبرګ شوم. له کابله د هوایي چلند وزارت د امیرالمومنین دفتر ته خبر ورکړی و، چې یوې تښتول شوې الوتکې پر کابل هوایي ډګر د ناستې اجازه غوښتې، خو اجازه نه ده ورکړل شوې. وزارت ویلي وو، چې الوتکه دا مهال کندهار ته پر لار ده. دا وخت زموږ د رپیټر مخابرې په لومړۍ شمېره کې ټول ګډونوال غوږ وو. دا شمېره یواځې له محدودو او مهمو کسانو سره وه. ما ته د دې پېښې څارنه ځکه ډېره مهمه وه، چې له دا ډول پېښو سره سم رسنۍ اړیکه نیسي. زه باید کاري دفتر کې پاتې شوی وای. الوتکه کندهار ته نږدې وه چې پاکستاني چارواکو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت او نورو مهمو مقاماتو ته خبر ورکړ، چې تښتول شوې الوتکه د هند ده.

پاکستاني چارواکو ویل، چې د دوی د حکومت رسمي مشوره دا ده چې موږ الوتکې ته د ناستې اجازه ورنه کړو. د پاکستانیانو استدلال دا و چې په دې نازکو حالاتو کې دا کار هم ستاسو (اسلامي امارت) په زیان دی او هم یې پر موږ (پاکستان) ناوړه اغېز پرېوځي. د پاکستانیانو دغه وړاندیز چې کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرالمومنین ته ورسېده، له څه ځنډ وروسته یې پر رپیټر مخابره چې ټولو مهمو کسانو اورېده، هوایي ډګر ته وویل چې الوتکې ته د ناستې اجازه ورکړئ.

دا وخت چې امیرالمومنین د هوایي ډګر مقاماتو ته د الوتکې د ناستې د اجازې امر کاوه الوتکه د کندهار له مسیره تېره شوې وه او د ایران پر مسیر د متحده عربي اماراتو پر لور روانه وه. زمور هغه حکومتي چارواکي چې د الوتکې د ناستې مخالف و، نور بې غمه شول ځکه چې دوی فکر کاوه چې الوتکه نوره ولاړه، خو څو ساعته وروسته په دوبۍ کې د اریانا هوایي شرکت د دفتر مسوول حاجي فرید کندهار ته په تلیفوني تماس کې وویل چې الوتکه د دوبۍ پر المنهاج هوایی ډګر ناسته ده او د تېلو اچولو او د سورلیو له خوراک او څښاک وروسته د بېرته الوت اراده لري. د بهرنیو چارو وزیر مولوي وکیل احمد متوکل او ځینو نورو مسوولینو په دې تاکید کاوه چې دا کار تر شا ښه عواقب نه لري او پاکستان هم له همدې امله د دې کار مخالفت کوي.

د شپې ناوخته د پاکستان یوه لوړپوړي پوځي مقام، برګیډیر سلطان پر تلفون مشرتابه ته د خپل حکومت مشوره او دلایل وړاندې کړل. دغه پاکستاني برګیډیر وویل: "له یوه لورې پر تاسو نړیوال فشارونه او اقتصادي بندیزونه دي، بل لور ته په هر کار کې هند پاکستان ته ګوته نیسي، نو که تاسو دا کار وکړئ، پاکستان او افغانستان دواړو هېوادونو ته ښایي زیان ولري؛ ځکه چې زمور اړیکې له هند سره دا وخت ډېرې نازکې دي". امیرالمومنین د سلطان وړاندیز رد کړ او ویې ویل: "دا زما خپله فیصله ده، مور په دې کې د خپل حکومت او هېواد لپاره ځانګړي اهداف لرو".

دا چې دا اهداف څه و، امیرالمومنین مور ته په ځانګړې مخابره په واضحو ټکو وویل: "که د الوتکې تښتوونکي مسلمانان وو د خپل اسلامي مسوولیت له مخې یې مشروع مرسته کوو او که هندوان وو، نو د هند حکومت ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپارم، ترڅو د هند له دولت سره د افغانستان د اسلامي امارت روابط جوړ کړو." د مشر دغه الفاظ د رپیټر مخابرې د لومړۍ شمېرې ټولو ګډونوالو واورېدل، چې ډېرې یې اوس هم له نیکه مرغه ژوندي دي.

غالباً د اریانا د دوبۍ دفتر مشر د المنهاج هوایي ډګر د چارواکو په وسیله هندي الوتکې ته خبر ورساوه، چې د کندهار پر هوایي ډګر ناسته کولای شي.

الوتکې په دوبۍ کې د یوه نارینه او یوې ښځینه مړي او درې ډېرشو ښځو او ماشومانو له کوزولو وروسته کندهار ته راغله. تر دې مهاله هیڅوک هم خبر نه وو چې د الوتکې تښتوونکي څوک دي او څه هدف لري، خو وروسته دا جوته شوه چې الوتکه د نیپال هېواد له پلازمېنې کتمندو څخه د هند پلازمېنې نوي ډیلي ته روانه وه چې د الوتکې د یوولسو کارکوونکو په ګډون دوه سوه دیارلس سورلۍ په کې سپاره وو، چې یو شمېر یې بهرني دیپلوماتان هم وو او یو ناڅاپه یې مسیر بدل کړ. لومړۍ ناسته یې د هند په امرتسر ښار کې وکړه، چې د تېلو له اچولو وروسته یې بېرته الوت وکړ.

دا وخت هندي مقاماتو ته معلومه شوې وه چې الوتکه یرغمل شوې ده. د هند له امرتسر وروسته یې دوهمه ناسته د پاکستان په لاهور ښار کې وکړه، او بیا یې افغانستان ته مخه کړه.

سهار ته نږدې الوتکې د کندهار پر هوایي ډګر ناسته وکړه. زه هم سهار لږ وروسته د هوایي ډګر پر لور وخوځېدم. د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي وکیل احمد متوکل د هوایي ډګر د تماس ټاور کې ناست و. زه هم وروختلم، له ټاوره د هوایي ډګر منسوبینو د الوتکې له تښتوونکو سره په انګلیسي خبرې کولې. لومړی یې له هغوی د خواړو په اړه وپوښتل چې سورلۍ څه ډول خواړه خوښوي. هغوی د قابلي پلاو وویل. له ما سره په دفتر کې د ظاهر په نامه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان کار کاوه چې مور يې هندوستانۍ وه. په هند کې وړوکی لوی شوی و، په هندي ژبه يې روانې خبرې کولای شوای، لومړی مو هغه راوستی و، چې له تښتوونکو سره په خبرو ځان پوه کړي، خو وروسته له تماس خبره روښانه شوه چې تښتوونکي پاکستانيان دي اردو ژبه وايي.

تښتوونکو د مولانا مسعود اظهر په ګډون د پينځه دېرشو پاکستاني کشميري مبارزينو د خلاصون او يوه لويه اندازه پيسو غوښتنه لرله، چې بيا وروسته د اسلامي امارت له خوا د پيسو له غوښتنې تېر کړای شول؛ ځکه دې کار کومه بشري او اخلاقي انګېزه نه لرله او تش د تاوان لپاره د تښتولو بڼه يې خپلوله. له همدې امله امارت په دې غوښتنه کې د هغوی ملاتړ ونه کړ او د بنديانو د غوښتنې ملاتړ يې وکړ.

د هغو هېوادونو له لوري چې په دې الوتکه کې يې مهم اتباع يرغمل وو، د هند پر دولت فشار ډېر زيات و. دا وخت د ملګرو ملتونو او سره صليب د ادارو له خوا هندي حکومت سره تماس نيول شوی و. ان د الوتکې تر ناستې وړاندې لا هند پر دې راضي و، چې د بشري ضرورت او د يرغمل شويو د ساتنې په موخه افغان حکومت کولای شي چې د تبلو او خواړو د ورکړې لپاره الوتکې ته د ناستې اجازه ورکړي.

وکيل احمد متوکل د ټاور د تماس نيوونکو په وسيله له تښتوونکو نه هم پوښتلي وو. هغوی ورته ويلي وو، چې دا به زمونږ وروستۍ ناسته وي، نور بل لور ته نه شو تللای او که څوک راسره زور وکړي ځانونه او الوتکه به له مينځه لاړه شی. که څه هم د ملا محمد عمر موقف ښکاره و، خو د تښتوونکو دغه غبرګون له متوکل سره په ديپلوماتيک او مطبوعاتي ډګر کې مرسته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوکل په لومړي ځل رسنیو ته وویل چې الوتکې ته مو د هند د حکومت په خوښه د ټبلو او خوړو لپاره د ناستې اجازه ورکړه، خو هغوی اوس له پروازه انکار کوي او د زور په صورت کې د ځان او سورلۍ د له مینځه وړلو اخطار راکوي، چې دا یو خطرناک حالت دی، باید هند د مسئلې په حل کې مثبت ګامونه اوچت کړي.

دا وخت د سیمه‌ییزو او نړۍوالو رسنیو او دیپلوماتیکو کړیو پاملرنه ټوله دې لور ته وه. شنونکو او د نظرخاوندانو پر طالبانو د رسنیو له لارې هم غږونه کول، که د الوتکې په اړه کومه ناوړه پیښه رامینځ ته شي، دا به د طالبانو لپاره نړۍ نوره هم دښمنه کړي. هند حکومت هم په دې اړه له نړۍ نه رسمي مرسته وغوښته.

د روسیې حکومت په دې اړه د امنیت شورا غړو ته د بیړنۍ غونډې مشوره ورکړه. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په خپله اعلامیه کې دا پیښه ترهګري او بشرضد وګڼله اوغوښتنه یې وکړه چې هند او د سیمې نور هېوادونه دې له افغان حکومت سره په ګډه د یرغمل شویو د خلاصون ممکنه هڅه وکړي، چې د سیمې له هېوادونو یې هدف پاکستان و، زمور ترځنګ پر پاکستان هم فشار و، چې دلته د برګیډیرسلطان خبره رښتیا شوه.

امارت د الوتکې د امنیت په اړه یو مستقل امنیتي ټولګی تشکیل کړ، چې ځانګړی یونیفورم یې په تن و. په وسلو سمبال او اور وژونکي موټرونه هم ورسره وو. دا مستقله پوځي قطعه یې د الوتکې هر لور ته ځای پرځای کړه، چې د الوتکې لور ته په بدل یونیفورم کې څوک نږدې نه شي یا هم یرغمل کوونکي په کوم ناوړه عمل لاس پورې نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کندهار کې د ګڼ شمېر پاکستاني او نړۍوالو خبریالانو ګڼه ګوڼه وه او د خبریالانو د تنظیم چارې تر ډېره پر ما وې. د پلان له مخې به د خبرو په جریان کې متوکل د تازه پرمختګونو په اړه د خبریالانوغوندې ته هره ورځ معلومات ورکول. د امارت له لوري د الوتکې منظمه ځارنه او د هوایي میدان کلک امنیت او د متوکل صیب محتاطې دیپلوماسۍ د حالاتو نړۍوال ځارونکي تر ډېره حده مطمئن کړل. له همدې امله خو د ملګروملتونو د بشري مرستو مشر "ایرک ډیمول" رسنیو ته وویل: د طالبانو له دې امله ډېر مننوی یم چې د یرغمل شویو د ژوند او امنیت ډېر غم ورسره دی او په دې اړه یې پوره او بریالۍ هڅې جاري ساتلي. ډیمول دا هم وویل چې که څه هم پر طالبانو په دې اړه ډېر سخت نړۍوال فشارونه دي، خو هغوی دا موضوع په ښه توګه د بري لور ته نږدې کړې.

د ډسمبر په اوویشتمه د الوتکې د تخنیکي ځارونکو په ګډون له هنده پنځوس کسیز پلاوی د ملګرو ملتونو په ځانګړې الوتکه کې کندهار ته راورسېد او د هوایي ډګر په مېلمستون کې ځای پرځای شول. له یوې اوونۍ پرلهپسې خبرو وروسته د هند د بهرنیو چارو وزیر جسونت سنګ د ملګرو ملتونو په ځانګړې الوتکه کې درې تنه اسیران مولانا مسعود اظهر، مشتاق عمر او سید عمر شیخ له ځانه سره راوړل او له متوکل سره تر اوږدو خبرو وروسته یې د الوتکې عمله له الوتکې رابهر کړل. تښتوونکي او درې تنه راخلاص شوي بندیان د کندهار د قول اردو لور ته بوتلل شول.

د هند د بهرنیو چارو وزیر جسونت سنګ تر رخصتېدو وړاندې د افغانستان د بهرنیو چارو له وزیر وکیل احمد متوکل سره ګډ خبري کانفرانس ته خبرې وکړې. دغه خبري ناسته چې د هوایي ډګر د مېلمستون تالار کې وشوه، په لسګونو سیمهییزو او نړۍوالو خبریالانو په کې ګډون وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوکل له خپل سیال جسونت سنګ نه منله وکړه چې د ستونزې په اواري کې یې پوره رول ادا کړ، په مقابل کې جسونت سنګ نه یوازې دا چې له متوکل نه یې منله وکړه، بلکې متوکل ته یې هند ته د ورتللو رسمي بلنه هم ورکړه.

مورِ د هند خارجه وزیر د الوتکې تر زینې بدرګه کړ. هغه د خدای پامانۍ په دود لاس اوچت کړ او رخصت شو. د ملګرو ملتونو د الوتکې له الوته یوه شیبه وروسته د هند یرغمل شوې الوتکې هم پرواز وکړ. مورِ په خپلو خپلو موټرونو کې د ښار پلو ته را روان شوو. دا وخت زمورِ مخابرې لګېدلې وې. د رپیټر پر لومړۍ شمېره ملا محمد عمر د قول اردو پر قومندان مولوي اختر محمد عثماني غږ کړل. مشر له عثماني سره د وروستیو جریاناتو په اړه له غږېدو وروسته عثماني ته وویل: "پام چې پر ځان مغروره نه شئ چې دا موضوع مورِ او تاسو حل کړه، دا یو دروند امتحان و، چې یواځې د الله په غیبي نصرت پای ته ورسېد".

زه له ځانه سره په دې خبره ډېر خوشاله وم چې د دومره نړۍوالو فشارونو او اقتصادي بندیزونو پر مهال که متوکل د هند سفر وکړي، دا به ستره د ډیپلوماتیکه لاسته راوړنه وي، خو هفته وروسته د لویدیزې او هندي میډیا له لوري فضا ښېرته خړه پړه شوه او دغه ټوله ماجرا یې پاکستاني استخباراتو پورې وتړله.

د هند په دننه کې هم لوړپوړي هندي مقامات د خپل خارجه وزیر له بلنې صرف نظر شول. بل پلو پاکستان هم لومړی دې ته اندېښمن و چې که ربښتیا متوکل هند ته رسمي سفر وکړي دا به د پاکستان لپاره ناوړه پیغام وي.

د متوکل صیب رایه دا وه چې تښتوونکي باید سره صلیب ته وسپارل شي، خو مشرتابه وویل چې مورِ له هغوی سره د خوندي خوشي کېدو عهد کړی، هغوی خپل اختیار لري چېرته چې ځي هلته تلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍوالو اوهندي رسنيو زما په حواله خبر تېر کړ، چې هايجکران پاکستان ته لاړل، خو ما هيڅ داسې خبره چا ته نه وه کړې او بنديان او تښتوونکي دا مهال دواړه لاهم په کندهار کې وو. زه ډېرحيران شوم چې څرنګه ميډيا په په غلطه يو خبره ماته منسوبه کړه او بيا يې دومره هوا هم ورکړه.

په سبا مابنام مورِ څو تنه د اسلامي امارت چارواکي په کندهار کې د پاکستان کونسلګرۍ ته د مابنامنۍ لپاره وربلل شوي وو. په دغه مېلمستيا کې د بهرنيو چارو وزير، وکيل احمد متوکل، د کندهار د قول اردو قومندان، مولوي اختر محمد عثماني، د مشر سکرتر سيد محمد طيب اغا، پخوانی خارجه وزير ملا محمد غوث، زه او يو څو تنه نور وو. کله چې مېلمستيا ته ورغلو نو د کونسلګرۍ د نظامي اتشې مسوول "زاهد" زمورِ اصلي کوربه و، چې بيا څه موده وروسته د زړه د ناڅاپي دورې له امله وفات شو. کونسلر تر ډېره تشريفاتي بڼه درلوده، اصلي واک د نظامي اتشې د مسوول و؛ ځکه چې کونسلر د خارجه وزارت له خوا رالېږل کېده او د اتشې مسوول معمولا د آی اس آی له خوا ټاکل کېده.

زاهد مرحوم مورِ ته د هند پر ضد داسې خبرې پيل کړې، لکه څوک چې د مکتب د لومړي ټولګي شاګردانو ته درس ورکوي!

ويل يې "هندو هيڅکله د مسلمان دوست نه شي کېدای. هند په تاريخ کې له مسلمانانو سره بې کچې ظلمونه کړي او دې ته ورته خبرې...". مورِ پوه شوو چې د زاهد هدف څه دی او د خپل حکومت له خوا څه دنده ورسپارل شوې.

د خبرو په جريان کې زاهد د الوتکې او ميدان د ښه امنيت او نظم په اړه د اختر محمد عثماني ستاينه وکړه، خو عثماني مزاجا ډېر خوش طبعه و، کله کله به يې په مهم مجلس کې هم يوه نيمه ظريفه ټوکه کوله. د زاهد د خبرې په ځواب کې يې وويل: مورِ پوهيږو چې تاسو هم له ميدان سره په نږدې کنډوالو کې خپل ګيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

گيان غلي کړي و (ګيله‌ګيان غلي کول د لوی کندهار په اصطلاح کې ځانګړی مفهوم لري، ګيله‌ګي کم عمره خوسکيو ته وايي). اشاره يې د کونسلګرۍ هغو دوو موټرانو ته وه چې د دغي ماجرا په ورځو کې به يې له هوايي ډګره د باندي په ړنګو خونو کې پټ درولي وو او له هغه ځايه به يې د هوايي ډګر ځارنه کوله؛ په دوربين کې به يې الوتکې ته هم کتل.

د عثماني صيب دغې معناداړې خبرې ته ټولو سخت وخندل. که څه هم د پاکستاني موټرانو دلته دربدل به ښايې د امارت په اجازه وو، ځکه چې هغوی په دې سرګردانۍ کې ځان شريک ګانې. د خپلو اتباعو مسئله يې وه، خو د عثماني ټوکه په دې اړه په خپل ځای کې ډېره معناداره وه، ځکه خو زاهد له خندا وروسته يو څه فکر يوړ.

د مجلس د پای په شېبو کې ملا محمد غوث اخوند د همدې پېښې په اړه يو څو داسې پوښتنې وکړې، چې په ظاهره داسې معلومه شوه چې له جريانه پوره خبر نه دی. په دې سره متوکل صيب موسکی شو او ما ته يې وکتل، خو ما چې فکر وکړ ملا محمد غوث په لوی لاس غوښتل چې د پېښې له ځينې ښکاره اړخونو ځان ناخبره وښيي او په ځواب کې د پاکستاني مقام خبرې واوري او د هغوی ليدلوری ځان ته پوره معلوم کړي، ځکه چې ملا غوث دقيق او ظريف مزاجه سړی و.

د کوکنارو په کرهنه ناڅاپي بنديز

پر کابل د طالبانو له واکمنۍ بيا تر ۱۹۹۹کال تر پايه له نړۍوالو انجوګانو سره د تفاهم په لړ کې د هر کال په تېرېدو د کوکنارو د کښت د تدريجي کمښت پاليسي وه چې لومړی به يو پر درې، بيا نيمه برخه او بلاخره به صفر کيږي او دا د دې لپاره چې په يو ناڅاپي بنديز خلکو ته مالي ضربه ونه رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا محمد عمر چې کوم علماوو ته ډېر معتقد و، هغوی له اوله د کوکنارو د کښت مخالف ول، خو د تدریجي کمښت پالیسي یې منله. دا پلان په لومړي او دوهم کال سم روان و، په ۱۹۹۸ او ۱۹۹۹کال کې فیصدي سرچپه وه. دا وخت چې د نړۍ‌والو تعزیراتو او لویدیځ د دښمنۍ له امله ملا محمد عمر د منکراتو د دفع په جذبه له نړۍ‌والو نورمونو او غوښتنو نه په بې پروایۍ عمل کاوه، چې په دې لړ کې بیا وروسته د بټانو نړېدل او اهل ذمه‌وو ته فارقه لباس او ځینې نور اوامره هم راځي؛ د کوکنارو بندیز هم سوچه دیني بڼه لرله.

سیمه‌ییزو علماوو د طالبانو د واکمني له لومړیو ورځو د تاریاکو د کښت په اړه د جواز مشروط دلایل ویل. دې دلایلو ملا محمد عمر ته له اوله چندان خوند نه ورکاوه، خو د ولس د یو ناڅاپي نارضایت له وېرې ځینو طالب چارواکو ملا محمد عمر د تاریاکو په تدریجي (ورو ورو) بندیز قانع کړی و چې د فیصدۍ له مخې به هر کال کنترولېږي او د څو کلونو په تېرېدو به دغه کښت صفر کیږي. نړۍ‌والې اداري به یې کروندګرو ته په پرېښودلو معاوضه ورکوي چې په یو ناڅاپي بندیز کروندګر له یو ناڅاپي مالي ستونزې سره مخ نه شي. که نه حکومت سره به یې واټن پیدا شي، خو دغه تدریجي پروسه وروسته ټکنۍ ښکاره شوه.چې له امله یې ملا محمد عمر د دې پروسې پر بریالیتوب شکمن شو.

تاریاک د جنوبي ولایت هلمند په ځینو ولسوالیو کې د شوروي تجاوز پر وخت لا دود شوي ول چې د مجاهدینو له بري وروسته د هلمند په اکثرو او د کندهار په ځینې ولسوالیو کې دود شول او د هېواد په شرقي او شمالي ولایاتو کې هم دغه کرهنه پیل شوه.

په هلمند، ننګرهار او بدخشان کې د اپیمو کارخانې جوړې شوې. تاجکستان او پاکستان ته دایران په نسبت د افیونو قاچاق اسانه و، ځکه خو له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو سره د افغانستان سرحدي سيمې د قاچاقبرو د توجه وړ وې. د طالبانو په راتګ سره هم دغه کاروبار روان و. طالبانو لومړی په دې اړه محتاط قدم اخیست، ځکه چې ډېرو سیمه‌ییزو ملایانو دغه کښت ته جواز ورکاوه، حتی د جوماتونو امامانو یې زکاة اخیست. همدا راز د طالبانو نږدې ملاتړو خلکو دغه کښت کاوه او ځینو یې تجارت کاوه، خو داسې مشهور علما هم وو چې هم مشرتابه ته نژدې وو اوهم یې دغه کښت روا نه ګانه چې بالاخره ملا محمد عمر له یو شمېر مشهورو علماوو سره له تفصیلي بحث او مشورو وروسته د تدریجي بندیز د پالیسۍ برعکس په یوه وار د بندیز پرېکړه وکړه.

د۲۰۰۰م کال د جولای د میاشتې پرشپږویشتم مازیګر په خپل دفتر کې ناست وم چې په تصادفي ډول د WFP موسسې محلي کارمند انجنېر فضل محمد زما دفتر ته راغلی و. مشر په ریپټرمخابره له دود سره سم راباندې غږ کړل: عبرت! عبرت! (دا زما د مخابرې نوم و). ما ورته بلې وویل. مشر وویل کاغذ او قلم درواخله. زه پوه شوم چې ښایي کومه عاجله او مهمه اعلامیه به وي. قلم او کاغذ مې را واخستل... وایي ولیکه..ما ویل څه ولیکم؟

- دا ولیکه چې له ننه وروسته په هېواد کې د کوکنارو پر کرهنه بندیز دی. د سرغړونې په صورت کې درنه جزا ده.

هېښوونکي خبر و. د لیکلو مینځ کې مې په خبرو کې ورټوپ کړل: هیڅ شرط په کې نه شته؟ او د نړۍوالو ادارو نه د بدیل په توګه د مرستو غوښتنه؟

خبره یې راپرې کړه: "...هیڅ شرط په کې نه شته یواځې د خپل اسلامي مسئولیت له مخې یې د منکر په توګه بندوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې د نړۍ‌والو لپاره بندوو او نه له کومې اداړې مرسته غواړو. که څوک کروندګرو سره مرسته کوي او که يې نه کوي دا کار مور د خپل شرعي مسئوليت له مخې کوو او تر اوسه چې پاتې وو، د هغه دې هم الله عفوه راته وکړي".

د اعلاميې ټول الفاظ انجنېر فضل هم واورېدل، هغه هم د خوښۍ او حيرت په عالم کې ډوب و.

اعلاميه مې پوره کړه او بيا مې يو څه الفاظ وربرابر کړل خو په فکرونو کې ډوب وم، ځکه چې تاريک هغه ستره نړۍ‌واله نيوکه او موضوع وه چې نړۍ‌والو ادارو يې په اړه هره ورځ په ميډيا کې پرپړې خپرولې. په داسې بې قيد وشرطه اوساده ډول بندول يې هېښونکې پېښه وه.

انجنېر فضل محمد د خوښۍ او حيرت ترمنځ ژر ژر پوښتنې تکرارولې...هيڅ شرط او غوښتنه په کې نه شته؟ دا ولې؟ دا خو وړه خبره نه ده. ما به د مشر خبره ورته تکراروله چې ويل يې له هيڅا نه هېڅ غوښتنه په کې نه شته.

اعلاميه مې ترتيب کړه. د فيکس او تلفون له لارې مې ګڼو اژانسونو ته ورکړه او له څو راډيوګانو سره مې په دې اړه مرکې هم وکړې.

پلازمينه کابل لا خبر نه و. د شپې ناوخته له کابله زنګونه راشروع شول. په سبا کابل نه هم دا خبره ميډيا ته تکرارېدله، خو له بده مرغه څو ورځې وروسته لويديزې ميډيا د افغانستان د حکومت دا ستر اقدام ډېر ناوړه او غلط تعبير کړ. مشرتابه خو د هغوی د تبليغاتو پروا نه لرله، ځکه چې په بندولو کې يې هغوی په نظر کې نه ول نيولي، خو د امارت مطبوعاتي څانګه په دغو ناوړه تبليغاتو سخته مايوسه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو کړیو خو لا دا پروپاګند هم پیل کړ چې د طالبانو مشرتابه زیات تاریاک رانیول او د بیې د لوړیدو لپاره یې بند کړل خو دا د هر هغه چا لپاره چې د طالبانو د مشر له شخصي ژوند او طبیعت سره بلد و د منلو وړه نه وه. د څو میاشتو په تېرېدو د تاریاکو کښت په بې ساري توګه پرته له زور زیاتي په مکمله توګه بند شو.

په هغو محدود سیمو کې چې د مسعود د ملېشو په واک کې وي، د دې کښت کرهنه روانه وه، ځکه چې دغه لږې سیمې د حکومت په واک کې نه وي، چې د هېواد په سلو کې پنځمه برخه یې تشکیلوله. له همدې امله د هېواد نورو برخو نه هم د مافیاو غړي او قاچاقبر دغو سیمو ته ورمات شول.

په دې سیمو کې د مخدراتو په قاچاق کې د ډېلیو ایف پي په راپور کې د مخالفې ټلوالې غړي او قومندانان هم ککړ ښودل شوي وو. د ډېلیو ایف پي د هم هغه کال په راپور کې د برهان الدین رباني د مېرمنې یادونه هم شوې وه چې د مخدره موادو په قاچاق تورنه شوې وه.

له بده مرغه د امریکا له یرغل وروسته د نوې اداري په راتلو سره دغه کښت بېرته پیل او له هغه څو چنده زیات شو چې تر اوسه ادامه لري.

په یوه فرمان د اعزازي القابو لغوه کول

د طالبانو په واکمنۍ کې ځینو خلکو هڅه وکړه چې له کابل پوهنتون او علومو اکاډومۍ نه علمي رتبې او القاب په ناقانونه ډول یا په اعزازي توګه ترلاسه کړي. دوی د کمونیستي دورې او د رباني د رژیم پرمهال په ناقانونه ډول د پوځي او علمي رتبو ترلاسه کول په دلیل کې راوړل، چې سلیمان لایق په کې اکاډومیسن او څو نور په کې پوهاندان شوي وو او بې شمېره په کې جنرالان شول. ملا محمد عمر چې د مدرسې یو طالب و، له دې مسایلو سره بلد نه و خو کله چې د پوهاند په ګډون یو لړ علمي رتبې په اعزازي ډول ترلاسه کېدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په یو ډول یې پر مشرتابه هم امضا کولې، آن چې د اولمپیک رییس عبدالشکور مطمئن چې د کابل د پغمان اوسېدونکی و او په څو لوبو کې یې مډالونه اخیستي وو، هڅه یې کوله چې د پوهاند لقب په اعزازي توګه ترلاسه کړي!

په همدې نیت یې کندهار ته سفر لاره. زما په دفتر کې د علومو اکاډومۍ رییس محمد حسین مستسعد ورسره لانجه وکړه. مستسعد ورته وویل: ته د لوبو اتل کېدای شي، خو پوهاند علمي رتبه ده، ستا دا هڅه د علمي ادارو سپکه او د نظام بدنامي ده!

همداراز د شریعت غږ راډیو عمومي رییس محمد اسحاق نظامي چې کومې خاصې زده کړې یې نه لرلې، تش نطاق و، او له نورو سره یې فقط د هنجرې تفاوت لاره! هغه هم په ډېره نادوده طریقه د پوهنتون پر ځای له بلې اداري د پوهاند لقب د ترلاسه کولو هڅه وکړه او څه وخت یې په رادیویي خپرونو کې هم له خپل نامه سره د "پوهاند" کلمه کاروله.

کله چې ۲۰۰۰م کال کې د علمي ادارو له خوا ملا محمد عمر ته شکایت ورسېد. ملا محمد عمر د علمي ادارو له چارواکوسره له مفاهمې وروسته یواځې په یوه فرمان د خپلې دورې ټول ناقانونه او اعزازي القاب لغوه اعلان کړل!

په دې فرمان د ډېرو جعلي پوهاندانو له اوږو د پوهاندۍ درونده پوستین وغورځېد. دوکتوران او قضاوت پوهان هم له القابو عاري شول!

له هغه وروسته بیا چا تر اخیره د اعزازي لقب د ترلاسه کولو هڅه ونکړه.

د امربالمعروف د اداري په اړه له ملا محمد عمرسره مباحثه

د طالبانو دغورځنګ بنسټیز شعار اوهدف د اسلامی شریعت تطبیق و، چې په دې لاره کې د نورو ادارو او قضایي ارګانونو ترڅنګ د امربالمعرف د ځانګړي اجرایوي ځواک د شتون اړتیا هم وه، خو د دې اداري کارکوونکو او افرادوته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې ځانګړې روزنې اړتیاوه. همداراز په دې اداره کې د توظیف لپاره یوه ځانګړې معیار او محتاطانه انتخاب اړین و، چې له بده مرغه طالبانو دغه اساسي ارزښتونوته توجه ونکړه او د دې اداري مشران باحکمته او دور اندیشه خلک نه ول او عامو افرادو یې په عامه توګه ځانګړې روزنه او عمیقه دیني پوه نه لرله، چې له امله یې ډیر افراطي اجرائات کول اوپه ځینې کارونوکې یې ډیر غیر ضروري شدت هم کاوه.

مورِ ته د هغوي د کار ماهیت، طریقه او په ټولنه کې یې اثرات معلومیدل ځکه مو د دې اداري د یوشمېر کارونو په اړه نیوکې لرلې چې دا نیوکې بلاخره د دې اداري مسئولینو نشوای زغملای، چې له امله یې پر مورِ ډول ډول تورونه لګول.

د ځینو کړنو په اړه یې ملا محمد عمر هم ناخوښه وو. یوه ورځ یې وویل: زمورِ د نظام لپاره مهمه اداره امربالمعرف وه، خو زمورِ دغه اداره تر ټوله ناقصه او بې خونده ده.

خو دا چې د دې اداري د عملي اصلاح لپاره مشرتابه ولي موثر اقدامات ونکړل، دې به ښایي نور هم ډیر لاملونه لرل خو څه چې ماته معلومیدل هغه دري لاملونه وو: په دې اړه د علماوو مضر احتیاط او خاموشي؛ د ملا محمد عمر په نږدې او باوري حلقه کې د ځینو کسانو لخوا د دې اداري د کړنو دفاع او درېیم لامل یې د مخالفت کوونکو په اړه بدګماني وه.

په دغه اداره نیوکه ډیرو مشرانو په زړه کې ساتله، ماته هم یو ملګري وویل که کندهار کې د ملا محمد عمر ترڅنګ نه وایي نو د دې اداري مخالفت به درته دروند تمام شوی وای!

د کندهار په ولایتي شورا کې د امر بالمعروف پر چارواکو زما مخامخ نیوکو او ورسره لفظي مشاجرو، د امربالمعروف چارواکې غوسه کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې په دوه زرم کال کې د اولمپیک ریاست په بلنه د پاکستان له چمن ښارګوټي د کرکیټ یوه لوبډله کندهارته راغلې وه او په کندهار ښار کې یې له خپل سیال ټیم سره لوبه کوله، له لوبې وروسته د امربالمعرف وزیر لوبغالي ته ورغلی وو او د دغې میلمنې لوبډلې ځینې لوبغاړي یې د انګریزي ستړیال ویښتو او ږیرې خریلو په تور تهدید کړی و. دا کار له یوې خوا لویه بدنامي وه له بلې خوا یو ډول اداري بې نزاکتي وه چې د یوې اداري له خوا دعوت شوي کسان د بلې اداري لخوا توهین شول. ما په شورا کې دا موضوع په جدي ډول راپورته کړه څو تنو مې ملاتړ وکړ خو ځینې مهمو کسانو او د امر بالمعرف چارواکو د دې کار دفاع وکړه، بالاخره زما د طرفدارو نظر دا وو چې دغه شکایت او د امربالمعرف په اړه نور شکایتونه باید له مشرتابه سره مخامخ وځیړل شي زه دې کارته تیار شوم.

د پوهنې رئیس مولوي نیک محمد او د کندهار د جهادي مدرسې مدیر او د شمال د لومړیو کرښو جنګي قوماندان قاري فیض محمد هم راسره ملګري شول. د ماسپښین له لمانځه وروسته مو له مشر سره د ناستې وخت و. چې کله ورغلو ملا محمد عمرته لومړی خبرې مرحوم قاري فیض محمد پیل کړې. هغه وویل د دې اداري د کارونو په اړه شکایات ډیر زیات دي، باید نور کنترول شي. قاري فیض محمد ملا محمد عمر ته ډیر نږدې و. خو دا وخت ملا محمد عمر پر هغه داسي ګمان وکړ چې ښایي دا خبرې به د ده خپله جزبه نه وي. نو په په طنزیه انداز یې هغه ته وویل چې ستاسره د هر څه غم وي، په هر څه کار لري. هغه یې په ضمني تردید خاموش کړ. مولوي نیک محمد چې لوړه ديني پوهه یې لرله او معتدل مزاج یې لاره په ډیره بې پروایي یې مشر ته وویل چې زمونږ ولس د اِکراه په حالت کې دی، هر ډول زور پرې راوستل د حکمت خلاف کار دی؛ یواځې د خولې امر بالمعرف ورته کافي دي. ملا محمد عمر د هغه دغه مطلق مخالفت خوښ نه شو، په ځواب کې یې ورته وویل مولوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب! دغه جګړو او وحشت بې لارې کړي خلک یواځي په خبرو دیني اوامر نه مني. چې رعب او دولتي مراقبت نه وي،امربالمعرف ناشونی دی. مولوي نیک محمد صیب څه نور دلایل هم وویل خو د ملا محمد عمر په وړاندي دیوال ته ډډه وهونکې محمد رسول نامې بار بار د مولوي نیک محمد په خبرو کې مداخله کوله، چې دې کار زه ډیر ځورولم. محمد رسول د ملا غازي ورور و. ملا غازي د ملا محمد عمر د پخوانیو ملګرو له ډلې و؛ دغه ډله خلکو ته به یې د ملا صیب اندیوالان (ملګري) ویل. په دوي کې ځینې کسان متدین، باوقاره او په خبره پوه خلک وو، خو ځینو یې بیا د محمد رسول په څېر د ملا محمد عمر له نږدیکته ناوړه ګټه پورته کوله او په داسي کارونو کې یې مداخله کوله چې نه به وربانديي پوهیده او نه به یې د مداخلې حق و. د مشر په ځای کې همداسي یو شمېر وچ ذهنه او له ناپوهي سره سره په هرڅه کې کار لرونکې کسان وو؛ چې له امله به یې کله کله ستر کارونه خرابیدل.

له مولوي نیک محمد نه وروسته ما خبرې پیل کړې، خو په پیل کې مې داسې جملې وکارولې چې د محمد رسول د مداخلې په اړه ضمني احتجاج و. ما مشر ته وویل: مورِ تا ته د دې لپاره راغلو چې بل ځای مو د دې مشکل د حل تمه نه وه او تا ته مو یواځنی امید دی او ته به په دې اړه زمورِ غږ اورې! مشر زما د خبرو په لومړیو جملو پوه شو او ملا رسول هم مداخله بنده کړه. زمورِ ترمېنځ اوږد بحث او مناقشه وشوه، ما د دې اداري د ځینې کارونو ناوړه تاثیرات او هغه پیښې تفصیلې ورته یادې کړې چې د هیواد په ځینو ښارونو کې د دې اداري د ځینو کسانو له خوا رامېنځ ته شوې وي. د دې اداري د اصلاحاتو په برخه کې زما عمده وړاندیزونه دا وو چې اول خو د ي د اداري د کارونو او خلکو ته د دوي له لورې د ورکوونکو سزاګانو په اړه د علماوو یوه ستره غونډه د سترې محکمې د علماوو په ګډون تحقیقي ناسته وکړې او د شریعت له مخې دي څېړنه وکړي. دوهم باید د دې اداري کارکوونکو ته جلا روزنه ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيم هغوي دې دعوتي طرز ته هم توجه وکړي، سوتې او تهديد دي محدود کړي. په دې نظر کې له ما سره دواړه ملګري يوه خوله وو.

خو مشر د ناوړه پيښو په اړه د تحقيق وعده وکړه او د علماوو د ناستې وړاندیز يې ونه مانه، بلکې استدلال يې دا و چې د ادارې مشر عالم دي، هغه دي خپله د مشکوکو سزاګانو په اړه ديني پلټنه وکړي.

زمور له اوږده بحث نه وروسته مشر يواځې څو واړه تغيرات ومنل، لکه د بهرنه راتلونکې افغانان به ترڅو مياشتو د امربالمعروف په مقرراتو مکلف نه وي او بل امربالمعروف به دعوتي ويناوي او تبليغاتي ليکنې او کتابونه هم خپروي.

د امربالمعروف مشر مولوي عبدالولي له ديني پوهې سره بې تجربې، وچ ذهنه او جدي مزاجه ځوان و. تر شا يې د عدليې وزير ملانورالدين ترابي و، چې کمه ديني پوه يې لرله او تر ډيره به يې خپل مزاج چلاوه. په کابل ښار کې د امربالمعروف اجرايوي مشري تر ډيره د دې ادارې مرستيال وزير ملا قلم الدين کوله. مولوي قلم الدين د لوګر اوسيدونکی و او د جهاد پر مهال د مولوي محمد نبي د امنيتي ګارډ مسئول و، هغه ډيرې کمې د يني زدکړې لرلې، په کابل ښار کې د دې ادارې د ناوړه او بې خونده چلند اصلي سمبول همدغه سړی و، چې ويل کيږي پر کابل د طالبانو له واکمني يوڅه وخت وروسته قلم الدين د کابل ښارته د يو قرضدارنه د خپل قرض د اخيستلو په موخه راغلي و او شپې يې د امربالمعروف په اداره کې تيرولي. هغه ستر وجود او ځواکمنې متې لرلې. څو ځله چې هغه د امربالمعروف له موظفينو سره ښار ته وتلي و، نو د قوي وجود له امله په تازيانه وهلو، ټيل وهلو او ډبولو کې يې د ملګرو خوښ شوی و، چې وروسته د وزير هم شوق پرې راغی او خپل مرستيال يې وټاکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایران سره د اړیکو نرمښت

دله ایران سره د طالبانو د واکمن نظام اړیکې د ۱۹۹۸ پای کې تر دښمنۍ رسېدلې وې او کله چې د دغه کال په اګست کې د مزار له فتحې وروسته یوولس ایرانیان ووژل شول، خبره پر سرحدونو د قواوو تر ځای پر ځای کولو ورسېده. د مزار او بامیانو په نیولو کې طالبانو د ایران بې شمېره وسلې او مهمات ونیول چې له حزب وحدت او ټلوالې سره یې مرسته کړې وه. د مرمیو پر صندوقونو په ښکاره د ایران رسمي پوځي شعارونه لیکلي وو.

د بامیانو له نیولو وروسته له اسلامي امارت سره د اکبري او یو شمېر نورو مخورو هزاره مشرانو یو ځای کېدلو، هغوی ته په بامیانو او نورو سیمو کې دندې ورکولو، همداراز له هغوی سره د روابطو سمون ایران هم یو څه له مذهبي پلوه ډاډه کړ او په سیاسي ډګر کې د امریکا او طالبانو ترمینځ څرګندې د دښمنۍ د ایرانیانو له ذهنه هغه شک وویست چې طالبان یې د امریکا په ملاتړ ایران ته ګوابنس ګڼل او ورسره هغوی په دې هم نور پوه شول چې په مزار کې د دوي د اتباعو وژل د طالب مشرتابه قصدي پلان او عمل نه و.

له ایران سره د اړیکو نرمښت له دې پېل شو چې د امنیت شورا د بندیزونو پر مهال ایران خپلې پولې پرانیستې، چې د خوراکي موادو او ضروري اجناسو د واردېدو حیاتي دروازه وه.

کله چې مولوي وکیل احمد متوکل خارجه وزیر شو، هغه دغو اړیکو ته فوق العاده پام واړاوه خو بیا یې هم د طالبانو مینځ کې مخالفین لرل. د هلمند د اوبو پر سر د خبرو لپاره د هغوی هیئتونه راغلل او بیا د طالبانو هیئتونو هم ایران ته متعدد سفرونه وکړل. په دې کې د دیپلوماتیکو سفرونو ترڅنګ استخباراتي تفاهمات هم شامل وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اړیکو د نسبتي نرمښت دغه دور د طالبانو د حکومت تر نړېدو پورې پاتې شو. له هغه وروسته هم طالبان په دې فکر شول چې د امریکا او ټولې لویدیزې نړۍ له مخالفت سره د ایران په څېر مهم ګاونډي دښمن پرېښودل، پر ځان نوره هم حلقه تنګول دي او د جنګي وسیاسي مصلحت خلاف کار دی. له ایران سره د اړیکو دغه ورستي دور د دي لامل شو چې د طالبانو او ایران ترمینځ درنې بدبینۍ او بدګمانۍ يې تر ډېره حده کمې کړې.

روسیه او امریکا د ټلوالې ترشا، طالبان اونړۍ‌وال جهادیان بل پلو

د نړۍ‌والو بندیزونو لګېدو سره د طالبانو هغه یون چې د یوې قانوني او ملي واکمنۍ خوا ته يې ګامونه اوچتول، معکوسه بڼه خپله کړه او مشرتابه په نړۍ‌واله کچه د یوه منلي افغانستان له هیلې نهیلی شو. دا يې کلکه په ذهن کې کېناسته چې ښایي امریکا او ملګري يې د طالبانو په مشرۍ واکمني په هیڅ ډول ارام او دوام ته پرېنږدي. بل پلو په دوه زرم کال کې د مسعود او ټلوالې ترشا د روس، ایران او فرانسې ترڅنګ سي آی اې هم ودرېده. له ټلوالې سره د روس او امریکا ګډې همکارۍ طالبان د امریکا د ښمنۍ ته نور هم ودرول.

پاکستان هم پر شا کېدو او سعودي خو د امریکا تر څنګ ولاړ و. د سعودي د استخباراتو وزیر ترکی الفیصل په یوه ناسته کې د طالبانو د واکمني په اړه قسم کړی و چې په نړولو کې به يې هر ډول کوشش کوم ځکه چې زه ملا محمد عمر سخت بې آبه کړی یم.

له دې وروسته طالبانو په ۲۰۰۰ کې له نړۍ سره د القاعدې او اسامه په اړه د کنترول ژمنو ته شا واړوله، پر القاعده يې قیودات کم کړل او د هغوی د کنترول پالیسي تقریبا له مینځه لاړه چې له امله يې افغانستان ته زیات شمېر له القاعدې سره تړلي کسان راغلل او د القاعده په دعوت د عربو هېوادونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رضاکارانو جوپې له کورنیو سره رارواني وې. ټریننګ کیمپونه هم خلاص شول. د دوه زرم کال پای کې په کندهار ښار کې ډېر داسې چای خانې پرانیستل شوې چې عربي ترانې به په کې غږېدې او د عربو د خوښې خواړه او مشروبات به په کې پلورل کېدل.

مشرتابه د نړۍوالو فشارونو په اړه د نورمال حالت رامینځ ته کېدو تمه نوره نه لرله، نو ځکه یې نړۍوالو جهادیانو ته پوره غېږه پرانیستله. د عربانو ترڅنګ ازبکانو ته هم غږ خلاصه شوه. د جمعه نمنګاني هرکلی وشو، خو د ایغوریانو په اړه طالبان محتاط وو. یواځې د اوسېدو حق یې ورکاوه. هغوی ټول سل کسه هم نه وو خو بیا هم چین اندېښنه لرله. ډېرو چارواکو ایغوریان له سره نه پېژندل بلکې د ازبکانو په ډله کې یې حسابول. ځکه هغوی جلا ډله، مرکز یا ګروپ نه درلود.

د چیچنیا په رسمیت پېژندل هم د نوې پالیسۍ برخه وه. د ۲۰۰۱ په پیل کې چې د متوکل د ورستیو هڅو په لړ کې د خارجه وزارت له خوا رحمت الله هاشمي امریکا ته سفر وکړ، کله چې ببرته راغی ملا محمد عمر ته یې د امریکایانو دا پیغام راوړ چې اسامه کنترول کړئ.

مشر په ډېره غوسه وویل: "امریکایان په خپله زمور په خلاف په سیاسي او نظامي محاذ جوړولو بوخت دي، پر مور یې د ځمکې او هوا لارې تړلې دي ، زمور له مینځه وړلو ته تیاري نیسي خو په مقابل کې بیا له موږه غوښتنې هم کوي. د کوم مثبت اقدام په مقابل کې مور له دوی سره همکاري وکړو؟

په دوه زر یو کال کې چې له یوې خوا مسعود اروپا ته سفر وکړ، له بلې خوا له مخالفې ټلوالې سره د سي آی اې مرستې بربنډې شوې، بل پلو ته په دوبۍ او پاکستان کې د سي آی اې له خوا د طالبانو پر ضد قوماندان تنظېمدل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونډې روانې وې. په کوټه کې حامد کرزی بوخت و. په پېښور کې د عبدالحق په مشرۍ د مرکز او مشرقي قوماندانان تنظیمېدل، په دې هرڅه طالبان خبرېدل.

دا وخت طالبانو د امریکا یو خفیه یرغل په سترګو لیده، چې وسلې، ټیکنالوژي او پیسې به د امریکا وې، جنګ به د طالبانو مخالف قوماندانان کوي. عربانو او القاعده دا وخت احمدشا مسعود ته د ممکنه امریکایي یرغل د تر ټولو ستر عسکر په سترګه کتل ځکه یې د هغه د ترور فکر په دماغ کې درلود چې د طالبانو په ناخبرۍ کې یې پلی کړ.

چیچنیا د یوه مستقل هېواد په توګه په رسمیت پېژندل

د طالبانو له خوا د کابل له فتحې وروسته د چیچنیا یو هیئت افغانستان ته سفر وکړ. د چیچنیا د خارجه وزارت د مرستیال "عبدالله یف یاراګي محمد ویچ" په مشرۍ دغه هیئت له طالبانو سره لیده کاته وکړل خو مشرتابه د حالاتو د نزاکت او نړۍوالو نیوکو له وېرې هغوی ته تنها د پټې همکارۍ اطمنان ورکړ، خو د رسمیت پېژندنې موضوع یې شاته غورځولې وه.

کله چې د ۱۹۹۹کال اخیر کې نړۍوالو بندیزونو او انزوا طالبان مایوسه کړي ول او نور یې له امریکا او سترو طاقتونو سره د تفاهم او نورمالو مناسباتو امیدونه نه لرل، نو په همدې وخت کې پر چیچنیا د روسانو درنه حمله روانه وه. ملا محمد عمر د رسنیو له خوا د نړۍ له مسلمانانو له چیچنیا سره د همکارۍ غوښتنه وکړه. حتی په داخل کې یې پرخپلو مخالفینو غږ وکړ چې راځئ د خپل مینځي رقابت سره سره د چیچنیا د مسلمانانو مرسته وکړو.

د دوه زرم کال په پیل کې د چیچنیا پخواني جمهور رئیس "زلیم خان یندربي" او خارجه وزیر "ادوګف" کابل او کندهار ته سفر وکړ. مشرتابه د هغوی تود هرکلی وکړ او د نورو همکاریو د ډاډ تر څنګ یې د چیچنیایي ولس د روحیې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړولو لپاره د چیچن خپلواک دولت په رسمیت وپېژاند. د چیچنیا هیئت د روسیې د پخواني جمهور رئیس او صدر اعظم په امضاء هغه اسناد مشرتابه ته پخوا لا نښودلي وو چې د چیچنیا خپلواکې د روسیې له خوا په کې منل شوې وه.

د ۲۰۰۰ م کال د جنورۍ پرشپږویشتمه د افغانستان د خارجه وزیر مولوي وکیل احمد متوکل او د چیچن د جمهور رئیس د نماینده زلیم خان یندربي تر مینځ د رسمیت سند امضاء شو چې په روسي، دري او پښتو لیکل شوی و. دوه ورځې وروسته دا خبر رسنیو کې هم خپور شو. له دې تقریبا دوه اونۍ وروسته د کندهارښار په کمپاونډ سیمه کې د خارجه وزارت مېلمستون سره خوا کې د چیچنیا د سفارت لپاره ودانۍ مشخصه شوه او د چیچنیا د خپلواک هېواد بیرغ ورباندې ودرول شو، خو له هغه ورسته په چیچنیا کې د جګړې له تقویت سره د چیچنیا استازي په راتلو ونه توانېدل.

د بوتانو ماتول او کندهارته د عرب پوهانو سفر

د بوتانو موضوع لومړی په ۱۹۹۷ کې ځینې خلکو په لوی لاس وخوځوله. د غوربند او شیبر تنګي سیمو کې د طالبانو پوځي قوماندان ملا عبدالواحد په خپل سر د همدې کال د اپریل په اوولسمه میډیا ته وویل چې که بامیان ونیسي بودا به ونړوي.

له دې سره د کابل راډیو دا ترانه خپرول پیل کړل:

دښمن د پاکې خاورې د افغان به ماتوم

ملت د ابراهیم یمه بوتان به ماتوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا خبره د ځینې ملایانو او مشرانو خولې او ذهن ته ولوېده. کله چې د ځینې فرهنګي کسانو له خوا د بامیانو له نیولو وروسته دا موضوع نوره هم وښوړېده، د ۲۰۰۱ په لومړیو کې خبره د سترې محکمې دارالافتاء ته لاړه. له هغه ځایه کندهار ته ملا محمد عمر ته خبره وړاندې شوه.

ملامحمد عمر د علماوو نظر واخیست. علماوو د ماتولو حکم ورکړ چې له امله یې ملا محمد عمر د ماتولو فرمان صادر کړ. له دې سره له هر لور چیغې او سورې پیل شوې. پر افغانستان د امریکا بندیزونه لګېدلي وو او هسې هم نړۍوال فشارونه زیات وو. دې موضوع ته نړۍوالې میډیا او سیاسي حلقو د یوې حربې حثیت ورکړ.

پاکستان خپل داخله وزیر معین حیدر کندهار ته را واستاوه چې طالبانو ته د خپل حکومت اندېښنه په ډاګه کړي. غالبا د لویدیزو فرهنګي حلقو په وړاندیز پاکستان هڅه کوله چې د افغانستان حکومت له دغه اقدامه را وګرځوي. هغه له مشر سره وکتل او د خپل حکومت له خوا د بوتانو د نه ماتولو مشوره یې وړاندې کړه او په دې اړه یې د نړۍوالو فشارونو او ناوړه اغېزو په اړه اوږدې خو محتاطې خبرې وکړې.

مشر ورته په لنډو الفاظو ورغبرګه کړه چې زمور قانون اسلامي شریعت دی. شریعت یې د ماتولو حکم کوي، مور د خپل داخلي قانون په تطبیق مکلف یو. د اخله وزیر وویل دلته د غزنوي او ابدالي غوندي نور مسلمان حاکمان هم تیرشوي، خو دا بتان یې ندې نړولې. ملاصیب وویل که یې پریږدو نبایي د اِذا زلزلت الارض زلزالها(قراني ایت ته اشاره وه) تر وخته پاتې شي، چې په اخیرت کې به یې رانه پوښتنه وشي! د اخله وزیر د مشر دا خبره بیا ډیره غلطه تعبیر کړې وه، لومړي مور فکر کاوه چې نبایي هغه ناسم پوه شوی وي ، خو وروسته داسي شواهد نورهم پیداشول چې د غه پاکستاني وزیر له قصده د مشر ځینې خبرې خپلو مشرانو او بهرنیانو ته غلطې تعبیرولې، معین حیدر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیعه مذهبه و او په فکري لحاظ هم له طالبانو سره جوړ نه و، خو د پاکستان د رسمي پالیسي له مخې هغه دا ډول سفرونو ته رسما اړ کیده.

څو ورځې وروسته بامیانو ته د مجسمې د نړولو لپاره بارود واستول شول. د مجسمو نړول پیل شول، نیم کار لا پاتې و چې د عربي نړۍ د پېژندل شویو پوهانو یو وفد د یونیسکو په غوښتنه او د قطر حکومت په مینځګړتوب کندهار ته سفر وکړ. په وفد کې د قطر د خارجه وزیر شیخ احمد عبدالله زید ال محمود په مشرۍ نړیوال دیني شخصیت یوسف قرضاوي، د مصر ستر مفتي فرید واصل، د قطر د استیناف محکمې رئیس شیخ عبدالقادر العماري، د مصر نه دوه نور عرب علماء، د روغتیا د نړیوال سازمان د چاپېریال ساتنې د برخې سلاکار محمد هیثم الخیاط، په مصر کې د اسلامي څېړنو د مرکز غړی شیخ محمد الراوي او عرب لیکوال فهمي هویدي وو. ورسره د قطر د خارجه وزارت ځینې نور غړي هم ملګري وو.

د امنیت شورى له خوا هغوی ته د پرواز لپاره اته څلوېښت ساعته وخت ورکول شوی وو چې باید په تاکلې موده کې کندهار ته خپل سفر بشپړه کړي او بېرته راووځي. د ۲۰۰۱ یوولسم مارچ د یکشنبې پر سهار د قطر ایرلاین په یوه الوتکه کې هغوی کندهار ته راغلل. د هوا د خرابۍ له امله د کندهار پر اسمان له اوږدې دورې خوړلو وروسته الوتکه له تاکلي وخت نه ډېر وروسته پر هوایي ډګر کېناسته.

دا وخت د نړیوالو بندیزونو له امله د باندنیو پروازونو کاونټر تړل شوی و. د پاسپورت چیک، دخول او خروج د مهر لګولو عمله رخصت وه. د دغه فوق العاده پرواز مېلمنو سره فوق العاده چلند وشو. لکه کوم داخلي پوځي پرواز. تنها پوځي مسولین ورته انتظار وو او د خارجه چارو مرستیال وزیر له څو تورو بینز موټرو سره د هوایي ډګر مېلمستون کې ناست ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میلمانه رابنکته شول. د خراب موسم له امله څپځپاند پرواز هغوی وبرولي ول. له لنډې ناشتې ورسته مېلمانه د خارجه وزارت مېلمستون ته یوړل شول. دا مېلمستون د نبار او هوایي ډګر ترمینځ "کمپاونډ" سیمه کې و. شاوخوا یې شاړه وه، خو دغه ودانۍ مجهزه وه، ځانګړی امنیت یې و او د مېلمنو لپاره یې ټولې اړینې اسانتیاوي لرلې.

په دې مېلمستون کې زه او عبدالمتین ابراهیم خېل د دغو مېلمنو کوربانه وو. دوی سره مو د شپې تر ناوخته مجلس وکړ. عبدالمتین ابراهیم خېل په عربي ژبه ډېر حاکم و. د مطالعي او سلیقې څښتن و. له مېلمنو سره د ده په واسطه مجلس ډېر تود روان و. قرضاوي او د هغه ملګرو د طالبانو د نظام او د افغانستان د روانو حالاتو په اړه اوږد بحث وکړ.

له موږه یې جزوي پوښتنې وکړې خو د څه لپاره چې دوي راغلي او یا را استول شوي ول، نو په هغه برخه کې پرمختګ نور ناشونی و، ځکه چې د بودا د مجسمو کار د دوی د راتګ په ورځ نور پای ته رسېدونکی و.

طالبانو دوی ته هرکلی ووایه او د نړۍ د پوهانو په دود یې درانه مېلمانه وبلل ځکه چې دې کې د نړۍ په کچه علماء وو. دوی فکر کاوه چې طالبانو به لا د بتانو پرېکړه عملي کړې نه وي ځکه یې غوښتل چې د سترې محکمې علماوو سره وویني.

د دوی راتګ سره سم د سترې محکمې مشر ته وویل شول چې مېلمانه تاسې سره لیدل غواړي خو وخت یې خورا کم دی او کابل ته سفر نه شي کولای، تاسو کندهار ته راشئ. د سترې محکمې مشر قاضي القضات مولوي نورمحمد ثاقب د سترې محکمې مهمو دېوانونو د مشرانو په ملتیا د موټرو په یوه کاروان کې ماسپښین ناوخته له کابله د کندهار لور ته وخوځېد، خو د ناسمي لارې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

امله يې شپه پر لار وه. سهار يې بيا مزل پيل کړ او ماسپښين کندهار ته راورسېدل چې دا وخت څو ساعتونه د مېلمنو د الوتکې ستنېدو ته پاتې وو.

که څه هم د هغوی پرواز ته لا قانوني وخت ډېر پاتې و خوهغوی غوښتل چې بايد تر تياره کېدو وړاندې پراز وکړي. مېلمانه مو د ولايت مېلمستون ته ورسول. مجلس دايرشو، د مېلمنو په استازيتوب يوسف قرضاوي او د کوربنو په استازيتوب د سترې محکمې رئيس مولوي نور محمد ثاقب خبرې وکړي چې خوا ته يې ستر مفتي عبدالعلي دېوبندي صيب هم ناست و.

د ثاقب صيب له خوا مېلمنو ته هرکلی وويل شو. ورپسې يوسف قرضاوي د خپل سفر په اړه لنډ وضاحت وکړ چې مور د بتانو په اړه ستاسې مناظرې ته نه يو راغلي. زمور هدف تاسو ته نېکه مشوره ده او تاسي سره خواخوږي لرو چې د ټولې دنيا له دښمنۍ او فشارونو سره سره بايد نوې لانجې ځان ته ونه گورئ.

ثاقب صيب ورته وويل مور د شرعي محکمې خلک يو. که تاسو د بتانو د نه ماتولو شرعي دليل راته وواياست چې ايا ماتول شرعي حکم دی که پرېښودل يې؟ قرضاوي وويل زه هم ستاسې په څېر حنفي مسلکی يم او دا هم منم چې اصل حکم ماتول دي، خو خبره دا ده چې دا وخت او شرايط تاسو ته ځينې شرعي استثناءات درکوي. تاسو نور اوليتونه او مصالح لومړي کړئ. د قرضاوي دې خبرې سره ستر مفتي عبدالعلي دېوبندي صيب په دې پوه شو چې د ماتولو د حکم په سر کومه مباحثه او مناظره نه شته، نو ځکه له مجلسه غلی ولاړ شو او له تالاره ووت.

بحث دوام وکړ. د قرضاوي خبرې هم په علمي دلايلو ولاړې وې او په دې اړه يې جزيات هم وړاندې کړل، خو ثاقب صيب وويل مور د دې کار لپاره صبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی. اوس داسې حالات راغلي؛ که مورږ دا کار وکړو او که نه، نړۍ ته بې تفاوته ده او هر څه زمورږ پر ضد روان دي. په پرېښودلو کې هم کومه نړۍوالە ګټه نه وینو. ښه دا وه چې شرعي احکام پلي شوي وای. مورږ د محاکمو خلک یو، زمورږ سیاسي مسایل د خارجه وزارت او نورو چارواکو کار دی. که د شرعي حکم خبره وي په دې اړه دلایل واضح او ثابت دي. په دې اړه ثاقب صیب ورته ځینې حوالې هم ورکړې او د ابن القیم الجوزي یو قول یې هم ورته تشریح کړ.

ماسپښین قضا مجلس پای ته ورسېد او د الوتکې پرواز ته یوازې دومره وخت پاتې و چې دوی ځانونه هوایي ډګر ته ورسوي. له همدې امله هغوی د امیرالمومنین ملاقات هم ونه کړای شو. شیخ اسامه ته هم له دوی سره د لنډ ملاقات اجازه ورکول شوې وه خو هغه هوایي ډګر ته پر لار و چې الوتکه والوتله.

د بوتانو په اړه هم مشر، هم علماء او هم عام چارواکي په دې پوهېدل چې دغه بوتانو ته هیڅوک عبادت نه کوي او نه هم دې دور کې اسلامي هېوادونو کې د بت عبادت دومره دود او معمول دی چې اسلام ته ترې نېغ عقیدوي خطر متوجه شي، بلکې په دې اړه په دیني کړیو کې یو بل تاثر او تعبیر موجود و.

هغه دا چې دغه سیمه (مرکزي افغانستان) تر اسلام وړاندې بودایي مذهبه وه او ډېر فرهنګي مزاجه خلک د خپل کفر او جهالت د وخت په شعایرو فخر کوي او هر هغه څه چې د توحید له رڼا مخکې یې زمورږ په ټولنه کې تعظیم کېده، د اسلام له راتګ ورسته د دې شیانو تعظیم یا ورسره مینه که هغه د تاریخي اثارو په نوم وي او که د خپلې ماضي د یادګار په توګه وي دا په خپله په اسلامي شریعت کې ممنوع عمل دی.

که دا ډول افتخار یا یادګار روا وای نو د اسلام پېغمبر به مکه کې کوم بت په همدې نیت پرېښی وای. د مکې په اطرافو کې که یو نیم بت پاتې شوی هم و، نو هغه هم د نه ارزښت او نه توجه له امله پاتې و. نه د یادګار او فرهنګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

میراث په توګه. په ځینو اسلامي هېوادونو کې داسې فرهنګیان شته چې خپل جاهلي دور ته تر اسلامي دور ډېر په تعظیم قایل دي. لکه په مصر کې چې یو شمېر فرهنګ‌پال فرعون ته په تعظیم قایل دي او داسې لاهم په کې شته چې په تقدس ورته قایل دي یا په ایران کې چې ځیني خلک زردشت ته په تقدس او تعظیم قایل دي، حتی افغانانو کې هم د زردشت مینه‌وال کم نه دي. طالبانو د نوروز لمانځل هم ځکه بند کړل چې دا د زردشتیانو اختر و او په اسلام کې یواځې دوه اختره دي.

له اسامه بن لادن سره لومړۍ او وروستۍ لیدنه

ملګرو به مې راته د اسامه بن لادن د ملاقات ډېر ویل خو نه پوهېږم ولې مې ډېره تلوسه نه لرله. له دې سره چې زه د هغه د دریځ او داعیې مخالف نه وم خو په ټول ژوند کې مې یو ځل تصافي ولید او روغبړ مې ورسره وکړ.

زما دیدن هغه وخت ورسره وشو چې کله د ۲۰۰۱ د اپریل په پینځلسمه رئیس الوزراء ملا محمد رباني وفات شوی و او د ملا محمد عمر په کور کې یې د چارواکو او میلمنو لپاره د فاتحې مراسم روان ول. ملا محمد عمر ته خلک د تعزیت په موخه راتلل. ماسپښین و چې ماځو تنه مېلمانه د مشر کور ته بوتلل. دا وخت زه د مشر د کور په انګړ کې ولاړ وم چې دوه ډاټسنې راغلې د یو څو عربو ځوانانو مینځ کې یو نری دنګ سړی راکوز شو. پراوږو یې نرمه پاکه زېړه چپنه پرته وه چې د وجود ډېره برخه یې پرې پوښلې وه. اوږد افغاني لباس یې پر تن و. پر سر یې خال خال سور عربي دسمال و. د مخ پوست یې زېړ غنم رنګ و. په څیره کې یې وقار او جذابیت و. په تګ او خبرو کې یې د ستومانۍ اثار ښکارېدل. ترڅنګ روانو ملګرو کې یې لنډ قد والا ابوحفص صغیر (ما په همدې نامه پېژاند) زه ور وپېژندلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیخ موسکی شو ما ته یې غږره راکړه. زه هم دوی سره د مشر لور ته د کوربه په توګه روان شوم. هلته ملا محمد عمر په یوه جلا خونه کې له مولوي محمدنبي محمدي سره ناست و، محمدي هم فاتحې ته راغلی و. د ملا محمد عمر ترخوا ملاعبیدالله هم ناست و، زه خونې ته له شیخ اسامه او د هغه ځوان زوی او څو ملګرو سره یو ځای ورغلم.

ملاصیب له اسامه او ملګرو سره په غږره روغبړ وکړ. ملاصیب نه غوښتل چې د شیخ له ډلې او محمدي نه پرته دې نور مېلمانه خونې ته راشي، ځکه یې وویل دروازه بنده کړئ، چې نور څوک رانه شي. زه ولاړ شوم دروازه مې بنده کړه. مېلمنو لومړی ملاصیب ته دعا او تعزیت وکړ. ورپسې ملاصیب محمدي ته وویل دا تر خوا ناست مې ملاعبیدالله اخوند د دفاع وزیر او زموږ مشر ملګری دی.

له دې خبرو ما داسې وفهموله چې ښایي ملاعبیدالله د ملا رباني ځای ناستی وټاکي خو ورسته زما ګومان ناسم و، بلکې د ملا رباني دفتري چارې تر ډېره وخته د هغه مرستیال مولوي عبدالکبیر پر مخ وړلې. وروسته بیا ملاحسن او مولوي کبیر د دوو مرستیالانو په توګه په ګډو د هغه چارې پر مخ وړلې.

ورپسې یې د شیخ پلو ته وکتل او ورو یې وویل: دوی خو به هم پېژنئ؟. محمدي په ځواب کې د شیخ لور ته په خواږه نظر وکتل او په پښتو مکالمه کې یې د خادم الاسلام والمسلمین او مجاهد کبیر عربي توري وکارول، ترڅو شیخ په خپله همدردۍ پوی کړي. شیخ په ځواب کې په موسکۍ شونډو جزاک الله ورته وویل.

په دې سره زما ذهن دري کاله وړاندې د محمدي صیب هغه لیک ته لاړ چې د اسامه د سپارلو په اړه یې د خپل سلاکار محمد سعید هاشمي په لاس ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد عمر ته را استولی و. دا لیک مې هغه وخت ناڅاپي لیدلی و، کله چې هاشمي د کندهار مېلمستون کې مېلمه و، زه یې لیدلو ته خونې ته ورغلم. هغه دا وخت تشناب ته تللی و پر توشکه یې درې لیکلې پاڼې پرتې وې. پر لومړۍ پاڼه ملا محمد عمر ته د محمدي له خوا لیکل شوي وو: چې د سعودي حکومت خالق او مخلوق دواړو ته محبوب دی. هر څوک چې په افغانستان کې وي او د سعودي حکومت مخالف فعالیت کوي باید مجازات شي او سعودي حکومت ته وسپارل شي. په دوهمه پاڼه کې د همدې لیک عربي ژباړه وه او په درېیمه پاڼه کې په عربۍ ژبه د سعودي پاچا ته وړاندیز شوی و چې مور (د محمدي کورنۍ) اقتصادي ستونزي لرو، مالي مرسته راسره وکړئ. درې واړه پاڼې په یو سنجاک سره تړلې وې. داسې معلومېده چې د لیک اصلي کاپي یې د مشرتابه دفتر ته سپارلې وه او دغه کاپیانې یې له ځانه سره بېرته وړلې او سعودي مقاماتو ته یې لېږلې.

تر دې وړاندې چې هاشمي له تشنابه را ووځي، زه له خونې ووتم هغه زما له راتګه او لیک لوستلو خبر نه شو. څو ورځې وروسته مې دا کیسه خپل یوه ملګرې محمد حسین مستسعد ته وکړه. هغه زه په دې پرې وګڼلم چې ولې دي دغه کاپیاني ځان سره نه را اخیستلې، خو زما دریځ دا و چې که د پاڼو په محرمیت پوه وای، نو له سره به مې کتلې نه وای، را اخیستل خو لیرې خبره ده.

د طالبانو پر ضد د جوړېدونکې افغاني ایتلاف هلې ځلې

د ۲۰۰۱ م کال له پیله په دوبۍ، پاکستان، تاجکستان او لویدیزو هېوادونو کې د سي آی اې له لوري زاړه قوماندانان، له طالبانو سره جنکېدونکي مخالفین او یو شمېر بهر مېشته افغانان سره جرګه کېدل او د طالبانو پر ضد د یوې داخلۍ ځواکمنې جنګي جبهې د جوړولو لپاره تېز کار روان و، چې د بري په صورت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له داخل نه د يوه ملي قيام نوم ورکول شي او د امريکا مداخله په ظاهره تثبيت نه شي.

جولای او اګست مياشتو کې په دوبۍ کې د قوماندان عبدالحق له خوا د مشرقي او مرکزي سيمو ځينې قوماندانان او سيمه‌ييز مخور راټول کړای شول او د دې ايتلاف لپاره د پيسو او اينده نظام کې د ځوکيو د ورکړې په وعدو تشويق کړای شول. عبدالحق قوماندانانو ته وويل امريکا د طالبانو د حکومت د چپه کولو کلکه اراده کړې نو مورِ بايد له دې فرصت نه استفاده وکړو.

عبدالحق د دغو قوماندانانو لپاره ټولې سفري اسانتياوې برابرولې او هم به يې تر همکارۍ مخکې يو مناسب مبلغ پيسې په سوغات کې ورکولې. د کابل يو دوه قوماندانان چې له اصلي موضوع خبر نه ول، د عبدالحق له دې کار سره موافقه نه وه کړې او هم يې له سوغاتونو اخيستلو انکار کړی و، کله چې بېرته راوګرځېدل په پېښور کې يې د افغانسان کونسلګرۍ ته ټول جريان ووايه.

همداراز په کوټه کې حامد کرزي او ګل اغا شيرزي د کندهار، هلمند او روزګان له قوماندانانو سره غونډې کولې او پيسې يې تقسيمولې چې راپورونه يې طالبانو ته رسيدل. د عبدالحق بل ورور حاجي عبدالقدير له مسعود سره په پوځي برخه کې بوخت و او دريم ورور حاجي دين محمد يې له ملايانو او زړو جهادي دفتري خلکو سره په همدې تياري بوخت و.

احمدشا مسعود، دوستم او اسماعيل خان د روسيې، ايران او شمالي ګاونډي هېوادونو د کلک سياسي او پوځي ملاتړ ترڅنګ له يوه کاله راهيسې د سي آی اي د تازه يارانې او سترو پوځي او مالي مرستو په تمه خپله بريا په سترګو ليدله. خارجه وزير متوکل چې له امريکايي بنديزونو وروسته مشرتابه له لويديځ سره د تاوتريخوالي د کمېدو لپاره په دغه دنده ګمارلی و، وروستۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هڅې يې کولې او په دې اړه يې وروستی هيئت هم امريکا ته واستاوه چې منفي له پايلې سره ببرته راستون شو.

طالبانو د دغه داخلي امريکايي ايتلاف پر وړاندې د موثرې دفاع تياري کوله. عربان او خارجي مجاهدين هم د دې لپاره نښه همکاران وو او دا وخت يې د همکارۍ شديد ضرورت احساسېده.

د القاعده ځينو مهم غړو هم د امريکا دغه ايتلاف درک کړی و، ځينو يې په خپل مينځې مجالسو کې داهم ويلي وو چې د امريکا له لوري تر برید وړاندې کاشکې خپل وار لومړی کړو!

د احمدشاه مسعود ترور

د ۲۰۰۱ جولای پيل کې درې تنه عربان د ژورنالستانو په جامه کې کندهارته راغلل. ځانونه يې تونسي الاصله بلجيميان معرفي کول. هغوی له متوکل سره د مرکې غوښتنه کوله. دوی د عربانو په يوه مېلمستون "دارالسلام" کې اوسېدل. کله چې هغوی متوکل ته وړل کېدل نو پر لار د کندهار ښار "مدت" چوک سره د امربالمعروف رياست و. دلته د هغوی موټر ودرول شو او چې کله يې د هغوی خربلې ږيرې او پتلونونه وليدل نو راکوز يې کړل.

هغوي ځانونه عربان معرفي کړل، خو امربالمعروف خربيلي عربان کله هم کندهار کې نه وو ليدلي. د موټر په ډيګۍ کې تلويزوني کيمره هم د امربالمعروف لپاره داعتراض وړ توکی و، خو د ژورنالستانو په نامه چې متوکل ته د مرکې لپاره روان وو، ستونزه يو څه کمه شوه.

دا ډول فوق العاده مېلمنو ته به همېشه د خارجه وزارت له خوا مکتوب ور کول کېده چې امنيتي څارونکي او د امر بالمعروف موظفين يې تنګ نه کړي، خو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی سره هیڅ داسې سند نه و. بالاخره په دې چې د متوکل مېلمانه دي خوشې کړای شول.

هغوی دوو متوکل ته ځانونه په دې ډول معرفي کړل چې زه عابد او ملګری مې کریم نومیږي. تونسي الاصله د بلجیم اوسېدونکي یو او مورږ په بلجیم کې د المرصد الاسلامي للاعلام له خبري رسنۍ سره کار کوو. د دوی درېیم ملګری مصری ابو هانئ و چې اصلي نوم یې مهند شبانه و او د شوروي پر ضد د جهاد کلونو کې د عبد رب الرسول سیاف د البنیان المرصوص د مجلي مسئول چلونکی و. له پخوانیو مجاهدینو خصوصا سیاف سره نږدې بلد و.

له دې وروسته هغوی کابل ته لاړل او هلته یې د خارجه وزارت له مرستیال عبدالرحمن زاهد نه د طالبانو له کربنې د تېرېدو لپاره اجازه لیک ترلاسه کړ چې دې کار بیا د مسعود پلویان د خارجه وزارت دغه مرستیال ته ډېر متوجه کړل. کله چې په دوه زره دوهم کال عبدالرحمن زاهد غوښتل چې د خپل ځان د سپیناوي او ځینې نورو کارونو لپاره د خارجه وزارت د تشریفاتو پخواني مسئول قاسم حلیمي کابل ته واستوي او هلته یې حکومت کې دننه کړي، کله چې حلیمی لاړ نو استخبارتو بندي کړ، لت وکوب یې کړ او بیا یې امریکایانو ته وسپاره. کله چې قاسمي خلاص شو نو زاهد ته به یې ویل چې خاص ستا په سر یې په پوزه په لغتو ووهلم او پوزه یې راماته کړه او پرمخ یې څملولم او له شایې په لغتو تک شین کړم.

د ابو هانئ له خوا سیاف ته دغه کسان معرفي شوي وو. هغوی لومړی له سیاف سره مرکه کړې وه، بیا د هغه له لارې یې ځان مسعود ته رسولی و. مسعود هغوی ته د تخار د خواجه بهاءالدین په سیمه کې د مرکې وخت ورکړ. کله چې یې مرکه پیل کړي، نو هغوی خپله له باروتو ډکه تلوېزوني کمره منفجره کړه او مسعود یې ووژه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ستمبر په نهمه پر مسعود د چاودنې لومړی خبر د روسي انټرفکس اژانس خپور کړ، خو مور د مسعود د مړينې بيا بيا اوازې اورېدلې وې، ان د حکمتيار او مسعود د جګړې پرمهال به د حزب ويانداانو همداسې اوازې اچولې، ځکه خو سمدستي باور ګران و. په سبا چې برید يقيني شو، خو د مسعود ويانډ عبدالله عبدالله د هغه مړينه نه منله. بې بې سي سره په مرکه کې يې ډيره عجيبه جمله وکارولە، هغه ويل: "امير صيب زنده است مګر اوازش بيرون نه می اید".

د روسيې استخبارات او سي آی اې سمدستي خبره شوې وه. له سي آی اې سره د مسعود خاص ارتباطي امرالله صالح د سي آی اې مرکز ته تلفون کړی و ، په ژړهغوني غږ يې د مسعود له مړينې دسي آی اي مشران خبر کړي ول او د متبادل مشر د انتخاب مشوره يې ورنه غوښتې وه.

د امارت مشرتابه او چارواکي د موضوع له اصل حقيقته پوره ناخبره ول. ما ته رسنيو پر تلفون زنګونه ووهل. له مشر نه مې د عکس العمل ښودلو په اړه په مخابره هدايت وغوښت. هغه راته وويل حقيقت دا دی چې نه يې له قاتلانو خبر يو او نه ورکې لاس لرو او نه ورباندې خوشحالي څرګندوو. ما هم همدا توري له رسنيو سره شريک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم څپرکی

پر امریکا د یوولسم ستمبر بریدونه

ماسپښین قضاء و. دفتر کې ناست وم. جرمني نه یو دوست تلفون وکړ. وایي خبر نه یاست په نیویارک بریدونه وشول او لا هم روان دي. ما ورغبرګه کړه څه ډول بریدونه دي؟ هغه وویل نور نه پوهیږم خو په یوه ستره ودانۍ کې یې لکه چې الوتکه وهلې یا به په غلطۍ وهل شوې وي، خو د نړۍ تلویزونونه د ستر تعمیر پر سر بلېدونکې لمبې او د خلکو منډې او وارخطایي پروډکاست کوي. یواځې همدا خبر پر ټوله میډیا چلیږي. په افغانستان کې هغه وخت رسنۍ یواځې لویدیزې رادیوګانې وې، داخلي رسنۍ وقفه وقفه وې. دا وخت هیڅ یوه رادیو خبري برخه نه خپروله او بي بي سي او امریکا غږ هم وروسته خبرونه خپرول.

انټرنیټ یوازې د امارت مرکزي دفتر کې و او د ډش امکانات هم له مورِ سره دفتر کې نه ول. زه بیا هم د دغو بریدونو پر سترواليِ او اهمیت دومره نه پوهېدم، خو لږ وروسته له هر لوري تلیفونونه وشول او معلومات زیات شول، چې پینټاګان کې هم برید شوی او پر غبرګونو تجارتي مرکزونو غبرګوني بریدونه شوي.

ما په مخابره پر مشر غږ کړ چې په امریکا کې دا ډول بریدونه شوي، خو هغه لږ مخکې له خارجه وزارت نه خبر شوی و، ما ته یې ځواب کې وویل چې ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم خبره ورسېده خو نه پوهيږم چې څه دي. الله دې خير کړي. همدومره يې وويل نور يې هيڅ تبصره ونه کړه. زه له دې ځايه د مشر دفتر ته لاړم. هلته طيب اغا او نورو ملګرو پر انټرنيټ خبرونه تعقيبول. له هغه وروسته په کندهار کې د سي اين اين دفتر ته لاړم. هلته ډش لګېدلی و پر سي اين اين او الجزيره مو ټوله صحنه وليدله.

سمدستي غبرګون دا و چې په رسنيو کې د دې پېښې غندنه وکړو. موږ په رسنيو کې دغه پېښه وغندله او مشرتابه اسامه ته حال ور واستاوه چې ژر دې له دې پېښې سره نه تړاو اعلان کړي. شيخ له يوې خوا له پېښې سره نه تړاو اعلان کړ، له بلې خوا يې دا خبره ورسره زياته کړه چې زه پرې خوښ يم. دا خبره مشرتابه ته د اندېښنې او اعتراض وړ وګرځېده.

متوکل صيب په کابل کې د نړۍوالو رسنيو په وړاندې وويل موږ دا پېښه غندوو او له امريکا نه تر ثبوت موندلو وړاندې د زغم هيله کوو.

کله چې امريکا پر اسامه تور ولګاوه نور حالات بدلېدونکي شول او يو لوی بحران سر راښکاره کړ چې مشرتابه او چارواکې يې نور په حل نه پوهېدل.

دا وخت د القاعده ځيني ماهرانو او ځيني بهرمېشته افغان پوهانو موږ ته د کندهار پر فضا د امريکايي مصنوعي سپوږمکيو د څارنې د زياتوالي خبر راکړ. د امريکايي څارونکو سپوږمکيو شتون يا څار زموږ لپاره نوې خبره نه وه، خو په دې کې ځيني ځليدونکو ستورو ته ورته فضايي سپوږمکۍ هم په ګوته شوې وي، چې نښه يې دا ښودل کيده چې د مانښام او ماخستن ترمينځ کله د توقف په حالت کې او کله د رفتار په حالت ليدل کيدای شي ؛ رښا يې کمه و زياته کيږي او د ستورو په څېر پر يوه حال نه وي، دې کار ته موږ ځير شو، څو ځله مو همداسي ځليدونکي ستوري په ټيټه فضا کې وليدل چې رښايې بلکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصنوعي او د موټر د څراغونو په څېر تیزه وه او د ماخستن تروخته به لیدل کیدل، بیابه ورک شول او ځینې نور به د ورو ورو حرکت په حال کې لیدل کیدل، چې هغو به یې تته او زیږه رڼا لرله، مور به د ملګرو ترمینځ په دې بحث هم کاوه، پوره یقین مو هم نشوای کولای. خو نظر انداز کولای مو هم نشوای او د امریکا د ممکنه برید له ویرې مور پر دا ډول احتمالاتو سترګې نشوای پټولای، ما هغه وخت سره له تردده دغې مسئلې ته ملګري متوجه کول که څه هم تر ننه هم زه د دا ډول ځلېدونکو ستورو ته ورته سپوږمکیو پر امکان پوره باوري نه یم، خو ردول یې هم فني قناعت غواړي.

په کابل کې د ديني علماوو ستره غونډه او د اسامه په اړه پرېکړه

کله چې د امریکا ولسمشر جورج بوش په رسا ټکو د افغانستان پر حکومت غږ وکړ چې اسامه دې لاس ترلی وسپاري که نه پر افغانستان به برید وکړو، نو د چارواکو ترمینځ هم ډول ډول مشورې، نارضایتي او نیوکې روانې وې. ملا محمد عمر ورته وویل نور هیڅ نه منم که مرو که پاتې کیږو، صرف شرعي حل به لټوو.

بیا یې پرېکړه وکړه چې علماوو ته به دا موضوع وسپارو چې هغوی څه وایي. په همدې مناسبت د هېواد په کچه د علماوو یوه ستره غونډه په کابل کې دایره شوه چې له دوو ورځو بحث وروسته یې خپله پرېکړه کې وویل چې اسامه ته دې مشوره ورکړل شي چې په خپله خوښه له افغانستانه ووځي خو په زور ویستل یا سپارل یې د اسلامي شریعت له مخې جواز نه لري. د دې ترڅنګ یې دا هم وویل چې که امریکا یرغل وکړي نو په وړاندې یې جهاد فرض دی.

بل پلو امریکایانو په رسا تورو وویل چې مور ته بله هیڅ لار د منلو وړ نه ده. که اسامه ولاړ هم شي نو مور ته افغانستان حکومت مسئول دی، ځکه د دوی په لاس کې دی، دوی به یې لاس ترلی له ملګرو سره را سپاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرتابه وویل امریکایان د هغه په وتلو هم قناعت نه کوي نو چې په تیتو سترګو د هغوی د یرغل په مقابل کې مقاومت کوو. ښه به دا وي چې په نر موقف ورسره مخ شو. نه اسامه ته وایو چې ووځي او نه یې سپارو. نه مو اوس امریکا په دې ډول نرمښتونو پربږدي، بلکې د هغوی غوښتنه داسې ده چې نه اسلام اجازه راکوي، نه یې افغانیت او انساني غرور مني.

کندهار ته د پاکستاني پلاوو سفرونه

له امریکایي بمباره نږدې یوه میاشت وړاندې د پاکستان پوځي مشر پرویز مشرف پر طالبانو غږ وکړ چې یا دې اسامه بن لادن وسپاري یا دې د خپل حکومت د نړېدو انتظار وکړي.

دغه وخت د پاکستان د استخباراتو مشر جنرال محمود کندهار ته راغی. د امارت د دفتر په نوې ودانۍ کې یې له ملا محمد عمر مجاهد سره ملاقات وکړ. په دغه ناسته کې د مشر او جنرال محمود ترمینځ ترجماني د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو رییس عبدالغفور افغاني کوله. جنرال محمود د علامه اقبال انځورونو ته ورته ځېره لرله. هوښیار سړی و. ژور استدلال یې کاوه او تر ډېره یې په خبرو کې په تاریخي پېښو او نړۍوالو مسائلو استدلال کاوه؛ د لویدیځ په اړه یې کرکه ځرګندوله؛ د اقبال اشعار یې ډېر ویل او په خبرو کې یې ملا محمد عمر ته بې کچې احترام ځرګنداوه،چې په ډېر دقت به یې د مشر خبرې اوربدې.

جنرال محمود د خپلو خبرو په جریان کې وویل: امریکا ډېر ستر پوځي او اقتصادي ځواک دی، سیمې ته د راتګ لپاره پلمې ګوري، که په هره طریقه ممکنه وي، چې د راتلو پلمه ورته جوړه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وویل چې فی الحال امریکایان د سپټمبر د ۱۱مې په غبرګون کې د سخت عکس العمل پر تیاري بوخت دي، ځکه چې اسانه بهانه په لاس ورغله. محمود په مثال کې د لېوه او مېړې کیسه هم تېره کړه چې میږې پر ویاله تر لېوه ښکته خوا ته اوبه څښلې، خو لېوه د هغې د ښکار لپاره د بهانې لټولو په موخه ورته وویل چې اوبه دې ولې راخړې کړې!

بل مثال یې دا ووایه چې کله غویی پوره مست شي، نو ورنه د ځان د ساتلو لاره یې دا ده، چې هغه په یوه ستر میدان کې په منډو ښه سترې شي، نو که امریکا د څه وخت لپاره مصروفه کړای شي، کېدای شي فضا یو څه نورماله شي.

ملا محمد عمر ورته وویل: امریکا له تېرو څو کلونو راهیسې زمونږ د له مینځه وړلو لپاره اراده کړې. د خوست راکټې برید او بیا اقتصادي بندیزونه یې ابتداء وه. امریکا زمونږ وجود او نظام نه شي زغملای، مونږ د درېیمې لارې هڅه کړې او کوو یې، خو اوس امریکا یوازې د زور خبره کوي. که مونږ د هغوی ناروا غوښتنې ومنو هم، دا یقیني نه ده، چې هغوی دې بیا هم مونږ پرېږدي، مونږ پوهېږو چې امریکا مونږ ته دروند زیان را اړولی شي، خو کومه غوښتنه چې امریکا لري هغه زمونږ لپاره له دې ډېر دروند دیني او عقیدوي زیان او له خپل هدف او مسیره انحراف دی. زه یوه لویشت هم له شرعي مسوولیته نه شم پر شا کېدای، که مې نظام او سر دواړه ولاړ شي، خو داسې څه نه شم منلای، چې اسلامي شریعت یې اجازه نه راکوي.

البته له دې علاوه، مونږ معقولو دوه طرفه مذاکراتو ته مخ کې هم اماده و، اوس هم اماده یو، خو که امریکا یرغل وکړي نو له خپل توان سره سم به تر اخیري سلګۍ ورسره وجنګېږو. په دې اړه له اوږدو دوه اړخیزو خبرو وروسته جنرال محمود ببرته ستون شو. څو ورځې وروسته بیا د برګیډیر سلطان، مېجر ګل او یوه بل جنرال په ملتیا - چې له ما یې اوس نوم هېر دی- راغلل. دا ځل یې ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د پاکستان هغه مشهور او جید علماء هم راوستل چې پر طالبانو یې دیني او علمي اغېز درلود.

په دې کې د پاکستان د وفاق المدارس مشر مولانا سلیم الله خان، شیخ الحدیث مولانا حسن جان، مولانا مفتي محمد تقي عثماني او مولانا شېرعلی شاه ول. د علماوو مجلس په تنها خونه کې وشو. په دې ناسته کې د پاکستان دولتي هیئت ګډون نه درلود. په دې مجلس کې هم زه، د مشر سکرتر سید طیب اغا او ځینې نور ملګري حاضر وو. تقي عثماني او مولانا سلیم الله خان صیب په پښتو نه پوهېدل، د مشر خبرې شیخ الحدیث شېرعلی شاه ورته ژباړلې او د هغوی دواړو خبرې یې ملا محمد عمر ته ژباړلې.

لومړی ملا محمد عمر هغوی ته هرکلی ووایه. ورپسې خبرې د علماوو له خوا پیل شوې. ښاغلي مفتي تقي عثماني د اسلامي نظام د بقاء پر ارزښت مدللې خبرې وکړې. د حالاتو د نزاکت یادونه یې وکړه او ویې ویل، دا یو اسلامي نظام دی او دښمنان یې د نړېدلو هڅې کوي، نو هر هغه لاره باید ولټول شي، چې د دې ماجرا مخه ونیول شي. مولانا تقی صیب وویل ټول مسلمانان په دې یرغل متاثره کیږي، نو د شیخ اسامه موضوع ته د حل مناسبه لار لټول پکار دي.

مولانا سلیم الله خان صیب له ملا محمد عمر سره له محبت او خواخوږۍ ډکې خبرې وکړې او د امریکا له یرغل د خلاصون د لارو چارو پر لټون یې بحث وکړ.

د دغو علماوو خبرې، اندېښنې او خواخوږي د پام وړ وې او زما په اند پوره وزن یې درلود، خو د مشر لنډ ځواب نږدې ټول لاجوابه کړل. مشر له دغو علماوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د بې کچې احترام په فضا کې په ډېره خوږه او مودبانه لهجه خبرې وکړې. ملا محمد عمر دغه علماء مخاطب کړل:

زما هر کار د علماوو له مشورې سرچینه اخیستې، د الله دین تاسو ته تر ما ډېر ښه معلوم دی، مور ستاسي د شاګردانو په درجه کې یو، خو خبره دا ده لکه څنګه چې انبیاء علیهم السلام د الله د دین په تعمیل مکلف وو، همداسې زه او بل هر مسلمان واکمن مکلف دی، زه به هغه څه کوم، چې اسلام یې اجازه راکړي، زه به الله ته د دې څه ځواب وایم، چې الله ما ته دېرش تنه مجاهدین راکړل (د تحریک د پیل لومړیو ورځو ته اشاره وه) هغه وخت ما پر الله توکل وکړ او الهي مسوولیت ته مې شا نه کړه، خو نن چې د یوه هېواد واکمن یم د خپلې واکمنۍ د بقاء لپاره څنګه خپل شرعي مسوولیت ته شا کړم؟

د اسامه په موضوع کې اوس امریکایان بله هیڅ خبره نه مني، یواځې دوې لارې یې پرې اینبي. یا به یې ورسپارو یا به یرغل کوي، البته که خدای مه کړه ور ویې سپارو بیا هم د دې تضمین نه شته چې یرغل به نه کوي، نو اوس تاسې ما ته د سپارلو فتوا راکولای شئ؟

ټولو ورته وویل: نه، مور د جواز فتوا نه شو درکولای. مشر وویل: دربیمه لار پاتې نه ده. سعودي ته سپارل هم امریکا ته سپارل دي، ځکه چې سعودي یې هم امریکا ته ورکوي او د امریکا په امر یې له مور غواړي.

څرنګه چې ما ته د افغانستان علماوو هم اجازه نه ده راکړې، تاسو یې هم نه شئ راکولای او د نورې نړۍ حقیقي علماء یې هم نه شي راکولای، نو دغه عمل د اسلام له نظره جواز نه لري، زه مجبور یم په دې لار کې به هرې قربانۍ ته ځان ورکوم. د خپل سر او خپل نظام باک به هم نه کوم، د هر یرغلګر پر وړاندې به د جهاد فریضه تر خپل ژونده جاري ساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر له دې ځواب سره علما چپ شول، مولانا سلیم الله خان وژړل، ملا محمد عمر ته یې مخ وروړاوه: الله ستا شرحِ صدر په همدې کړی، الله دې مرسته وکړه او الله دې مورِ ته هم د شهادت مرګ راکړي.

دا مجلس په همدې ځای پای ته ورسېد. بهر جنرال محمود، برګیډیر سلطان او مېجرګل ناست وو. د ټولو شوندې وچې وې، یوه یې ماته ګوته ونیوله او ویې ویل: دا هماغه دی؟ زه پوه شوم چې هغوی زما په یوې مطبوعاتي مرکې غوسه وو.

جنرال محمود په وروستي ځل ملا محمد عمر ته وویل، که زه وم یرغل به نه کیږي او که یرغل کېده زه به نه یم. ربښتیا هم چې کله جنرال مشرف د امریکا له خوا پر افغانستان د یرغل د ملاتړ اعلان وکړ، نو جنرال محمود استعفاء ورکړه.

له پاکستاني هیئت سره له ملاقات نه وروسته متوکل ملا محمد عمر ته یو ځل بیا وویل، چې ښه لاره دا ده چې اسامه سعودي ته وسپارو، داسي معلومیده چې لومړی متوکل فکرکاوه چې د پاکستاني علماوو هیئت به کوم حل را وباسي، خو چې کله مایوسه شو نو بیایې په شخصي توګه وړاندیز وکړ، ملا محمد عمر په موسکا متوکل ته د نه ځواب ورکړ او دا طرحه یې د منلو وړ ونه بلله.

کله چې مورِ بیرته د مشرتابه نشراتي دفتر ته راغلو نو د ملا محمد عمر یو جهادي ملګري ملاغازي چې د ستېنګر توغندی ویشتل یې هم زده و، له مورِ سره په دې خبره توند شو چې امریکایي الوتکې ولي ستېنګر توغندی نشي په نښه کولای، مورِ ته دا معلومات رسیدلي و، چې ستېنګر توغندي امریکایي الوتکې نشي ویشتی، خو ملاغازي دغو خبرو ته زمورِ د وارخطایۍ نوم ورکړ، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما يې مخ واړاوه او د دفتر يو تن بل ملګرى احمدجان احمدي يې مخاطب کړ: «یاره احمدی صاب چې اول ورځ یو لس دانې امریکایي جیټان را ایله کړو...»

د امریکا یرغل

د پاکستان له وروستي هیئت وروسته زه د څو ورځو لپاره خپل کلي ته لاړم. له رخصتي وروسته مې د اکتوبر په اوومه ځان ببرته تللو ته تیار کړ. سهار وختي له کوره ووتم. سپېده چاود کې مې پر لار د الوتکو درانه غړونه ترغوږ شول. تازه سهار خلکو د اسمان لوري ته پر ترهېدلو څېرو او دقیق نظر کتل. پوه شوم چې ټکه لوېدلې. څوک به ژغورلي وي او څوک به بې روحه پراته وي! د موټر په پر سټیرینګ مي لاسونه سخت شول او په څوکۍ کې سیده شوم. پښه مي پر ایکسلېټر ټینګه کړه، پرته له دې چې پر لار بریک ونیسم او د چا حال وپوښتم، شاوخوا د سهار اته بجي د مشرتابه دفتر ته دننه شوم.

نه لار کې ساتونکي وو او نه دفتر کې د ژوند اثار. د کړکینو ماتو ښیښو او د نوي ډول باروتو بویونو ټوله فضا وحشي کړې وه. سړه سنا وه. هیڅا له ودانیو نه سر رابهر نه کړ، نه یې وپوښتلم! تر دې وړاندې چې له موټره کوز شم، د ریښټیر مخابرې لومړۍ شمېرې ته ولاړم او پر طیب اغا مې غږ کړل: احمد! احمد! (د مخابرې کوډ یې و). په ټیټ اواز یې جواب راکړ. عبرته اورم چېرته یې. دفتر کې ولاړ یم. غږ یې جدی شو: ژر راوځه بمبار لا روان دی. دفتر بمبار شو او هر شېبه لا هم خطر دی. ما هم په تېزۍ ځان له خاموشې حویلۍ وویست.

وروسته یې پر مخابره خپل ځای را وښود. د کندهار لوبغالي سره یې خالي شوې حویلۍ خپل موقت دفتر ګرځولی و، هلته ورغلم. له سلام وروسته لومړۍ پوښتنه د مشره وه، طیب وویل روغ رمټ دی. یوازې یو تره یې شهید شو.فامیل یې له ښاره بهر ارغنداب ته واستاوه، خپله نه راووت ویل یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ځای چې مرګ راته لیکلی وي، هلته به مرم، خو ټولو ملګرو ورته ډېر عذر او زاري وکړې اخیر مو وویست خو لار کې الوتکو وروباندې توغندي وار کړل. مګر تري بچ شو.

ستنګر توغندیو پر امریکایي الوتکو کار نه کاوه. د ملاغازي غوږونه نور مړه وو، تور پټکی یې پر غفوري لونګی بدل کړی و او د اسمان خوا ته یې په ډارن نظر کتل. روسي دوه میلې کورړیدې خو بمبار کوونکو الوتکو له دېرش زره متره بالا نه بمبار کاوه. دومیله تر پینځلس زره متره ویشتل کولای شي.

د مشرتابه د مرکزي مخابرې نصرت مسئول حاجي لالا د دومیله توپونو پر مسئول په مخابره کې غږ کړل: هسې مرمۍ مه ضایع کوئ! کوم ځای ته چې ستاسې مرمۍ رسیږي، که یې هم هغلته هم ورته کیږدئ، بیا هم نه ور رسیږي. کومې دوه نسبتا پرمختللې روسي دافع هوا دستګاوې چې طالبانو په کندهار او کابل کې پر غرونو ځای پرځای کړې وې، هغه په لومړي هدف کې الوتکو له مسلکیانو سره یو ځای له مینځه یوړې. مور مېنې بدلولې او له رسنیو سره مو اړیکه ساتله.

له بره دا مریکایي الوتکو سخت بمبار روان و او لاندې په هر ښار کې د ستلایټ تلفونونو لرونکې جاسوسان ګیریدل؛ د امریکا له خوا کرایه شوي ځینې قومي مخور او زاړه قوماندانان هم د بمبار ورستیو پایلوته په تمه ورو ورو د خوځښت په حال کې ول او مشرتابه ته یې راپورونه راتلل.

د هیواد دځینو نورو برخو ترڅنګ د کندهار فضا هم هغو راډیوي څپو پوښلې وه چې له الوتکویې د امریکایي ځواکونو اعلامیې خپرولې. د دغو خپرونو ویاندویان یې ناپښتانه حتی پښتو ویوونکي انګریزان وو! چې په غلطه پښتو ژبه یې اخطاریه اعلامیې خپرولې. د مشر په اړه به یې سپکوونکې تورې کارول. که څه هم امریکایان او ملګري یې د خپلو سیاسي او فوځي مخالفینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شخصیت وژنه کې ځانګړی تبلیغاتي مهارت لري. لکه د قذافي، صدام، عمر بشیر، هوګوچاویز، چینایې رهبرانو او ایراني روحاني مشرانو په اړه چې فرضي کیسي خپروي او همدا اوس یې په ترکي رهبر رجب اردوګان پسي هم شروع کړې. خو د ملا محمد عمر په اړه په دغه اعلامیو کې داسي خبرې خپریدې چې په افغاني ټولنه کې بې معنا او خنداوره وې. د بیلګې په توګه په یوه اعلامیه کې به دا توري تکراریدل: چې ملا محمد عمر له خپلو میرمنو سره عیش کوي. په اسلامي او افغاني ټولنه کې له میرمنو سره عیش هیڅ کومه ځانګړې ناوړه معنا نلري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قومندان عبدالحق نیول او وژل

کله چې د ۲۰۰۱ اپرېل په څلورمه احمد شاه مسعود د اروپايي پارلمان په دعوت اروپا ته سفر وکړ. هلته يې د ښکاره غونډو ترڅنګ له اروپايي او امريکايي استخباراتي کړيو سره، د پټو ناستو او تعهداتو خبرونه هم ورکول شول. دلته دا خبره د طالب مشرتابه غوږونو ته هم ورسېده چې امريکا او لويديځ همکاران يې غواړي د طالبانو د پرځولو لپاره د طالبانو د ټولو مخالفو ملېشو او پخوانيو قومندانانو يوه ګډه موثره جبهه جوړه کړي. ډېر امکان دې ولري چې د پيسو ترڅنګ نوي جنګي وسايل هم ورکړي او حتی امريکايي ځانګړي ځواکونه او الوتکې يې هم مرسته وکړي.

همدې خبرې طالبان چې تر دې دمه د امريکا له خوا له اقتصادي بنديزونو، تبليغاتي دښمنۍ او ديپلوماتيکي تنهايۍ سره مخ ول، له يوه بل ډېر جدي خطر سره مخ کړل. طالبانو دې لور ته توجه واړوله او په سيمه کې يې تر خپله وسه د نوې جبهې د ايکټرانو د حرکاتو او پلانونو د څارنې هڅې پيل کړې. په دې ايکټرانو کې په شمال کې د مسعود او دوستم ترڅنګ په شرقي او مرکزي ولايتو کې قوماندان عبدالحق او په لويديزو ولايتو کې حامدکرزی ډېر ښکاره بوخت وو.

عبدالحق او کرزی دواړه له دې وړاندې له طالبانو سره څرګندې دښمنۍ ته نه وو رسېدلي خو د دې نوې امريکايي پروژې په تياري کې په تېزۍ بوخت وو. دوی په پاکستان، ايران او متحده عرب اماراتو کې غونډې کولې او جنګي قومندانانو او قومي مخورو ته يې پيسې ويشلې چې دغه جبهه پراخه کړي. په دې لړ کې قومندان عبدالحق د دوبۍ ښار "الحيات ريجنسي" په نامه هوټل کې د مهمو او سترو قومندانانو لپاره يوه خفيه غونډه ترتيب کړه. د هغوی د سفر اسانتياوې يې هم ورته وار د مخه برابرې کړې وې. عبدالحق او د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور حاجي قدير د نړۍ د ځينو نورو ښارونو تر څنګ په دوبۍ ښار کې هم تجارتي دفترونه او معاملات لرل، ځکه خو هلته پروګرامونه ترتیبول ورته ګران نه و.

دغې خفیه غونډې ته ځینې قوماندانان په ناخبرۍ کې ورغوښتل شوي وو چې له اصلي موضوع خبر نه وو چې په دې کې د کابل ولایت یو مهم قومندان له دې موضوع سره د نه توافق په نتیجه کې دغه راز طالبانو ته ورساوه، ځکه خو طالبان له اوله عبدالحق ته ځیر شول. کله چې د ۲۰۰۱ د اکتوبر په اوومه پر افغانستان امریکایي یرغل پیل شو، څو ورځې وروسته عبدالحق هم له پلان سره سم له یو شمېر پلویانو سره یو ځای له پښتوره د پاڼه‌چنار پر لار افغانستان ته رادننه شو.

هغه له پاڼه‌چناره "تري منګل" سیمې ته او بیا اریوب ځائې ته راغی. له هغه ځایه د لوګر ازرې ولسوالۍ ته راغی. د ازرې او حصارک ولسوالیو کې یې خپل قومیان، عام ملکان او قومندان ان د پیسو په بدل کې د طالبانو پر ضد جګړې ته وهڅول.

عبدالحق نه د طالبانو د خبرېدو دوه چینله وو. یو پوخ پلان شوی چینل و چې عبدالحق یې له پښتوره تر ازرې څاره، خو په وروستي وخت کې یې دقیقه څارنه ونه کړای شوه. بل هغه ناڅاپي او اتفاقي چینل و چې عبدالحق یې سمدستي ونیو، دا چینل د لوګر د استخباراتو او امنیه قومندانۍ تصادفي چاینل و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی هم پلان شوی چاینل

کله چې د دوبۍ له غونډې وروسته طالبان عبدالحق ته متوجه شول نو د هغه د ځارنې لپاره يې هلې ځلې پيل کړې. د امريکا له يرغله لږ وړاندې چې قوماندان عبدالحق په پېښور کې د خپلو قوماندانانو او پلويانو د منظمولو او د سي آی اې له خوا د پيسو ويشلو کار توند کړ، طالبانو له يوې خوا په دستوري توګه د ننګرهار د حسارک ولسوال ته دنده ورکړه چې عبدالحق سره په ظاهره لاس يو کړي او په دې ډول د هغه په پوست ورننوځي او روزمره حالات يې وڅاري. دغه ولسوال به له عبدالحق سره په پېښور کې د هغه د ملاقاتونو په ځای کې ناست و او ملاقاتونه به يې ځارل. مابنام به يې د ننګرهار د استخباراتو رياست ته د ورځې جريانات ټول مخابره کول.

په دې کې هغه يو دوه ټيټ رتبه طالب چارواکي هم ليدلي ول چې له عبدالحق سره يې له مشرتابه پټ کتل! بل پلو ته يې د حزب اسلامي د يوه پخواني قوماندان په مرسته د قوماندان عبدالحق يو پخواني مجاهد چې دا وخت يې د پاکستان د هريپور سيمې سره خوا کې د شهدو د مچيو په يوه فارم کې مزدوري کوله، دې کار ته اماده کړ، چې له عبدالحق سره يو ځای شي او بيا په دوامداره توګه د هغه په اړه طالبانو ته معلومات ورکړي.

دغه کس و چې له پېښوره تر ازرې يې د قومندان عبدالحق معلومات طالبانو ته رسول. د دې کس رابطه د ننګرهار د استخباراتو رياست سره وه. کله چې پر افغانستان امريکايي يرغل پيل شو او قوماندان عبدالحق هم د نورو قومندانانو په څېر غوښتل چې د کابل، لوګر او ننګرهار په اطرافو کې د امريکا د پلیو ځواکونو رول ادا کړي. د دې لپاره يې د کار پيلولو نقطه د لوګر ازرې ولسوالۍ او دننګرهار حصارک ولسوالۍ غوره کړې وې، چې دواړه سره خوا په خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

موقعیت لري. عبدالحق له اوله لا د ننګرهار له چارواکو او استخباراتو وېره لرله، ځکه خو يې د ننګرها او کونړ د سرحدونو پر ځای د پاڼه‌چنار لار غوره کړه. ازرې او حصارک ته د عبدالحق له رسېدو سره طالبانو د ننګرهار له لوري په محتاطانه ډول د عبدالحق په ځارنه او مراقبت لاس پورې کړ چې ژوندی ونه تښتي. تر دې وخته د عبدالحق د راتګ راز يواځې د ننګرهار استخباراتو سره و. د طالبانو د پلان شوي چاينل خاص ځواکونه د حصارک ځينې برخو ته د عبدالحق د پلټنې لپاره راورسېدل.

تصادفي چاينل

په عين هغه وخت چې د ننګرهار د استخباراتو ځانګړی ځواک د عبدالحق د نيولو لپاره په حصارک کې په پلټنه بوخت و، د روانې مياشتې (اکتوبر)په څلورويشتمه د لوګر والي مولوي ضياءالرحمن مدني خپل امنيه قوماندان مولوي بازمحمد راغواړي او ور ته وايي چې په ازره کې امريکايي چورلکې کېناستلې او پلي ځواکونه يې کوز کړې دي. دا وخت چې امريکايي پلي ځواکونه چا نه وو ليدلي، طالبانو له هغوی سره د مخامخ جګړې ډېره تلوسه لرله.

امنيه قوماندان په بيړه جنګي کنډک برابروي او د يو څو ميله پيکا ماشيندارو د مرستې لپاره د استخباراتو رياست ته په بيړه ځي. د استخباراتو له رئيس محمد انشا مخبت نه د څو پيکا ماشيندارو مرسته غواړي. مخبت علت پوښتي. امنيه قوماندان د امريکايي چورلکو د ناستې ورته وايي. د استخباراتو رييس ورته وايي چې امريکايي چورلکو به امريکايي عسکر کوز کړي وي، ته به ځې زه به پاتې کېږم؟ داسې شونې نه ده، هرومرو به زه هم ځم.

دواړو په ګډه څو موټره وسله‌وال برابر کړل او په بيړه د ازرې لور ته روان شول. هغوی د لوګر دوبندي سيمې ته ورسېدل چې له ازرې د دوی ارتباطيان متګورې کلي ته راورسېدل. دوي ته يې خبر را واستاوه چې امريکايي الوتکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شته، بلکې قوماندان عبدالحق راغلی؛ خلک د طالبانو پر ضد مسلح کوي او په دې موخه پیسې تقسیموي. د امنیه قوماندان او د استخباراتو د رییس په مشرۍ دغه وسله‌واله ډلګی د ازرې د حاجي زرغون کلي ته رسیږي. هلته حاجي زرغون طالب مبلمنو ته پسه حلالوي (چې دا کار په پښتنو کې د خاص احترام نښه ده) حاجي زرغون ته له دې یوه ورځ وړاندې قوماندان عبدالحق راغلی و او له ده نه یې د یوه قومي مخور په توګه د طالبانو پر ضد جګړه کې د مرستې غوښتنه کړې وه. په بدل کې یې د زیاتو پیسو وړاندیز ورته کړی و، خو زرغون د یو ځیرک پښتون په بڼه عبدالحق ته ډېر تریخ ځواب ورکړی و، هغه ته یې د بې ضمیره او وطن پلورنکي خطاب کړی و.

د حاجي زرغون کره د شپې له تېرېدو نه وروسته سهار دغه وسله‌واله ډلګی د لکړۍ (د ځاځیو او ازرې تر مینځ سرحدي غر دی) د غره پر څوکه د منګلو درې کلي ته اوښتل چې یوه دوه سیټه ډاټسن پر مخه ورغله. طالبانو ډاټسن ودروله او غوښتل یې چې عادي تلاشي واخلي. د ډاټسن د مخې په سیټ کې ناست دنګ غنم رنګي سړي ډېره سخته بڼه ووهله او رنګ یې ژېړ شو. له سختې وراخطایې په لړزېدو شو. دا سړی په چې عمر د اته څلوېښتو اوپنځوسو تر مینځه ښکارېده. له حالته یې داسې برېښېده، لکه هغه چې فکر کوي چې دا طالبان د همده په لټون راوتلي دي. د هغه پر بغل ټیټې توپانچه وه ، طالب مشر فکر وکړ چې ښایي دغه سړی د دې توپانچې له امله وارخطا دی، ځکه چې د طالبانو په واکمني کې له نامسئولو کسانو سره د وسلې شتون جرم و. طالب مشر دغه سړې ته تسلي او اطمنان ورکړ چې دا د وارخطایې خبره نه ده. زمور له خوا درته ستونزه نه شته، موټر یې رخصت کړ، خو چې کله د منګلو درې کلي ته ورسېدل، کلیوالو ورته وویل چې په ډاټسن کې ناست هم هغه دنګ سړی د ننګرهار مشهور قوماندان حاجي زمان غمشریک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوګر د استخباراتو رییس خپلو ملګرو ته وویل چې راځئ چې لومړی اودسونه وکړو او د منګلو درې د حاجي فضل الرحمن په مهمان خانه کې د پرتو ديني او تاريخي مقدساتو زيارت وکړو او بيا د عملياتو د بري لپاره په اخلاص دعا وغواړو، دا مقدسات څه وو؟

لومړی په دې اړه لنډ معلومات وړاندې کوم.

د ازرې د منګلو درې مذهبي او تاريخي مقدسات

غالبا په هېواد کې د اميرحبيب الله (بچه سقاو) د واکمنۍ پر مهال چې د کابل ښار چور شوی و، د دې سيمې خلکو د کابل په بالاحصار يا هم ارګ کې يو پخوانی تاريخي بند صندوق موندلی و، چې په کې يو کميس او يوه خولۍ ايښې وه. پر کميس له سره تر پايه د قران کريم اياتونه په نزولي ترتيب ليکلي و او د ليکلو نېټه يې پينځم هجري قمري ورسره ليکل شوې وه. د اياتونو په ترتيب نزولي ليکنه، د ليکدود او د ليک شکل او د کميس زوړوالي دا په ډاګه کول چې دا کميس ښايي همدومره قدامت ولري او خولۍ د اوښ له وړيو جوړه وه. داسې ګومان کيږي چې د اسلام په لومړيو پيړيو کې ښايي اسلامي فاتحانو دغه مقدس اثار د تبرک په توګه له ځان سره راوړي وي.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال کوم چارواکي دا خبره د طالبانو مشر ملا محمد عمر ته ورسوله او داسې راپور يې ورکړ چې دغه مقدسات د ايران پر هيواد د پلورلو په حال کې دي. ملا محمد عمر له کندهاره ځانګړې چورلکه پسې راواستوله او دغه مقدسات يې کندهار ته يوړل. په دې عمل د منګلو درې خلک سخت خپه او غوسه شول ځکه چې هغوی دغه مقدسات د خپل کلي لپاره ويار او تبرک ګاڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا محمد عمر د دې اثارو د څېړنې لپاره یو شمېرعلماء هم راوغوښتل. علماوو وویل: دا چې پر کمیس یواځې هغه ایاتونه په هم هغه ترتیب لیکل شوي چې تر پنځم هجري کال پورې نازل شوي دي او نېټه یې هم ورباندې پنځم هجري لیکل شوې ده، نو په دې کې خو شک نه شته چې دا کمیس همدومره قدامت لري. دا امکان هم ډېر قوي دی چې دا کمیس دې د اسلام د پېغمبر صلی الله علیه وسلم وي، ځکه چې په هغه وخت کې چې د اسلام پېغمبر ژوندی و. مسلمانانو له بل چا سره دومره مینه نه لرله چې پر کمیس یې قرآني ایاتونه ولیکي. دا ډول متبرک کمیس یواځې د پېغمبر کېدای شي، نو د دې خلکو دغه دعوی نه شي ردېدلای چې دا کمیس او خولې د اسلام پېغمبر ته منسوبوي.

د منګلو درې خلکو د دې اثارو د بېرته ترلاسه کولو لپاره ډېرې مندې وکړې. ډېرو سترو چارواکو ته یې اواز ورساوه او همدې چارواکو ملا محمد عمر ته د دې خلکو شکایت هم ورساوه او سفارش یې هم وکړ، خو اثار بېرته ورنه کړل شول. بلاخره د لوګر د استخباراتو رییس محمدانشا مخبت د ملا محمد عمر د مرکزي مخابرې "نصرت" دفتر ته خبر ورکړی و چې د منګلو درې خلک وایي چې که مور ته زمور مقدس امانت بېرته راستون نه شي، مور د دې کلي سپین ږیري، ځوانان، ماشومان او تور سري لوڅې پښې صحرا ته راوځو او تر درو ورځو طالبانو ته ښېرې کوو. په ځواب کې ملا محمد عمر د لوګر چارواکو ته وویل چې زه چورلکه دراستوم، د کلي دوه مشران سپین ږیري راواستوئ چې زه له نردې خبره ورسره وکړم. که رښتیا د دې اثارو د پلورلو وېره نه وي، ورته وبه یې سپارم.

دوه سپین ږیري یې چورلکه کې کندهار ته واستول. ملا محمد عمر د سپین ږیرو ښه استقبال او مېلمه پالنه وکړه. له نورو سوغاتونو علاوه یې د دې اثارو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حفاظت لپاره تقریبا دځلور زرو ډالرو معادل پیسې هم ورکړې او دغه مقدسات یې هم بېرته ورته وسپارل. بېرته یې په چورلکه کې له مقدساتو سره یو ځای خپل کلي ته راواستول. په دې عمل د دې سیمې د خلکو زړونه د استخباراتو رییس محمد انشا مخبت وګټل، همدا وجه وه چې دعبدالحق په پلټنه کې د دې سیمې خلکو له مخبت مرسته وکړه.

د مقدساتو له زیارته وروسته د ولسوالۍ د مرکز پر لور

محمدانشا او ملګرو یې اودسونه تازه کړل او د حاجي فضل الرحمن په مهمانخانه کې د پرتو مقدساتو زیارت یې وکړ. هغوی هر یوه په نوبت سره پر کمیس لاسونه ایښودل او خولې پر سر کوله. مخبت وایي هر ملګري چې به پر کمیس لاسونه کېښودل او خولې به یې پر سر کړه، بې اختیاره به یې له سترګو اوښکې روانې شوې. دوی وایي چې له دې وروسته یې په دې ځای کې د قران کریم یو څه تلاوت هم وکړ. کله چې ووتل یو ډول سکون او اطمنان ورسره پیدا شو، بیا هغوی د ازرې ولسوالۍ د مرکز پر لور وخوځیدل. ازرې ولسوالۍ ته چې ورسېدل، دا وخت تقریبا د غرمې دولس بجې وې. ولسوال ته یې مشوره ورکړه چې ټولو مهمو قومي مشرانو ته د غرمې لپاره د مېلمستیا بلنه ورکړه. د ولسوالۍ اکثره قومي مخور او سپین ږیري ولسوالۍ ته راغلل. لکه حاجي بسم الله، حاجي بادام، حاجي فضل الرحمن او ډېر نور...

طالبانو موثق معلومات ترلاسه کړي وو چې د حاجي زرغون، فضل الرحمن او یو څه نورو مشرانو پرته، نورو اکثرو قومي مخورو له عبدالحقه پیسې اخیستې وې او د ازرې او حصارک په سقوط کې یې عبدالحق ته د مرستې ډاډ ورکړی و.

له ډوډۍ خوړولو وروسته ولسوال د استخباراتو د رییس او امنیه قوماندان په مشوره سپین ږیرو ته وویل چې تاسو د لوګر والي مولوي ضیاءالرحمن مدني د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوې مشورې لپاره د ولایت مرکز ته غونډتي یاست. سپین ږیرې یې ولایت ته واستول. والي ته یې پر مخابره وویل چې سپین ږیري او ملکان د عبدالحق د پلټنې تر تمامېدو مصروف وساته.

دا وخت د لوګر امنیه قومندان او د استخباراتو رییس ته دا خبر هم راغی چې د ننګرهار د استخباراتو ځانګړی کنډک هم د عبدالحق د مراقبت لپاره د حصارک ولسوالۍ ته رارسېدلی.

مخبت خپل ملګري امنیه قوماندان مولوي بازمحمد ته وویل: زه لږ د علي شېرو کنډو سر ته خبرم چې پر مخابره جلال اباد نه حصارک ته له راغلي خصوصي کنډک سره اړیکه ټینګه کړم چې په ګډه عملیات وکړو.

مخبت له ځلورو ملګرو سره علي شېرو کنډو ته مخامخ د یو بل غره سر ته وخوت، چې د علي شېرو له کنډوه د حصارک لور ته تللې لار وربانديې سپره ده. حصارک ته د راغلې کنډک سره یې اړیکه ونیوله. هغوی د عبدالحق د راتګ موضوع تایید کړه، خو د اوسېدلو ځای یې د سپین جومات او حاجي زرغون کلی وښود، چې عبدالحق ورته یوه ورځ وړاندې راغلی و.

دا وخت مخبت یو کس ولید چې د حصارک له لوري ازرې ته پر دې لار تنها پلی را روان دی. دا د حاجي فضل الرحمن د کور سړی و چې متبرک کمیس او خولۍ ورکړه ایښې وه. مخبت لومړی هغه نه پېژاند، ځکه یې پرې پټکه وکړه چې سم حال ووایه عبدالحق چېرې دی؟ سړي په وارخطایی ورته وویل ما ته څه مه وایاست حال درته وایم.

سړي وویل: عبدالحق د حصارک د غوږیزي کلي خوا کې د حاجي دوران کور کې دی. خړه لونګۍ یې پر سر کړې او سپینې جامې یې په تن دي. پرون یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چا په واسطه د جلال اباد ښار کې د حاجي داود په بارګین کې په درې لکه پنځلس زره کالدارې یوه ایس ایس ار ډاټسن رانیوله.

اوس خبر شوی چې جلال اباد نه وسله‌وال طالبان ورپسې راغلي دي. همدا اوس یې حاجي دوران ته وویل چې یو آس راپیدا کړه او پر غرنۍ لاره مې له دې ځایه وباسه، ځکه چې طالبان راپسې دي.

مخبت وایي؛ داسې معلومېده چې د جلال اباد له خوا د ځانګړي کنډک تر څنګ زمونږ له راتګه هم عبدالحق څه ناڅه خبر شوی و چې ښایي حاجي زمان غمشریک به له مونږ نه تر تېرېدو وروسته په سټلایټ تلفون حال ورکړی وي، ځکه خو یې نور ځان په محاصره کې احساساوه.

مخبت وایي دغه لاروی مو په دې قانع کړ چې مونږ سره ملګری شي او د دوران کور راته وښیي. دا وخت تقریبا ماسپښین څه باندې درې بجې وې. د استخباراتو رییس محمد انشا مخبت پر خپل ملګري امنیه قومندان بازمحمد په مخابره کې چیغې وهلې چې امنیه قومندان له پاتې وسله‌والو سره ځان را ورسوي، خو هغه چې د مخبط په وینا مزاجا یو څه بې غوره سړی و، مخابرې ته متوجه نه و، جواب یې پر وخت ورنه کړ.

بالاخره مخبت له همدې ځلورو کسو سره شاوخوا د مازیګر په ځلورو بجو د علي شېرو د کنډو لاندې د دوران کور ته نږدې کمین ونیو، چې د عبدالحق د تېښتې احتمالي لار وه.

د شپې تر یوې بجې همدې څو تنو کمین نیولی و. امریکایي چورلکې او کشفي الوتکو شور جوړ کړی و، داسې ښکارېده چې هغوی د عبدالحق د ژغورلو لپاره راغلي وي. هغه ځارګره الوتکه چې طالبان یې بونګنه بولې بیا بیا راتله. مخبت وایي هغه وخت مونږ له بونګنې سره نابلده وو، ځکه مو پاملرنه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ورته کوله. د شپې شا وخوا یوه بجه امنیه قومندان بازمحمد له پاتې وسله‌والو سره راورسېد او کمین هر لور ته پراخ شو.

د استخباراتو مشر خپل څو تنه د غوږیزې کلي هغې لار کې کېنول چې د دوران کور ته تللې وه. د شپې یو ملګری حافظ عبدالرشید خوب یوړ، چې بیدار شو، ملګرو ته یې وویل چې خوب مې لیده باز (ګوربت) مو نیولی وي، خو ښځه بازه وي.

د شپې نږدې درې بجې د غوږیزې پر لار ناستو کمین‌نیوونکو عبدالحق په داسې حال کې ونیو چې پر اس سپور و. د اس پړی یې بل کس نیولی و. غوښتل یې چې له ناهمواري سیمې ووځي او بیا امریکایي چورلکې ته د پورته کېدو لپاره ځان چمتو کړي. هغه په همدې وخت کې هم له امریکایي چورلکو سره په تماس کې و. عبدالحق سره دا وخت یواځې څو تنه ونیول شول، نور په تېښته بریالي شول، چې ویل کیږي په تېښتېدونکو کې حاجي دوران هم و او یو درجن هغه کسان هم وو چې عبدالحق یې پر ملاوو د چانټو په ډول له ډالرو نه ډکې همیانې ورتړلې وي. د تېښتې پر مهال چې د چا مخ لویدیځ ته و، لوېدیځ ته ورک شول او د چا چې مخ شمال یا ختیځ ته و، پر همغه مخه لاړل او د ډالرو له بنډلو سره یې تر ننه ځانونه ورک کړل.

تر دې څو شېبې وړاندې چې عبدالحق نیول کیږي، د دوران د کور له خوا دوه ډاټسنې راروانې دي او بازمحمد په دې تمه دی چې دا به عبدالحق وي. مخې ته ورته دریږي خو چې رانږدې کیږي نو د یوې ډاټسن مالک طالب قوماندان عبدالرحمن دی او د بلې ډاټسنې مالک په کابل کې د استخباراتو ریاست کارمند امین وردګ دی. بازمحمد سمدستي د هغوی په موضوع پوهیږی چې له عبدالحق سره اړیکه لري، بازمحمد هغوی ته بد رد وایي او نور یې پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له عبدالحق سره په نیول شویو کسانو کې د هغه مرستیال د لوګر د څرخ اوسېدونکی د ډاکتر نجیب د واکمنۍ ډګروال حامد؛ د عبدالحق د پوځي چارو مسئول قوماندان شاولي او د عبدالحق ډرایور عزت الله و. له دوی سره د الوتکو د رهنمایۍ غمی او سټلایټ تلفون هم و. طالبانو الیکترونیکي وسایل ورنه بېل کړل. هغوی یې پلي روان کړل. له یو څه پیاده مزل وروسته یې ډاټسن ته ورسول. دا وخت امریکایي چورلکو او بونګنو الوتکو شور جوړ کړی و، خو حالت یې ځان ته سم نه شوای معلومولای. دوی فکر کاوه چې د ننګرهار له خوا راغلي کنډک عبدالحق نیولی یا محاصره کړی دی، ځکه یې د ننګرهار د کنډک ډاټسنې بمبار کړي چې یوه ډاټسنه وویشتل شوه او څوکسان په کې ژوبل شول، نورې ورنه وژغورل شوې.

کله چې د غوریزې د لارې کمین نیوونکو عبدالحق، امنیه قوماندان او د استخباراتو مشر ته را رسول، دا وخت سهار شو. امنیه قومندان سمدستي عبدالحق په خپله ډاټسن کې د لوګر مرکز ته روان کړ. مخبت د حاجي دوران د کور د تلاشۍ په موخه پاتې شو چې څه وخت وروسته والي پر مخابره مخبت ته وویل، ورپسې را روان شه! بازمحمد بې غوره دی، سړی ورنه خلاص نه شي.

عبدالحق پر لار امنیه قوماندان ته بیا بیا ویل ما کابل ته ستاسې مشرانو ته ورسوه! بازمحمد هغوی په ډبر درناوي د موټر سیټ کې کېنولي، صمیمانه مجلس ورسره کوي او هغوی ته یې د خوراک لپاره آنار مات کړی.

مخبت او بازمحمد دواړه وایي چې له عبدالحق سره یې هېڅ داسې لیست او اسناد نه دي موندلي چې د طالب چارواکو اړیکه پرې ثابته شي چې له بده مرغه په دې اړه څه قصدي تبلیغات شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی بل ملګري د عبدالحق وراره او د حاجي دین محمد زوی عزت الله له دې ځای سره خوا کې غونډیو کې د طالبانو د یوې بلې قطعې له خوا د الوتکو له رهنمایي کوونکي غمي سره نیول شوی و. دغه قطعه د لوګر د خروار د طالبانو وه، دوي د دین محمد زوی له اجازې او مشورې پرته په خپل سر وژلی و.

کله چې عبدالحق د لوګر مرکز ته ورسول شو. له کابل نه د داخله وزارت له خوا والي ته امر وشو، چې عبدالحق کابل ته راولیږئ.

امنیه قوماندان د والي په امر عبدالحق کابل ته روان کړ، کابل ښار ته چې غرمه مهال نږدې شول، له بن ساره، قلچه او شهدای صالحین سره پر عمومي سړک ورته مخ ته د داخله وزارت پیک اپ موټر راغی. د داخله وزارت، یو تن چارواکی ملا ظاهر ورنه راکوز شو او د امنیه قوماندان موټر یې ودراوه او د ملا محمد عمر یو لیکلی فرمان یې ورښکاره کړ چې د مشر له خولې په ساده الفاظو لیکل شوی و: دغه وطن فروش او خاین کابل ته تر رسېدو وړاندې وغځوئ او د کابل ښار یې په وینو مه پلیتوئ.

دواړه موټره بېرته شا ته راغبرګ شول او د سنګ نوشتې له عمومي سړک نه چې د ریشخورو فرقې ته لار تللې ده، پر دغه سړک یې عبدالحق او ډګروال حامد راکوز کړل او سترګې پرې وترلې. بازمحمد حیران و چې څه وکړي. ملا ظاهر عبدالحق او ډګروال حامد له سړک نه یوه لور ته د وژلو په نیت روان کړ. عبدالحق ډېرې لویې لویې کریغي او بغارې وکړې. دواړه یې په یوه وړه شپله کې وویشتل چې کله له هغوی نه راغبرګ شو. پر ډرایور عزت الله او قوماندان شاولي یې د ټوپک شپېلې وروړوله. امنیه قومندان یې پر وسله غوټه کړه: چې مشر خو یوازې د عبدالحق د وژلو امرکړی و، دا نور ولې وژني؟

په دې کش وګیر کې د بازمحمد لاس هم یو څه وسوځېد، خو ډرایور عزت الله او شاولي یې تري وژغورل چې بیا د لوګر په محبس کې ول او د ولایت له سقوطه وروسته خلاص شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مانښام د امریکاغږ رادیو خبر ورکړ چې تېره شپه امریکایي چورلکې د سی آی اې د یوه مهم مامور عبدالحق په ژغورلو کې ناکامه شوې.[1]

له عبدالحق نه وروسته د حامد کرزي وار و

حامد خان کرزی د عبدالاحد خان کرزي زوی دی. عبدالاحد خان کرزی د ۱۹۹۹ د جولای پر څوارلسمه چې تازه د امریکا له سفره راستون شوی و. د پاکستان د کوټې ښار ستېلایټ ټاون له یوه جومات سره ناڅرګندو وسله‌والو وواژه.

د کرزي پلار په کندهار کې یو مخور خان و. د ظاهرشاه په واکمنۍ کې د ولسي جرګې مرستیال پاتې شوی و. هغه د محمد ظاهر شاه له کلکو پلویانو څخه و. د عبدالاحد خان د کورنۍ څه غړي له شوروي یرغله وروسته په امریکا کې مېشت شول او د امریکا د متحده ایالاتو تابعیت یې ترلاسه کړ. هغوی د امریکا له څارګرو ادارو سره د افغانستان په برخه کې کار کاوه. د هغوی ډېری ځوانانو ته هلته روزنه ورکول شوه چې په دې کې حامد کرزی هم و چې د افغان جهاد پر مهال د سي آی اې یو باوري مامور و او د شوروي ضد جګړه کې یې له مجاهدینو سره نږدې کار وکړ.

هغه د ستېنګر توغندیو د وېش کنترولوونکی هم ګڼل کېده. حامد کرزي د خپلې قبیلې په مشرتوب کې د پلار ځای ناستی شو. د کرزي د ځینې دوستانو او خپلوانو له قوله: کرزي له سیاسته سربېره د شپې اوږدې ناستې او ګپِ شب شوق درلود. د نشه لرونکو تابلېټونو د خوړلو ترڅنګ د چرسو د نشې خبرې هم پسې کېدې.

[1] دا کیسه د لوګر د استخباراتو د رییس مولوي مخبت، امنیه قومندان مولوي بازمحمد، د ننګرهار د استخباراتو د چارواکو او د طالبانو دهغه وخت د پېښور د چارواکو له خولې لیکل شوې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د نورو وروڼو خلاف نړۍ تر څلور څلوېښت کلنۍ پورې بې واده و. هغه وخت چې ما کرزی نه پېژاند، په اړه يې راته د امريکا غړو د پښتو ژانګې مشرې سپوږمۍ میوندۍ ویلي و چې حامد کرزی د سي آی اې د سازمان مخکښې غړی دی. د هغه او خليلزاد موټر په واشنګټن کې د سي آی اې د دفترونو په دروازو کې نه درول کیږي!

د يو زيات شمېر کتونکو په اند د امريکا د يرغليزې جنګي ستراتيژۍ په فهرست کې عبدالحق له کرزي وړاندې و، که مړ نه وای ښايي د لومړۍ لنډ مهالې اداري مشر به عبدالحق وای.

د طالبانو د رژيم او امريکا ترمينځ د لانجو تر ولاړېدو وړاندې کرزي او پلار يې له طالب مشرانو سره نړدې اړيکې لرلې. له هغه وروسته چې د رباني د حکومت پر وخت کرزی د خارجه چارو مرستيال وزير و او بيا د مسعود د سړيو له خوا په کابل کې تر شکنجې او ډبولو وروسته مات سر او شليدلی ګرېوان جلال اباد ته په تېښته بريالی شوی و، کرزي له همدې امله مسعود سره بغض درلود، خو کله چې سي آی اې د مسعود نېغه مرسته پيل کړه نو کرزي ته له مسعود سره د نړدې کار هدايت وشو. دلته کرزي يواځې هغه څه کولای شول چې سي آی اې ورته ويل. نه د ده خپله خوښه او انتخاب.

د طالبانو له خوا د کابل له نيولو وروسته کرزي غوښتل طالبانو سره نړدې کار وکړي. د هغه پلار به ډېر ځله په کندهار کې د طالبانو په مېلمستونونو کې ليدل کېده. هغه د کندهار له لومړي والي ملا محمدحسن، د هرات والي ملا يار محمد، د طالبانو لومړني ویاند ملا خيرالله خيرخوا، مولوي احسان الله احسان او د طالبانو لومړي خارجه وزير ملا محمد غوث سره نړدې اړيکې لرلې.

کله چې درېو هېوادونو د طالبانو امارت د افغانستان د حکومت په توګه په رسميت وپېژاند. طالبان په نړۍ کې د ديپلوماتيکو اړيکو د پراختيا په لټه کې شول او په دې کې د ملګرو ملتو نو په اداره کې د افغانستان استازولي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړینه وه. د دې لپاره حامد کرزي ځان را وړاندې کړ، خو طالبانو ته جوته شوه چې دا کار د سي آی اې پلان و. د سعودي د استخباراتو چارواکو زمور یوه هیئت ته هم دا مشوره ورکړې وه چې حامد کرزی م م ته د استازي په توګه غوره کړي چې ښایي هغوی ته هم دا خبره امریکایانو کړې وي. له ملا عبدالجلیل نه مې په دې اړه وپوښتل چې هغه وخت مرستیال خارجه وزیر و، هغه وویل ما او ملا غوث (خارجه وزیر) ملا صیب ته دا وړاندیز وکړ، خو ملا صیب په ساده ټکو کې راته وویل چې دا د امریکا خپل خلک دي، زمور به څه استازیتوب وکړي.

عبدالحق د ننګرهار، لوګر او د هېواد مرکز کابل لپاره د طالبانو پر ضد د یوه ستر قومندان په توګه غوره شوی و، چې د امریکا د هوایي برید په ملاتړ به یې د پلیو ځواکونو رول ادا کاوه، چې د ننګرهار له نیولو سره د کونړ او لغمان سرنوشت هم ټرلی و. دا کار عبدالحق ته سپارل شوی و او د کندهار، روزګان او هلمند د نیولو کار حامد کرزي ته سپارل شوی و. چې د ګل اغا شیرزي، جان محمد خان او د هلمند د غفار اخنزاده د کورنۍ په ګډون د کندهار، هلمند او روزګان ډېر زاړه قومندانان ورسره د همکارۍ لپاره په تماس کې وو.

حامد کرزی له یوولسم سپتمبر نه وروسته په پاکستان کې د سي آی اي له مرکز سره په لوی کندهار کې د طالبانو پرضد د جنګي پلان پر جوړولو بوخت و؛ چې پر افغانستان د امریکا یرغل پیل شو. څو ورځې وروسته کله چې د سي آی اي لخوا داخل ته د تلو امر ورته وشو، نو له پاکستانه د سي آی اي له مزکز او د امریکا له هوایي ځواک سره د منظمې اړیکې پرمټ د هیواد داخل ته روان شو.

په دې اطمنان یې له کوټې ښاره د هېواد داخل ته سفر پیل کړ چې د خطر پر وخت به یې امریکایي الوتکې ژغوري. هغه اول د روزګان مرکز ته نژدې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

"سرمرغاب" دښته کې لیدل شوی و. د ولایت د قوماندانۍ او استخباراتو له خوا تعقیب شو. بالاخره د نومبر په دوهمه د روزګان له مرکز سره د درجې غره کې د سمیز مشر درمان شاه له زوی لعل محمد سره و، چې طالبانو برید پرې وکړ. دا وخت له ده سره وسله‌وال ملاتړي هم ول. په برید کې له دوي هغه ۶۰۰ میله وسله طالبانو ونیوله چې په دې غره کې د امریکایي الوتکو لخوا ورته غورځول شوې وه. کرزی له برید ه روغ ووت خو د تښتې پر حال د طالبانو تر تعقیب لاندې و. پر بل سبا یعنې د نومبر په څلورمه کرزی له یوې ډلې پلویانو سره امریکایي چورلکو د پاکستان جیکب اباد اډې ته نقل کړ. تر دوو اونیو د پاکستان په خاوره کې د سي آی اې په پوځي بیس کې اوسېده او له هغه ځایه به یې رسنیو ته د ستلایټ تلفون له لارې ویل چې په روزګان کې یم. هغه له دوو اونیو وروسته د سي آی اې خاص کنډک سره له جیکب اباده چورلکه کې د اروزګان دهراوت ولسوالۍ ته ښرته راغی او د "ده‌جوز" په غونډیو کې یې واړول. دا وخت هرات او کابل د طالبانو له ولکې وتلي او د طالبانو جنګي ماشین کافي کمزوری و.

له کرزي سره د ترینکوټ د مرکز شاوخوا خلکو کې روزي خان (د ګرماو مانده)، خیروجان (د دیک)، محمدجان اخندزاده (د سجاول)، محمدهاشم خان (د سجاول)، مولوي لعل محمد (د پای ناوې)، معلم رحمت الله (د خانقې)، خطیب اخندزاده (د کوټوال) او معلم عبدالقادر ملګري ول.

روزي خان یې جنګي قوماندان و. ملا تور یا مولوي تور هم د هغه جنګي سړی و خو د مقاومت او جنګ روحیه یوه هم نه لرله، فقط ځانونه یې له طالبانو ساتل.

د ترینکوټ ښار له سقوطه وروسته له کندهاره یو کاروان د کرزي د نیولو لپاره وخوځېد خو د امریکایي الوتکو تر بمبار لاندې یې درانه تلفات ولیدل او هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په رسېدو بريالي نه شول. له هغه وروسته کرزی د کندهار شاولي کوټ ته راغی، چې بيا تر هغو په شاولي کوټ کې و چې د کندهار تر سقوط لږ وړاندې د طالبانو يوه هيئت ورسره وليدل او ملا نقيب ته د کندهار پر سپارلو يې موافقه ورسره وکړه.

کندهار سقوط وکړ او کرزی د بون د پربکړې په نتيجه کې د نوې موقتې ادارې د مشر په توګه کابل ته په امريکايي چورلکو کې د سي آی اې له خاص کنډک سره انتقال کړای شو.

يرغلګرو او دوستم زرګونه تسليم شوي طالبان قتل عام کړل

کله چې د هرات له سقوطه وروسته په کابل کې هم جنګي خطونه ټينګ نه شول، نو هغه اميد هم ورسره ختم شو چې د زور له لارې به د بامیانو لار بېرته پرانيستل شي او په کندوز او شمال کې څه کم لس زره محاصره طالبانو ته به بېرته لار خلاصه شي.

دغه طالبان له يوې خوا تر سخت هوايي بمبار لاندې وو، له بلې خوا ټولې لارې وربانديې بندې شوې او دا محاصره وار په وار تنګېده. د ټلوالې جنګيالیو ته د امريکا له کشفي الوتکو نه کوردينات هم ورکول کېدل او د طالبانو مرکزونه هم دقيق په نښه کېدل چې له سخت بمبار وروسته به طالبان نښه وځپل شول بيا به هغه ځای ته د ټلوالې جنګيالي ورمخ ته کېدل.

دوستم او د ټلوالې له قومندان داود سره اړيکې روانې وې. دواړو خواوو د تسليمۍ په صورت کې د سر د امان او ساتنې ډاډ ورکاوه. مشرتابه د دغو محاصره طالبانو ژوند ته اولیت ورکاوه ځکه چې جګړه ناشوني وي نو د دغو جنګيالیو شخصي حق دا دی چې د خپلې کورنۍ، اولادونو او مور او پلار لپاره خو ژوندي پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو باور درلود چې که دغه کسان تسلیم شي نو د نړۍ‌والو قوانینو، بشري ادارو او امریکایانو د نظارت او مستقیمې مداخلې په وجه ښایي ونه وژل شي، ځکه پر دغه معامله دا ټول جهتونه وار د مخه خبر او متوجه وو. په اسلام اباد کې نړۍ‌والو ادارو سره هم دا خبره شریکه شوې او هغوی ته ابلاغ شوې وه.

دلته کندهار کې خبره د دې کار په جواز او نه جواز کې روانه وه. ستر مفتي مولوي عبدالعلي صیب سره خبره شریکه شوه هغه وویل که د تسلیمېدو په صورت کې د هغوی سالمیت یقیني وي نو تسلیمدل ورته روا دي، خو هلته کندوز کې ډېرو مشرانو ته دا خبره ناروا ښکارېده چې د همدې لپاره هغوی سره مولوي عبدالعلي صیب پر سټلایټ تلفون وغږول شو. وروسته هغوی د تسلیمېدو په اقدام لاس پورې کړ خو کومو قوماندانانو چې دا فیصله نه منله هغوی ځانونه تري تم کړل چې په هغوی کې بارزه څېره شهید ملا داد الله و.

ملا داد الله د بلخ په مربوطاتو کې د ځینو متعلقینو په همکاري په یو کور کې پټ شو او له بي بي سي سره یې مرکه کې وویل چې زه همدا اوس کندهار ته ورسېدم.

په دې سره د دوستم او حزب وحدت یقین وشو چې داد الله له سیمې وتلی، نو ځکه یې د هغه پلټنه پرېښوده چې دا د ملاداد الله یو کامیابه تاکتیک و. بیا چې کله د طالبانو واکمني مکمله ونړېده، داد الله د سیمې د یوه قاچاقبر په مرسته چې دی یې نه پېژاند. ځان لومړی خوست او بیا وزیرستان ته رسولی و.

تسلیم شوي طلبان په دستوري ډول د دوستم او بهرني استخباراتو ترمینځ ووېشل شول. مشران لکه د بلخ والي او تنظیمه رییس ملا نور الله نوري، د جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي قوماندان ملا محمد فاضل او څو نور قوماندنان يې له څه مودې وروسته امريکايانو ته وسپارل چې بيا تر تبادلې پورې ګوانتانامو کې وو.

نور يې په څو مرحلو کې قتل عام کړل. وروسته په تفتيش کې يې چې کوم پاتي قوماندنان پېژندل هغه يې هم امريکايي قواو ته وسپارل. په دې قتل عام کې له تسليمېدو وروسته هم بيا بيا دغه اسيران بمبار شول او بيا چې د جنګي قلعه په محبس کې د بنديانو د مسلسلو وژلو نه بنديان په خپله قتل عام پوه شول او په دفاع يې لاس پورې کړ نو بيا خو امريکايي الوتکو ته نوره هم بهانه جوړه شوه او د بمبار له لارې يې د دې ستر محبس ټول بنديان قتل عام کړل.

په بله مرحله کې زرګونه طالبان په کانتينرونو کې واچول شول او دروازې يې وتړل شوې چې کله به له ډبرې تندې او د ساه بندېدو له امله د هغوی چيغې او زوږ زيات شو نو پر کانتينر به مرمۍ فاير شوې چې دې کې به څوک ووژل شو او پاتې کسانو ته به د اکسيجن سوري پيدا شول.

څو ژوندي پاتي شويو بنديانو همدغه کيسه داسې کړې وه چې کانتينرونو کې به ډبرو ملګرو د تنفس بندۍ له امله سا ورکوله او پاتې کسان به له تندې بې هوشه سول او بيا به يې يوه دبنته کې وغورځول چې څوک به ژوندی پاتې و هغوی به يې په ګوليو پر سر سر وويشتل.

څه وخت وروسته د نړۍ ځينې ادارو په دې اړه رسنيزې چيغې وکړې، اعلاميې يې هم خپرې کړې خو څرنګه چې دوستم د امريکايي يرغل وفادار عسکر و نو په دې کار نور هم تقدير شو.

د کرزي واکمنۍ نه څو مياشتې وروسته مزار ته يو هيئت لاړ چې په دې هيئت کې د کرزي مشاور د زابل مولوي صديق الله هم و. هغه داسې کيسه کوله چې موږ ته دا هر څه تفصيلي معلوم شول، خو د هيئت بل مهم غړي عبدالباري

(c) ketabton.com: The Digital Library

حهاني (ليکوال او شاعر) وويل مورِ بايد دا خبره پټه کړو ځکه په دې -د هغه په وينا- د جلالت مآب کرزي صيب حثيت ته تاوان رسيږي!

په توره بوړه کې د القاعده د مشرانو برخليک

د کابل له سقوطه وروسته ننګرهار او ورسره ترليو ولايتونو کې حالات نور له کنترولە وتونکي وو. د ننګرهار والي او د مشرقي زون تنظيمه رييس چې د وزيرانو شورا مرستيال هم و، د لغمان کابل تر مينځ دوه ځايه د فاعي کرښه حوړه کړه. يو د سروبي لغمان ترمينځ ورښمين تنګي سره، بله سرخکانو سره او درېيمه د جلال اباد کابل پر لويه لار. د ننګرها پوځي چارواکي له ښاره ووتل يواځې د امنيه قوماندانی، د فرقې ځينې ځايي قوماندانان او يوه وړه قطعه وسله‌وال له مولوي عبدالکبير سره پاتې ول. مولوي عبدالکبير ته د وزيرانو شوری بل مرستيال ملا محمد حسن مشوره ورکړه چې د کابل له سقوط وروسته په ننګرهار کې مقاومت زيات وخت نه شي کېدای، ځکه د مشرقي شورا د قوماندانانو او امريکا د هوايي بريدونو په وړاندې جګړه نښايي له ځاني تلفاتو پرته بله لاس ته راوړنه ونه لري.

له دې وروسته مولوي عبدالکبير ملا محمد عمر ته حال واستاوه چې دا وخت ورسره نېغه رابطه نه شوای کېدلای. له هغه لوري نه هم له ښاره د وتلو ورته وويل شول. والي مولوي عبدالکبير خپل معتمد ځايي قوماندان معلم اول ګل چې له مولوي محمد يونس خالص سره يې پخوانۍ جهادي اړيکه وه له يو دوه نورو اعتمادي کسانو سره راوغوښتل او ګډه مشوره يې په دې راغله چې مولوي خالص د مشرقي زون تنظيمه ريس ونوموي. زوي انوار الحق مجاهد به د جلال اباد اداره سنبال کړي او معلم اول ګل به پوځي چارې لاس کې واخلي. په دې سره به د طالبانو له وتلو وروسته اداره له طالبانو جدا ونومول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي عبدالکبیر اسامه او ایمن الظواهري ته د مرحوم انجینر محمود د یوه همکار په واسطه حال واستاوه چې هسې نه ننګرهار کې ستاسې پاتې کېدل درته ستونزې جوړې نه کړي، نو تاسو له موږ سره د ازرې له لارې د خوست او پکتیا پلو ولاړ شئ، خو هغوی وویل چې موږ مشوره کړې په توره بوړه کې پاتې کیږو. مولوي عبدالکبیر ورته ځواب کې حال ور واستاوه چې اول خو موږ سره لاړ شئ او که خامخا پاتې کیږي نو بیا تر توره بوړه د خوګیانو د وزیرو تنګی درته ښه دی ځکه چې دا هم د ارزي او حصارک لور ته لار لري، هم د ځائیو لور ته له پکتیارسره لار لري او هم د پاکستان پاڼه‌چنار پلو اوښتلی شوای، خو هغوی بیا هم توره بوړه غوره کړه.

دا وخت مولوي عبدالکبیر ته د دفاع وزیر ملا عبیدالله - چې دا وخت لوګرکې و- حال راواستاوه چې له ښاره ژر ووځئ او پام چې د لوګر پلو پر حصارک رانه شئ، ځکه چې لاره درته نیول شوې ده.

مولوي عبدالکبیر مجبوره شو چې د پاکستان سرحد سره پر غرنۍ لاره له خپلو لسګونو ملګرو سره دوه ورځې مزل وکړي. له دوو ورځو مزله وروسته هغوی خوست ته ځانونه ورسول او بیا مولوي عبدالکبیر له یو څو تنو سره د پکتیا د ځدرانو سیمې ته لاړ. کله چې دوه ورځې وروسته مشرقي شورا ننګرهار ته رادننه شوه نو انوار الحق محاهد یې د ولایت له اداري لېرې کړ. د اطلاعاتو کلتور رئیس یې وټاکه. د حاجي قدیر په مشرۍ مشرقي شورا پر ولایت حاکمه شوه. ورسره لغمان او کونړ هم د سیمه‌ییزو قوماندانانو په ولکه کې راغلل.

حاجي قدیر مولوي محمد یونس خالص -چې دا وخت د بدني ضعف له امله د خبرو هم نه و د جلال اباد قصر شاهي مانۍ کې ځان سره په یوه غونډه کې کښاوه چې وښییي مولوي خالص هم د ده ملاتړ کوي- خو مولوی خالص او زوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په جلال اباد کې د لنډ وخت تاکتيکي پاتې کېدو وروسته مهاجر شول او د امريکايي يرغل په خلاف يې د جهاد اعلان وکړ.

معلم اول ګل چې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم د څلورمې لوا قوماندان و او زغرواله قوه يې سمبالوله، د طالبانو له وتلو وروسته هم د مولوي محمد يونس خالص او طالب چارواکو په مشوره پر خپله دغه دنده پاتې شو او مشرقي شورا هم د زاړه شناخت په وجه هغه لېرې نه کړ.

کله چې پر توره بوړه د امريکايي الوتکو بمبار روان و او امريکايي مقاماتو داخلي قوماندانانو ته د ځمکنيو عملياتو امر وکړ، دا وخت معلم اول ګل شيخ اسامه ته حال واستاوه چې زه له خپلو قواوو سره تورې بوړې ته درځم. پر شاوخوا غرونو خطايي ډزې کوم چې د نورو امريکا پلوه قوماندانانو تر راتګه وړاندې تاسو ته د وتلو لار برابره کړم. شيخ دا خبره ومنله خو ځينې ملګري يې بيا هم بدګومانه وو.

معلم اول ګل همداسې وکړل او په دې سره يو شمېر نورو مخلصينو او معلم اول ګل دعربو مهاجرو کورنۍ له سيمې ويستلې.د مولوي محمد يونس خالص مرحوم کور د عربو د ميرمنو اوماشومانو لپاره پنا ګاه وه، د هغه کورنۍ د دغو ميلمنو تر اخيره بې ساري مرسته وکړه او په محفوظه توګه يې تر خپلو منزلونه ورسول، د شيخ اسامه او ډاکټر ايمن ظواهري لپاره يې داسې ترتيب جوړ کړ چې د حاجي عبدالاحد په نوم يوه مجاهد اسامه او ظواهري له تورې بوړې د ننګرهار تر وزيرو ورسول چې لار کې يو ځل د ځايي ټوپکيانو له کمينه په لږ فاصله کې بچ شول. له وزيرو ورسته د ننګرهار تر ښاره معلم اول ګل هغوی خان سره بوتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا وخت د خارجي او داخلي منابعو ټوله توجه د شيخ اسامه او ظواهري لټون ته وه. د مشرقي شورا په قوماندانانو کې څو مهمو کسانو لکه حضرت علي او زمان غمشريک پر معلم اول پوره شک کاوه. تر دې وړاندې چې معلم اول ګل دغه دوه عرب مشران کوم لور ته وباسي، حضرت علي د قوماندان معلم اول ګل لوا ته راځي او هغه مخاطب کوي چې دا خلک تا سره دي او امريکا يې خامخا غواړي او ښه به دا وي چې تسليم يې کړې خو اول ګل په داسې حال کې چې په څو متره فاصله کې يې د ډاټسن په سيټ کې دواړه شيخان کښولي، حضرت علي ته ناخبري ښيي او انکار کوي.

دا وخت د حضرت علي يو تن وسله‌وال دغه موټر ته په ځير ځير ګوري. معلم اول ګل فيصله کړې چې که حضرت علي د موټر پر لور ورغی يا يې د موټر د لټون هڅه وکړه نو دی به يې ځای پر ځای ضربه کوي، خو بالاخره د قوماندان حضرت علي شک خيژي او له لوا وځي. له دې وروسته معلم اول ګل دواړه شيخان په خپل موټر کې د بهسودو پر پله د کونړ لور ته اړوي او هلته بيا نور مخلص قوماندانان دواړه شيخان غرنيو سيمو ته رسوي او په دې ډول دواړه عرب مشران د دښمن له منګولو ژغورل کيږي.

د کندهار د سقوط وروستۍ ګړۍ او له ښاره د ملا محمد عمر وتل

مشر يو څه وخت د نړدې او کليدي چارواکو په تاکيد له مواصلاتي وسايلو کار نه اخيست، خو کله چې په شمال کې ماتې ګډه شوه، مشر په مخابره وينا وکړه او تر وروستۍ سلګۍ د مقاومت تلقين يې ټولو جنګي کرښو ته ورکړ. بيا يې په رپيټر مخابره ځان حاضر کړ. مرکزي مخابرې د ټول هېواد په کچه هغه ته معلومات ورکول او هغه د مقاومت او دفاع لپاره تازه دمه تشکيلات کول. اخير چې د کابل ښار هم طالبانو تخليه کړ. د لوی کندهار لپاره يې ځينې قوماندان غوره کړل چې د دې سيمې دفاع وکړي. هغه قوماندانانو او مشرانو چې د هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نورو برخو کې يې هر يو سلګونه جنګيالي د امريکا په بمبارۍ کې له لاسه ورکړي وو، د خپلې تجربې له مخې ويل: چې ښار او په ښارونو حکومت کول او ورسره دفاع وجګړه نوره ناشونې ده، ځکه الوتکې معلوم مرکز او دفترونه په اسانۍ په نښه کولای شي.

په دې جر و بحث کې ځينو د ملا محمد عمر خبره تاييدوله او ځينو سترو قوماندانانو د مقاومت لپاره نوې طريقه يعنې د حکومت او ښارونو پرېښودل غوره ګڼل. بل پلو د قومي ملېشو حوصله لوړيدله. کابل، شمال او هرات سقوط کړی و. پر طالبانو سخت بمبار د امريکا ډېر بې زړه پلويان هم نور له طالبانو سره جګړې ته زړور کړل. بالاخره د قوماندانانو متزلزل دريځ او له مخالفينو سره د ځينو رابطې مشر دې ته اړ کړ چې دوی ته ووايي تاسو چې د ځان په حق کې هره پرېکړه کوئ، زه ستاسې خپل اختيار تاسو ته سپارم، خو کوم خلک چې تر اخيره د ښار مينځ کې جګړه کوي هغوی دې له ما سره وي. زه تر وروستۍ سلګۍ جنګېږم يعنې د جنګ پرېښودو موجه او شرعي دليل نه لرم.

په هغو قوماندانانو کې چې ملا محمد عمر سره يې تر وروستۍ سلګۍ د ښار دننه د جګړې او دفاع فيصله وکړه يوه هم د شمال د کرښې نامتو قوماندان ملا عبدالرزاق نافذ و چې د اروزګان اوسېدونکی و.

ملا عبدالرزاق نافذ د تخار او مزار په فاتحانو کې شمارل کېده اوسپنيز قوماندان و او له دې سره سره بې رحمه هم نه و. عاجز او خاکسار سړی و، له بيت المال سره تر دې کچې محتاط و چې کله د کندهار له پرېښودو وروسته ملا محمد عمر هغه ته يوه لويه اندازه پيسې د دې لپاره ورکړې چې د خپل شخصي مصارفو په توګه او د بيا پيلېدونکې چريکي جګړې لپاره به يې مصروفوي، نو هغه له دې پيسو نه يوه روپۍ هم په شخصي مصارفو کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګوله. ان چې کور کې يې د خوراک څه نه وو، د کلي څو مشرانو د هغه پلار ته څه پيسې سره ټولې کړې چې د کور ژوند وربانديې روان کړي.

هغه ته په جګړو کې د زياتو تکاليفو او بې خوبيو له امله د اعصابو تکليف ور پيدا شوی و. د طالبانو د حکومت له سقوطه وروسته په پټه کراچۍ ته د تداوۍ لپاره لاړ. هلته د مالیې پخواني وزير اغا جان معتصم وربانديې تداوي پيل کړه. ډاکټر ورته وويل چې څو هفتې دې ارام او استراحت وکړي. معتصم هغه يوه ورځ يوه قيمتي ځای ته د خوراک لپاره بهولی و، هغه چې دا مصرف ليدلی و نو معتصم ته يې بد رد ويلي وو، تداوي يې مېنځ کې پريښوده او روزګان ته له رسيدو سره سم يې په مقاومت پيل وکړ، له څو مياشتو جګړو وروسته دامريکايي الوتکو په بمبار کې شهيد شو.

د کندهار د سقوط پر مهال له عبدالرزاق نافذ او څو نورو قوماندانانو سره دا فکر پيدا شو چې که نور خلک جګړه پربردي او مورږ د ښار مينځ کې پاتې يو، هسې نه امريکايان الوتکو نه څه داسې ترتيب جوړ کړي چې ملا محمد عمر له مقاومته وړاندې ژوندی ونيسي. ملا صيب ورته وويل چې که په ښار کې جګړه ناشونې ده نو د ښار جنوب لوري "محلهجات" طرف ته وځو او خپله وروستۍ جکړه پيلوو. نافذ وويل ملا صيب! دا ډول جګړه به څنګه روا وي چې يواځې زمورږ وژل کېدل په کې يقيني وي! بل ستا وجود د راتلونکي لپاره د مقاومت زړه دی، نو څه ضرورت دی چې ناکامه جګړه کې ځان قربانوو؟ ولې ستاسې د حفاظت تصميم ونه نيسو او له ښاره به ووځو،نور ملګري به هم راټول کړو؛ په نوي ترتيب به کارونه منظم کړو. دلته نور مورږ هيڅ نه شو کولای خو د ملا محمد عمر وروستۍ جمله دا وه چې د دې خونې تر دروازې دې راشي چې زه وربانديې وروستۍ ضربه وکړم. نافذ ويل کېدای شي ضربې ته وخت درنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره ملا محمد عمر د نافذ او ملګرو خبر ه ومنله. له دې وروسته ملا محمد عمر د هوانوردي وزير ملا اختر محمد منصور ته حال واستاوه چې چې د کندهار هوايي ډګر سره ميشتو عرب مجاهدينو ته ووايه چې مور له ښاره وځو. تاسو بايد يواځي پرښږدو. زمور غوښتنه دا ده چې تاسو هم ځانونه وباسئ. د عربانو د کورنيو او ماشومانو له ښاره ويستل د ملا محمد عمر په غوښتنه له دې نه يوه هفته مخکې پای ته رسېدلې و، خو په عربانو کې هغه خلک چې ځان يې تر وروستۍ سلګۍ جګړې ته وقف کړی و او فدايي بريدګر هم په کې وو، هغوی پاتې شول.

دا وخت د دفاع وزير ملاعبيدالله په مشرۍ سيد طيب اغا او حاجي امير محمد اغا په شاولي کوټ کې له کرزي سره ليدلي وو او ملا نقيب ته يې د ښار سپارلو پر سر موافقه کړې وه، خو بيا وروسته امريکايانو د شېرزي په مشرۍ ملا نقيب پرښښود او ښار يې شېرزي او ورسره ملېشو ته وسپاره.

ځنګه چې ملا محمد عمر او د عبدالرزاق نافذ په مشرۍ نورو ملګرو د کندهار ښار د کرشک اډې خوا کې په خپل وروستي مرکز کې اړولي وو، ملا عبدالرزاق نافذ په دې قادر شو چې ملا محمد عمر قانع کړي چې زابل ولايت ته لاړ شي. د کندهار تر نيولو يوه ورځ وړاندې ملا محمد عمر له ځو وسلهوالو ملګرو سره زابل ولايت ته لاړ او د سرخګانو په سيمه کې يې د زابل د طالبانو ځينې مهم قوماندانان راوغوښتل. د جګړې د بيا پيل پر طريقه او طرز يې ورسره مشوره وکړه. هغه طالب قوماندانان چې په دې غونډه کې وو اکثر يې اوس په دنيا کې نه شته. لکه عبدالرزاق نافذ، ملا روزي خان، ملا محمدګل نيازی او ځينې نور.ملا ممحد عمر دوي ته له ورستيو هداياتو وروسته له ځو خاصو ملګرو سره له سروګانه د سيوري اوشينکي ولسوالیوته لاړ، خو امريکانو د طالب چارواکو د نيولو او وژلو هڅوته زور ورکړی و، چې په دې کې يې په اسلام اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د طالبانو سفیر هم د یوه دیپلومات په توګه معاف نکړ، بلکې د یوه نظامي قوماندان په دود یې اسیر کړ.

د عبدالسلام ضعیف نیول او سپارل

د کندهار له سقوطه وروسته په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر ته د کوربه هېواد ځینې شبکو ویلي وو چې تا ته د یوه دیپلومات په توګه اصولي خطر نه شته، ارام اوسه خو بیا هم ښاغلی ضعیف کومې سرحدي سیمې ته تللی و او له هر چا سره یې اړیکې شلولې وې. د هغه یوه پېژندوی چې ده پرې ډېر باور لاره، ضعیف ته په پوښتنو او پلټنو ځان ور رسولای و او اطمنان یې ورکړی و چې ښېرته اسلام اباد ته خپل کور ته ځان ورسوه! ما له کوم بهرني هېواد او ځینو بشري ادارو سره ستا د پنا اخیستلو او حفاظت خبره کړې ده. ضعیف په همدې خوشباوري په لوی لاس اسلام اباد ته راوغوښتل شو چې سي آی اې یې ونیسي.

د ضعیف دغه ملګری احمد راتب نومېږي او د حامد کرزي له نږدې خپلوانو دی او د سي آی اې د سازمان خفیه غړی دی، خو د کاروباري او سیاسي لینونو په توسط یې د ضعیف په زړه او دماغ کې د یوه وفادار ملګري په توګه ځای موندلای و. د معادن او صنایع وزیر مولوي احمد جان وایي څو ځله مې په کابل کې له راتب سره په افغاني کالیو کې یو امریکایي لیدلی و چې راتب به چارواکو ته د بي سیم تلفون د کمپنۍ یا د نفتو د انجینر په توګه معرفي کاوه. اوس راته جوته شوې چې هغه د سي آي اې غړی و.

ضعیف د مشرف په امر آی اس آی- سي آی اې ته په پېښور کې وسپاره، چې بیا همغه وشول چې ښاغلي صغیف یې په اړه ټوله کیسه په خپل کتاب کې لیکلې ده. په ټولیزه توګه څه چې له ضعیف سره وشول دا د بشر په تاریخ کې د یوې دولتي اداري لپاره کم ساری جنایت و او د پاکستان لپاره یوه داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرم‌اوره پېښه وه چې د يوه اټومي هېواد په توګه د پاکستان لپاره دومره ستره سرټيټي ښايي په تاريخ ډيره کمه بېلګه و لري.

ځينې طالب چارواکي له چين سره د روابطو د هڅو ناکامولنکی او افشاګر هم راتب ګڼي. چې کله د امريکا د فشارونو د زياتېدو پرمهال مشرتابه د ملا محمد عمر په امضاء د چين ولسمشر ته ليک واستاوه. غوښتل يې د عبدالسلام ضعيف په لاس د په اسلام اباد کې د چيني سفارت له لارې له چينايي مقاماتو سره د خفيه تماس په لړ کې دغه ليک دچين ولسمشر ته ورسوي.

ويل کيږي چې ښاغلي ضعيف دا ليک راتب ته ورکړی و او راتب ښايي سي آی اې خبره کړې وي چې له امله يې چينايانو ناڅاپه شا ته قدمونه واخيستل. کله چې عبدالسلام ضعيف له بنده خوشې شو نو افغانستان ته په راتګ دکابل هوايي ډګر ته راتب څو قيمتي موټر د هغه استقبال ته وروستل چې غالبا همدا موټر به هم د سي آی اې په پيسو رانيول شوي وو. د راتب رښتيني څېره اوس ښاغلي ضعيف هم پېژندلې خو له مجبوريته ښکاره څه نه شي ويلای!

بل خوا راتب چاته ويلي و چې زما هدف د ضعيف داسې سپارل نه و، چې هغه امريکا ګونتانامو ته يوسي، بلکې ما غوښتل چې له لنډه زندانه وروسته ضعيف سپين شي او له ماسره يوځای کابل کې په بزنيس بوخت شي او د ژوند چارې په عادي ډول پر مخ بوزي، چې دا خبره نو د خالد پښتون هغه بهانې ته ډير ورته ده چې د متوکل په اړه يې کوله، خو نه متوکل او نه هم ضعيف په دومره اساني خلاص شول، بلکې دواړو يې سخت او درانه زندانونه وګالل.خو وروسته په کابل کې د دا ډول زړو طالبانو په شتون سي آی اي هم خوښه وه، ترڅو داسي طالب چارواکي چې کوم خطر ترې نه ليدل کيږي د طالب پديدې نامستقيم ادرس او تش سمبول وګرځي، هغوي داهدف هم لاره چې دا ډول زاړه طالب چارواکي به افغان حکومت او خارجي قواوو ته د ملايانو د جلب او جذب دروازه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له سقوطه وروسته لومړی مقاومت او لومړی سنګر

کله چې طالبانو د هېواد ټولې برخې پربښودې او نور د تېر واکمن نظام مقابله تقریبا صفر شوه، نو دري میاشتې وروسته د ۲۰۰۲ د مارچ په درېیمه امریکایانو د پکتیا د زرمت شاهي کوټ دره کې د طالبانو د یو ستر مرکز پر ضد عملیات پیل کړل. د ا د ملاسیف الرحمن منصور جهادي مرکز و چې د امریکایي یرغل په وړاندې جهاد لپاره یې ټاکلی و. سیف الرحمن منصور د مولوي نصر الله منصور دوهم زوی و.

مولوي نصر الله منصور له کمونیستي کودتا وروسته په مهمو جهادي څېرو کې ګڼل کېده چې د حکمتیار او رباني ترمینځ یې د جهادي صف پر مشرۍ اختلاف ختم کړ او په دواړو یې مولوي محمد نبي د مشر په توګه ومانه او دی خپله د نوي تنظیم حرکت انقلاب اسلامي مرستیال شو. وروسته چې رباني او حکمتیار بېل شول او سیاف هم دا وخت له کابله راغی؛ مولوي صیب خالص هم ځان ته تنظیم جوړکړ. نو مولوي منصور بیاهم د مولوي محمدي مرستیال و. خو کله چې د مولوي محمد نبي په مشرۍ حرکت کې د بې مسئولیته خلکو شتون، ناوړه حرکاتو، مالي بې پروایي، د رهبریت ضعف، قرابت پالنه او په هر څه کې د محمد نبي صیب د زامنو مداخله زیاته شوه، نو مولوي منصور هم ورنه بېل شو. خو د هغه تنظیم په پاکستان کې د نورو تنظیمونو په اشاره د رسمي تنظیم په توګه ونه منل شو، چې پاکستاني مقامات هغه ته د وسلو او مهماتو سهم ورکړي. د هغه ستر تنظیم په په وړه جبهه بدل شو او هغه مجبور شو چې ایران ته مخه کړي چې دا وخت ایران هم د افغان جهاد ننګه کوله، خو د ایران مرستې سنیانو ته دومره نه وې چې یو ستر تنظیم وربانديې اکمال کړي، نه هم ایران د ټولې غربي او عربي نړۍ په څېر څوک اکمالولای شوای.

له همدې امله منصور خپله جبهه، دفترونه، مدارس، مطبوعات او د تربیت او روزنې پروګرامونه په ډېرو کمو امکاناتو ډېر فعاله ساتلي وو. هغه له ځوانې طبقې څخه د خدمت اخیستلو ځانګړی استعداد درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي منصور د نورو ترڅنګ خپل زامن هم د جهاد په روحیه تربیه کړل. هغوی کوم باندیني ستر پوهنتون ته هم خپل زامن وانه ستول، بلکې کله چې هغه ته په بهر کې همداسې فرصتونه په لاس ورتلل، نو هغه به خپلو زامنو ته ویل : په کومو مدارسو کې چې د عام افغان زوی درس ویلی شوای همغلته به تاسو هم درس وایاست.

مورِ په کشرتوب کې د شوروي ضد جهاد پر مهال د مولوي منصور دفترونه، کور او مدرسه لیدلې وه. هغه به په درې سوه پاکستانۍ کلدارو په کرایه کور کې اوسېده چې پر دروازه به یې پرده ځوړنده وه، خو له همدې کوره به دومره پاک او نظیف راووت لکه له شاهي قصره چې کوم شهزاده راووځي.

هغه په شخصي ژوند کې، منظم، باسلیقه او زحمت کشه سړی و. استراحت یې نه خوښاوه. پېښور کې په درس، تربیت او دفتري کارونو بوخت و، په هېواد کې دننه به په سنګرونو کې و، زامن یې ځان سره تل سنګرونو ته بېول.

کله چې کابل ته مجاهدین دننه شول او له حکمتیاره علاوه شپږو تنظیمونو په حکومت کې برخه واخیسته. دا وخت مولوي منصور هم کابل ته لاړ. د جهاد ساحه یې پکتیا وه. د ګردېز په نیولو کې مولوي منصور ځانګړی رول ادا کړ چې دغه فتحه منظمه وي او ګردېز د خوست په څېر چور او تالان نه شي. له همدې امله یې د سترې محکمې د مرستیالۍ پر ځای د پکتیا ولایت غوره کړ چې له امله یې د ګردېز ټول غنیمت شوي زغرەوال ټانګونه د اره کېدو او خرڅېدو پر ځای ترمیم کړل. یوه مجهزه قوه یې ورنه جوړه کړه. د دې قوې قوماندانې سیف الرحمن منصور ته ورله غاړې وه چې خپله هم ټانکسټ و او یو درجن ملګري یې هم وروزل چې بیا د طالبانو په واکمنۍ کې د ټانګونو چلولو او توپچي چارې تر ډیره د سیف الرحمن په غاړه وې.

مولوي منصور د رباني رژیم نه د ولایت د پیسو سهم راوړو او په دې کې هغه قوماندانانو ته چې د بې نظمۍ، چور او تالان شوق یې لاره ډېرې نغدې پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکولې چې د ولایت مرکز یې په همدې له بې امني او خودسرۍ ساته. د هغه نړدې ملګري وایي چې منصور صیب دغه پیسې یوه هم پر ځان او خپله کورنۍ نه مصرفولې . تر دې چې د سورلۍ موټر یې هم یو تاجر ورته رانیولی و. د طالبانو په واکمنۍ کې د هغه قرضونه ملا محمد عمر خلاص کړل. تر دې وخت یې زامنو دومره مالي توان نه درلود چې د پلار قرضونه ادا کړي.

د مولوي منصور یوه بله ځانګړتیا دا وه چې د هغه شخصیت ملي بڼه هم لرله، ځکه هغه درسونه ټول په افغانستان کې له افغاني ملایانو لوستي وو او له خپلو خلکو سره مزاجا بلد و. کله چې هغه د مجاهدینو د حکومت پر مهال غزني او زابل ته سفرونه وکړل او هلته یې غونډې وکړې، هرځوک په دې پوه شول چې هغه به ډېر ژر د دې سیمې ولسونه او علماء له ځان سره ودروي او له دې وړاندې چې په پاکستان کې هغه ته چا مخه نه ورکوله، اوس په خپل وطن کې له هغه سره مادیات هم پیدا کېدای شي چې دا به په څو ولایتونو کې د نورو تنظیمونو اثر صفر کړي.

په دې اړه تر ټولو ډېره اندیښنه له ښاغلي حکمتیار سره وه او هغه مزاجا هم د خپل حریف د وهلو او ترور تاریخ درلود. له همدې امله منصور د هغه لپاره ټارګټ و. کله چې مولوي منصور له کابله په عادي ډول ګردېز ته روان و او د ولایت سهم او بودیجه یې هم ځان سره موټر کې اخیستي وو. حکمتیار ورته لار نیولې وه. منصور چې له حکمتیار سره یې پیښور کې په یوه کاسه خوړلي وو او د ګډې مبارزې ملګری یې و، کله یې هم فکر نه کاوه، چې حکمتیار به د هغه سپکاوي کوي او د مرګ ګوانښ به ورته کوي.

دا وخت چې د مسعود او حکمتیار ترمینځ کابل کې جنګ روان و نو د منصور یو وسله‌وال هم په دې جنګ کې نه و او نه هم مولوي منصور د داخلي جنګ جواز ورکاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاراسیاب پر جنګي کرښه -چې پر توغندیو تړې د کابل مینډې بورېدې- حکمتیار د هغه موټر ودراوه او هغه یې له موټره ښکته کړ، ترڅو ساعتونو یې بندی کړ. د موټر په باډۍ کې پرتې پیسې د حزب نیستۍ ځپلیو قوماندانانو داسې لوټ کړې چې حکمتیار هم پرې خبر نه شو. د کابل یو سیمه‌ییز قوماندان د دې پېښې په اړه وایي چې د مولوي منصور له راتګه وړاندې د تور مولوي صاحب (مولوي نظام الدین) د سړیو له خوا حکمتیار ته پټ راپور ورکول شوی و چې له مولوي منصورسره نغدې پیسې دي.خو د تور مولوي صیب نړدې کسان دا تور ردوي او پروپاګند یې ګڼي، ویل کیدل چې مولوي صیب نظام الدین ظاهرا له مولوي حقاني سره و، خو اصلي ملګري یې له حکمتیار سره وه او غوښتل یې چې د حکمتیار په مرسته د ګردېز ښار تر خپل واک لاندې راولي. دغه قوماندان وایي چې د پیسو د چور پر وخت د حزب یو قوماندان ملک نذیر چې یواځې و او نور سړي یې نه وو، د دې لپاره چې له پیسو محروم نه شي، د پیسو په یوه بوجۍ سربېره پرېوت چې څوک یې رانه وانه خلي، خو نورو حزبي پاټکیانو هغه په زور لېرې کاوه چې کله هغه پنجې کلکې کړې نو یوه وسله‌وال تر ناوړه ځای ونیو او لیرې یې کړ!

له بده مرغه د ښاغلي حکمتیار په څیر سخت دریځې لیډر په وړاندې په دومره وحشیانه ډول د پیسو چور او بیا د حزب د نسبتاً نیکنام قوماندان حاجي کشمیرخان پر پاټک دا ډول لړزونکي حرکات د دې حکایت کوي، چې داخلې جګړې له ښکیلو غاړو د قاتلانو ترڅنګ لاره وهونکي لوټ ماران هم جوړکړي وو.

د پیسو له چوره وروسته بیا د مولوي جلال الدین حقاني په همکارۍ دا محاصره ماته شوه. مولوي منصور کابل تلویزون سره د دې بند په اړه خپله مرکه کې وویل: "دوی راته وویل مور تاسې وژنو، ما ورته وویل چې مور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي درس راکول شوی چې مرګ او ژوند یواځې د الله په لاس کې دی". دې ته ورته پېښه له مولوي محمد یونس خالص سره هم شوې وه چې د حکمتیار د قوماندان زرداد له خوا په سروبي کې درول شوی و او بیا د مولوي جلال الدین حقاني د وروڼو په مینځګړتوب یې لاره خوشې شوه، خو مولوي خالص یې له موټره نه و کوزکړی،ځکه چې هغه د قومندانانو او ګڼ شمېر وسلوالو په یو ستر قطار کې روان و.

میاشت لا نه وه پوره چې د کابل ګردېز پر لار د مولوي منصور پر موټر چاودنه وشوه او له هغه سره دې موټر کې د لوګر یو تن مشهور ديني عالم مولوي ظبطو خان هم ژوند له لاسه ورکړ. د مولوي منصور د ترور په اړه یو اټکل دا و چې ماین په همدې لار کې ورته خښ شوی و او بل اټکل دا و چې د حکمتیار له خوا د نیولو پر وخت د هغه موټر کې ماین ځای پر ځای شوی و. کله چې د مولوي نصر الله منصور موټر پر ماین والوزول شو نو د حزب سیمه‌ییزو قوماندانانو پر مخابرو یوه او بل ته مبارکۍ ورکولې.

کله چې د طالبانو له خوا د چار اسیاب سیمه ونیول شوه نو د طالبانو په مخکښو ځواکونو کې ملا سیف الرحمن منصور هم د قوماندان په توګه و. د سیف الرحمن منصور له یوه ملګري مې اوږدلي چې هغه د حکمتیار له تېښتې وروسته د هغه کور ته ورغی او د هغوی کورنۍ جامي او مخصوص پاتې شوی سامان یې ځادر کې پټ کړ. بیا یې یو بلدي کس پیدا کړ او امانت یې ورکړ ورته ویې ویل: "دا ورسوه او حکمتیار ته ووایه چې ما ته ستا عزت د ځان عزت ښکاري. تا زما د پلار لار ه نیولې وه او بیا دې د هغه توهین کړی و خو ما ته پلار همداسې تربیه راکړې چې ستا عزت هم خپل عزت ګڼم!"

سیف الرحمن منصور د منصور پلار تر تربیې لاندې لوی شو او بیا یو جنګیالی تړې جوړ شو، خو داسې جنګیالی نه و چې رحم او انصاف ونه لري. هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپې د اوږدو لمونځونو عادت درلود. د بیت المال له پیسو او موټر سره یې د افراط تر حده احتیاط کاوه. یو ملګری یې وایي چې د خپل ورور په واده کې یې له دې امله ګډون نه کاوه چې د ده حکومتي موټر په کې د شخصي سورلۍ لپاره استعمال نه شي.

کله چې د نومبر په دولسم دفاع وزارت د کابل د تخلیې پرېکړه کړې وه او وسله‌وال طالبان له کابله د وتلو په حال کې وو. ویل کېدل دا پرېکړه د یوې خفیې معاهدې له مخې چې وتونکي طالبان به نه بمبار کیږي شوې وه، خو دا وخت دوه نامتو قوماندنان له دې پېښې ناخبره وو چې یو یې مولوي جلال الدین حقاني او بل یې ملاسیف الرحمن منصور و. دواړو له کابله تر وروستۍ سلګۍ د دفاع هوډ درلود چې له دې پرېکړې په خبریدو یې سخت احتجاج وکړ، خو دا وخت احتجاح هم بې ګټې و.

هغوي دوه په دوه نه شوای کولای چې دا دفاع جاري وساتي ځکه چې د اکثریت وسله‌والو په وتلو ټینګار له یو ډول ګډوډۍ سره مخ و. دوی دواړه د دې لپاره چې کوم ځوک یواځې پاتې نه شي او همداراز په روغتونونو کې زخمي طالبان راټول کړي، واټ په واټ وګرځېدل او له ټولو وروستی دوی له ټینګاره ووتل.

مولوي جلال الدین حقاني په خوست کې د مقاومت لپاره په تیاري بوخت شو او سیف الرحمن منصور د خپل پلار د شوروي ضد جهاد د وخت د شاهي کوټ غره مرکز ټبرته فعاله کړ چې دلته د امریکایي یرغل په خلاف د جهادي فعالیت لپاره ځان او ملګري چمتو کړي.

د دغو دواړو قوماندانانو له خوا د جنوب او شرق له لوري راتلونکي عرب مهاجر او د هغوی کورنۍ خوندي ځایونو ته رسول کېدې. ملا سیف الرحمن منصور د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزیرستان ملا نیک محمد سره په ګډه همکارۍ د عربو او نورو خارجي مهاجرو کورنۍ وزیرستان ته رسولې او هلته یې د سیمې د خلکو په مرسته ځای پرځای کول. ملا نیک محمد له سیف الرحمن منصور سره د قرغې په فرقه کې د فرد په توګه خدمت کاوه او نړدې ملګری یې و.

مولوي جلال الدین حقاني د امریکایي الوتکو په بمبار کې هغه وخت سخت ټپي شو چې د خوست د نادرشاکوټ ولسوالي د زنخیلو په کلي کې د سراج الدین په کورکې د مقاومت لپاره په پروګرام جوړولو بوخت و. د هغه له زخمي کیدو وروسته یې زامنو د خوست پر ځای د پولې هاغاړه د جهادي مرکز په توګه غوره کړه او له هغه ځایه یې منظم عملیات پیل کړل. ملاسیف الرحمن منصور شاهي کوټ غر خپل وروستی سنګر وګرځاوه او له ځان سره یې خارجي مجاهدین هم ملګري کړل.

د ۲۰۰۲ پیل کې په سیمه کې د امریکا جاسوسانو د دغه مرکز ځارنه پیل کړه چې په دې کې مشهوره ځېره د طالبانو یو پخوانی مرستیال وزیر عبدالحکیم منیب و چې د شاهي کوټ د جګړې په پېښېدو کې یې مخکښ رول درلود. منیب د پکتیا د زرمت اوسېدونکی و، په نوې ځوانۍ کې له رحمت الله واحدیار سره نړدې و چې له همدې امله یې ځان د مولوي منصور له پلویانو ګانه. د طالبانو په تحریک کې هغه نېه نوم نه درلود. یو ځل د یوه موټر د پټولو په موضوع کې سخت بدنام شو، خو بیا هم د څه نا څه استعداد په وجه په تیتو ځوکیو کې مسئول پاتې شو.

له امریکایي یرغله وړاندې هغه د کندهار د یوه پخواني جهادي قوماندان ملا ملنګ په واسطه له سي آی اې سره اړیکه لرله چې کله امریکا یرغل وکړ، هغه د ملا محمد عمر په خلاف له مطبوعاتو سره خبرې وکړې او د یرغل په پلوۍ یې فعالیت پیل کړ. یو ځل چې تازه یې مطبوعاتي خبرې کړې وې، طالبانو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګوتو ورغی خو ځان يې په دې خلاص کړ چې زه پاچاخان ځدرانې وتړلم او په زور يې راباندې خبرې وکړې، خو وروسته سيف الرحمن منصور د هغه په نيولو پسې ډېر کوشش وکړ.

منيب له يوې خارجي زنانه سره د ګردېز په بنار او اطرافو کې ګرځېدو، د شاهي کوټ د مرکز په اړه به يې معلومات راجمع کول او هغه به يې بيا امريکايي مقاماتوته رسول. د شاهی‌کوټ له جکړې وروسته منيب په مال او څوکې ونازول شو، خو منيب چې له يوې خوا يې د سيف الرحمن پر مرکز برید کې د امريکايانو همکاري کوله، له بلې خوا يې ډېر پکتياوال او زرمتي شيخان او عام ملايان د عمرو او حجونو په بدل کې ببرته د ځان ملګرې او ثناخوان کړل! چې له بده مرغه نن- سبا ملا او شيخ ته د رشوت نوې طرقه حج او عمرې لېږل هم دي؛ د اډول حجونه او عمرې يواځې د ريا او شهرت لپاره وي، خو په بدل کې يې چارواکي د خپلې دفاع لپاره مفتيان پيداکوي او دغه د رشوت حاجيان او عمريان بيا خپل حج هم د دا ډول چارواکو د سپيځلتيا دليل ګڼي!

دي مجـــرب د زمانې د کليسا واعـــظان

شيطان له ټولې شيطانيه په يو دم پاکوي

د نيمې لارې دوست جلاد وخاته دا څه وشول

په خوله د تورې له زخمونو نه ملـــهم پاکوي

(فضل ولي ناګار)

د امريکايانو له دقيقې جاسوسۍ وروسته پر شاهي‌کوټ د برید پلان جوړ شو. د ۲۰۰۲ د مارچ د مياشتې په درېيمه عمليات پيل شول. تر امريکايي بمبارۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ وروسته افغان قواوې دغې جګړې ته واستول شوې چې د سیف الرحمن له خوا له ژوندي نیول کېدو وروسته دغه سلګونه جنګیالي بېرته خوشې شول.

په دې جګړه کې د اټکل خلاف امریکایي قواوو په لومړي ځل ستر تلفات ولیدل او لویدیزو رسنیو د امریکایي قواوو لپاره دغه تلفات د ویتنام له جګړې وروسته لومړي ستر تلفات ونومول. که څه هم امریکایي ځواکونو یواځې د دوو الوتکو نسکورېدل او د اتو امریکایي عسکرو مرګ او د یو شمېر نورو زخمیی کېدل تایید کړل، خو د سیمې خلکو او د جنګ عیني شاهدانو د ګڼو الوتکو د نسکورېدو او تر سلو زیات امریکایي عسکرو د مرګ شاهدي ورکوله.

محمد قاسم حلیمي چې په باګرام کې هغه وخت بندي و، په دې اړه یې ویل چې زماسره بلدې یوې امریکایي پیرەدارې عسکرې د دې جنګ په لومړۍ ورځ ژړل او ویل یې چې په پکتیا کې زمور عسکرو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې او تر دې مهاله څلوېښت جنازې باګرام ته راوړل شوې. جګړې دوه اونۍ دوام وکړ د ملا سیف الرحمن له شهادته یوه ورځ وروسته جګړه پای ته ورسېده، خو په دې جګړه کې د ملا سیف الرحمن له خپلو ملګرو ډېر کم کسان ژوندي پاتې شول، د سیف الرحمن په مهمو قوماندانانو کې مولوي محمد یوسف او مولوي فدامحمد جواد و چې له ده سره یو ځای شهیدان شول.

دې جګړې امریکایانو ته په لومړي ځل دا احساس ورکړ چې له افغانانو سره مخامخ جګړه له ستړې او پیچیده تیکنالوژۍ سره سره ډېره ګرانه ده او همداراز یې په طالبانو کې د مقاومت روحیه پیدا کړه او له هغه وروسته ورو ورو د یرغل پر وړاندې مقاومت سر اوچتاوه خو د دې مقاومت لومړی سمبول او جنګي ستوری ملاسیف الرحمن منصور و. د هغه مړینه د وسلهوالو د روحیې د لوړوالي لپاره د هغه د ملګرو له خوا تر کلونو پټه وساتل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیف الرحمن منصور له شهادت نه وروسته یې وروښه د هغه د سنګر او ډلې په پیاوړتیاکې بریالی نشول، چې ویل کیږي د کمې تجربې، کمزورو مشاورینو او د خدام الفرقان د ځینو غړو سره اړیکو د هغوي جګړیزه او مقاومتي روحیه کمزورې کړه، په بدل کې یې په سیمیزو او شخصي ستونزو کې مصروف شول.

خو د دې په پرتله د مولوي جلا الدین حقاني زامنو خپل مقاومت موثر، پراخ او په نیم هیواد یې سیوری وغوړاوه. خو په مجموع د ا دواړه کورنۍ د موثر مقاومت او نیمې کورنۍ د قرباني کیدلو په وجه په خپلو پیروانو کې بې کچې محبوبیت لري.

د خدام الفرقان ګوند اعلانول

د امریکا د یرغل په نتیجه کې د طالبانو د واکمنۍ له نړېدلو وروسته څوک د سیف الرحمن منصور غوندې غرونو ته د مقاومت په نیت وختل. څوک د پاکستان سرحدي سیمو ته لاړل او پټ په پټه یې ژوند کاوه. یو شمېر ملکي چارواکي د پاکستان ښارونو ته مهاجر شول او هغه عام طالبان چې د حامد کرزي له ډاډ ورکولو وروسته خپلو کلیو او کورونو ته ستانه شوي وو، د امریکایانو او د هغوی د پلوي افغان ملېشو له خوا د نیولو او تعقیب له لاسه هر هغه لور ته تیتېدل چې شپه یې تېریده، چې له همدې امله سړی ویلای شي چې ډېر ناست خلک د امریکایانو، شمالي ټلوالي او ځایي ټوپکوالو د ناوړه چلند له امله بیا مقاومت ته اماده شول. دوی پوه شول چې که پر کور کښنم هم بې عزته کېږم، د زندان او مرګ ګوابښ سره مخامخ یم. تر دې راته دا غوره ده چې په تش لاس دښمن ته ځان په لاس ورنه کړم.

بل پلو ته هغه د مینځني کچې چارواکي چې په پاکستان کې یې د شوروي ضد جهاد له وخته کورونه او فامیلونه اوسېدل، دوی ته د پاکستان له خوا وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول چې د کرزي د حکومت ملاتړ وکړي او له طالبانو پرېکون اعلان کړي. دا وخت کرزي له پاکستان سره ډېرې تودې اړیکې لرلې او کورنۍ یې په همدې نږدې وخت له کوټې کابل او کندهار ته نقل شوې وه، آن چې په لومړیو انتخاباتو کې په پاکستان کې د کرزي په ګټه افغان مهاجرینو هم رایه واچوله او زمینه ورته د پاکستان حکومت برابره کړه.

پاکستان د امریکا په ایتلاف کې و نو ځکه یې په پټه د ورغلیو طالبانو په اړه څرګنده پالیسي د طالبانو بندیانول، سپارل او له کرزي سره ملاتړ ته اماده کول وه.

مولوي ارسلان رحماني، عبدالحکیم مجاهد، حبیب الله فوزي، رحمت الله واحدیار، حاجي احمد هوتک، سهیل شاهین او مولوي عبدالستار صدیقي د امین جان مجددي په مشرۍ د خدام الفرقان په نوم تنظیم اعلان کړ. خدام الفرقان د یوه پخواني نهضت نوم و چې له دوهمې افغان انګلیس جګړې وروسته د برتانیې د سیاستونو خلاف او د دیني ارزښتونو د ساتنې په نیت د علماوو او روحانینو له لوري تاسیس او تر کمونیستي کودتا پورې فعال و.

خو د دې نوې سمبولیک خدام الفرقان اصلي بانیان ملا ارسلان او حاجي احمد هوتک ګڼل کېدل، چې تش یې امین جان مجددي د یوه سمبول په توګه استعمال کړ. ارسلان رحماني ځیرک او موقع شناسه سړی و. هغه د رباني او طالبانو په حکومتونو کې هم د وزیر او مرستیال وزیر په څوکیو کار کړی و او د کرزي په اداره کې هم سناتور شو. ارسلان رحماني په پاکستان کې د پراخ جایداد مالک و، هغه او واحدیار د حرکت له هغو شپېتو تنو وو چې د شوروي ضد جهاد پای کې د پاکستان د جمهور رییس غلام اسحاق خان له خوا د پاکستان تابعیت ورکول شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحماني د شوروي ضد جګړې پر مهال د پکتيکا ولايت نامتو جهادي قوماندان و، خو وروسته د مهاجرو او مرستندويه عربانو ډېر وسايل او جايداد ورپاتې شو. دا هم ويل کيږي چې د جهاد پای کې هغه ډېره زياته وسله هم وپلورله چې له امله يې ډېر شتمن شو او د پاکستان پلازمينه کې يې د نور جايداد ترڅنګ د سبزيو او تازه ميوو يو ستر کولډسټور (سوړځای) هم درلود.

له دې سره هغه د رباني او طالبانو د واکمنۍ پر مهال کابل کې ډېر کورونه او دوکان سرايونه رانيولي وو. له هغه چا پوښتنه کړې وه چې کابل ته د بېرته ورتلو دومره زياته تلوسه ولې لرې؟ ده ورته جواب کې په ټوکه ويلي وو چې ما ټول جهاد په همدې سرايونو او مارکيټونو بدل کړ، اوس که رانه پاتې شي، نو دواړه به مې خطا شي.

ملا ارسلا ن پر امين جان مجددي دا کار وکړ، خو هغه يې هسې استعمال. کړ اصلي لاسته راوړنه يې خپله وه چې له دې لارې يې له ځانه طالبي پوستکی لېرې کړ او په بدله ځرمن کې کابل ته ننوت. له هغه وروسته د دوي له ډلې مرحوم مولوي عبدالستار صديقي دتنظيم په حقيقت پوی شو او ورنه جلا شو، چې بيا يې په ۲۰۱٦ کې له ملا اخترمحمد منصور سره بيعت وکړ او د ۲۰۱۷ په سر کې وفات شو.

له دوی سره دا وخت مالي مرسته هم وشوه چې يا خو پاکستاني ادارو له خپل لوري دا پيسې ورکړې يا ښايي د لويديزو ادارو له خوا د هغوی په لاس ورته ورکړل شوي وي، خو د دې پر ځای چې دا مرسته د تنظيم پر فعاليت مصرف شوې وای د دوی ترمينځ د ناندريو سبب شوه. حاجي عبدالرحمن احمد هوتک په پيسو کې د کمې برخې پر سر مرور شو او پر کور کېناست. ملا ارسلان ټولو ته مشوره ورکړه چې دا پيسې بايد پر يوه روزګار بندې شي. ملګرو يې ورته وويل مور په کاروبار تر تا ښه نه پوهېږو، ته يې راته بندې کړه. ملا ارسلا ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې اوس د کچالو د ارزاني سېزن دی، زه به پرې زرګونه ټنه کچالو رانیسم په خپل کولډستوېر (سوړځای) کې به یې کېږدم تر قیمته کېدو پورې به ډېرې پیسې وګټي او تاسو به ماته په دې پیسو کې د کولډ ستوېر کرایه راکړئ. کله چې سیزن تېر شو نو کچالو نور هم ارزانه شول، تجارت تاوان وکړ، خو ملا ارسلان خپله کرایه وصول کړه. دغه تاوان بیا وروسته د دوی په نړدې حلقه کې په یوه ټوکه او ضرب المثل بدل شو: چې ویل به یې د ا فلاني کار هم داسي تاوان وکړ لکه د خدام الفرقان کچالو!

بل پلو د اوخت د ا مریکا د یرغل او پاکستان د فشار او رسمي دریځ له امله یو شمېر نورو طالب چارواکو هم هڅه وکړه چې د کرزي له اداړې او امریکایانو سره روغه وکړي، خو بریالي نشول.

د طالب چارواکو د تسلیمېدو لړۍ

د عدلیې د وزیر ملا نور الدین ترابي په مشرۍ یوه ډله طالبان د ۲۰۰۲ مارچ کې د کندهار والي ګل اغا شېرزي ته ورغلل چې په دې کې د طالبانو د پخوانۍ عالي شورا غړی ملا محمد صادق، د هرات د قول اردو قوماندان ملا عبد الحق، د اداره امور رییس ملا سید محمد حقاني او څو نور ټیټ رتبه طالبان وو. کله چې ګل اغا شېرزی په دې پوه شو چې دغه طالب چارواکي امریکا نه بښي او د بندیانو په توګه یې ګوانتاناموته رسوي، نو دوی ته یې پیسې ورکړې او ورته ویې ویل چې امریکایان مو نه پرېږدي، ځانونه ېېرته غایب کړئ.

د امریکایانو دغه ډول توند غبرګون او له دې سره د ځایي قوماندانانو له خوا د طالبانو د کورنیو ترټلو له نوي مقاومت سره ډېره مرسته وکړه او هر طالب مشر په دې پوه شو چې له مقاومته پرته په بله هره لار کې یې امریکا هسې هم نه پرېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې ډلې ته ګل اغا شېرزي يو يو ليک ورکړ چې په پاکستان کې ورسره څوک غرض ونه لري. هغوي فکر کاوه چې د شېرزي او پاکستان د مثبتو اړيکو په وجه به دغه ليک دوی وژغوري، خو کله چې ملا محمد صادق دغه ليک په پاکستان کې پوليسو ته ښکاره کړ، پوليسو هغه آی اس آی ته وسپاره. ای اس ای امريکايانو ته وسپاره، چې بيا ګونتانامو ته ولېږل شو.

کله ناکله په داخل کې بيا د شېرزي ليک هم څه ناڅه مرسته کوله. همداسې يو ليک د کندهار ښار اوسېدونکي مفتي عبدالحکيم ته هم ګل اغا شېرزي ورکړی و چې ورکې يې ليکلي وو: دغه مولوي صيب نور له طالبانو ښزاره دی، پر کور اوسيږي څوک دې تکليف نه ورکوي.

مفتي عبدالحکيم د طالبانو د حکومت پرمهال د کندهار ولايت اداري رييس و. له همدې ليک سره پر کور کېناست خو له يو کال وروسته د بې کاری او زړه تنګۍ له امله ښرته له طالبانو سره يو ځای شو چې بيا د څه وخت لپاره د اقتصادي کمېسيون مشر هم و.

بل مهم چارواکی چې ځان يې تسليمېدو ته اړ وباله د بهرنيو چارو زير مولوي وکيل احمد متوکل و. مولوي وکيل احمد متوکل چې کله د پاکستان له خوا د عبد السلام ضعيف د نيولو او سپارلو سناريو وليده نو يې پوخ يقين شو چې يو سفير له خپلو ټولو حقوقو سره وسپارل شو نو ما به د طالب خارجه وزير په توګه پاکستان څنګه پرېږدي. هغه له څو ورځو تماسه وروسته چې د حاجي بشر په واسطه يې د کندهار له مقاماتو سره درلود اخير په دې قانع کړای شو چې له امريکايانو سره له ليدلو نه وروسته به په افغانستان کې عادي ژوند غوره کړي.

خالد پښتون هغه ته د امريکايانو له خوا اطمنان ورکړ، خو په حقيقت کې د هغه په سر له امريکايانو سره سودا شوې وه، چې کله کندهار ته لاړ نو امريکايانو د هغه لاسونو کې زولنې واچولې او د تسليمېدو پر ځای يې د هغه د نيولو اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر میډیا خپور کړ او دا یې خپله ستره لاس ته راوړنه وبلله. متوکل تر دوو کالو په سخت زندان کې وساتل شو چې له املې یې په تبرکلوز (تې بې) ناروغۍ اخته شو او د سر او ږیرې ویښتان یې ټول توی شول. که څه هم هغه تداوي شو خو د دغه زندان تل پاتې اثرات یې تر اوسه پر وجود اغېز لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم څپرکی

د ملا محمد عمر له خوا لومړی اډیو کیسټ

د دوه زره درېیم میلادي کال په لومړیو کې ملا محمد عمر یو کیسټ خپلو مجاهینو او مشرانو ته راواستوله چې په هغه کې یې د نوي جهادي بهیر او مقاومت لپاره ملا برادر اخوند لومړی مشر او ملا عبید الله دوهم مشر نومولي وو. دغه کیسټ ما واورېده، ملا صیب په دې کیسټ کې ملا برادر او ملا عبید الله په نوبت سره د تحریک مشران او خپل نایبان نومولي او په یوه بله وینا کې یې د شورا لپاره لس نومونه یاد کړي وو: مولوي اختر محمد عثماني، مولوي عبد اللطیف منصور، مولوي جلال الدي حقاني، مولوي عبدالکبیر، مولوي حمدالله نانی، ملا محمدحسن رحماني، مشر ملا محمد حسن اخوند (چې د طالبانو د واکمني پر مهال د وزیرانو شورا مرستیال و)، ملا اختر محمد منصور (د طالبانو دوهم امیر)، ملا داد الله او ملا امیر خان حقاني ول، خو بیا وروسته د ملګرو په وړاندیز په شورا کې وخت پر وخت زیاتونې وشوې.

په دې کیسټه کې ملا محمد عمر خپلو دوو پیروانو ملا عبد الجلیل او ملا نور الدین ترابي ته د ځینو سرغړونو له امله په تونده لهجه خطاب کړی و چې بیا وروسته ملګرو دغه خطاب د مصلحت له مخې له کیسټې حذف کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته د ملا صیب شفاهي پیغامونه، کیستې او لیکونه د هرې مهمې پېښې، ټاکنې او نورو فرامینو په اړه یواځې خصوصي حلقې، ملا برادر او ملا عبید الله ته راتلل.

په ۲۰۰۴ کې د کمپسونونو په بڼه تشکیلات جوړ شول خو یواځې نظامي، فرهنکي او مالي کمیسیونونه جوړ شول، بیا د ولایتونو لپاره جهادي مسئولین ونومول شول. په ۲۰۰۵ کې تشکیلات نور هم منظم شول او ځینې هغه مسئولین چې تر دې وخته غایب وو راپیدا شول.

له افراطي سیاسته د تېښتې هڅه

په ۲۰۰۵ کې ما د مشر د ویاند په توګه د ځینو وروڼو په مشوره له مهمو نړۍوالو اژانسونو سره انلاین پریس کانفرنس وکړ. هغوی ته مې د طالبانو د تحریک راتلونکې پالیسي اعلان کړه چې په دې کې د ایف پي، رویټرز او یو شمېر نورو نړۍوالو اژانسونو نمایندګانو راسره اړیکه ونیوله. له دې وېرې چې راتلونکې پالیسي مجهوله، احساساتي او بې سرحده دود نه شي، نو ما یو ځل بیا خپله مبارزه تر افغانستان پورې تړلې وګڼله او د یوولسم ستمبر د پېښو په اړه مې خپل زوړ دریځ تکرار کړ او دا پېښه مې یو ځل بیا وغندله. دغه مطبوعاتي ځرګندونو یو شمېر د القاعده ملګري او ځینې طالب قوماندانان خپه کړل خو بل پلو یې د نورمال سیاست او محدودې مبارزې بنسټ هم تقویه کړ.

له هغه وروسته په ۲۰۰۶،۲۰۰۷،۲۰۰۸ کې د ملا محمد عمر مجاهد د اختر پیغامونه په بشپړه توګه ما ترتیبول او په ۲۰۰۹ او۲۰۱۰ کې یې یوه برخه ما ترتیبوله چې په دې ټولو پیغامونو کې له یرغلګرو سر د تفاهم او له افغانستانه د وتلو د معقول پېشنهاد یادونه او همداسې نورې سیاسي ځرګندونې مې په کې ځایولې، چې ملا محمد عمر ته به مو هم واستاوه نو هغه هم دا پیغام تاییداوه. ما چې د حکومت پر مهال د ۱۹۹۹، ۲۰۰۰ او۲۰۰۱ د اختر پیغامونه هم ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي وو نو ملا محمد عمر زما پر زياتونو او ترتيب پوره باور درلود، خو د دغه پيغامونو پر ضد هم د طالبانو د ځينو کړيو ترمينځ نيوکې کېدې.

بل پلو دالقاعده سميز مشر د حافظ سلطان په مستعار نامه مشرتابه ته د ۲۰۰۷ ميلادي کال په پيل کې يو احتجاج ليک را واستاوه چې تر افغانستانه پوري د جهاد او مقاومت محدويت او روانې مبارزې ته د افغاني مبارزې خالص رنګ ورکول يې په اصطلاح له عالمي جهاد سره جفا بللې وه. څنګه چې د مشر په پيغامونو کې د تعاطف او نرمي د پاليسي طراح زه ګڼل کيدم، نو ځکه خو ملا عبيد الله او ملا برادر زه ور وغوښتلم او دا ليک يې د دې لپاره راکړ چې مناسب ځواب ورته وليکم. ما ليک ولوست او د مفصل ځواب لپاره مې په جيب کې کيښود، خو کله چې له هغوي بيرته راستنيدم، لاره کې چيک پوست و او ژوره تلاشي اخيستل کېده. ما ليک ژر د جيب نه را ويوست او يوځل مې بيا تر نظر تېر کړ، نور مې په خوله کې وژدو وی، تر څو يې تلاشي کې رانه پيدا نکړي.

د ليک مطلب مې ذهن کې و، په يو تفصيلي ځواب کې مې له يوې خوا د تحريک مجبوريتونه او بل لور ته د وخت جبر او شرايط ورته د ليل کې وړاندي کړل او د دوي د قناعت هڅه مې وکړه؛ ليک مې ور واستاوه، چې بيا يې له ځواب او غبرګون نه خبر نشوم.

بې مهاره مقاومت

د مشرتابه غياب، د نوي ځوانانو جذبات او خپل سره حرکات د ډېرو ناوړه پېښو او مشکوکو وژنو او سزاوو سبب وګرځېد. ښونځيو ته اور ورکول، د جاسوسۍ په تور بې محکمې وژنې او د عامو خلکو په يوه او بل نامه ځورول، د هېواد په ډېرو برخو کې د طالب له ادرسه ترسره شول.

په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې چې د مشرتابه او شورا له خوا لايحې ترتيب شوې بيا هم ډېرو افرادو او وړو قوماندانانو د دغو لايحو رعايت نه کاوه، چې دا د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرتابه له اطاعته ښکاره سرغړاوی و. زه د خپلې سیمې د یو درجن داسې مرګونو شاهد یم چې تر اوسه یې سیمه‌ییز طالبان او مشرتابه شرعي جواز نه شي توجیه کولای. په دې کې تنکي ځوانان او بوډاګان هم شامل دي چې دا کړنې د کوم شرعي اصل له مخې موجه دلایل نه لري. همدا کړنې ډېرو ته د اربکي جوړېدو، دولت او خارجي قواوو سره د همکارۍ بهانه وګرځېدې، داسې هم وشول چې د یوه اربکي په جرم یې دکورنۍ نور غړي وژل کیدل.

په دې اړه به چې مور هر کله مشرانو ته شکایت کاوه نو هغوی به د پلټنې وعدې راکولې او تر څنګ به یې دا هم ویل چې په جګړه کې همداسې ګډوډي طبعي ده خو مور به یې د کنترول هڅه کوو. له بده مرغه د دې اغېز او مسئولیت دومره کم نه دی چې څوک یې تش د جګړې په مزاج ونوموي. د یوه بې ګناه کس وژل ټول هدف ته مستقیم زیان اړوي. کله ناکله د بهرنیانو په پرتله له افغان سره سخت چلند ترسره کیده، لکه په ۲۰۰۷ م کال کې چې له ایټالویانو سره د طالبانو په تبادله کې افغان ترجمان اجمل نقشبندي ووژل شو او ایټالویان خوشي شول. دا ډېره بړنوونکې پېښه وه، خو زمور ناره د اجمل تر وروستۍ سلګۍ چا وانه وربده.

د وخت په تېرېدو لایحې لازمي کړای شوې، محاکم جوړ شول او د قتلونو په ځانګړي ډول د جاسوس مسئله سخته کړای شوه، چې له امله یې ګډوډي یو څه کنترول شوه. همداراز دعامه تاسیساتو، عام المنفعه ځایونو او تعلیمي ادارو په اړه مثبته روحیه خپره کړای شوه او قانون هم وګرځول شو، خو د بې ځایه چاودنو او دولتي مامورینو په بې تفکیکه وژلو کې بیا هم بې احتیاطۍ او بې مسئولیتۍ او ځینې نورې ګډوډۍ لا تر اوسه په طالبانو کې لیدل کیږي.

په جګړه کې د نرمۍ، ښېلو او احتیاط ضرورت لا هم نه احساسیږي. په ځینې سیمو کې طالب قوماندانان ولس سره ډېره مثبته رویه کوي خو په ځینو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمو کې لا هم خپل طبیعت چلوي، چې دا د افغانستان د کړېدلي ولس د تیاره مستقبل چانس نور هم زیاتوي.

ملا محمد عمر له اوله له فدایي بریدونو سره علاقه نه لرله خو کله چې دا بریدونه زیات شول نو د هغه فرمان دا و چې فدایي به کم عمره نه وي او له ډېر خاص ځایونو پرته چې هلته بله طریقه ناممکنه وي، په عامو ځایونو کې به څوک دا ډول علمیات نه کوي. همداراز په ملکي ځایونو کې یې د هر ډول برید مخالفت تر اخیرې ورځې کاوه!

د اکبر اغا جیش المسلمین

محمد اکبراغا د کندهار د ارغنداب د "جي لاهور" کلي اوسېدونکي د محمد طیب اغا او د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د خوست د والي حاجي عبدالله اغا (تورک اغا) تربور دی. اکبر اغا د روسانو پر ضد جهاد کې هم برخه اخیستې او د طالبانو په لیکو کې هم یو وړوکی او غیر مشهور جنګي قوماندان پاتې شوی و. د طالبانو د واکمنۍ پر وخت چې په کندهار کې د پاکستان د کونسلګرۍ ودانۍ زمور دفتر ته مخامخ د سړک پر بله غاړه وه، هغه وخت ملا محمد عمر امر کړی و چې د وزارت خارجه له اجازې او مکتوب پرته به څوک د پاکستان کونسلګرۍ ته نه ورځي. یو بایفور موټر به د کونسلګرۍ په دروازه کې درېده او تور ږیری سړی به ترې ښکته کېده. د هغه پر دا ډول راتګ ما یوه ورځ په هغه پسې پوښتنه وکړه. ملګرو راته وویل چې دا د طیب اغا خپلوان دی، اکبر اغا نومیږي د جهاد له وخته پاکستاني مقاماتو سره خصوصي روابط لري او د طالبانو په استازولۍ کونسلګرۍ ته نه ورځي.

د اکبر اغا نوم مې بیا له ۲۰۰۵ وروسته هغه وخت واورېد چې د جیش المسلمین په نامه یې جنګي ډله اعلان کړې وه. د پاکستان د ځینې کشمیري ډلو او اشخاصو په مرسته یې د فعالیت هڅه کوله. که څه هم په داخل کې یې خاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثر نه درلود خو په پاکستان کې يې د طالبانو له ځينو پخوانيو غير فعال چارواکو سره اړيکې لرلې او يو شمېر واړه قوماندانان يې هم اکمالول. هغه په ځينو مجالسو کې دا خبرې کړې وي چې ملا محمد عمر نور کار نه شي کولای او د طالبانو د تحريک فعاليت نور ممکن نه دی ځکه چې پاکستان يې هم نه غواړي نو بايد خلک له ما سره ودريږي.

هغه وخت لا ډېرو ته دا يو ډول ټوکه ښکارېده چې په يوه بې باوره او بې اثره سړي پسې دې د طالبانو جنګيالي لاړ شي او هغه هم د ملا محمد عمر په ژوند کې!

د اکبر اغا ناسته ولاړه او د مقاومت ترتيب هم ډېر ساده او بربنډ و، ځکه ده فکر کاوه چې پاکستاني مقامات به يې د طالب غورځنګ په مقابل کې تقويه کړي، لکه څنګه چې ځينې کړيو او اشخاصو وعده هم ورکړې وه. ځينې داسې مبهمې پېښې چې طالبانو به يې پرې پرغاړه نه اخيسته اکبر اغا به ژورنالیستانو ته زنګونه وهل او دا ډول پېښې به يې ځان ته منسوبولې چې له همدې امله د جيش المسلمين نوم ميډيا ته هم راووت.

کله چې د کابل شمالي کې د يوې خارجي مېرمنې د تښتولو په پېښه کې چې -د اکبر اغا او يوې افغان مافيا ترمينځ مشترکه موضوع وه- اکبر اغا تورن شو. دې کار خبره ورانه کړه، اکبر اغا په دې پېښه کې ښکاره تلفوني تماسونه نيولي وو، خارجيانو پر پاکستان فشار راوړ او اسناد يې ورکړل. همدا و چې پاکستاني ادارو د يوې معاملې په ترڅ اکبراغا امريکايانو ته وسپاره، چې امريکايانو له څه وخته وروسته افغان حکومت ته وسپاره له دې سره جيش المسلمين هم له مينځه لاړ چې په حقيقت کې تر ډيره له اکبراغا او د هغه له تلفونه عبارت و.

تعليمي پروسه ژوندۍ ساتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۲۰۰۷ م کال کې مورِ په دې بریالي شوو چې د طالبانو د مشرتابه توجه د تعلیمي ادارو په اړه مثبتو اقداماتو ته را واړوو، خو دا کار که څه هم اوس تر ډېره بریالی ښکاري خو هغه وخت له اساسي خنډونو سره مخ شو. له یوې خوا مشرتابه د دې لپاره له شرایطو سره سمه تګلاره نه شوای برابرولای بل پلو د ډېرو سیمو جنګیالیو لاهم د مشرتابه هدایت ته په دې اړه شا اړوله او تړلي ښوونځي تر کلونو پورې د ځینو طالب قوماندانانو د سیمه‌ییزې پالیسۍ برخه وه او ممکن خال خال به لا اوس هم وي.

خو یو کار چې مورِ پرې هغه مهال د لومړي ځل لپاره بریالي شو، هغه د تعلیم لور ته د مثبتې توجه اساس ایښودل و. د ۲۰۰۷ کال په پیل کې له ملا برادر او ملا عبید الله سره له اوږدو خبرو وروسته پر دې موافقه وشوه چې د امکان په صورت کې که کومې سیمې د طالبانو په پوره واک کې وي هلته دې طالبان خپل نصاب هم وچلوي. دا وخت طالبان په کم شمېر ولسوالیو واکمن ول چې په هغو کې هم پوره استقرار نه و، خو دا یوه ښه اساس و. پر دې پروسه نور کار هم وشو، چې بیا دوه کاله وروسته د تعلیم او تربیې کمیسون هم جوړ شو.

هغه وخت چې کوم پرمختللی پروګرام په نظر کې و، نو د هغه لپاره د مالي بودیجې واکدار معتصم اغاجان مخالفت وکړ او دومره پیسې یې یواځې د جنګ لپاره مناسبې وګڼلې.

دا وخت به معتصم ته وړو دلګۍ مشرانو له خپلو سیمو نه د دولت د پلویانو او عسکرو د وژلو ویډیوګانې راوړلې، په مقابل کې به معتصم هغوي ته پیسې ورکولې، په دې کې داسي واړه او ګمنامه جنګیالي هم ول چې د انجنو د مکتب د سوزولو پر سریې هم له معتصم نه پیسې اخیستې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه د زونونو او سیمو توپیر بل ناورین و. د ځینې سیمو طالبانو دې کار ته نیغه توجه وکړه لکه د کونړ او پکتیا ځینې سیمې او ځینو بیا سړه پالیسي غوره کړه لکه د لوګر او غزني ځینې سیمې، خو ځینو بیا ورسره ښکاره محالفت کاوه لکه د زابل او هلمند ځینې سیمې، چې دلته خبره ټوله د مزاج او ذوق وه، نه د فکر، عقیدې او فتوی. ما د ویاندانو کمیټې ته دا پالیسي هم ټاکلې وه، چې د انجنو د مکتب او کلینک سوزولو راپور به له چا نه اخلئ تر څو یې حوصله ماته شي او دا ډول عملیات پریږدي.

د ویاندانو کمېټه

په ۲۰۰۶ کې مفتي لطیف الله حکیمي چې د غورځنګ پوځي او سیاسي یې ویاندې کوله ونیول شو او کابل ته وسپارل شو. ملا برادر ما ته حال را واستاوه چې په دې اړه ورسره مرسته وکړم. ما ورته وویل چې زه خو خپله ویاندې نه کوم البته ځینې سیاسي او عامې اعلامیې درته اعلانولای شم. ما له پوځي ویاندې له دې امله ډډه ونه کړه چې وېرېدم، بلکې د طالبانو په نظامي عملیاتو کې ځینې پېښې ما ته بې مسئولیته او ناسمې ښکارېدې. ما نه غوښتل چې دغه نظامي پېښې اعلان کړم. هغه وویل ته یو ترتیب راجوړ کړه نور که ته خپله یواځې سیاسي اعلامیې خپروې هم سمه ده.

ما دوه کسه یو د قاري یوسف په نوم چې زما پخوانې ملګری و د جنوب لویدیځ او شمال مغرب لپاره او بل د ډاکټر حنیف په نامه چې فرهنګي کمېسیون راته معرفي کړ او د استاد یاسر همکار پاتې شوی و د جنوبي، شرقي او شمال مشرق ولایاتو لپاره د مشرانو په هدایت د نظامي ویاندویانو په حیث میډیا ته معرفي کړل. هر یوه ته مو یو یو مرستیال وټاکه چې د نیول کېدو یا وژل کېدو په صورت کې به یې ځای ناستی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورِ یوه نوې نشراتي پالیسي تاسیس کړه او په مشرانو مو هم ومنله، چې په دې کې ګڼ نقاط ځای شوي وو، چې د ټولو یادونه دلته بحث او ږدوي، نو د بیلګې په ډول به د حزب اسلامي او حکمتیار په اړه زمورِ د د ې پالیسي څه نقاط دلته راوړم:

د ویاندانو په کمیټه کې مورِ د حزب اسلامي او حکمتیار په اړه د نه غبرګون د پالیسي بنسټ کیښود، چې له نیکه مرغه زما نه وروسته هم دغه پالیسي تر ډیره عملي وه. مورِ ویل ښاغلی حکمتیار ښایي د خپل مزاج او نورو عواملو له مخې وخت ناوخته پر طالبانو توندې نیوکې وکړي، خوکه مورِ هغوي ته ځواب وایو، نو له یوې خوا به اصلي هدف ته زیان ورسیږي چې د یوه ستر نړیوال یرغل فرهنګي مقابله ده! بل پلو به مورِ په یوه بې فایدې اوبې وخته مقابله کې ښکیل شو، چې دواړو لوریو ته به د زیان او ګډ دښمن ته به د فایدې سبب وګرځي.

بل لوری د ځینو مهم مشرانو په تاکید مورِ له دې هم منع شوو، چې د ښاغلي حکمتیار د یرغل ضد پالیسیو او ویناوو تائید وکړو. د هغوي دریځ دا و چې د دوي په وینا په حکمتیار هیڅ باور نشي کیدي؛ تل دریځونه بدلوي که یو وخت په مقاومت کې خیانت وکړي او مقابل لورې ته واوړي بیا به زمورِ تائیدي ویناوي زمورِ لپاره پیغور وي!

خو له بدمرغه وروسته د انترنیټي لیکنو او فیسبوکي مقابلو په دورکې د طالب پلوه کشرانو او حکمتیار ترمښځ ترخو تبلیغاتي ناندرویو فضا همد اسي بیخونده کړه، چې ښاغلي حکمتیار به دغه لیکنې د طالبانو پالیسي فرضوله او دغبرګون ژبه به یې کافي عصباني او نامناسبه وه، فرهنګي کمیسون په دې اړه فیسبوکې ځوانانو ته له دې کاره د لاس اخیستو توصیې هم وکړې. خو موثرې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ناندریوکې به چې حکمتیار د طالبانو خلاف لیکل کول نو په کابل کې د دولت کړیو او لویدیځو رسنیو به د هغه خبرې بدرګه کولې، هغوي غوښتل چې د ښاغلي حکمتیار او حکمتیار پلوه حزبیانو مخ د طالب پر لور واړوي!

د ویاندویانو دا وړوکې کمیټه د نظم او فعالیت له اړخه تر ډیره بریالۍ وه ، خو مالي ضعف پر فعالیت منفي اغیز لاره، دا وخت له یوې خوا د مقاومت مالي حالت هم ډېر ضعیف و، بل پلو مورِ له مشرانو سره د شخصي انډیوالۍ لاین نه درلود. د امارت په وخت کې مستقیم له ملا محمد عمر سره په تماس کې وو او له واکمنۍ وروسته هم له مشرانو سره د تحریک د عامو ملګرو په توګه بلد وو چې له بده مرغه په طالبانوکې د شخصي انډیوالۍ لاین یو معمول دي. له همدې امله زما له خوا ټاکل شوې کمېټې ته سمه توجه ونه شوه ان چې د هغوی د سټلایټ تلفونونو د کارډونو او سفر ټول مصارف ماهانه سل ډالر هم نه ورکول کېدل، چې له همدې امله به ما هغوی ته د صبر تلقین کاوه چې د دې کار پایله بیا هم خطر و ،ځکه چې دواړه ویاندویانو به چې کله د سټلایټ د کریدیت کارډ پیسې نه لرلې نو ښارونو ته به نړدې کېدل او مبایل نه به یې کار اخیست، چې هغه وخت په افغانستان کې مبایل کمپنیو دومره انکشاف نه و کړی، خو په پاکستان کې یې بیا فعالیت پراخ و.

همدا دواړه ویاندویان د مبایل له شمېرو تعقیب شول چې یو یې په افغانستان کې د جلال اباد له ښاره سره نړدې ونیول شو او بل یې په پاکستان کې ونیول شو. د افغانستان استخباراتو ډاکټر حنیف له څو کالو زندانه وروسته په داسې حال کې خوشې کړ، چې د سرطان په ناروغۍ اخته و. بیا څو میاشتې وروسته په جلال اباد کې د شپې د هغه کور ته یوه ډله وسله‌وال ننوتل او هغه یې له خپلو دوو د تره زامنو سره چې د ده خویندې ورته ناستې وې او د هغوی خور ده ته ناسته وه یو ځای شهید کړ. درې کونډې پر یوه کور کېناستې او کشران

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورونه يې پاکستان بنديان کړل، چې بيا له يو کال زندانه ورسته خوشي شول. په پاکستان کې نيول شوی ويلند اووه کاله د پاکستان په تور زندان کې تېر کړل او په ځوانه ځوانۍ يې پر سترګو پردې راغلې، چې بيا اپربشن شو او اووه کاله وروسته په ناروغه حالت کې ازاد شو.

له نيول کېدو وروسته د هغوی ځای د هغوی نايبانو ونيو او کار جاري پاتې شو. د ۲۰۰۷ په اخير کې ما له دې کاره لاس واخيست او شخصي ژوند مې پيل کړ. له هر چا سره مې روابط ختم کړل، بيا چې په ۲۰۱۲ کې د مرحوم ملا اختر محمد منصور له خوا د همکارۍ راته وويل شول بيا مې هم کوم مسئوليت قبول نه کړ. البته د ځينې بشري او سياسي چارو په برخه کې مې موقته همکاري ورسره وکړه. له دې سره سره په سياسي او بشري مسايلو کې مې ځينې مهمې مشورې ورکولې چې دا د هغه غوښتنه وه. په ۲۰۱۵ کې ملا اختر محمد منصور د شورۍ له خوا مشر شو او په ميډيا کې د دې مسايلو د وضاحت ضرورت شو. ما د دغه وضاحت لپاره له رسنيو سره معلومات شريک کړل او رسنيزې مرکې مې وکړې. په ۲۰۱٦ کې چې ملا اختر محمد منصور د امريکايي ډرون له خوا شهيد کړای شو. له هغه وروسته بيا ما پر کور ناسته غوره کړه او اوس په طالبانو کې کومه دنده نه لرم.

د ملا محمد عمر وفات او اختلافات

له کومې ورځې چې ملا محمد عمر له کندهار ښاره د ټولو وسله‌والو طالبانو له وتلو وروسته په خپله يوه سراچه موټر کې تنها له څو ملګرو سره ووت او له هغه ځايه سيده د زابل سرخکانو سيمې ته لاړ، هلته يې د سيمه‌ييزو طالب قومندانانو يوه غونډه را وبلله او د جهاد د بيا پيل لپاره يې دغو قومندانانو ته څه پيسې او مصارف هم ورکړل او وخت يې هم ورته وښود. په دې قومندانانو کې اکثره اوس په دنيا کې نه شته. لکه ملاعبدالرزاق نافذ، ملا روزي خان، ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدګل نیازی، جهادیار او یو شمېر نور... له هغه وروسته ملا محمد عمر له خپلې یوې مختصرې ډلې سره په زابل ولایت کې په خپله د وسلهوال جهاد اراده لرله او ویل کیږي چې په ځینو نښتو کې یې هم برخه واخیسته، خو بالاخره ملګرو ورته وویل چې ستا وجود او بقاء د ټول تحریک لپاره حیاتي موضوع ده. ستا پوځي عملیات دومره مهم نه دي، لکه رهبریت، همغه و چې ملا محمد عمر د ملګرو په تاکید او مشوره ځان ګونښه کړ او د یو څو مخلصینو په ملتیا یې په یوه غرنۍ سیمه کې استوګنه غوره کړه. هغه لومړی د خپلو خاصو مخلصانو یو کور انتخاب کړ، بیا یې له څه مودې وروسته بل کور انتخاب کړ چې بالاخره یې په همدې کور کې یوه وړه ساده خونه د ده د استوګنې لپاره برابره کړه ، په دې خونه کې یې د اوداسه ځای او یو ساده تشناب هم ورته جوړ کړل. ملا محمد عمر مجاهد تر وروستۍ سلګۍ په همدې کور کې مېشت و.

د دوه زره دریېم میلادي کال په لومړیو کې ملا محمد عمر یو کیسټ خپلو مجاهدینو او مشرانو ته راواستوله چې په هغه کې یې د نوي جهادي بهیر او مقاومت لپاره ملا برادر اخوند لومړی مشر، ملا عبید الله دوهم مشر نومولي وو، دغه کیسټ ما واوریده ،ملا صیب په دې کیسټ کې ملا برادر او ملا عبید الله په نوبت سره د تحریک مشران او خپل نایبان نومولي او په یوه بله وینا کې یې د شورا لپاره لس نومونه یاد کړي وو.

ما د مشر دوهم کیسټ په ۲۰۰۷میلادي کال کې هغه وخت واوربده چې د ملا داد الله ورور ملا بخت ته یې (چې ځان یې په منصور داد الله نومولی و) په کې توندې جملې کارولې وې. ملا بخت چې بیا په منصور داد الله مشهور شو، په هلمند کې د امریکایي بمبارۍ په ترڅ کې د ملا داد الله د شهادت په اړه د ملا داد الله دوه نږدې ملګري ملا نسیم او ملا عبدالباري د خپل ورور په وژنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس لرلو تورن کړل او د څو ورځو شکنجو وروسته يې د هغو په خوله يو ليست اعلاناوه چې تقريبا د طالبانو ټول لوړ رتبه غړي يې يادول چې دوی د دې قتل امر راته کړی و. په داسې حال کې چې په دې کې يې د داسې خلکو نومونه هم يادول چې هغه د داد الله د شهادت پر وخت لا له تحريک سره دوهم ځل نه و يو ځای شوی اونه ورسره تحريک په تماس کې و. د هغه پر دغه عمل چې ملا محمد عمر خبر شو، نو هغه فکر وکړ چې دا باندنۍ دسيسه ده چې غواړي د امارت ټول مهم کسان له همدې لارې له مينځه يوسي. ملا محمد عمر په دې اړه دوه برخې پيغام راواستاوه، په يوه کيسټ کې يې د ملا داد الله ملګرو ته ويلي وو چې ملا داد الله په خپله يو ربښتينی مجاهد و او په همدې لار کې شهيد شو، خو دا ورور يې زه نه پېژنم او نه يې په تحريک کې پرېږدم. هغه د منصور داد الله په اړه په ساده الفاظو کې ويلي: "چې ما تر اوسه دومره بې حيا او بې شرم انسان په طالبانو کې نه دی ليدلی، نو زه هيڅ وخت دا سړی په تحريک کې نه پرېږدم، تاسو د ملا داد الله اخوند ملګري سره کښېنئ او په خپل مينځ کې يو کس مشر کړئ".

دوهم پيغام يې په وزيرستان کې بيت الله مسعود ته ثبت کړی و، هغه هم ما واورېد. په هغه کې يې ويلي وو چې دغه وحشي انسان دوه طالبان نيولي او په زور يې له خولې رنګا رنګ خبرې باسي. تاسو دغه دوه کسان ورنه خلاص کړئ او ازاد تحقيق ورنه وکړئ، که واقعا مجرمان وو، نو شرعي حد وربانديې جاري کړئ، که نه خوشې يې کړئ. له هغه وروسته بيت الله مسعود کوشش کاوه چې دا کسان ورنه خلاص کړي، خو کله چې ملا بخت (داد الله منصور) پر ځان پوه شو، نو له دواړو کسانو نه يې سرونه پرې کړل او په خپله له وزيرستانه وتښتېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملا داد الله ملګرو ځان ته مشر وټاکه، خو منصور داد الله د قومیت پر بنسټ د کاړو د قوم ځینې ځوانان له ځانه سره کړل. د پاکستان د بلوچستان ایالت د ژوب او قلعه سیف الله په ځینو برخو کې به له څو موټرونو او ګڼو وسله‌والو کسانو سره ګرځېده، ویل کیږي چې د کاکړو ځینې قومي مشرانو یې هم ملاتړ کاوه او حکومت ته یې هم د ده په اړه ډاډ ورکړی و. د هغه پلویانو د ژوب پرمولانا محمد خان شېراني ناکامه برید هم کړی و، چې د دوی په لاس د سیمه‌ییزو خانانو دسیسه ګڼل کېده. بلاخره منصور داد الله د ۲۰۰۸ د فبروري پر یوولسمه د لورلایي او قلعه سیف الله ترمینځ پر یو چیک پوسټ د پاکستان له امنیتي ځواکونو سره خبره واړوله او یو پر بل یې ډزې وکړې چې د ډزو په پایله کې پاکستاني ملیشې منصور دادالله په زخمی حالت کې بندي کړ او بیا یې په دوه زره څوارلسم میلادي کال فبروري کې په پاکستان کې د یو شمېر بندي طالبانو په لړ کې بېرته خوشی کړ. د ۲۰۱۵ په اتلسمه منصور دادالله له بلوچستانه د هېواد د زابل ولایت خاک افغان ته کډه شو او د فبروري پر لومړۍ نېټه یې رسنیو ته د خپل تګ خبر او علت په ډاګه کړ. د ۲۰۱۵ د نومبر په یوولسمه (چې د ۱۳۹۴ لړم شلمې سره سمون خوري) زابل خاک افغان ولسوالۍ کې له څلور تنو ملګرو سره یو ځای طالبانو سره په یوه نښته کې ووژل شو چې جنازه یې د طالبانو د ځانګړې قطعې مشر پیر اغا په خپله وکړه.

وروستی ځل مې د مشر درېیمه کیسټه د ۲۰۰۹ په وروستیو کې اورېدلې وه چې اواز یې ډېر زهیر او له غږه یې ناروغۍ ښکارېدله. په ډېر مشکل یې اواز راووت. دا کیسټ د معتصم اغاجان د لېرې کولو په اړه وه. ملا محمد عمر په شفاهي پیغام کې ملا برادر ته ویلي وو چې ملا اغاجان او ملا عبد الجلیل نور په تحریک کې باید دندې ونه لري. ملا محمد عمر اغاجان ته د افغانستان بانک نه د را ویستل شویو پیسو په نه سپارلو او د نورو مالي مراجعو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصي تصرف په غوسه و او ملا عبد الجليل ته له ګاونډي هېواد سره د خفيه اړيکو او همکاريو پر سرغوسه و.

ملا برادر او مرستيال يې ملا اخترمحمد منصور د مصلحت له مخې اغاجان له مالي چارو له ګوښه کېدو وروسته د سياسي کمېسون مشر غوره کړ، ځکه چې دا کميسون دغه وخت کاري جنبه او خاص ارزښت نه درلود، خو اغاجان د همدې کمېسيون له ادرسه ېېرته مالي مراجعو ته د لاس رسي هڅې پيل کړې. دا وخت طيب اغا له مشره د خليجي هېوادونو د مالي مرستو د را ټولو اختيار او اجازه اخيستې وه، خو اغاجان يې مخه نيوله. له دې سره د طيب اغا او معتصم اغاجان لانجه اوږده او درنه شوه، چې دا وخت ملا برادر مشر ته بيا شکايت واستاوه او په دې اړه يې وروستی فرمان وغوښت.

اغاجان معتصم چې اصلي نوم يې عبدالواسع و د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د ملا محمد عمر د جهادي ملګري ملا ګل اغا له خوا ملا محمد عمر ته معرفي شوی و، لومړی د ملا محمد عمر باډی ګارډ و، خو وروسته پرې ملا محمد عمر ډېر باور وکړ. هغه له هغه وخته ظاهرا ملا محمد عمر ته مطيع و، چې له امله يې په کليدي پوستونو مقرر شو .که څه هم زه شخصا له معتصم صيب سره نږدې نه يم پاتې شوی اونه مې ورسره کاري تعلق پيداشوی، خو په عامه توګه چې ما هغه مطالعه کړی نو هغه نالوستی، د مرفع ژوند او مشري شوقي طالب چارواکی و او له بده مرغه هغه د ملګرو تر مېنځ په دولتي کارونوکې انحصار طلبه او ديکتاتور سړی و، خو د طالبانو ترمېنځ د هغه تر ټولو ستر عيب د تحريک له مالي بوديجې سره نامسئوله چلند او د امانت داري ضعف ګڼل کيږي، چې لامله يې د طالب مشرتابه حوصله او زغم هم ورته صفر شول، خو له دې سره سره هغه يو پوړکاره،هڅاند او پر اقتصادي سرچينو برلاسی طالب

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم و ، چې دا د ښاغلي معتصم يو ښکاره مثبت اړخ ګڼل کيدای شي. مګر له بده مرغه په شخصي ژوندکې يې ځينې ځورونکې اړخونه هم ليدل کېږي.

د هغه نږدې ملګري يې ځينې عجيبې کيسې بيانوي. ډېرى ملګري يې وايي چې خپل والد به يې ډباوه، بيا به يې دليل دا وايه چې زما خبرې نه مني! همدا راز د هغه خاص ملګرى ملا بخت الرحمن ذاکري وايي يو ځل په هيئتې کې د فاريياب اندخوي ولسوالۍ ته لاړو. هلته معتصم صيب امنيه قوماندان ته فاحشه کنځل وکړل. قومندان او ملګرو يې معتصم سخت وډباوه. همداراز ذاکري وايي چې له مزاره په ترانسپورتي الوتکه کې له معتصم سره ملګرى وم. معتصم د الوتکې کيبين ته لاړو. هلته د نقشې کتلو د انجينر پر څوکۍ کښناست. انجنر په معذورانه لهجه خواهش وکړ، چې دا څوکۍ زما لپاره ده، خو معتصم ورته غوسه شو چې چېرې بل ځای کښنه! هغه ورته وويل چې ملا صيب! يواځې په همدې څوکۍ دا دنده سرته رسېدای شي. معتصم پيلوټ ته پر مخ سوک ورکړ او د هغه پر مخ وينې راتوي شوې.

د طيب اغا د دفتر ملګرى ملا احمدجان احمدي وايي: له معتصم سره مې له کندهاره کابل ته ډرېوري کوله چې په ستره مخابره کې پرې ملا محمد عمر غږ کړل. د ملا صيب اواز له ډېرې پرېشانۍ لوړدلى و، له معتصم نه يې وپوښتل چې د خرقې شريفې هديره کې د عصمت مسلم قبر چا کندلى؟ دا خو ډېر غير اسلامي او سپک کار دى! معتصم بې تکلفه ورته وويل دا کار خو ما وکړ، ځکه چې ملا غازي راته وويل. ملا محمد عمر له غوسې مخابره آف کړه!

د مامورينو ډبول، تهديدول او ښکنځل د معتصم يو ناوړه معمول و، چې له همدې امله به مور ځينو خاصو ملګرو په کندهار کې په خپلو کې په ملا محمد عمرمجاهد يو اعتراض دا هم کاوه، چې معتصم او ملا خاکسار غوندې خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته يې ولې دومره مخه ورکړې! ځکه چې دوي دواړو به له خپلې دندې د باندې کله ناکله ځېنې بوږنوونکې حرکات کول.

معتصم د طالبانو د واکمنۍ له نړېدلو څخه وروسته د طالبانو مالي بودیجه له کابله نقل کړه او بیا یې تر پایه مشرتابه ته تسلیم نه کړه. د پیسو او مصارفو په بدل کې یې پر ځان یو شمېر خلک هم راجمع کړل. خاص مامورین یې هم لرل. د هغه د خصوصي مامورینو معاش به د تحریک له مامورینو درې چنده زیات و.

کله چې ملا برادر ملا محمد عمر ته حال استاوه نو مرستیال یې ملا اختر محمد منصور ورته وویل چې مورږ به د دې خبرې څه ځواب مشر ته ورکوو، چې هغه راته ویلي وو، چې هیڅ دنده به نه ورکوئ خو مورږ په خپل سر سیاسي کمېسیون ورکړ. مجبور شول چې مشر ته د قاصد په خوله ټول جریان واستوي، مشر یې په ځواب کې کیسټ راواستوله.

ملا محمد عمر په دې اډیو کیسټ کې معتصم له هر ډول مالي چارو منع او منفک اعلان کړی او هغه یې په مالي برخه کې په شخصي لاسوهنه او بې اطاعتۍ تورن کړی. همغه و چې معتصم له هر ډول دندې ګوښه کړای شو چې بیا د ۲۰۱۰ په اګست کې د کراچې ښار په یوه ځنډه کې د نامعلومو وسله‌والو په یوه برید کې له سخت ټپي کېدو څه موده وروسته لومړی کابل او بیا ترکیې ته ولاړ.

په دې وروستۍ کیسټ کې ملا محمد عمر د پرېشاني تر څنګ پوره غوسه هم ښکاري. ملا محمد عمر یو ځای وایي: دا به د کوم مشر لپاره د منلو وړ وي چې مالي مسئول یې ځان مالي متصرف کړی وي او بیت المال ورته شخصي ملکیت ښکاري...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو یو شی چې په دې کیسټ کې ډېر واضح و، هغه د ملا محمد عمر په اواز کې د تنفسي یا سینې د ناروغۍ څرګندې نښې وې، دغه ټولې کیسټې اوس هم د مشر له ځینې نږدې ملګرو سره خوندي دي..

د ملا محمد عمر لپاره د قاصد طریقه دا وه چې هغه به لومړی یوې بلې ولسوالۍ ته تللو، بیا به یې هلته د ملا محمد عمر له لوري له ورغلي قاصد سره خبره شریکه کړه، بیا به یې له همدې لارې د ملا محمد عمر پیغام یا کیسټ ترلاسه کوله. دا کار به کله په دوه میاشتې کله له دې هم کم وخت کې ترسره کېده، خو ډېر وخت به له دې زیات ځنډ راته. کله به چې کومه ډېره نوې حادثه رامینځ ته شوه، نو بیا به قاصد ډېره هڅه کوله چې د یوې هفتې او لسو ورځو ترمینځ پیغام تبادله کړای شي.

د ۱۳۹۲م هجري کال د وري د میاشتې ورستیو ورځو کې د ملا محمد عمر ناروغي سخته شوې وه، کوربه لومړی هغه ته یو معتمد سیمه‌ییز ډاکټر راوستی و، خو ډاکټر د ناروغۍ مترقي حالت ته بې وسه و، او کوربه ته یې ویلي وو، چې دا ناروغ باریکو ټیسټونو او تفصیلي علاج ته اړتیا لري. قاصد په دې ورځو کې نه و ورغلی، کوربه اړ شو، چې له دې حالته کورنۍ او مشرتابه خبر کړي، کوربه سفر کوي او لومړی یې کورنۍ خبروي. د ملا محمد عمر زوي مولوي محمد یعقوب او نسبتي ورور مولوي عبدالمنان ته یې خبر ورکړ. کله چې هغوی د تللو تابیا ونیوله، مازیګر ناوخته روان شول، پر لار یې شپه شوه. پر سبا یې خبر راغی چې ملا صیب وفات شو. ملا محمد عمر مجاهد د ۱۳۹۲هجري د ثور د میاشتې په څلورمه نېټه چې د ۲۰۱۳ میلادي کال د اپریل له ۲۴مې سره یې سمون خوړ، د چارشنبې ورځ پر مازیګر مهال سا ورکړه. د ملا محمد عمر مورنی ورور ملا عبد المنان او زوی یې ملا محمد یعقوب څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې وروسته ورغلل او خاورو ته يې وسپاره. دوی دواړه وايي چې د ملا محمد عمر وجود سالم و خو د سختې ناروغۍ اثار ورباندې ښکاړېدل.

د ملا محمد عمر زوی او ورور وايي چې کال وړاندې لا د ملا محمد عمر له ناروغۍ خبر وو، خو دومره جدي يې نه ګڼله او کوربه وايي ملا محمد عمر له څو کالو راهيسې د سينې ناروغي لرله، د سيمه‌ييزو ډاکټرانو له خوا ترلاسه کېدونکې درملو کار نه ورکاوه او په خپله ملا محمد عمر هم د تداوۍ کوښښ نه کاوه، بلکې عادي يې ګڼله او په وروستي کال چې تکليف زيات شو، مور ته يې د تداوي په نيت بل ځای ته د انتقال اجازه نه راکوله، چې بالاخره يې درد ټول وجود ته سرايت وکړ، چې دا د پرمختللې ټي بي ناروغۍ علامه وه، خو په بيماری کې يې تر مرګه شکايت نه کاوه.

د مشرتابه خبرېدل او د علماوو ناسته

د ملا محمد عمر زوي مولوي يعقوب او ناسکه ورور ملا عبدالمنان د ملامحمد عمر له وفاته وروسته لومړی د اسلامي امارت د دارالافتا رييس مولوي عبد الحکيم او د قضاء رييس مولوي هبت الله اخندزاده خبر کړل، خو هغوی ورته وويل چې نور د امير په نه موجوديت کې هر ډول کار شرعي بڼه نه لري، بايد زعامت وټاکل شي که په پټه وي، که ښکاره.

له دې وروسته شيخ عبدالحکيم، شيخ عبدالسلام او مولوي هبت الله اخندزاده، د ملا محمد عمر زوی مولوي محمد يعقوب، د ملا محمد عمر ورور ملا عبدالمنان، د ملا محمد عمر د دفتر پخوانی مسئول عبدالسلام کاتب او د ملا محمد عمر قاصد سره راټول شول او د ملا محمد عمر نايب ملا اختر محمد منصور يې راوغوښت او د خپل مشر له وفاته يې خبر کړ. ملا اختر محمد منصور ته يې ټوله موضوع وړاندې کړه. ملا اختر محمد منصور ورته وويل چې د دې سترې پېښې په رامينځ ته کېدلو هر ډول تصميم د څو کسانو اختيار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. باید د شوری ټول اعضاء په جریان کې وي، خو ملا عبد المنان او ناستو شیخانو ملا اختر محمد منصور ته وویل چې که داسې وشي، نو د ملاصیب د مرګ خبره پټه نه پاتې کیږي. دا وخت چې امریکایانو د وتلو اعلان کړی او نور هم حالات باریک دي، د ملا محمد عمر د مرګ اعلان ستونزې زیږولای شي، نو په کار ده چې یوه محدوده اهل الرایه ډله چې په راز ساتلو یې باور کېدای شي د نوي زعیم د ټاکنې کار ترسره کړي. کله چې حالات او وخت مساعد شول، د مشر وفات به اعلان شي او عامه بیعت به هم وشي، خو د منصور له ډېر ټینګاره وروسته ملا عبدالمنان په دې قانع شو، چې د شوری یو څو مهم اعضاء او د مرکزي ولایاتو یو تن مشهور عالم دې هم په جریان کې شي.

ملا اختر محمد منصور د ډېرو کسانو د خبرولو اراده لرله، خو د ملا منان له ډېر ټینګاره او د شیخانو له تاییده وروسته په دې فیصله وشوه چې د امارت پخواني قاضي القضات مولوی نور محمد ثاقب چې دا وخت د رهبري شوری غړی هم دی، د نظامي کمېسون مشر ملا عبد القیوم ذاکر، ورسره د هغه مرستیال امیر خان حقاني دي په جریان کې شي چې دواړه د رهبري شورا غړی هم دي او هغه کس دې هم راوستل شي چې د چا په کور کې ملا محمد عمر دولس کاله ژوند کړی او هلته یې سا ورکړې ده.

د دوهمې ناستې لپاره یوه هفته وروسته وخت وټاکل شو. هفته وروسته هغه کس هم راورسېد چې کور کې یې ملا محمد عمر وفات شوی و. دوهم مجلس ته دغه څلور کسه ورزیات شول. مولوي نور محمد ثاقب، ملا عبد القیوم ذاکر، د ملا محمد عمر کوربه (چې ملا محمد عمر یې ترمرګه په کور کې اوسېده) او ملا امیر خان حقاني چې ټول تقریبا لسو تنو ته رسېدل. په دغه ناسته کې لومړی د ملا محمد عمر کوربه وپوښتل شو چې ټول جریان ناستو کسانو ته ووایي. هغه ټول جریان ووایه او ویې ویل چې ملا صیب د زعامت په اړه هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول توصیه نه ده کړې، بلکې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ یې د امارت موجوده تشکیل ته هدایات ورکول او د نوي کس په اړه یې کله هم کومه اشاره یا خبره نه ده کړې.

وروسته څلور واړه علماء، د طالبانو د دارالافتا رییس مولوي عبدالحکیم، د قضاء عمومي رییس مولوي هبت الله، د هغه مرستیال مولوي عبدالسلام او پخواني قاضي القضات مولوي نور محمد ثاقب له ټولو ناستو کسانو وکالت او اختیار واخیست. په خپلو کې سره کښناستل او نور ټول یې بهر بلې خونې ته وویستل. تقریبا تر دوه ساعته خپل مینځي بحث او مشورو وروسته یې بېرته ټول راوغوښتل. لومړی یې د امارت پر شرعی حثیت ترغیبي خبرې ورته وکړې. وروسته یې وویل چې مورږ له مشورې او غور وروسته دا فیصله وکړه؛ لکه څنګه چې مشر په خپل ژوند کې ملا اختر محمد منصور خپل نایب پرېښی و او اوس هم بله داسې بدیله څېره نه ښکاري چې په دې وخت کې ټول پرې راجمع شي او که چېرې په دې وخت کې د بل چا نوم واخیستل شي، په خپله خلکو سره تشویش او شکوک پیدا کیږي او د مشر د وفات خبره هم بیا نه شي پټېدای، نو همدغه ملا اختر محمد منصور دې د ملا محمد عمر پر ځای مشر وي.

له دې وروسته شیخ عبدالحکیم د بیعت په نیت د ملا اختر محمد منصور لاس ور کش کړ، خو ملا اختر محمد منصور سخت خولې خولې او تر تاثیر لاندې و، لاس یې نه ورکاوه. شیخ یې په زوره لاس کش کړ او بیعت یې ورسره وکړ. بیا ورپسې درې واړو شیخانو بیعت وکړ. له هغه وروسته عبدالقیوم ذاکر د منصور لاس ونیو او له ډېرو احساساتو نه یې لاس ورښکل هم کړ او بیعت یې وکړ. بیا امیر خان حقاني بیعت وکړ، ورپسې د کور مالک او نورو حاضرینو بیعت وکړ، خو دا وخت ملا منان لاس ورنه کړ، چې کله شیخانو هغه ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیعت وویل هغه وویل چې زمورږ د کورنۍ حیثیت او د مشر نایب هم باید معلوم شي. په دې سره عبدالقیوم ذاکر هغه ته جدي شو چې ته کشر سړی یې، دې خبرو کې کار مه لره او بیعت وکړه. همغه و چې ملا عبد المنان هم بیعت وکړ.

د هغه له بیعته وروسته شیخانو عبد المنان ته وویل چې تا ته به مناسب خدمت در وسپاري، ستاسي کورنۍ به هیڅکله امارت شا ته نه پریږدي.

څنګه چې ملا محمد عمر د هغه د قاصدانو په وینا په خپل ژوند کې د خپل نسبتي ورور په اړه دا نظر درلود چې هغه باید یوازې زما کورنۍ سمبال کړي او په امارت کې کوم ستر مسئولیت ونه لري، له همدې امله د ملا محمد عمر تر مرګه پورې ملا عبد المنان کوم مسئولیت په طالبانو کې نه درلود، خو له دغې ورځې وروسته د نوي مشرتابه له خوا هغه د رهبري شورى غړی او د نظامي کمیسیون ناظر ونومول شو.

په دې مجلس کې په متفقه ډول ملا اختر محمد منصور د ملا محمد عمر پر ځای د طالبانو امیر منتخب شو او علماوو له ټول مجلسه عهد واخیست چې تر مناسبو حالاتو به د مشر د وفات خبر تش راز وي او له دې مجلسه به بهر نه وځي.

له دې کاره څو میاشتې تېرې شوې چې د جنوب د یو شمېر مهمو پوځي قومندانانو او عبد القیوم ذاکر ترمینځ یو لړ ستونزې پیدا شوې. ذاکر غوښتل چې یو شمېر نظامي ګروپونه او دلګۍ یو په بل کې مدغمې کړي او ځینې ختمې کړي او همداراز د ټول هېواد په کچه وسلې معلومې او نمره کړي چې دا یو ډېر ستونزمن کار و.

دغې پروسې د ذاکر او طالب قومندانانو ترمینځ شخړې وزېرولې. خبره شورا او ملا اختر محمد منصور ته ورسېده. ملا اختر محمد منصور د ډېرو قومندانانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکایت په وجه د ذاکر له دغو اقداماتو سره مخالفت وکړ. ذاکر ته یې سپارښتنه وکړه چې دا ډول اقدامات ستونزې پیدا کوي. له دې نه صرف نظر شه. د منصور دغه موقف د شوری مهمو غړو هم تایید کړ چې له امله یې عبد القیوم ذاکر د استعفاء او کار پرېښودو ګوابښ وکړ. ملا اختر محمد منصور ورته وویل چې استعفاء مه کوه. حالات نازک دي او زمور تاسو ترمینځ د مشر د وفات موضوع هم پټه ده. هغه کسان چې د مشر د وفات په راز کې شریک ول لکه امیر خان حقاني، هغوی هم ورته عذر وکړ، خو د عبد القیوم ذاکر د زیات ټینګار له امله مشرتابه له نظامي کمیسیونه د هغه استعفاء منظوره کړه، خو د شوری د غړي په حیث یې د هغه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

څو میاشتې عبد القیوم ذاکر پر کور کېناست. له څو میاشتو وروسته یې علماوو او هغه خلکو ته چې د خفیه تعین له رازه خبر وو، خبرداری ورکړ چې زه پر تحریک نیوکې لرم او له مشره ګیلې لرم، که دا ونه منل شي زه د د مشر ملاصیب د وفات موضوع د خلکو مخ ته ږدم. په جواب کې امیر خان حقاني ورته وویل چې دا خو ډېر ماشومانه حرکت دی چې که ستا خبره څوک نه مني نو ته دغه اسرار وایې، که نه، نه یې وایې!

بالاخره د علماوو په توسط عبد القیوم ذاکر او ملا اختر محمد منصور سره جرګه شول. ملا عبد القیوم ذاکر لس اعتراضونه او غوښتنې وړاندې کړې چې یوه هم په کې دا وه چې ما ته دې ښرته د نظامي کمیسیون مشري راوسپارل شي. منصور د هغه نهه غوښتنې ومنلې، خو له دې یوې غوښتنې یې انکار وکړ او ورته ویې ویل؛ که زما مشري منې نو هر کار چې زه درته سپارم هغه به کوې. څوک چې په خوله کومه رتبه غواړي، زه یې نه شم ورکولای.

درېیمانو علماوو ورته وویل چې نور ته ملامت یې ستا نهه خبرې ومنل شوې. له دې یوې ته تېر شه، خو عبد القیوم ذاکر قانع نه شو، همداسې خفه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د ۲۰۱۴ له نیمایي په ځینې خاصو حلقو کې د مشر د وفات موضوع یاده کړه چې له همدې امله به کله ناکله دا اوازه بهر ته هم راووتله. د ۲۰۱۵ له پیله هغه دا خبره په ډېرو محافلو کې یاده کړه چې داد الله منصور او ځینې نورو خلکو ته هم ورسېده.

د سیمې ځینې استخباراتي کړیو او میډیا هم دا موضوع بیا بیا راپورته کړه، خو د طالبانو د رسمي موقف له امله ګونګه پاتې شوه. بالاخره چې د شعبان په میاشت کې عبد القیوم ذاکر د خپلو ملګرو او یو شمېر قومندانانو په حضور د ملا محمد عمر د فاتحې مراسم پیل کړل. خبره په طالبانوکې په قوت سره وښوربده. ملا اختر محمد منصور مجبور شو. د علماوو په مشوره یې د شوری یو شمېر له پېښې ناخبره خو با اعتماده اعضاء را وغوښتل او مشوره یې ورسره وکړه، چې په دې کې ملا محمد حسن اخوند ،مولوي حمدالله نانی،خلیفه سراج الدین، امیرخان متقي، مولوي عبدالکبیر، مولوي عبدالطلیف منصور اونور وو...

هغوی مشوره ورکړه چې د روژې له میاشتې وروسته دې د مشر د وفات خبر اعلان شي او په ښکاره دې د امیر انتخاب وشي. همدا و چې له کوچني اختره وروسته د ۱۳۹۴ د زمري په پینځمه په همدې موخه د شورا غونډه دایره شوه چې په کې د رهبري شوری لاندې غړي وو:

ملا محمدحسن، مولوي احمدالله نانی، مولوي عبدالکبیر، مولوي عبدالطیف منصور، مولوي نورمحمدثاقب، ملا امیرخان حقاني، حافظ عبدالمجید، ملاګل اغا، خلیفه سراج الدین، مولوي امیرخان متقی او د علماوو له ډلې هبت الله اخندزاده، شیخ عبدالحکیم، مولوي فریدمحمود ګډون درلود. ملا عبدالمنان او عبد القیوم ذاکر هم غونډې ته راغلل خو د بیعت پر وخت له مجلسه ووتل. ملا عبد الرزاق او ملا حسن رحماني او ملا محمد رسول ته یوه ورځ انتظار وشو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چې کله هغوی وویل چې دوی په غونډه کې ګډون نه غواړي او نه شي کولای چې دې غونډې ته حاضرشي، نور د مجلس ګډونوالو ځان مجبور وګانړه، چې اقدام وکړي.

ملا اختر محمد منصور لومړی ورځ غونډې ته راغی او د شوری د غړو او علماوو په حضور یې د مشر د وفات ټوله کیسه وکړه او بیا یې د علماوو او د شوری د یو شمېر غړو له خوا د شوې پرېکړې په یایله کې د خفیه بیعت کیسه وکړه. اخیر کې یې مجلس ته وویل: ما تر دغه ځایه دا امانت را ورساوه، نور تاسو پوهیږئ چې څه فیصله کوئ. زه هم خپل اختیار تاسو ته درکوم، هر څوک چې تاسو غوره کړ، هغه زما هم امیر دی.

نور له غونډې ووت. غونډه یوه ورځ او شپه روانه وه. عبد القیوم ذاکر وویل چې په کاندیدانو کې دې اختر محمد منصور نه وي. ټولو غړو ورته وویل چې یوازې ستا په غوښتنه دا نه شي کېدای چې د شوری اکثر یا ټول غړي پر چا لاس کېږدي باید بیعت ورسره وشي. کله چې نوره ټوله موجوده شوری له جر وبحثه وروسته په اختر محمد منصور متفقه شوه، ذاکر انکار وکړ. دې سره د شوری غړو او علماوو هغه ته عذر او زاری وکړې. هغه ظاهري دلیل نه درلود، خو له بیعته یې انکار کاوه.

دا وخت د ملامحمد عمر ناسکه ورور عبد المنان او ذاکر له غونډې ووتل. عبد المنان وویل وخت ته اړتیا لري. سمدستي بیعت نه شي کولای. شوری اختر محمد منصور راوغوښت او ورته ویې ویل چې د اکثرو غړو اتفاق پر تا راغی. بله لار نه شته. ملا اخترمحمد منصور وویل که پر ما رښتیا د ناستو خلکو اتفاق راځي، زه ستاسې خبره منم خو ټول به عهد راسره کوئ چې یواځې به مې نه پرېږدئ، بلکې په هر کار کې به راسره مرسته کوئ. ټولو ناستو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همکاری وعده ورکړه او بیا ورسره بیعت وشو. په دې سره د شورا پاتې غړو له اختر محمد منصور سره بیعت وکړ.

په سبا د زمري د میاشتې په اتمه د ملا محمد عمر مجاهد د مورني ورور ملا عبد المنان او زوی ملا محمد یعقوب په مشوره د ملا محمد عمر د وفات په اړه رسمي اعلامیه خپره شوه او د والیانو او قومندانانو یوې غونډې ته چې په سلګونو کسان وو، ملا اختر محمد منصور وینا وکړه او د خپل غورځنګ راتلونکی مسیر یې تشریح کړ، چې ورپسې د غونډې ګډونوالو هم بیعت وکړ. د شوری په غایبو غړو کې مولوي سید شریف او عبدالسلام کاتب د خپل بیعت اختیار همدغو غړو ته رالېږلی و چې نوی مشر یې تعین کړ. له قطر نه هم له محمد طیب اغا او مولوي نبک محمده پرته، نورو ټولو غړو چې درې په کې د رهبري شوری غړي هم ول، د زمري د میاشتې په یویشتمه د یوې غونډې په ترڅ کې له نوي امیر سر بیعت اعلان کړ، چې په دې سره نوی امیر د رهبري شورا له اتلسو غړو د پینځلسو او د تحریک د ټولو والیانو او د کمېسیونونو د مشرانو او پوځي قومندانانو په بیعت سره د امیر المومنین تر لقب لاندې غوره شو.

د ټولو مسئولینو، علماوو او والیانو، ولسوالانو بیعتونه مسلسل په غږ او ویډیو کې د طالبانو په رسمي ویب پاڼه کې تر څو هفتو خپرېدل.

د همدې کال د اګست په دولسمه د القاعده مشر ایمن الظواهري خپل بیعت په غږ کې د انټرنیټ له لارې اعلان کړ. له دې نه وروسته یو ځل بیا د ځینې چارواکو له خوا پر عبد القیوم ذاکر مسلسلې جرګې وشوې. فدایان یې ورته جرګه کړل، د ګوانتانامو بندیان یې ورته جرګه کړل. سپین ږیري او مشهور علماء یې ورته جرګه کړل، خو ذاکر ویل، نه مخالفت کوم او نه هم بیعت. د ملا محمد عمر مورني ورور بیا هم وویل چې دی وخت ته اړتیا لري او سمدستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیعت نه کوي. خو بل خوا بیا د ملا محمد عمر زوی مولوي محمد یعقوب په پټه له ملا احترمحمد منصور سره لیدل او هغه ته یې له خپله اړخه اطمنان ور کاوه.

څو ورځې وروسته د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد د کورنۍ له خوا د فاتحې مختصر مراسم ترتیب شول. په دې مراسمو کې د ملا محمد عمر زوی مولوي محمد یعقوب لنډه وینا وکړه. هغه وویل ملا محمد عمر د هیڅوا په اړه او نه هم د کورنۍ د کوم غړي په اړه کومه توصیه کړې. ملا محمد عمر د تبرکلوز (ټي بي) یا هم د تور زېړي د بیماری له امله وفات شو. دغه وینا یې ثبت او پر فېسبوک پاڼو او د طالبانو په سایټ کې هم خپره شوه، چې په دې سره د منصور داد الله او منان نیازي ادعاوې هم د طالبانو مینځ کې تر ډېره بې اثره شوې.

د ملا محمد عمر د ناسکه ورور عبد المنان ځینې پلویانو ویل چې عبد المنان ته دې نیابت ورکول شی، بیا به بیعت کوي، خو د طالبانو نوي مشرتابه د هر چا د مشروط بیعت مخالفت کاوه. بالاخره تقریبا یوه میاشت وروسته، د مینځکړو طالبانو او علماوو د مسلسلو هڅو له امله د یوې غونډې په ترڅ کې د ۱۳۹۴ لمریز کال د وږي د میاشتې په څلورویشتمه چې د ۲۰۱۵میلادي کال د ستمبر له پینځلسمې سره یې سمون درلود، ملا عبد المنان او د ملا محمد عمر زوی مولوي محمد یعقوب بې قید او شرطه له نوي مشر سره بیعت وکړ.

محمد رسول، ملا حسن رحماني او ملا عبد الرزاق نه د بیعت غونډې ته حاضر شول او نه یې بیعت وکړ، بلکې په هم هغه ورځ چې نوی مشر اعلان شو ملا محمد حسن او ملا محمد رسول د میډیا له لارې د پاکستان اسلام اباد ښار کې پاکستاني مقاماتو سره د یوې رسمي غونډې په ترڅ کې نوي مشر سره خپل مخالفت اعلان کړ. څه موده وروسته د همدې کال د نومبر په درېیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد رسول د جلا ډلې اعلان وکړ، خو رحماني او عبد الرزاق يې ملاتړ ونه کړ او د ۲۰۱٦ د جنورۍ د میاشتې اخیر کې حسن رحماني د سختې ناروغۍ په حالت کې خپل لیکلی بیعت رسنیو کې په خپله امضاء خپور کړ او له دې نه یوه هفته وروسته د ورپښې ناروغۍ له امله د پاکستان کراچۍ ښار په یوه روغتون کې وفات شو.

د ملا محمد حسن رحماني د بیعت توري:

زه محمدحسن رحماني د افغانستان د مسلمان او غیور ولس یو مجاهد چې د ژوند له پیله بیا تر اوسه پورې په افغانستان کې د سوچه شرعي نظام د پلي کېدو په ارمان وم او یم او د دې ارمان د پوره کېدو په لار کې مې تر خپل وس او توان پوري زیار ایستلی، همدارنګه د دې ارمان د پوره کېدو په منظور د اسلامي امارت نوي امیر، امیر المؤمنین ملا اخترمحمد منصور سره په ټولو شرعي امورو کې د مکمل اطاعت په موخه د زړه له کومي بیعت اعلانوم.

له دې نه تقریبا یوه میاشت وړاندې د پاکستاني طالبانو د مشر مولانا فضل الله هغه ویډیو هم د طالبانو مشر ته ورسېده چې د خپلو سلګونو پلویانو د یوې غونډې په ترڅ کې یې ملا اختر محمد منصور سره په عربي او پښتو ژبو خپل بیعت اعلان کړی و.

ملا عبد القیوم ذاکر دا پالیسي غوره کړه چې نه بیعت کوم او نه مخالفت، خو د هغه د نږدې ملګرو د مسلسلو هڅو په پایله کې ملا عبد القیوم ذاکر د ۱۳۹۵ لمریز کال د وري پر لسمه چې د ۲۰۱٦ میلادي کال د مارچ له دېرشمي نیټې سره یې سمون خوړ، ملا اختر محمد منصور سره په لاندې الفاظو خپل بیعت اعلان کړ:

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحمدلله الذی امرالمسلمین بالاتحاد والاتفاق والصلواة والسلام علی قاید الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم وعلی اله واصحابه اجمعین عدد خلقه ورضا نفسه وزنة عرشه ومداد کلماته.

د افغانستان د اسلامي امارت ټولو علماء کرامو او محترمو مجاهدینو مشرانو او کشرانو ته

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

محترمو گرانو وروڼو تاسو ټول الحمدلله پوهېږئ چې د طالبانو اسلامي تحریک د عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد تر رهبرۍ لاندې په افغانستان کې د یوه سوچه اسلامي نظام د قیام لپاره پیل او مور او تاسې د دې نظام په خاطر د سلګونو زرو قربانیو ورکولو سره تر هر څه مادي او معنوي شتمنیو تېر او بالاخره د بریا پړاو ته ورسېدو چې د کفري نړۍ له ارادې خلاف په افغانستان کې اسلامي امارت قایم شو ځرنګه چې صلیبي نړۍ او اشغالګرو داسې یو سپېځلی نظام ونه زغملای شو، نو د اسلامي امارت لپاره د ازمون یو نوی پړاو پیل شو خو عالیقدر امیر المؤمنین رحمه الله د لوی خدای په نصرت د ټولې کفري نړۍ کرغېړن ارمانونه ورنیمه خوا کړل کله چې د عالیقدر امیر المومنین د وفات خبر خپور شو ما د ځینو عمده ټکو چې د اسلامي امارت د هر اړخیز بریالیتوب، استقلال، د نظام د ښه بهبود، د صف د متحد ساتلو ورسره د اوسنیو مشکلاتو د حل په خاطر څه شرعي ملحوظات درلودل لله الحمد د ملګرو په پوره سعیه او کوشش سره د هغو د شرعي ملحوظاتو پر جوړولو موافقه وشوه ملګرو ته دی الله تعالی اجر عظیم او نیکه بدله ورکړي.

محترم ملا اختر محمد منصور زمور مشر دی زما ورسره د شریعت په چوکاټ کې بیعت دی ان شاء الله تعالی د خپل وس او توان مطابق به د شریعت په چوکاټ کې اطاعت کوم.

والی الله المشتکی حسبنا الله ونعم الوکیل نعم المولی ونعم النصیر ونفوض امورنا الی الله ان الله بصیر بالعباد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخوکم فی الله الحاج حافظ ملا عبد القیوم ذاکر

۱۴۳۷ هـق جمادالاخر۲۱ نیټه

۱۳۹۵/حمل / ۱۰ هـ ش

۲۰۱٦/ ۳ /۳۰ م

قطر ته د طالب استازو تلل او دفتر پرانیستل

په ۲۰۰۵ کې مولوي شهاب الدین دلاور او یوبل د منځني کچ طالب چارواکې له یوه مرموز برطانوي سړي "مایکل سیمپل" سره د پیښور ښار په "تاکال" کې د قوماندان "دیدار" د موټرونو په بارګین کې ملاقاتونه وکړل، سیمپل انګریز دي چې د یوه متقاعد پاکستاني فوځي افسر له لور سره یې واده کړی، میرمن یې نځاګره ده او د ده استخباراتي جال په پاکستان کې خور دی. له دې وروسته به په مجلسونو کې له مولوي دلاورنه دا خبره ډیره اوریدل کیده، چې موږته دې مشرتابه د بې طرفه طالبانو په توګه په دریم هیواد کې د اوسیدو او استازولۍ اجازه راکړي.خو د دې خبرې مطلب واضح نه و.مولوي شهاب الدین د کرزي له رژیم سره د سولې د خبرو پلوي هم کوله، خو کله چې د صبغت الله مجددي په مشرۍ د سولې سمبولیک کمیسون جوړ شو نو د مجددي زوي پاکستان ته سفر وکړ، په پاکستان کې یو شمیر زړو طالبانو ورسره وکتل، د مجددي زوي هغوي ته ویلي و چې امریکا سوله نه غواړي، خو که طالبان تسلیمیږي نو زموږ دکمیسون له لاري دي ځانونه تسلیم کړي، د مجددي د زوي دغه څرکندونو واضح پیغام لاره، خو په ۲۰۰۸ کې یوځل بیا سیمپل ناستي پیل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هغه وروسته د جرمني تابعيت لرونکي يوه افغان انجينر وحيدالله حليمي پاکستان ته سفر وکړ. ښاغلي حليمي چې د جرمني تابيعت لري او دجرمني له استخباراتو سره نږدې اړيکې هم لري، له دې سره سره هغه د قطر د شاهي کورنۍ سره له کلونو راهيسي نږدې پاتې شوي او په قطرکې د انجينرۍ فعال شرکت هم لري، ښاغلي حليمي په لومړي ځل د طيب اغا او جرمني استخباراتو ترمښځ اړيکه جوړه کړه، طيب اغا د حليمي په واسطه جرمني ته پټ سفر وکړ، له هغه وروسته چې طيب د جرمني له حکومت سره د حليمي په منځکړتوب اړيکي نږدې کړې، عبدالسلام ضعيف د سي آی اي او طيب ترمښځ تماس برابر کړ، چې له دې وروسته د طالبانو په نوم د يوه دفتر پر خلاصيدو موافقه وشوه.خو ځای مشخص نه و، په ۲۰۱۱ کې زما له يوه ملګري نه مولوي دلاور جرمني ته د قاچاقي تللو په اړه معلومات غوښتي و، چې له دې نه داسي ښکاريده چې هغوی لومړي جرمني کې اوسيدل غوښتل، خو وروسته د جرمني، سي آی اي او قطر په دې طرفه توافق په قطرکې پر دفتر پرانيستلو موافقه وشوه، خو شورا او ملامحمد عمر لا دا وخت هم له ټوله جريانه ناخبره ۹۹.

له دې وروسته په ۲۰۱۲ کې طيب اغا ملا محمد عمر ته حال واستاوه چې دی غواړي قطر ته څه ملګري له ځانه سره بوزي او د جرمنيانو په واسطه له امريکايانو سره د ګوانتانامو بنديان تبادله کړي. ملا صيب د بنديانو په برخه کې مزاجا ډېره جدي پاملرنه کوله. له همدې امله يې قاصد ته ويلي و؛ که له کيوبا نه زمونږ د ټولو بنديانو تبادله له هرې لارې ممکنه وي زما له خوا درته اجازه ده، دا کار وکړه. پر دې سربېره په قطر کې د مستقل دفتر يا هم د سولې لپاره د مذاکراتو هيڅ کومه خبره ملا محمد عمر ورته نه وه کړې او نه دوی ړنه اجازه اخيستې وه. د ۲۰۱۲ په ورستيو کې د سياسي کمېسون مشر طيب اغا قطر ته له ځانه سره د خپلې خوښې څو ملګري بوتلل چې په دې کې د شورى

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ملا اختر محمد رایه او انتخاب ځای نه درلود. طیب دا دلیل وایه چې ما ته مشر مستقیمه اجازه کړې.

له بل لورې یوڅه شخصي ملګري عبدالسلام ضعیف ورسره ځای کړل، چې دفتر په مجموع کې د ضعیف او طیب د خپلې خوښې د ملګرو نه تشکیل شو.

د ۲۰۱۳ پیل کې ملا محمد عمر ناروغ شو او اکثره چارې ملا اختر محمد منصور ته پاتې شوې. منصور له طیب سره فقط همکاري کوله، نور یې په کارونو کې نه ورته کار درلود، نه هم طیب د هغه مداخله منله. طیب په دې ډاډه و چې زما پیغام به ملا محمد عمر ته اوس هم رسیږي، خو قاصد د هغه له ناروغۍ طیب نه خبراوه.

د اپریل په لومړیو کې غالبا مشر نور د خبرو کولو نه و. د اپریل په څلورویشتمه وفات شو او له دې نه څه کم دوه میاشتې وروسته د قطر دفتر پرانیستل شو. دفتر په پرانیستنه کې شوری موافقه وه خو د افغان چارواکو د فشار او نورو مداخلو له امله دفتر وتړل شو. د ملا محمد عمر قاصد او قاصد ته نږدې کسانو له دغه حالته چې منصور خاموشي اختیار کړې وه او طیب د مشر له مرګه خبر نه و، ناوړه استفاده کوله. قطر ته یې خپل خاص ملګري، خپلوان، ان تجارتي شریکان د استازو په ډله کې ورزیات کړل. طیب به نورو غړو ته ویل چې دا د مشر ملا صیب په اجازه او غوښتنه دلته راولو.

بل پلو طیب اغا هم له شوری مستغني و او ځان یې مستقیما له مشر سره په رابطه کې ګانه، نو ځکه هر هغه څوک چې د ده خوښ وو او په شخصي کارونو کې یې په کار وو، ټول یې د دفتر د استازو په نوم قطر ته بوتلل. که به کوم کس منصور یا هم شوری معرفي کړ، نو هغه ته به هلته داسې خنډونه برابرېدل چې ببرته به راوګرځېد. منصور په سترو سیاسي مسئلو کې هدایات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وراستول خو په مالي مسایلو، د دفتر په اداري او عامو دیپلوماتیکو کارونو کې یې غرض نه درلود، چې له همدې امله یې په دغه ډله کې دوه پر درې غیر ضروري، یواځې په تعلقانو او شخصي فرمایشونو ورغلي خلک ځای شول.

بله ستونزه دفتر کې دا وه چې مشرتابه او شوری پرې مسلطه نه وه. هغوی هلته داسې استازیتوب کاوه چې مشرتابه یې پوره په اعتماد کې نه و اخیستی، چې له همدې امله هغوی د نظامي حالاتو په اړه هیڅ واک او اختیار نه درلود. له دې سربېره پر هغوی د عامو طالبانو بې باوري او بدګوماني د دوی لپاره تر ټولو ستره ستونزه وه. په دوی پورې ډول ډول تورونه پورې کېدل. د بېلګې په توګه په عامو مجلسونو کې به ویل کېدل چې جان اغا احمدزی یو درجن داسې باردار موټرونه لري چې د پیسو په بدل کې له پاکستانه د ناټو مرکزونو ته لوجستکي مواد وړي. په داسې حال کې چې د ناټو اکمالوونکي موټرونه طالبانو سوځول،کله ناکله به یې موټروانانو ته هم درنه سزا ورکوله.

په مولوي شهاب الدین پسې دا خبره ډېره مشهوره وه چې هغه د پاریس ناسته کې له معصوم ستانکزي سره یارانه جوړه کړې، چې له امله یې خپلو دوو زامنو ته له دولته تعلیمي سکالرشیپونه ترلاسه کړي وو. بل پلو د شهاب الدین دلاور له افغان او پاکستاني استخبارتي چارواکو سره په یوه وخت دوستانه اړیکې لرل د سوال وړ بلل کیدې. کله چې د ملا اختر محمد منصور له مشر ټاکل کیدو وروسته د مولوي عبد الکبیر په مشرۍ د اداري او مالي چارو د تفتیش یو کمېسیون وټاکل شو نو دا وخت د قطر دفتر د مالي محاسبې لپاره ملا محمد یونس قطر ته واستول شو. هغه د مالي محاسبې له شفافیته ناراضه راستون شو. د دفتر د غړو له سترو کاروبارونو او په دوبۍ کې د هغوی د جایدادونو خبرې یې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل پلو د کابل او قطر میشتو طالبانو ترمینځ د پټې خواخوږۍ خبرو طالب مشرتابه له اوله لا اندیښمن کړی و، ځکه چې له یوې خوا له لویه سره د سولې پروسه افغان واکمنو او د هغوي ترشا ولاړ بهرنیانو استخباراتي کړې وه، بل پلو چې معصوم ستانکزي د سولې شورا له مشرتابه د ملي امنیت ته مشرتوب ته لاړ، نو طالب مشرتابه ته یې نور شکونه هم وزیږول، آن تردې چې د تحریک استخبارتي کارکوونکو ته په کابل کې یوه پخواني طالب چارواکې ویلي و چې له معصوم ستانکزي نه مې په یوه ناسته کې واوریدل چې هغه کس ته یې وویل چې قطرته یې لیږه، چې د قطر لپاره تعین شوې نقدي پیسې هم درسره ورسوه!

پخپله ملا اختر محمد منصور هم طیب اغا او عبدالسلام ضعیف ته په دې غوسه وو چې د طالب غورځنګ په استازیتوب له ځینو هیوادونو اولوریو نه پیسې ترلاسه کوي او په کابل کې یې خپلې پروژې پرې روانې کړې. منصورصیب یوه ورځ وویل که د نړۍ یو مسلمان دوي ته په دې نامه څه ورکړي چې د کوم بندي یاشهید طالب کورنۍ ته یې ورکړئ، نو دوي څنګه بیا دا پیسې کابل ته وړي.خو منصور صیب په دې اړه نور وضاحت ونکړ چې کومو او څه ډول پیسوته یې اشاره وه.

بله ستونزه په خپله د دفتر د غړو ترمینځ ناندرۍ وې. د دفتر یو شمېر غړو په طیب اغا تور پورې کاوه چې له امریکایي استخباراتو سره له موږه پټې اړیکې ساتي. هغوی به ویل طیب اغا تکې تنها زموږ له حضوره پرته له امریکایي استازو سره په بنده خونه کې ملاقاتونه کوي.

کله چې د ملا محمد عمر د وفات له اعلانه شپږ میاشتې وړاندې طیب اغا خبر شو، نو دا وېره ورسره پیدا شوه چې تېر دوه کاله یې د ملا محمد عمر په نامه خودسره حرکتونه کړي بنایي اوس ورسره محاسبه وشي او نړۍوالو چاینلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به هم ټیټ او بې اعتباره شي. هغه وار د مخه دې ته اماده‌ګي لرله چې ځان جدا اعلان کړي او د دې لپاره يې پر هغو خلکو پانګونه کوله چې ده سره يې د راتلونکې ملګرتيا وعده کړې وه.

يل لوري ته ملا اختر محمد منصور له ۲۰۱۴ نه له نړۍ سره د اساسي او پټو روابطو په برخه کې له قطر استازو مايوسه و. هغه به ښکاره ويل چې دوی روابط له سي آی اې نه شي پټولای. نه په اساسي او تلپاتې روابطو کې رول لوبولای شي. د ملا اختر محمد اشاره تر ډېره د امريکا مخالفو هېوادونو سره اړيکو ته وه. د دې لپاره هغه د يو مستقل خفيه چاينل هڅې پيل کړې چې تر يوه حده پر مخ ولاړ خو په ۲۰۱٦ کې د امريکايي ډرون له لوري د هغه پر شهادت دغه چاينلونه اکثره ببرته د قطر د استازو له خوا خنثی شول.

د ربښتينې سولې او تفاهم پر وړاندې درانه خنډونه

له کومه وخته چې د سولې په نامه خوځښتونه پيل شوي نو اساسي ستونزه د سولې او مثبت تفاهم په مبهم تعريف کې ښکاري. د سولې او روغې کلمه د امريکا او د هغوی د افغان ملګرو او چارواکو له لوري تر ډېره تاکتيکي، تبليغاتي او يو طرفه کارول شوې. بل لوری طالبان د يوې سوچه مذهبې تګلارې پيرو دي. هغوی ته د سولې تر سرليک لاندې هر ډول تفاهم لومړی په جواز او نه جواز تلل کيږي او د مقاومت د پيلولو ستر هدفونه په نظر کې نيول کيږي. له هغه وروسته بيا له مقابل لوري سره د مذاکراتو مېز ته ځي. په دې کې د فکري او عقيدوي دلايلو ترڅنګ د نومول شوي اشغال وجود د مقاومت اساسي دليل دی، نو هر هغه جريان چې د اشغال پای ته رسېدل او د يرغلګرو وتل يې په اجنډا کې نه وي، طالب سره پرې نتيجې ته رسېدل ناشونی ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل پلو د کابل د سولې کمېسیونونه او شوراګانې تر دې مهاله په بشپړ ډول د خپلو مخالفینو په وړاندې چې دا وخت یو سیاسي او پوځي قوت دی، تش تبلیغاتي او استخباراتي فعالیتونه کوي. له کومه وخته چې د مجددي په مشرۍ په لومړي ځل دا کمېسون جوړ شو، تنها د ولس او نړۍوالو د ذهنیت د بدلون لپاره یې د سولې نارې وهلې خو عملي کار یې د طالبانو د افرادو تسلیمۍ ته هڅول وو. هغوی به په تبلیغاتي ډګر کې د افرادو د تسلمېدو فرضي اعلانونه هم کول.

د نمونې په ډول د دې شوری یوه مرستیال ته خپلو خپلوانو وړاندیز کړی و چې مورِ ته په دولت کې کار او روزګار وګوره. ده ورته ځواب کې ویلي وو چې څو زاړه توپک په پیسو رانیسئ، مورِ به ویډیو درنه وکړو او د تسلیم شویو طالبانو په نامه به مو اعلان کړو. تاسو ته به پیسې درکړو زمورِ به تبلیغاتي کمپاین وشي! چې ښایي همدې ته ورته به هغوی سلګونه نور جعلي اعلانات او فعالیتونه هم برابر کړي وي چې له دې نه د سولې رښتینې اراده او پلان مبهم او مجهول ښکارېده.

په دې کې شک نه شته چې دغه روان مقاومت د تېر جهاد په څېر د وسایلو او مال له اړخه غني نه دی، بلکې ډېر له ستونزو او سختیو ډک دی، نو مقاومت کوونکي یې په مادي وسایلو اتکا نه لري، بلکې اصلي انګېزه یې فکري او اعتقادي ده، نو ځکه خو د دې تصور هم نه شي کېدای؛ چې کوم طالب چې یو ځل یې دغه کار د جهاد او فکر پر بنیاد پیل کړی وي، بیا دي تش د پیسو او مادیاتو بدل کې دې تسلیم شي.

که طالب سره پر اساسي مسایلو د توافق څرک ولګي نو هغه ورځ د رښتیني سولې امکانات وده کوي چې په دې کې عمده خبرې د نظام د سستم ډول او د بهرني واک او اشغال فعلي یا تدریجي صفر کېدل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته د سولې له عملې کېدو وړاندې چې کوم لومړی سټیج دی نو هغه مطلق تفاهم او دوطرفه ناسته ده چې دا له سولې پرته هم دواړو طرفونو ته یو ضرورت دی چې ښه بېلګه یې د بندیانو تبادله ده چې له تفاهم او تماسه پرته ناشونې ده. له همدې امله خو طالبانو د قطر پر د فتر امریکا سره توافق وکړ. که څه هم دغه دفتر په مکمل ډول فعال نه شو، خو طالب استازي په معلوم ادرس په دې وتوانېدل چې خپل مهم بندیان له امریکانو سره تبادله کړي چې لا یې هم لړۍ روانه ده.

کومه غلط فهمي چې ډېره واضحه ده هغه د قطر د دفتر پر دنده ده. د قطر دفتر طالب چارواکو د سولې د خامخا عملي کېدو په نیت نه دی خلاص کړی، بلکې مطلق تفاهم د دې دفتر دنده ده. د سولې په اړه خبرې د دې دفتر لپاره اختیاري عمل دی، نه اساسي کار.

کومه سوله چې رښتینې او ممکنه سوله ده، هغې ته د طالبانو مشر ملا اختر محمد منصور په رښتیني ډول چمتو و، خو کومه سوله چې امریکا او کابل مېشتي پلویان یې تر دې دمه تعریفوي هغې ته ښایي هیڅ طالب مشر تر مرګه غاړه کېنږدي.

داعش او د افغانستان سرحدي سیمه

په عراق کې د داعش یا دولة الاسلام د ډلې جوړېدل او پراخېدل زما د بحث موضوع نه ده. نه غواړم د عراق او سوریې د داعش تفصیلاتو ته لاړ شم. البته دومره باید ووایم؛ لومړی چې عراق کې دغې ډلې سر راپورته کړ نو د عراق د سني نشینه سیمو د مظلومیت داستانونه دلته هم اورېدل شوي وو، نو د هغوی بروز ته طالبانو هم خوشحالي کوله او دا یې په سیمه کې د لویدیزو پالیسیو په وړاندې مثبت غبرګون نوماوه. وروسته له دې سره سره چې په عراق او سوریه کې د القاعده د اساسي شتون په وړاندې د دغې ډلې وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستره ضربه وه، ورسره د هغوی له خوا له القاعدې او عام ولس سره بورنوونکی او نه توجیه کېدونکی بې رحمه چلند عام محضر ته راووت. دلته هم د خلکو زړونه ورنه ماتېدل، خو د هغوی د خلافت اعلان او په ټوله نړۍ یې جبري منل یوه بله څپه وه چې لومړی تش لېونتوب او وروسته دسیسه بلل کېده.

هغوی یواځې د عراق څو ښارونه لاندې کړي وو. د هېواد مرکز بغداد یې هم په لاس کې نه و، خو څو زره میله لرې یې په نورو هېوادونو کې پر مسلمانانو خپل اطاعت په جبري توګه لازم ګانه.

داعش چې په ربښتیني ډول یې په افغانستان کې چندان ځای نه درلود، خو په میډیایي میدان کې ورته په خپله حکومتي حلقو او لویدیزو رسنیو کې زیات تبلیغ وشو.

طالبانو د افغانستان په شرقي سرحدونو کې د دې ډلې اعلانات مهم ونه ګڼل او له دې وېرې چې دښمن له دې لویه موضوع جوړه نه کړي، خاموشي یې اختیار کړه، خو ورو ورو هغوی دې ته اړ شول چې په عراق کې د داعش له مشرتابه سره مفاهمت وکړي او د وضعیت په نزاکت یې وپوهوي. ملا اختر محمد منصور د داعش موسس بغدادي ته له درنښت او خواخوږۍ ډک لیک واستاوه چې د افغانستان له داخلي وضعیته علاوه ورکې د افغانانو او عربو مجاهدینو مشترکې قربانۍ او د دښمن دسیسې یادې شوې وې.

له بغدادي هیله شوې وه چې دیارلس کلن مقاومت په ډېرو سختو شرایطو کې وده کړې او دښمن یې د داخلي تفرقې په تمه ناست دی. دلته چې اسلامي امارت وي، تاسو مستقل تشکیلات مه اعلانوئ. دا یو ډول شرعي حق او غاړې خلاصول ګڼل کېدل. خو له هغه لورې د بغدادي د ویاند عدناني له خولې په ډېرو غلیظو او سپکو سپورو بنا غبرګون راغی چې د طالبانو روحاني او معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ ګر ملا محمد عمر ته (چې دا وخت يې د وفات کېدو کال پوره و) په کې له حده زياتې سپکې سپورې ويل شوې وې. له هغه وروسته مشرتابه د علماوو په پرېکړه دا يوه فتنه ونومولە چې ګڼې يواځې د ديارلس کلن مقاومت د خنثی کولو دسيسه ده. له همدې امله طالبانو د هغوی پر ضد په پوځي اقدام لاس پورې کړ.

دا وخت د پاکستان په سرحدي سيمو کې پاکستاني طالبان خپلو کې سره ډله ډله وو او د ځينو ترمينځ خونړی نښتې هم شوې وې. هغه اشخاص او ګروپونه چې د پاکستاني طالبانو ترمينځ يې لوړ مقام او حثيت نه شوای ترلاسه کولای او په مادي لحاظ هم کمزوري وو، دوی له دغه نوي جريان سره ملاتړ اعلان کړ او د رسنيو پام يې ځان ته واړاوه. په باجوړ کې مېشت د ننګرهار د کوټ مولوي مسلم دوست هم له داعش سره پيوستون اعلان کړ چې له همدې امله ننګرهار ته داعش لاره وکړه. داعش هم د انترنيت له لارې د دوی بيعتونه اعلان کړل او د خراسان په نامه يې د اورکزو ايجنسۍ حافظ سعيد خان امير اعلان کړ.

سعيد خان له دې وړاندې په سړي تښتولو او نورو مافيايي کارونو کې هم بدنام و. سعيد خان د مسلک له اړخه پنچپيری و (د حنفيانو يوه ډله چې د عقايدو په برخه کې سخت تعبير لري) او د ده بل ملګری د پاکستاني طالبانو پخوانی ويانډ شاهد الله شاهد غيرمقلد و (هغه چې د اهل سنت د څلورو فقهي امامانو پيروي نه مني) له دې نه علاوه په هغوی کې د مسلک او عقيدې موضوع مهمه نه وه. هر چا چې د دوی په پيروۍ بې رحمه کړنې کولای شوای هغه ته يې غېږه خلاصوله.

بل پلو د طالبانو په نظامي ليکو کې ځينې داسې اشخاص چې په بې مسئوليته کړنو له مجازات سره مخ يا يې د مخ کېدلو وېره لرله، هغوی ته يو نښه نوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپیدا شو او همدا ناره یې پورته کړه. په دې کې یو شمېر خلک له مشرقي پرته په لوګر، زابل او شمال کې هم وو خو وروسته بیا هغوی کمزوري شول او یو لوی شمېر یې له مینځه لاړل.

د سعید خان اورکزي او افغان پیروانو لومړۍ تجمع د ننګرهار په سپین غر ولسوالۍ کې وشوه. د سپین غر د مامندړې سیمه د هغوی لومړی مرکز و. همدلته لومړۍ جګړه له دوی سره هغه وخت ونښته چې د طالبانو له خوا هغوی ته له سیمې د وتلو وخت ورکول شو. د وخت له پوره کېدو سره جګړه وشوه، وروسته هغوی په ډهبالا، اچین، کوټ او چپرهار کې متحرک وو. له دوی سره افغانانو کې د کوټ مولوي مسلم دوست، د چپرهار مولوي عزیز، ډاکټر سباګل، مولوي اسماعیل، مولوي اسلام الدین لومړني ملګري وو او د پولې له ها غاړې د سعید خان او شاهد الله نه علاوه د باجوړ ابوبکر ورسره و. وروسته هغوي د ننګرهار په نورو ولسوالیو کې هم ګرځېدل. حکومت پرې کار نه درلود، بیا د طالبانو یوه مستقله قطعه ورپسې راغله د سیمې د خلکو په همکارۍ یې هغوی یوې وړې سیمې ته ورټول کړل.

لومړی د مشرتابه هدایت دا و چې د نیولو په صورت کې توبه وربانديې و ویستل شي او خوشې کړای شي او په جګړه کې هم تر ډېره هوایي ډزې پرې وشي، چې فقط له سیمې وتښتي، خو وروسته بیا د هغوی له لوري د سختو مظالمو په وجه د طالبانو رویه ورسره سخته شوه. دا وخت چې به طالبانو هغوی له کومې سیمې شړل نو هلته به بیا حکومت پر طالبانو برید کاوه، بیا داسې وخت راغې چې کله به طالبانو پر داعش بریدونه پیل کړل نو امریکایي چورلکو به دواړه خواوې بمبار کړې او جګړه به یې ودروله. دا وخت طالبان له ډېر عجیب پیچیده حالت سره مخ وه. پر اسمان امریکایي الوتکې، پر ځمکه د دولت استخبارات او پوځي قطعات ول. په کلیو او غرونو کې داعش و. له دې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره په یوه وخت مخ کېدل یو نوی امتحان و. داعشیانو کې ډېر قوماندانان چې به مغلوب شول نو د امن له ورکولو سره سره طالبانو ته نه تسلیمېدل، بلکې یا به په اربکیانو ننوتل او یا به د دولت استخباراتو ته تسلیم شول. همداراز د هغوي ډیر زخمیان به د ننګرهار په صحت عامه کې تداوي کیدل، حتی د دوي یو مهم قوماندان عمر عبد الخالق له زخمي کیدلو وروسته د ننګرهار په صحت عامه تداوي شو.

دا وخت په لوګر کې د سعد امارتي په نامه له طالبانو اوښتی قوماندان هم د داعش بیرغ اوچت کړی و او همداراز په زابل کې د داد الله منصور په مشرۍ ځینو خارجي ازبکانو هم د داعش ملاتړ او د طالبانو پر ضد جګړه اعلان کړې وه، خو کله چې هغه د کابل - کندهار پر لویه لاره د مسافرو هزاره هېوادوالو تورسرې له موټرونو کوزې کړې او له ځانه سره یې زابل ارغنداب ته یوړې، دې کار یو دروند توکمیز ناورین رامېنځ ته کړ. له هزاروو سره پر سرحدي سیمو پرتو پښتنو ته هم د هزارو له خوا ورته مشکل پېښېدوونکی و. طالبان مجبور شول چې دغه نادوده او ناوړه عمل خنثی کړي چې له املې یې د دغو مېرمنو پر ازادولو چې یرغمل کوونکو د وینزو نیت ورته کړی و، جګړه ونښته، یو شمېر مېرمني ترې ازادې او یو څه نورې یې ووژلې.

دغه جګړه بل پړاو ته هم لاړه او داد الله منصور هم په کې ووژل شو او د هغه ملګري ازبکان څوک تسلیم شول څوک په جګړه کې ووژل شول او څوک اسیران شول.

د داعشیانو ترمېنځ چې کله ستونزي پیدا شوې نو هغه خلک چې له داعش نه یې لاس واخیست، طالبانو هم نور د مخالف په سترګه نه ورته کتل ،که څه هم د دوي د لاسه طالبانو ته دروند زیان اوښتی و. له داعش د جلا شویو په په ډله کې مولوي مسلم دوست هم و، چې د داعش لومړی مبلغ او مفتي و، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د داعش له خوا دهغه د وريرونو له وژلو وروسته هغه له داعشه بيلتون اعلان کړ چې د ده په وينا داعش يې د وژلو هڅه کوي. په دې اړه د مسلم دوست له خوا د خپرې کړې اعلاميې څه تورې په دې ډول و:

"...ما څه کم دوه کاله وړاندې هغه وخت له داعشيانو نه د برائت اعلان وکړ، چې داعشيانو د ننګرهار د کوټ او شينوارو څه بنديان ونيول ما يې د خلاصولو کوشش وکړ، خو داعشيانو ونه مانه او زما د وژلو ګواښ يې هم وکړ، داعشيانو هغه بنديان په وحشت ووژل. له هغه وروسته داعشيانو زما دوه ويرونه هم ووژل چې يو يې طارق نوميده د جلال اباد د خالص فاميليو کې يې وواژه. دوهم يې اسماعيل نوميده، سوريې ته تللی و، د خراسان د داعشيانو په شيطانۍ د سوريې او عراق داعشيانو په دې بهانه وواژه چې ته ولې د سعيد خان له اجازې پرته سوريې ته راغلی يې..."

د طالبانو لخوا که څه هم د داعش په وړاندې مبارزه په لومړيو کې ډيره محتاطه پيل شوه، خو اوس له داعش سره د مبارزې په تګلاروکې ځينې ناوړه طرز العملونه تر سترګو کيږي، لکه د داعش پيژندنه ګونګ تعريفونه، د طالبانو تحريک يو ديني تحريک دی، د وي نشي کولای چې د يوې خاصې مدرسي په ډول په فرغي مسايلو کې ديوه خاص تعريف پيروي ته خلګ اړباسي، له داعش سره په جګړه کې ځينې کشران او کم علمه سرګروپان هغه څوک هم د داعش په پلوي تورنوي چې په د يني چاروکې د بدعاتو، خرافاتو مخالفت کوي او يا د عقايدو په برخه د توحيد د مشروع تعريف او احتياط تعليم ورکوي، چې دا په ديني لحاظ هم غير موجه چلند دی او په عملي توګه هم د طالبانو فوځي صفونو ته زيان اړوي. بل پلو طالب مشرتابه هم په اصولي چوکاټ کې د دې ډول چلند مخالفه پاليسي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل لور ته لکه څنګه چې امریکا په عراق کې داعش ته یواځې په دې خوشحاله وه چې د القاعده د پاڅه او پیچیده بنیاد ستنې پرې ونړوي، همداسي په افغانستان کې دغه نامه ته امریکا، افغان حکومت او ځینې نور هېوادونه په دې خوشحاله وو چې دا به د طالبانو دیارلس کلن مضبوط او متحد مقاومت ته اندروني ضربه ورکړي. د همدې لپاره دغې نوې پروژې ته پراخ تبلیغات وشول، کومې سپکې سپورې چې به عراقي داعشیانو د طالبانو په مشرانو او ملا محمد عمر پسې ویلې هغه به د افغان دولت پلویانو په پراخه پیمانه بدرګه کولې.

بل پلو د حکمتیار د ځینې پلویانو لخوا د داعش مرموز ملاتړ تر سترګو کیده او لاهم روان دی. په پیښورکې د حکمتیار په شمشتو کیمپ کې د لوګر د ازرې پخواني حزبي قوماندان حاجي حیات به داعش ته ځوانان جلبول، اکمالول او افغانستان ته به یې د طالبانو پرضد جګړې ته را استول.

بل لوري ته دا خبره ګرمه وه چې د ملي امنیت له رئیس معصوم ستانکزي سره چې د حزب په یو وفد کې حاجي حیات(د حزب پخوانی قوماندان) شرافت او د حزب د استخباراتو پخوانی رئیس حاجي مالک قرار لیدلي و، نو معصوم ستانکزي حاجي مالک ته ویلي و، چې ته ولي پخواني کار بیرته نه شروع کوې! چې اشاره یې په پیښورکې د خلګو ترور کولو ته وه.

له د ې وروسته د پیښور شمشتو په کیمپ او نورو برخوکې یو درجن د طالبانو پلویان په رڼا ورځ ترور کړای شول، خو دا جوته نشوه چې د حزبې قوماندانانو دغه عمل د حکمتیار په مستقیمه لارښونه کیده که نه، یاهم کوم بل جهت ورته امر کاوه! البته د داعش او طالبانو د لومړیو جګړو پرمهال د حزب د شهادت ورځپاڼې یو مضمون خپور کړی و، چې لیکلي و: که د افغان دولت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو جنګ و، موږ (حزب)به د طالبانو ملاتړ کوو او که د طالبانو او داعش جنګ و، نو موږبه د داعش ملاتړ کوو!

خو وروسته د سیمې د خلکو د فریاد او سیمه‌ییزو دولتي چارواکو د احتجاج ، همداراز د سیمي د ځینو هېوادونو د مطمئن کولو لپاره افغان دولت او امریکایانو هم د دوي پر ضد عملیات اعلان کړل او ځینې جګړې یې هم ورسره وکړې.

یو باریک جریان چې تر اوسه لا هم ډېر محسوسیږي هغه د دولت د استخباراتو، د سیمې د ځینو نورو هېوادونو او د ځینو لویدیځو کړیو له خوا د طالب پر ضد د داعش د جریان مرموزه تقویه ده، چې طالبانو یې ګڼ اسناد ترلاسه کړي، خو ښکاره وربانديې خبري کول نه غواړي. کله ناکله دغه ډله په یو ناڅاپي ډول د وسلې، مهماتو او پیسو په برخه اکمالیږي او په لوی لاس د هېواد شمال ته د سرایت لپاره غیر مستقیم تشویقیږي. له دې سره دا شکونه زیات پیاوړي کیږي چې ښایي د پخواني شوروي سیمو او چین ته دغه خلک له یو مبهم اړخ نه په یو ګوابښ د بدلولو لپاره هڅې روانې دي.

د روسیې لخوا د افغانستان په اړه په مسکوکې له کېدونکې غونډې وړاندې د ۲۰۱۷ کال د اپریل په میاشت کې د امریکا له لورې د ننګرهار په اچین کې د یوه ستر بم د کارولو ا علان هم د شننکو له نظره یوه سمبولیکه تبلیغاتي هڅه وه!

ځکه چې په ۱۶ کاله امریکایي یرغل کې امریکا کله هم د خپلو بمونو نوعیت او ځواک نه دی په ډاکه کړی او نه داسې څوک شته چې له امریکا نه په افغانستان کې د بمونو د روزمره کارونې په اړه پوښتنه وکړي، هغوي تل د خپلو بمباریو او بمونو جزیات پټ کړي، نو اوس کومه اړتیا پېښه شوه چې خپل بمونه وښیي! بل پل تراوسه د همدې بم سترواليو او اغیز هم نه دي څرګند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالب مشرتابه د هغوی د داخلي لانجې ترځنګ د هغوی سیمه‌ییزو ارادو ته زیات اندښنمن دی، ځکه طالبان غواړي په افغان جغرافیه کې د خپل مقاومت په پایله کې یو مثبت پړاو ته ځان ورسوي. هغوی وېره لري چې هسي نه یو ځل بیا په افغانستان کې یوه بله سیالي د روان مقاومت او فغان ولس راتلونکی له یوه اوږده او بې پایه ناورین سره مخ کړي.

د طالبانو فوځي او سیاسي راتلونکی او سیستماتیکې ستونزې

له دې سره سره چې طالبان له درنو بحرانونو په راوتلو د یوستر مقاومت پر دوام اوتنظیم بریالي شول، خو په دوامداره توګه طالب مقاومت درنې عملي او تخنیکي ستونځې په مخ کې لري، طالب جنګیالي او قوماندانان یې په زړورتیا او بې ساریې فداکاري جګړه کولای شي خو د ژور تاکتیک او پلان په جوړولو او د مقابل لوري د تاکتیکونو او پلانونو په شنډولو کې لا هم ډیر دقیق او ځیرک نه دي.

طالبان خپلو جنګیالیو ته د ایډیالوژیکې روزنې په برخه کې د اسلام او جهاد له عامو احکامو ور هاخوا د جګړې په ډګر کې له مخالف لوري؛ عامو خلګو او خپلو ملګرو سره د تعامل او اړینو چارو په اړه ډیر کم څه ور زده کوي، ډیر ځله د طالب وسلوالو د خپلې بې پروایي او یا بې ځایه شدت له امله، د ولس عام وګړي د طالب دښمنان و ګرځي.

د کشفي تیکنالوجي په برخه کې طالب وسلوال اکثره د متعددو پښنو له لیدلو سره سره بیاهم ډیر زیات بې غوره دي، د تلیفون، انټرنیت او کامرې استعمال په هر حالت او خطر کې نه پریږدي، چې دا مخالف لوري ته د طالب وسلوالو او مشرانو په کشفولو، نیولو او وژلو کې ډیره اساني را مینځ ته کوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل لورته نن په نړۍ کې هر هغه جګړه چې ځواکمنه میډیا تر شا ونلري، د هغې ګټل ډیر ګران دي. طالبان تر اوسه لا داسې مو ثره میډیا نلري چې یوازې خپل عام ولس ته د دوي اواز ورسوي، طالبان خپل عام ولس ته د خپل غږ د رسولو هېڅ موثره وسیله نه لري او له ولس سره د طالبانو هغه ځوا ن جنګیالي مخ کیږي چې ټو پک یې پر اوږه وي او له جکړې پرته له بل څه سره کار نلري.

د طالبانو ستر او عمومي مشران اکثره د هرځای او دلګي د طالبانو له حرکاتو او عامه چلنده نه خبریږي، چې له املې یې په ځینو سیمو کې ځینې طالب وسلوال خپل مزاج چلوي؛ په غیر ضروري کارونو کې بوخت وي، له خلګو سره نامناسب چلند کوي او کله ناکله په ظلم او زیاتي کې لتاړ وي.

په سیاسي او دیپلو ماتیکو چاروکې طالبان موزون او سستماتیک پلانونه لاهم نلري، د بیلګې په توګه یو سړی چې کوم ارتباطي لاین جوړ کړي بیا وروباندي شورا او مشرتابه منظم نظارت نلري او هغه کس بیا ټوله سیاسي پالیسي او تشکیلات هم خپله برابروي او د کار لپاره یې معیار هم شخصي شناخت اوباور وي، چې له املې یې د وړ، مسلکي او عام کس توپیر ته پاملرنه نه وي.

په سیاسي روابطو کې تر ډیره طالب ار تباطیان لنډ مهاله ګټو او روزمره عوایدو ته ګوري، اوږده پلانونه او بنسټیزو اړیکو جوړولو ته چندان اهمیت نه ورکوي، چې په دې سره د اوږدو روابطو په پایله کې بیاهم هغوي له چاسره په یوه تلپاتې استراتیژیکه او باوري دوستي نه بریالي کیږي. د بېلګې په توګه یوه هیواد ته د سفر پر مهال چې کله هغه هېواد ورته د ۵۰ مسلکي کدرونو د روزنې لپاره تعلیمي سکالرشیفونه مني، خو دوي یې په بدل کې د څو لکو ډالرو مرستې ته ترجیح ورکوي! خو بیا خپلو بچیانوته همدغه طالب ارتباطیان په شخصی توګه په سکالرشیفونو پسې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبان خپل عام پیروان په یوویشتمه پیړۍ کې بیاهم د عصري تعلیم په ارزښت نه پوهوي اونه یې قانع کولای شي، چې له امله یې د دې ویره شته چې طالبان د تل لپاره تشه یوه جنګي ډله پاتې شي او د یوه منظم نظام د رامینځ ته کیدو وړتیا ونلري.

ځکه چې په تېر ځل واکمني کې ولس او نړۍ طالبان په دې ګرم نه ګڼل، چې هغوي حکومت ته یو ناڅاپه له مدرسو راغلل او ځکه خو په مسلکي اداروکې زاړه کمونستانو ته اړ ول، خو له ۲۵ کالو وروسته که بیا هم طالب کوم مسلکي انجینر، ډاکټر او یا اقتصاد پوه نه وي روزلي، نو د دې معنا به دا وي چې طالب د یویشتمې پیړۍ د حکومت داري لپاره خپل چپړاسي هم نلري او یا دومره خپل ځوک هم نلري چې د دښمن په اقتصادي او ژورو تخنیکي پلانونو پوی شي.

دا وخت هم لا په طالب مشرانو کې داسي کسان شته چې د نړۍ له تعلیمه او ماډرن تخنیکه خبریدل اړین نه ګڼي!

که طالب چارواکې له نړیوالو دښمنانو سره د فوځي ډغرې ترځنګ د یوه حکومت، سستم او نظام په فکر کې وي، نو یواځنۍ لاره یې د مسلکي کدرونو روزل او خپلو خلکو او نویو ځوانانو ته لوړ عالي تحصلات ورکول دي.

دا تحصیلات د کمپیوټر او انګلیسي کوروسونو ته نه ویل کیږي، دغه کوروسونه خو عام سوداګر، د لوړ عمر بې سوادان او حتی معذورین هم کولای شي، بلکې په معیاري توګه د پوهنتونونو لوستل او په عصري علومو کې په خپل لاس روزل شوی ځوان علمي کهول را ټوکول د وخت یو اشد ضرورت دی.نن چې کوم ملت هم په دې برخه کې پاتې دی نو هغه په هرڅه کې پاتې دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په طالبانو کې ملا اختر محمد منصور هغه رهبر و، چې د امریکا ضد مبارزې تر څنګ یې د طالب غورځنګ د سیستماتیک کولو او ماډرنایز کولو شوق او اراده لرله او څه نا څه عملي ګامونه یې هم اخیستي وو.

د غه ځیرک او دور اندیش طالب رهبر دا هڅه هم وکړه چې طالب مشرتابه د څو خاصو سیمو پر ځای افغان شموله کړي، چې د خلیفه سراج الدین حقاني مرستیالي هم د دې هڅو یوه برخه وه.

پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library